# نشر الطیب

# فی

# ذکر النبی الحبیب ﷺ

از

مجدد ملت حکیم الامت

## مولانا اشرف علی صاحب تھانوی

پښتو ترجمه

سید تسنیم الحق کاکاخیل فاضل دیوبند

*

ناشراو وقف کوونکے

حاجی اقبال الدین

خادم محمد عمر علی ھدیۃ حضرت شاہ صاحب مدظلہ

خانقاہ امدادیہ اشرفیہ لنڈی ارباب پیښور

Scanned with CamScanner

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# عرضِ ناشر

د پاک پروردګار دا لوئے احسان او کرم دے۔ چه ماته ئے دا موقع راکړه چه د یو داسے برګزیده او پاکے هستئ د سیرت کتاب په چاپ کولو کښے برخه واخلم۔ د چا د مخه چه الله تعالیٰ دا ویړ کائنات پیدا کړے دے۔ د انبیاؤ سردار او خاتم النبیینؐ او شفیع المذنبین دے صلی الله علیه وسلم۔

که صورت د محمدؐ نه وے پیدا

پیدا کړے به خدائے نه وه دا دنیا

خدائے ئے مه ګڼه بیشکه چه بنده دے

نورئے کل واړه صفات دی په رښتیا (رحمٰن بابا)

الله تبارک وتعالیٰ پخپله د دوئ صفت کړے دے۔ په یٰسٓ او طٰهٰ ئے ستائیلے دے او د خلقِ عظیم په خطاب ئے نمانځلے دے۔ او لا د پاسه پرے دا فضیلت او خصوصی شان چه لکه قرآن پاک کښے ارشادِ خداوندی دے۔ اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ۝ (یعنی بیشکه الله پاکؐ او د هغه فرشتے په نبی کریمؐ باندے درود وائی۔ اے مؤمنانو تاسو هم په دهٔؐ باندے درود او سلام اولیږئ۔)

د سرورِ کونین، سید المرسلینؐ په سیرت مبارک تر دے وخته تقریباً د نړئ په هره ژبه کښے بے شمیره کتابونه لیکلے شوی دی۔ او

مؤرخینو په دے لړکښې تر خپله وسه پوره زحمت زغملے او بے مثاله زیار ایستلے دے۔ دے دا یو داسې ښکاره حقیقت دے چه که په سیرت پاک هر څو مره لیکل او شی۔ کم به وی۔ او د داسې اولوالعزم هستئ په سیرت قلم پورته کول څه آسان کار نه دے۔ د دوئ سیرت تمام عالم اسلام او کلهم انسانیت دپاره په هر وخت او هره زمانه کښې د ژوند په هر ډګر او هر اړخ د رهنمائئ روښانه مثال دے۔

دحُبّ رسولؐ او اتباعِ رسولؐ نه بغیر څوک مؤمن کیدے نه شی۔ د رسول کریمؐ اتباع په کامل ډول هله کیدے شی چه د سیرت پاک نه ځان خبر کړے شی۔

پاک دے محمدؐ پاک دے سُبحان دمحمدؐ

دخدائے عرفان مے او شو په عرفان دمحمدؐ (خوشحال بابا)

هم دغه وجه ده چه صحابه کراموؓ د دورنه را واخله عن تر دے وخته د دین پوهانو، عالمانو او مشائخ عظامو دا پوره پوره کوشش کړے دے۔ چه اُمتِ مسلمه دے د تاریخ اسلام او د سیرة النبیؐ نه خبر کړی۔

زمونږ د مرشد شیخ المشائخ مرشد کامل عالم وفاضل الحاج مولوی فقیر محمد صاحب رحمةُ اللهِ علیه پیر ومرشد حکیم الامت مجدد ملت حضرت شاه اشرف علی تهانوی قدس سره تعالیٰ د محمد رسول اللهؐ په سیرت مبارک دا زیرِ نظر کتاب لیکلے دے۔ د کتاب نوم نشر الطیب ذکر النبیؐ دے۔ حضرت تهانوی رحمة الله علیه نه خدائے پاک د دین ډیر زیات کار اخستے دے۔ خدائے پاک دے قبول کړے دے۔ دوئ که یو خوا د قرآن پاک تفسیر (بیان القرآن اردو) لیکلے دے نو بل خوا ئے څه کم د

زیات دولس سوه<sup></sup> ۱۳۰۰ء مذهبی کتابونه په عربئ، فارسئ او اردو ژبو کښې تصنیف کړی دی - دَ دوئ تصانیف او تالیفات وقف دی - دیو تصنیف یا تالیف په چاپ کولو ئے هم څه پابندی نه ده لګولے - هر څوک ئے چاپ کولے شی - دَ دوئ کتابونه د پښتو نه علاوه په نورو ګڼړو ژبو کښې ترجمه شوی هم دی - او هم دغه وجه ده چه ډیر مخلوق ترے فیض یاب شوی دی - او فیضیاب کیږی - الله پاک دِ دا فیض تر قیامته جاری او ساری اولری - او دَ دوئ درجات دِ بلند کړی -

دَ مجدد ملت، حکیم الامت رحمة الله علیه د دے تصنیف یعنی "نشر الطیب" پښتو ترجمه د صوبه سرحد د یو مجاهد، یادګار سلف صالحین، عالم باعمل او یو صاحبِ نسبت بزرګ حضرت مولوی سید تسنیم الحق کاکاخیل فاضل دیوبند کړے ده - الله پاک دِ اجرِ عظیم ورکړی - آمین - سید صاحب د حضرت تهانوی رحمة الله علیه د تصانیفو او مواعظو سره بے انتها مینه لری - دوئ د خپل عشق په بنا د قرآن پاک د ترجمه کولو نه پس ډیر زیات مذهبی کتابونه په پښتو ژبه کښې ترجمه کړی دی - او د پښتو ادب پنګه ئے په دے ملغلرو سیوا کړے ده - دَ دوئ د علمی مهارت او فن صفت کول زما دَ وس کار نه دے - ځکه چه حقیقت لکه د نمر په شان ښکاره دی - زما دَ دے عرض لیکو مقصد صرف دا دو - چه پښتانهٔ رونړه خبر شی چه دے مردِ مجاهد څومره لویه مذهبی او علمی پنګه پښتو ژبے ته راوړوله - زما دا پوخ یقین دے - او لوستونکی دِ هم په دے کلک باور او ساتی چه ښاغلی سید صاحب د ترجمے دا خدمت بیخی او صرف د الله پاک د رضا او خوشنودئ حاصلولو

دپاره کړے دے - دوئ په دے کښې دهیڅ قسمه څه غرض او لالچ نۀ دے ساتلے - او نۀ ئے کړیدے - دَ دین او مذهب دَ روزنې دا سپیڅلے جذبه دهٔ ډیرے ستائنې وړه او د آفرین قابل ده - او رحمان بابا د دین په دا سے خدمتګارو څو سوه کاله پخوا آفرین ویئیلے دے -

~ په دنیا کښې که څۀ کار دے خو دَ دین دے
د دے کار په کندو آفرین دے

دبنا غلی سید صاحب عمر تقریباً ۷۵ کاله دے - او فالج وهلے رنځور په کټ کښې پروت دے - لیکن په دے حال کښې ئے هم قلم دلاسه نۀ دے پریوتے - او په رنځوره څټه هم د دین خدمت کوی - رښتیا دی چه

~ این سعادت بزور بازو نیست
تا نه بخشد خدائے بخشنده

جناب میاں صاحب موږ سره په دے اتفاق نه کوو چه دهغوئ دد ے خدمت او د پښتو ژبے دَ ودے او روزنې په حقله څه دا سے لیکنه په دے کتاب کښې شامل کړے شی - خو موږ په ډیر زارئ او منت هغوئ رضا کړل - چه دَ دوئ د سعی او کوشش نه د پښتنو رونړو خبریدل به د خوشحالئ باعث وی - چه کۀ یو خوا هغوئ ته به دَ دین فائده او رسی نو بل خوا به د جناب سید تسنیم الحق صاحب د پاره د روغ صورت او دوا ړو جهانو د خوشحالئ دعا اوغواړی - الله پاک دِ دَ دوئ نه نور هم د دین کار واخلی او په خپل دربار دِ قبول کړی -

دحضرت شیخ رحمکار المعروف په حضرت کاکا صاحب رحمة الله علیه په اولاد کښې ډیرے لوئے لوئے هستئ شته او تیرے شوی دی-

Scanned with CamScanner

سید تسنیم الحق صاحب هم په دغه خُلانده ستورو کښې شمیر دے.
د دوئ نیکه ُیو مادر زاد ولی تیر شوے دے۔ او فیض ئے تراوسه جاری دے.
دَ سید صاحب ترجبه شوی کتابونوں تفصیل څه داسے دے۔

| | |
|---|---|
| تفسیر | تفسیر عثمانی |
| حدیث | ریاض الصالحین |
| فقه | بهشتی زیور "جنتی کالے" مجدد ملت حکیم الامت شاہ اشرف علی تهانوی |
| سلوک | تعلیم الدین مجدد ملت حکیم الامت شاہ اشرف علی تهانویؒ |
| | حیات المسلمین مجدد ملت حکیم الامت شاہ اشرف علی تهانویؒ |
| | تسهیل قصد السبیل مجدد ملت حکیم الامت شاہ اشرف علی تهانوی |
| | مواعظ اشرفیه نهه جلده مجدد ملت حکیم الامت شاہ اشرف علی تهانوی |
| | نشر الطیب مجدد ملت حکیم الامت شاہ اشرف علی تهانویؒ |
| القول الجمیل | شاہ ولی الله صاحبؒ |
| مواعظ هفت اختر | او ه وعظه |
| الحزب الاعظم | مسنون دعاګانے مشهور محدث حضرت ملا علی قاریؒ |

په آخر کښے زهٔ ټولو لوستونکو ته خواست کوم چه صغوئ دِ دَ ټول اُمتِ مسلمه دپا
اوخصوصاً زمونږ د مرشد کامل شیخ المشائخ مولوی فقیر محمد صاحب په حق کښے دعا
او غواړی چه خدائے پاک د صغوئ درجات بلند کړی او د خانقاهِ امدادیه اشرفیه ته فیض جاری او سا
زهٔ دا کتاب د خپل پاک الله د رضا د پاره وقف کوم۔ او د دے ثواب خپل
مرشد او خپل مور پلار ته وربخښم۔ الله تعالیٰ دِ ئے قبول کړی او زمونږ د پا
دِ دَ نجات ذریعه اوګرځوی ۔ آمین

حاجی اقبال الدین عفی عنه
۱۸/ ۴/ ۹۲

# سریزه
## له
## مُصنّف رحمة الله علیه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ الَّذِیْ مَنَّ عَلَی الْمُؤْمِنِیْنَ اِذْ بَعَثَ فِیْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ یَتْلُوْا عَلَیْهِمْ اٰیَاتِهٖ وَیُزَکِّیْهِمْ وَیُعَلِّمُهُمُ الْکِتَابَ وَالْحِکْمَةَ وَاِنْ کَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِیْ ضَلَالٍ مُّبِیْنٍ

**اما بعد** دا د بخښونکي خدائے د رحمت وړے او د سید الابرار صلی الله علیه وسلم د شفاعت ترے، د نبي مختار د عاشقانو او د خدائے په محبوب مینو په خدمت کښ عرض کوي چه څه موده راسے د ډیرو دوستانو فرمائش وو چه د حضور صلی الله علیه وسلم څهٔ حالات د نبوت نه مخکښ او نبوت نه پس د صحیح روایاتو نه اولیکلے شي۔ چه که څوک د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنت تابعدار چه د بدعت په لار نهٔ ځي د مینے زیاتولو د پاره د ذکر مبارک سره شوق او مینه لري۔ نو هغه دا مجموعه په اطمینان اولوستے شي۔

بیا اتفاقاً په عنه د یو څو دینداره دوستانو خطونه هم په دے طلب کښ راغلل۔ په هغه ټولو خطونو کښ دا خوښتنه شوې وه چه د دے ذکر مبارک نه د برکتونو حاصلولو د پاره چه دے احقر څهٔ

شرائط په څنګ رسالو کښې لیکلې دي. د احالات په هغه طریقه اولیږ
شي مثلاً د جینئ په ورځ چه څهٔ مونځ ګوزار راجمعه شي دا حالات
ورته واوروله شي. یا یو کور کښ ښځې راجمعه شوې دي. هغوئ ته
واوروله شي. دغه شان د نورو شرائطو لحاظ هم او ساتلې شي دا سے
موقعو د پاره یو رساله اولیکلې شي.

د دے تصریح نه پس په دے امید چه دا مجموعه په د سنت
د رعایت په طریقه د محبت زیاتولو یو ذریعه شي دا مناسب معلومه
شوه چه دا سے یو رساله لیکل پکار دي.

بیا په دے خطونو کښې یو خواهش دا هم ظاهر شوے وو چه
ځائے په ځائے پکښې مناسب وعظ او نصیحت هم زیات شي په دے
طریقه به ترې فائدے نور امید هم پیدا شي. د دے دواړو مصلحتونو
سره سره یوه وجه دا هم شوه چه نن صبا د ظاهري فتنو لکه
طاعون، زلزلے، ګرانئ او نور مختلفو حوادثو د وجې نه او د
باطني فتنو لکه بدعات او الحاد او فسق و فجور په وجه خلق ډیر
پریشان دي. د دا سے فتنو او آفتونو په ورځو کښې د امت عالمان
همیشه د رسول کریم صلی الله علیه وسلم د روایاتو تالیف او تلاوت
او د معجزاتو او مدحیه نظمونو او صلوة و سلام کثرت ځانته
وسیله کوي. چنانچه د بخاري شریف ختم او د حصن حصین
تالیف او د قصید ے د تصنیف وجه مشهوره ده. زما په زړهٔ کښ
هم دا خیال راغلو چه د دے رساله کښې به د حضور صلی الله علیه وسلم
حالات هم وي. ځائے په ځائے به پکښې درود شریف هم وي.

لوستونکی او اوریدونکی به ئے کثرت سره وائی - او اوری - نو ځه عجیبه به نهٔ وی که الله تعالیٰ ددے په برکت مونږ د دے پریشانو نه خلاص کړی - په دے وجه زه تن صباد درود شریف کثرت ته په نورو اورادو او وظائفو ترجیح ورکوم - او په دواړو جهانونو کښ د کامیابئ ذریعه ئے ګڼړم - او د دے متعلق یو عظیم علم چه تر اوسه پټ وو - اوس راته ذوقی طور ظاهر شوے دے. وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰی ذَالِكَ ف : په دے رساله کښ چه کوم حالات بیانیږی - د هغې په وجه به معرفت او د معرفت په وجه به محبت او د محبت په وجه په قیامت کښ د شفاعت او معیت غونډے غټو مقصدونو د حاصلیدو امید کیدے شی - غرض دا چه د دے رسالے نه د هر قسم فائدو توقع کیدے شی.

ف د دے کتاب په آخر کښ د درود شریف فضائل لیکلی شوی دی - هغې کښ د دے پټ عظیم علم بیان هم شوے دے - په دے وجو هاتو ږم د الله په نوم تن چه د کل ورځ او د ربیع الاول اوله عشره ده د دے رسالے په لیکلو شروع اوکړه - الله تعالیٰ دے په خیر سرته اورسوی - او مقبول او مفید او د نجات ذریعه دے کړی - آمین ف ما هم د کل په ورځ د ربیع الاول ۱۴۱۱ھ په وړومبئ عشره کښ د الله تعالیٰ په نوم د دے کتاب پښتو ترجمه شروع کړه - تسنیم

دا رساله د مضامینو د ضرورت مناسب په یو مقدمه یو څلویښت فصلونو او یو خاتمه تقسیم شوی ده.

په مقدمه کښې د دې رسالې د لیکلو طرز او د کومو کتابونو نه چه د دې مضامین اخستې شوی دی۔ د هغې کتابونو نومونه دی په فصلونو کښې مختلف مضامین او په خاتمه کښې د دې مضامینو متعلق ضروری خبرې دی۔ وَبِاللّٰهِ التَّوْفِيْقُ وَهُوَ نِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ الرَّفِيْقُ۔

**مقدمه** کښې درې مضامین دی:

**اول مضمون**: د دې رسالې د لیکلو په وخت کښې دا کتابونه زما په نظر کښې دو۔ مشکوٰة شریف، صحاحِ سته او شمائل ترمذی۔

مُوَاهِبِ لَدُنِّيَه [4]، زادالمعاد د ابن قیم [5]، سیرة ابن هشام [6] الشمامة العنبریه، فی مولد خیرالبریه کوم چه مولوی صدیق حسن خان صاحب قنوجی د امام شیخ شبلنجی رح د کتاب نورالابصار اختصار کړې دے۔ تاریخ حبیب الٰه [8]، قصیده بن دره [9]، الروض النظیف [10] دا دواړه په نظم کښې دی۔

**دویم مضمون**: مخکښې لیکلی شوی دی چه په فرمائشی خطونو کښې یو خط کښې دا فرمائش هم وو چه ځائے په ځائے پکښې وعظ نصیحت هم اولیکلے شی۔ او یو کس دا فرمائش هم کړے دو۔ چه ځائے په ځائے پکښې مناسب لطائف او نکات هم اولیکلے شی۔ او د سیرت او حالاتو خواهش خو د ټولو مشترک دو۔ په دے وجه ما اول دا خیال کړے وو چه دا رساله به په درے بابونو تقسیم کړم۔ اول باب کښې به سیرت او حالات وی۔ او د دے نوم به باب الاخبار وی۔ دویم باب کښې به وعظ نصیحت وی۔ او

د دې نوم به باب الانوار وي. او دريم باب کښې به علمي نکات او لطائف وي. او نوم به ئې باب الاسرار وي. چه کله چرې وخت کم وي او مجمع داسې وي چه د هغوئي صرف د حالاتو اوريدو شوق وي او دا ورته زيات مفيد ښکاري نو صرف باب الاخبار به واورولے شي. او که چرته د وعظ و نصيحت زيات ضرورت وو نو صرف باب الانوار به واورولے شي. او که چرته د عالمانو اجتماع وه. نو صرف باب الاسرار به واورولے شي.

ليکن خپله د رواياتو او اخبارو حصه زما د اندازے نه زياته شوه نو که نور دوه بابونه هم دغه شان ليکلے نو کتاب به ډير غټ شوے وو. نو عامو خلقو به ترې فائده نشوه اخستے ځکه هم دا تجويز پريښو. روايات هم متن کړو. او لطائف او نصائح هم ځائے په ځائے په حاشيه اوليکل. چه د چاسره وخت وي نو حاشيه به هم اوګوري. او که وخت کم وي نو صرف په متن به اکتفا اوکړي

د رسالے يو څو فصلونه مې ليکلي وو چه د څنو مجبورو په وجه تقريباً دوه دوه نيم کاله د ربانړے کار بند شو. بيا ناڅاپه دوه خبرے داسې اوشوے چه د دے رسالے د پوره کولو ذريعه شوے. يو دا چه اتفاقي مې د مفتي الٰهي بخش صاحب کاندهلوي رساله شِيَمُ الْحَبِيْبُ يو ځائے کښې اوليده. د هغې بلاغت او اختصار چه مې اوليدو. نو زړه مې غوښته چه خپله رساله کښې بس هم د دے ترجمه اوکړم. څه چه د دے نه زيات ليکل غواړم هغه به ورته په حاشيه اوليکم. او خپل کتاب په دے طرز اوليکم

چه د صفحے دوه حصے وی یو طرف ته اصل رساله وی او بل طرف ته ئے ترجمه وی۔ دوئیم داچه: مولوی فتح محمد خان صاحب بستوی: خط راواستولو او د رسالے د تکمیل د پیر شوق ئے ښکاره کړو۔ او داچه تکمیل نه پس ئے چهاپ کولو د پاره ماته راواستوه۔ نو هغهٔ سره م وعده اوکړه۔ او د الله په نوم م بیا و دباندے کار شروع کړو۔ په رمضان ۱۳۲۸ھ کښ۔

**دریم مضمون**: په دے رساله کښ م ځائے په ځائے اشعار لیکلی دی۔ که د زنانه وُ اجتماع وی نو اشعار د ترک کړے شی۔

# اول فصل

## د نورِ محمدی په بیان کښ

**اول روایت**: عبد الرزاق په خپل سند سره د حضرت جابر بن عبد الله انصاریؓ نه روایت کړے دے چه ما عرض اوکړو یا رسول الله زما مور پلار تا نه قربان ماته اووایه چه الله تعالیٰ په ټولو مخلوقاتو کښ د ټولو نه مخکښ کوم شے پیدا کړے دے حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ اے جابر الله تعالیٰ د هر څهٔ نه مخکښ د ستا د نبی نور د خپل نور نه پیدا کړو۔ (نهٔ په دے معنیٰ چه نور الٰهی د هغے د پاره ماده ده۔ بلکه په دے معنیٰ چه الله تعالیٰ د خپل نور په فیض نور محمدی پیدا کړو) بیا هغه نور د خدائے په

قدرت ترکومے چه الله تعالیٰ ته منظوره وه - اوکرزیدو- په دے وخت کښ نه لوح د قلم وو- نه جنت دوزخ وو - او نه نمر سپوږمئ نهٔ پیریان او بنیادم - بیا چه کله الله تعالیٰ مخلوق پیدا کول اوغوښتو نو دا نورئے ځلور حصے کړو- یو حصے نه لوح پیدا کړو دویم نه قلم دریم نه عرش (نورحدیث اوږد دے) **ف** - دے حدیث شریف نه ثابته شوه چه نورِ محمدی په اولیتِ حقیقی سره د ټول مخلوق نه اول پیدا شوے دے- ځکه چه د کومو ځیزونو د اولیت ذکر چه په نورو روایاتو کښ راغلے دے - د هغے ځیزونو د نورِ محمدی نه روستو پیدا کیدل په دے حدیث شریف واضح بیان شوی دی -

**دویم روایت** = حضرت عرباض بن ساریه رضی نه روایت دے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه بیشکه د الله په نزد زهٔ خاتم النبیین وومٔ او آدم علیه السلام یا دخپلے خټے په خمیر کښ وو- یعنی د خټے نه د هغهٔ بدن تیار شوے وو- خو روح پکښ یا نهٔ وو اچولے شوے- دا روایت د احمد او بیهقی دے - او حاکم ئے سند ته صحیح ویلے دے - فا

فا = په دے وخت کښ ظاهره ده چه د هغوئ بدن لاجوړ شوے نه وو نو د نبوت صفت د هغوئ روح ته ورکړے شوید ے نورِ محمدی د روحِ محمدی نوم دے که د چا شک دی چه نبوت خو د ځلوینښتو کالو په عمر کښ ورکړے شوید ے او چونکه هغوئ د ټولو نه روستو راغلی دی ځکه ورته د ختمِ نبوت مرتبه ورکړے شوه د دے جواب دا دے چه تأخر په مرتبهٔ ظهور کښی دے- په مرتبهٔ ثبوت کښ نهٔ دے

لکه ننی یوکس د تحصیلدارئ په پوسټ واخستے شی تنخواه به ئے د نن نه اونګی۔ خو ظهور به ئے هله کیږی (حکم به ئے هله چلیږی چه خپل ځائے کښ چارج واخلی) چه خپل ځائے کښ چارج واخلی۔ نو روحِ محمدی ته نبوت هغه وخت ورکړے شوے وو۔ خو ظهور ئے هله اوشو چه دنیا ته ئے تشریف راوړو۔ (حاشیه ختمه شوه)

**دریم روایت**: حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے۔ چه اصحابوؓ تپوس اوکړو چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسو ته نبوت کله درکړے شوے وو۔ هغوئ اوفرمائیل هغه وخت چه د آدم علیه السلام په بدن کښ لا روح نهٔ وو اچولے شوے۔ دا روایت ترمذی کړے دے او حدیث حسن ئے ورته ویلے دے۔

**څلورم روایت**: شعبیؒ نه روایت دے چه یو صحابی عرض اوکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسو ته نبوت کله درکړے شوے هغوئ اوفرمائیل چه آدم علیه السلام لا د روح او بدن ترمینځه وو (یعنی بدن کښ ئے روح نهٔ وو اچولے شوے) چه ما نه د نبوت میثاق واخستے شو۔ لکه چه د قرآن کریم ارشاد دے

وَاِذْ اَخَذْنَا مِنَ النَّبِيّٖنَ مِيْثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُّوْحٍ

(او یاد کړه هغه وخت چه مونږ میثاق واخستو د نبیانو نه او د تا نه او د نوح نه)

دا روایت دے د ابن سعدؒ د جابر جعفی نه د ابنِ رجب د روایت موافق۔

**پنځم روایت** = احکام ابن القطان کښې چه د ابن مرزوق نه کوم روایات دی په هغو کښې یو دا هم دے چه حضرت علی بن الحسین یعنی امام زین العابدین روایت کوی د خپل پلار امام حسین نه او هغه روایت کوی د خپل پلار حضرت علیؓ نه چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه زهٔ د آدم علیه السلام د پیدا کیدو نه څوارلس زره کاله مخکښې د خپل پروردګار په حضور کښې یو نور وم. **ف** (د دے خاص عدد نه د کمی نفی ده د زیاتی نفی نشته نو که څنو روایاتو کښې د دے نه زیات راغلے وی څهٔ حرج ئے نشته)

(یا ئے شو د دے خاص عدد ذکر نو کیدے شی چه هغه وخت سره څهٔ مقامی ضرورت ئے وو۔)

**شپږم روایت** = د ابی سهل قطان په امالیو کښې د سهل ابن صالح نه روایت دے۔ وائی چه ما د ابو جعفر محمد بن علیؓ یعنی امام محمد باقرؒ نه تپوس اوکړو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د ټولو انبیاؤ نه مقدم څنګه دے چه راغلے د ټولو نه آخر کښې دے۔ هغهٔ جواب راکړو۔ چه کله الله تعالیٰ د آدم علیه السلام د پشت نه په عالم میثاق کښې د هغهٔ ټول اولاد پیدا کړو او ورته ئے اووئے اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ (آیا زهٔ ستاسو د ټولو رب نهٔ یم) نو په جواب کښې ټولو نه اول رسول الله صلی الله علیه وسلم بَلٰی اووے یعنی ولے نه تهٔ یقیناً زمونږ د ټولو رب ئے۔ په دے وجه هغه په ټولو انبیاؤ مقدم شو۔ اګر

Scanned with CamScanner

چه په وجود کښې مؤخر دے۔

**ف** (که په میثاق کښې ارواحو ته بدن هم ورکړے شوے وو۔ بیا هم احکام د روح غالب دی۔ ځکه مونږ دا روایت د نور په کیفیاتو کښې راوړو۔ ځکښې د شعبی په روایت کښې د هغوی د روح نه د میثاق اخستو ذکر شوے دے۔ د ظاهر روایاتو نه دا معلومیږی چه دا میثاق د آدم علیه السلام د پیدا کیدو نه پس اخستے شوے دے۔ نو ممکنه ده چه هغه میثاق د نبوت هغوی نه ځانته یو ځی اخستے شوے وی۔ او د هغے حدیث شریف د الفاظو نه هم دا سے معلومیږی۔ چه هغه د دے عام میثاق اَلَسْت نه جدا وو۔

**اوم روایت** = کله چه حضور صلی الله علیه وسلم د تبوک د غزا نه مدینے منورے ته واپس تشریف راوړو ۔ نو حضرت عباس رض عرض اوکړو۔ که اجازت وی چه زهٔ ستاسو په مدح کښې یو څو اشعار عرض کړم۔

حضور ﷺ اجازت ورکړو نو هغهٔ دا اشعار اووے۔

| | |
|---|---|
| (۱) مِنْ قَبْلِهَا طِبْتَ فِيْ ظِلَالٍ وَّ فِيْ | مُسْتَوْدَعٍ حَيْثُ يُخْصَفُ الْوَرَقُ |
| (۲) ثُمَّ هَبَطْتَ الْبِلَادَ لَا بَشَرٌ | اَنْتَ وَلَا مُضْغَةٌ وَّلَا عَلَقُ |
| (۳) بَلْ نُطْفَةٌ تَرْكَبُ السَّفِيْنَ وَقَدْ | اَلْجَمَ نَسْرًا وَّ اَهْلَهُ الْغَرَقُ |
| (۴) تَنْقُلُ مِنْ صَالِبٍ اِلٰى رَحِمٍ | اِذَا مَضٰى عَالَمٌ بَدَا طَبَقُ |
| (۵) وَرَدْتَ نَارَ الْخَلِيْلِ مُكْتَتِمًا | فِيْ صُلْبِهٖ اَنْتَ كَيْفَ يَحْتَرِقُ |
| (۶) حَتّٰى احْتَوٰى بَيْتُكَ الْمُهَيْمِنُ مِنْ | خِنْدَفٍ عَلْيَاءَ تَحْتَهَا النُّطُقُ |

۷، وَاَنْتَ لَمَّا وُلِدْتَ اَشْرَقَتِ الْاَرْضُ وَضَاءَتْ بِنُوْرِكَ الْاُفُقُ
۸، فَنَحْنُ فِیْ ذٰلِكَ الضِّیَاءِ وَفِی النُّوْرِ سُبُلَ الرَّشَادِ نَخْتَرِقُ

ترجمه ۱، زمکے ته راتلو نه مخکښ ته د جنت په سورې په خوشالو کښ وے او په ودیعت کاه کښ (یعني د آدم علیه السلام په صلب کښ وے) کله چه هغه د ونو پانړے ځان نه چاپیره کولے (یعنې کله چه آدم علیه السلام هغه ممنوع بوټے اوخوړو - د جنت جامے تر اووتے نو ستر پټولو دپاره ئے د ونو پانړے ځان نه چاپیره کولے هغه وخت کښ ته د آدم علیه السلام په صلب کښ وے -

۲- دے نه پس ته دنیا ته راغلے په داسے حال کښ چه نه بشر وے نه مضغه وے او نه علق (دا حالتونه د جنین دی په رحم کښ) نو د هغوئ دا نزول زمکے ته په صلب د آدم علیه السلام کښ وو - (رحم ته لا منتقل شوے نه وو)

۳- بلکه یا د نطفے په شکل کښ وے - د نوح علیه السلام په صلب کښ - نوح علیه السلام سره په کشتئ کښ سور شوے په داسے حال کښ چه نسر بت ته سجده کوونکی ټول په طوفان کښ غرق شو - او په کشتئ کښ سواره کسان د تا د نور په برکت طوفان نه بچ پاتے شو - مولانا جامی هم دے مضمون ته اشاره کړی ده وائی:

نجودش گر نگشتی راه مفتوح بجودی کے رسیدے کشتئ نوح

(که د تا په برکت ورته لار نه وے ازاده شوے - د نوحؑ کشتئ به

جوړی غرته کله رسیدلی وه )

۴- دغه شان دا ماده واسطه در واسطه د یو صلب نه رحم ته او بیا بل صلب ته منتقل کیده چه یو طبقه به ختم شوه نو بله طبقه به شروع شوه-

۵- دا سلسله دغه شان جاری وه چه ته د ابراهیم خلیل الله په صلب کښې هغهٔ سره اور ته کوز شوے - چه ته د هغهٔ په صلب کښې پټ وے نو هغه اور کله سوے شو - ( یعنی ابراهیمؑ د تا په برکت په اور کښې سولو نه بچ شو-

٦- دغه شان دا ماده منتقل کیدله - تر دے چه د خندف په اولاد کښې تهٔ لوړ نه اوچت کورنئ ته اورسیده - چه د هغې د لاندے نورے کورنئ هم وے خو هغه ټولو کښې اوچته کورنئ وه -
(خندف د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د مشر نیکهٔ مدرکه بن الیاس د مور نوم دے ) یعنی د هغوئ په اولاد کښې د حضورؐ د خاندان او د نورو خاندانو نسبت داسے دے لکه د غر د ټولو نه اوچت سوکے او د نورو وړو وړو غونډو-

۷- کله چه ته د دنیا ته راغلے زمکه ټوله روښانه شوه - ټول آسمانونه هم روښانه شو-

۸- نو مونږ په دے نور او په دے رڼا کښې د نیک بختئ په لار روان یو-

# وَمِنَ الْقَصِيْدَةِ

(او د قصيده بُردے اشعار دی)

١- وَ كُلُّ آيٍ اَتَى الرُّسُلُ الْكِرَامُ بِهَا فَاِنَّمَا اتَّصَلَتْ مِنْ نُوْرِهٖ بِهِمِ

٢- فَاِنَّهٗ شَمْسُ فَضْلٍ هُمْ كَوَاكِبُهَا يُظْهِرْنَ اَنْوَارَهَا لِلنَّاسِ فِي الظُّلَمِ

٣- يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا عَلٰى حَبِيْبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمِ

ترجمه:(١)- او څومره معجزے چه انبياء كرامو راوړى دى - يقيناً دا ټولے د حضور د نور په بركت هغوئى ته رسيدلى دى -

٢- ځكه چه هغه د فضائلو نمر دے او نور نبيان ئے ستورى دى - چه خلقو ته خپله رڼا په تياره كښې رسوى -

٣- يا الله خپل خاص رحمت او سلامتيا نازله كړے - هميشه دپاره په خپل حبيب بانديے چه ټولو خلقو كښې بهتر دے -

# دویم فصل

## په نورو پيغمبرانو بانديے د حضورؐ د فضيلت اظهار

---

**اول روايت:** حاكم په خپل صحيح كښې روايت كړے دے چه حضرت آدم عليه السلام د رسول الله صلى الله عليه وسلم نوم مبارك په عرش ليكلے اوليدو - او الله تعالىٰ آدم عليه السلام ته اووے - كه محمدؐ نه وے نو ته به م نه وے پيدا كړے -

**ف:** دے نه په آدم عليه السلام د حضورؐ فضيلت ثابت شو -

Scanned with CamScanner

حضرت عمر بن الخطاب نه روایت دے

## دویم روایت :

چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی = کله چه د آدمؑ

ف = دا روایات ټول د مواهب دی ۔

نه غلطی اوشوه ۔ (هغه ممنوع بوټے ئے اوخوړو) نو د الله تعالیٰ

په دربار کښې ئے سوال اوکړو ۔ چه یا الله د محمد صلی الله علیه وسلم

په واسطه زما غلطی معاف کړے ۔ الله تعالیٰ ورته اوفرمائیل ۔

اے آدمؑ تا محمدؐ څنګه اوپیژندو حالانکه هغه لا ما پیدا کړے

نهٔ دے ۔ عرض ئے اوکړو یا الله ما داسے اوپیژندو ۔ چه کله تا

زهٔ پیدا کړم ۔ او عزت دِ راکړو ۔ او روح دِ راکښې واچولو ۔ چه ما سَر

اوچت کړو بره مِ اوکتل نو په عرش باندے مِ د تا د نوم سره

د محمدؐ نوم اولیدو ۔ د عرش په برجئ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ

مِ لیکلی اولیدو ۔ نو زهٔ پوهٔ شوم چه دا مبارک نوم د تا په

نزد په ټول مخلوق کښې تا ته زیات نږدے دے ۔ او د تا زیات

خوښ دے ۔ الله تعالیٰ افرمائیل ۔ اے آدمؑ رښتیا دِ اوؤے ۔ دے

په ټول مخلوق کښې زما زیات خوښ دے ۔ چه د دهٔ په واسطه

د معافی اوغوښته نو معاف مِ کړے ۔ او که محمدؐ نه وے نو تهٔ به

مِ هم نهٔ وے پیدا کړے ۔ دا بیهقی روایت کړے دے د عبد الرحمٰن

بن زید سلمی نه او وائی چه دے سره عبد الرحمٰن منفرد دے

او حاکم او طبرانی هم روایت کړے دے ۔ او طبرانی ورسره دا زیات

کړے دے ۔ چه الله تعالیٰ اوفرمائیل هغه د تا په اولاد کښې

ټولو نه آخری نبی دے ۔

**دریم روایت:** ابن جوزی په خپل کتاب سلوة الاحزان کښې لیکلی دی چه آدم علیه السلام چه حوا ابئ سره د نن دیکت اراده اوکړه - نو هغې ورنه مهر اوغوښتو - آدم علیه السلام دعا اوغوښته - یاالله زه په مهر کښې څه ورکړم (ما سره خو هیڅ نشته) حکم ورته اوشو - زما په حبیب شل ځله درود اووایه - دا ئې مهر شو - هغهٔ هم داسې اوکړهٔ -

**څلورم روایت:** احمد او بزاز اوطبرانی اوحاکم اوبیهقی د عرباض بن ساریه نه روایت کړے دے چه حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی زهٔ د ابراهیمؑ د دعا او د عیسیٰ علیه السلام د بشارت مصداق یم -

(د دے حدیث شریف اوله حصه د اول فصل په دویم روایت کښې ده - مینځ حصه ئې داده - او آخری حصه ئې داده - چه زهٔ د خپلې مور د خوبونو مصداق یم) په دے کښې دوو آیتونو ته اشاره ده - اول د ابراهیم علیه السلام دعا ده -

د قرآن کریم ارشاد دے : رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَ مِنْ ذُرِّيَّتِنَا اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ (تر دے قول) رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ الآیه -

دویم آیت د عیسیٰ علیه السلام بشارت دے ارشاد دے يَا بَنِيْٓ اِسْرَآئِيْلَ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ اِلَيْكُمْ مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰاةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُوْلٍ يَّاْتِيْ مِنْ بَعْدِي اسْمُهٗٓ اَحْمَدُ ؕ

په اول آیت کښې د ابراهیمؑ او اسماعیل علیه السلام دعا ده -

Scanned with CamScanner

چه یا الله موږ دواړه ستا تابعدار کړې ـ او زموږ په اولاد کښې یو ډله ستا تابعدار کړې. او په هغوئی کښې هم د هغوئی نه یو رسول راواستوې. (چه هغوئی ته ستا آیتونه اوروی او تزکیه ئې کوی او د کتاب الله او حکمت تعلیم ورکوی)

بل د عیسیٰ علیه السلام بشارت دے. ارشاد دے (اے بنی اسرائیلو زۀ تاسو د پاره د الله رسول یم. تصدیق کوم د هغے کتاب چه ما نه مخکښې نازل شوے دے یعنی تورات) او تاسو ته خوشخبری درکوم دیو رسول چه ما نه پس به راځی نوم ئې احمد دے)

**پنځم روایت** = په مشکوٰة کښې د بخاری شریف نه د عبد الله بن عمرو بن العاص روایت دے چه په تورات کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په صفت کښې لیکلی دی. اے پیغمبره موږ تۀ واستولے د امت په حال گواه بشارت ورکوونکے او ویروونکے او د امّیانو د ډلے پناهگاه ـ امیانو نه مراد امت محمدی دے. (ځکه حضور صلی الله علیه وسلم خپله فرمائیلی دی موږ اُمّی قوم یو)

تۀ زما بنده ئې زما پیغمبر ئې او ما د تا نوم متوکل ایښے دے. تۀ نۀ بد خویه ئې نۀ سخت مزاجه ئې نۀ بازارونو کښې شور کوونکے ئې. او د بدئی په بدله کښې بدی نۀ کوے بلکه معافی ورکوے او بخښنه ئې. تا به الله نۀ وفات کوی تر هغے چه ستا په برکت د کفر او گمراهئی کږے لارے د ایمان په نیغه

لاربدلے شی او خلق کلمه طیبه اووائی چه ددے په برکت
پاندهٔ بینا شی او کانړهٔ اوریدونکی شی او بند زړونه آزاد
شی (یعنی چه حق دین اسلام په دنیا کښ شهٔ خورشی نو تهٔ به
هلهٔ وفات شے)

**شپږم روایت** : په مشکوة کښ دمصابیح او دارمی نه
دحضرت کعبؓ روایت دے - هغه وائی چه په تورات کښ لیکلی
دی چه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم زما غوره بنده دے هغه
دبدئی بدله په بدئی نهٔ ورکوی بلکه معاف کوی او بخښی ئے -
مکه دهغه دپیدائش ځائے دے - اومدینه ئے دهجرت ځائے
دے او د شام ملک ئے دبادشاهئ مرکز دے - ف دخلفائے راشدینؓ
په زمانه شام داسلامی سلطنت مرکز شو - او دے ځائے نه
داسلام اشاعت بنهٔ ډیر اوشو -

**اوم روایت** = په مشکوة کښ دترمذی نه دعبدالله
بن سلام روایت دے - چه په تورات کښ دحضور صلی الله علیه
وسلم په صفت کښ لیکلی دی چه عیسٰی علیه السلام به هغهٔ
سره خښیږی - ف دآخری درے روایتو نو راویان دتورات
عالمان وو - اول او آخر صحابه وو - او درمیانه تابعی دے -

ځنی آیتونه هم ددے روایتونو هُم معنٰی دی دوه آیتونه
ځکښ بیان شوی دی -

**دریم آیت** = په سورتِ اعراف کښ ارشاد دے - هغه
خلق چه پیروی کوی دنبی امی دچا ذکرچه دوئی لیکلے موعی

په تورات کښې او انجیل کښې هغه دے خلقو ته ښهٔ کارونه ښئ او د ناکاره کارونو نه ئې منع کوي او پاک څیزونه به هغوئی ته حلال کړي او گنده څیزونه به ورباندے حرام کړي او کوم احکام چه سخت وو هغه به موقوف کړي۔

**څلورم آیت** : په سورت فتح کښې ارشاد دے : محمدؐ د الله رسول دے۔ اوکوم خلق چه هغهٔ سره دي (یعنی اصحاب) هغه د داسے داسے اوصافو خاوندان دي - د دوئی دا اوصاف په تورات او انجیل کښې دغه شان موجود دي۔

**پنځم آیت** : په سورت بقره کښې ارشاد دے کله چه اهلِ کتابو سره د هغوئی د علوم تصدیق کوونکے کتاب راغلو (یعنی قرآن) او دوئی به د دے د راتلو نه مخکښې (یعنی د حضورؐ د بعثت نه مخکښې) د مشرکانو په مقابله کښې د هغوئی په وسیله د فتح دعا غوښته - او د هغوئی د بعثت خبر به ئې ورکولو - بیا کله چه دوئی ته هغه معلوم شو (یعنی قرآن او صاحبِ قرآن) را اورسیدو نو دوئی ورنه انکار اوکړو۔

**ف** : دا علم دوئی ته خپلو کتابونو تورات او انجیل نه حاصل شوے وو - نو ثابته شوه چه په سابقه آسمانی کتابونو کښې د حضور صلی الله علیه وسلم د رسالت ذکر وو - او د هغوئی داسے اوصاف بیان شوي وو - چه د هغې په وجه دوئی رسول الله صلی الله علیه وسلم ښه پیژندو چه هم دا د الله هغه رسول دے د چا اوصاف چه زمونږ په کتابونو کښې ذکر دي - او دا پیژندل

دسورت بقره په یو آیت کښې په دے الفاظو بیان شوی دی۔
يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَاءَهُمْ ۔ دوئ رسول کریم صلی الله علیه وسلم داسے یقینی پیژنی لکه خپل ځامن چه پیژنی۔ خو د بغض او عناد په وجه انکار کوی۔

جب انسانیت کی ارتقا ہو گئی تو نبی کی بعثت ہوئی تاکہ انسانیت کی تکمیل ہو جائے

## ومن القصيده

## (او د قصیده بردے اشعار دی)

۱۔ فَاقَ النَّبِيِّيْنَ فِيْ خَلْقٍ وَّ فِيْ خُلُقٍ ‏ ‏ وَلَمْ يُدَانُوْهُ فِيْ عِلْمٍ وَّلَا كَرَمٖ

۲۔ وَكُلُّهُمْ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ مُلْتَمِسٌ ‏ ‏ غُرْفًا مِّنَ الْبَحْرِ اَوْ رَشْفًا مِّنَ الدِّيَمٖ

۳۔ وَوَاقِفُوْنَ لَدَيْهِ عِنْدَ حَدِّهِمٖ ‏ ‏ مِنْ نُقْطَةِ الْعِلْمِ اَوْ مِنْ شَكْلَةِ الْحِكَمٖ

۴۔ يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا ‏ ‏ عَلٰى حَبِيْبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمٖ

۱۔ حضورؐ په حُسنِ صورت او حسن سیرت کښې د ټولو نبیانو نه زیات دے۔ یو نبی هم په علم او په عزت کښې هغوئ سره برابر نهٔ دے۔

۲۔ او ټول نبیان د رسول الله نه طلب کوی د هغوئ د علم د دریاب نه یو چونګ یا یو قطره۔

۳۔ او ټول نبیان د هغوئ په دربار کښې د خپلے مرتبے په لحاظ په خپل حد ولاړ دی۔ او د هغوئ علم د حضورؐ د علم په مقابله کښې د یو نقطے برابر دے۔ یا د هغوئ د حکمت په مقابله کښې د یو اعراب برابر۔

۴۔ یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازله کړے همیشه د پاره په خپل حبیب چه په ټول مخلوق کښې ټولو نه بهتر دے۔

# دریم فصل

## دحضور ﷺ د نسبي شرافت په بیان کښې

**اول روایت** = مشکوٰة کښې د ترمذی نه دحضرت عباسؓ روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه زهٔ محمد ﷺ یم د عبدالله ځوئے او د عبد المطلب نمسے ـ الله تعالیٰ چه څومره مخلوق پیدا کړے دے ـ په هغې ټولوکښې ئے زهٔ په ښهٔ مخلوق کښې پیدا کړم ـ یعنی بنیادموکښې د بنیادموهم بیا دوه ډلے دی ـ عرب او عجم زهٔ ئے په ښه ډله عربوکښې پیدا کړم ـ بیا په عربوکښې هم ډیرے قبیلے دی ـ زهٔ ئے په ښه قبیله قریشوکښې پیدا کړم ـ په قریشوکښې ډیر خاندانونه دی ـ زهٔ ئے په ښهٔ خاندان بنی هاشموکښې پیدا کړم ـ نو زهٔ ذاتی طورهم ټولو نه ښهٔ یم او خاندان م هم ټولو نه ښهٔ دے ـ

**دویم روایت** = په مواهب کښې د طبرانی، ابونعیم ا[و] ابن عساکر نه دحضرت علیؓ روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ـ زهٔ د نکاح نه پیدا شوے یم سفا[ح] یعنی بدکارئ نه نهٔ یم پیدا شوے د آدم علیه السلام نه ت[ر] تر دالده پورے د سفاح داغ په مانهٔ دے نهٔ لګیدلے یعنی [د] جاهلیت په زمانه کښې چه به کومه بے احتیاطی کیده [د]

آدم علیه السلام د زمانې نه زما تر والدینو زما نسب د دے داغ نه پاک دے۔

**دریمه روایت** = ابونعیم د حضرت عباسؓ نه روایت کړے دے مرفوعاً چه حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه زما په نسب کښې هیچرے یو سړے او ښځه د سفاح په طریقه نهٔ دی یو ځائے شوی۔ د دے مطلب دا دے چه د حضور صلی الله علیه وسلم څهٔ تعلق ورسره نهٔ وی هم۔ او حمل تر شوی وی که نه د حضورؐ د نسب نرو ښځو هیچرې غلط کار نهٔ دے کړے۔ ټول همیشه راسے پاک صاف راغلی دی۔ الله تعالیٰ زهٔ د پاکو اصلابو نه پاکو رحمونو ته منتقل کړے یم همیشه۔ او چه کله د بنیادمو دوه شاخونه شوی دی۔ لکه عرب و عجم۔ قریش او غیر قریش وغیره زهٔ ئے همیشه په بهترین شاخ کښې راغلے یم۔ (دا روایت د مواهب دے)

**څلورم روایت** = ابونعیم په دلائل کښې د حضرت عائشهؓ نه روایت کړے دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه جبرئیل علیه السلام ویلی دی چه زهٔ په مشرق و مغرب و شمال و جنوب (یعنی ټوله دنیا کښې اوګرزیدم۔ د محمد صلی الله علیه وسلم نه بهتر انسان او د قریشو نه بهتره قبیله او د بنی هاشمو نه بهتر خاندان ما او نهٔ لیدو۔ (دا د مواهب روایت دے) په دے شعر کښې ګویا د دے حدیث شریف ترجمه شوی ده۔

آفاقها گردیده ام مهر تبان ورزیده ام - بسیار خوبان دیده ام لیکن تو چیزے دیگری

(په ملکونو گرځیدلے یم د محبوبانو ناز و اداء مې لیدلی دی - ډیر ښائسته مې لیدلی دی خو ته بیل شئ ئې د تا په شان هیڅ څوک نشته)

**پنځم روایت** = په مشکوٰة کښې د مسلم نه د واثله بن اسقع روایت دے چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی فرمائیل ئې الله تعالیٰ د اسماعیل علیه السلام په اولاد کښې کنانه غوره کړو د کنانه په اولاد کښې قریش او په قریشو کښې ئې بنی هاشم غوره کړو - او په بنی هاشمو کښې ئې زه غوره کړم په ترمذی کښې دا هم دی - د ابراهیم علیه السلام په اولاد کښې ئې اسماعیل ع غوره کړو - (د ورپسے نورهم د ځکښې روایت په شان دے)

# مِنَ الرَّوْضِ

## د روضے النظیف اشعار دی

۱- اَکْرِمْ بِهٖ نَسَباً طَابَتْ عَنَاصِرُهٗ اَصْلاً وَّ فَرْعاً وَّقَدْ سَادَتْ بِهِ الْبَشَرُ

۲- مُطَهَّرٌ مِّنْ سَفَاحِ الْجَاهِلِیَّةِ لَا یَشُوْبُهٗ قَطُّ لَا نَقْصٌ وَّلَا کَدَرٌ

۳- یَارَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِماً اَبَدًا عَلٰی حَبِیْبِكَ خَیْرِ الْخَلْقِ کُلِّهِمْ

۱- څه عجیبه عزت واله نسب ئې دے چه ټول مواد ئې پاکیزه دی - د اصل نه هم او د فرع نه هم - ټولو بنیا د موته د دوئ په برکت عزت حاصل شو -

۲- پاک دے د جاهلیت د بدکارئ د داغ نه - په نسب کښې ئے هیڅ قسم نقصان او خیرے نۀ دے ګډ شوے -

۳- یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازل کړے همیشه همیشه د پاره په خپل حبیب چه ټولو خلقو کښې ټولو نه بهتر دے -

# څلورم فصل

## د حضورؐ د نور مبارک څۀ آثار چه د هغوئ والد او نیکۀ کښې ښکاره شوی

**اول روایت**: حافظ ابو سعید نیشاپوری د ابوبکر بن مریم نه او هغه د سعید بن عمرو انصاری نه او هغه د خپل پلار نه او هغه د کعب احبار نه روایت کړے دے چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نور چه عبد المطلب ته منتقل شو او هغه ځوان شو نو یوه ورځ حطیم کښې اوده وو چه سترګې ئے اوغړولے نو اوئے لید وچه سترګو کښې رانجه اچولی شوی دی او سر کښې ئے تیل لګیدلی دی - او ښائسته صفا جامې ئے اغوستی دی - سخت حیران شو چه دا چا کړی دی - پلار د لاسه اونیوو او د قریشو کاهن ته ئے بوتلو - هغۀ ورته اووے چه دا سے معلومیږی چه ربّ السموات دۀ ته د نکاح کولو حکم ورکړو - دۀ ته اوس د وادۀ انتظام اوکړه - نو هغه د هو میه قبیله نوم جینئ وادۀ کړه - د هغې د وفات نه پس ئے بیا فاطمه په نکاح واخسته د هغې نه د حضور صلی الله علیه وسلم والد حضرت عبدالله

پیدا شو۔

دحضرت عبد المطلب صاحب د بدن نه به دمشکو خوشبوئی تله۔ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نور به ئې په تندی کښی ځلیدو۔ کله چه به په قریشو خشک سالی راغله۔ ډیره موده به باران اونشو نو هغوئی به حضرت عبد المطلب صاحب جَبَلِ ثبیر ته بوتلو۔ دهغهٔ په واسطه به ئې الله نه دباران سوال اوکړو۔ نو د نور محمدی په برکت به وربانده باران اوشو۔

**دویم روایت**: ابو نعیم او خرائطی او ابن عساکر دعطا او هغهٔ دابن عباس رضؓ نه روایت کړے کله چه عبد المطلب صاحب خپل ځوئے حضرت عبد الله صاحب دنکاح کولو په غرض (مدینے ته) روان کړے وو۔ په لار کښی د یو کاهنے دیره وه۔ او هغه یهودی شوی وه او د تورات عالمه وه۔ فاطمه خثمیه نوم ئې وو۔ هغې چه دحضرت عبد الله په تندی کښی دحضور صلی الله علیه وسلم نور اولیدو۔ نو حضرت عبد الله ئې ځانته را اوبللو (چه ما په نکاح واخله) خو هغه انکار اوکړو۔ دا دمواهب روایت دے۔

**دریم روایت**: کله چه ابرهه په مکه باندے دهاتھیانو دلښکر سره بیت الله شریف درانو لو دپاره حمله اوکړه۔ نو حضرت عبد المطلب صاحب د قریشو یو څو سرداران ځان سره کړل۔ جبلِ ثبیر ته اوختو هغه وخت دحضور صلی الله علیه وسلم نور د عبد المطلب صاحب په تندی کښی لکه دځوار لسم

د سپوږمۍ په شان داسې ځلیده چه رڼا ئې په بیت الله پریوته - عبد المطلب صاحب ملګروته اووے چه راځئ چه ځو- دانور چه داسې اوځلیدو د دے مطلب دادے چه موږ به غالب شو-

او د عبد المطلب صاحب اوبنان د ابرهه لښکر نیولی وو نو عبد المطلب صاحب د هغې د راخلاصولو دپاره ابرهه ته ورغلو- نو کله چه د ابرهه نظر د هغوئی د تندی په نور پریوتو هیبت پرے راغلو- زر د تخت نه راکوز شو - د عبد المطلب صاحب ئې ډیر قدر عزت اوکړو- اوځان سره ئې په تخت کینولو- د حضور صلی الله علیه وسلم د نور مبارک دومره عظمت وو- چه په بادشاهانو به هیبت راغلو- دا واقعه په تاریخ حبیب إله کښ لیکلی ده کوم چه مولانا عنایت احمد لیکلے ده -

## وَمِنَ الرَّوْضِ

## د الروض النظیف اشعار دی

۱- مَا فِيْهِ اِلَّا هُمَامٌ قَدْ سَمَا عِظَمًا ۔ اَوْ سَيِّدٌ نَحْوَ فِعْلِ الْخَيْرِ مُبْتَدِرٌ

۲- حَتّٰى بَدَا مُشْرِقًا مِنْ وَالِدَيْهِ وَقَدْ ۔ تَجَمَّلَتْ بِحُلَاهُ الشَّمْسُ الْقَمَرُ

۳- يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا ۔ عَلٰى حَبِيْبِكَ مَنْ زَانَتْ بِهِ الْعُصُرُ

۱- د حضور صلی الله علیه وسلم په نسب کښ ټول لوئے لوئے سرداران وو چه په عظمت کښ ډیر اوچت وو - او داسې سرداران وو چه د خیر په کارکښ به یو بل نه مخکښ کیدل -

۲- تر دے چه د هغوئی نورانی بدن د والدینو نه ظاهری

دنیا ته راغلو - په داسې حال کښې چه نمر او سپوږمۍ د هغوئ په نور روښانه شو.

۳- یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازل کړې همیشه همیشه د پاره په خپل هغه حبیب چه ټولې زمانې په ښائسته شوی دی.

# پنځم فصل

## د حضورؐ په هغه برکاتو کښې چه حضورؐ د حمل په شکل کښې د مور په خیټه کښې قرار اونیوو

۱ اول روایت = په سیرت ابن هشام کښې د حضورؐ د والدې حضرت آمنه بنت وهب نه روایت دے چه کله د حضورؐ حمل قرار اونیوو. نو ماته په خوب کښې خوشخبری راکړے شوه چه ته د دے امت په سردار حامله شوی یې - او کله چه دے پیدا شی نو اول دا دعا اوغواړه. اُعِیْذُهٗ بِالْوَاحِدِ مِنْ شَرِّ کُلِّ حَاسِدٍ - او نوم ئے محمدؐ کیده.

(زهٔ دے د هر حاسد د شر نه دیو الله په پناه کښې ورکوم)

**دویم روایت** = په سیرت ابن هشام کښې د حضورؐ د والدے نه روایت دے چه هغې د حضورؐ د حمل په حالت کښې راتلو په وخت کښې یو داسې رڼا اولیده چه د بصرے ښار او د شام محلونه ئے اولیدل. ف = دا نور لیدل د ولادت په وخت کښې

نورلیدو نه علاوه دے (یعنی د استقرار حمل په وخت کښې ئے هم دا سے نور لیدلے وو۔ او د ولادت په وخت کښې هم)

**دریم روایت** = په سیرت ابن هشام کښې د حضورؐ د والدے صاحبې نه روایت دے۔ هغه فرمائی ما هیڅ حمل د حضورؐ د حمل نه زیات سپک او بے تکلیفه نهٔ دے لیدلے۔ **ف** = دے سره د مساوات نفی هم او شوه (یعنی د دے برابر سپک هم نهٔ وو) د سپک مطلب دا دے چه درونده والے ئے هم نهٔ محسوسیدو او بے تکلیفه مطلب دا دے چه څنګه اکثر د حمل په ابتداء کښې زړهٔ خرابیږی التهئ راځی او خوراک نشی کولے۔ د حضورؐ په حمل کښې دا تکلیف نهٔ وو۔

او د شمائے په څنو روایاتو کښې دی چه دا سے ثقالت راباندے راغلو۔ چه نورو ښځو سره ئې د دے ذکر اوکړو۔ (حضرت تهانویؒ فرمائی) دا ثقالت د هغوئی د عظمت وو۔ لکه د وحی په حالت کښې چه په حضورؐ ثقالت راتلو۔ دے سره طبعی نشاط نهٔ ختمیږی۔ نو دواړو روایاتو کښې تعارض نشته بهر حال دا حمل د عامو حملونو په شان نهٔ وو۔

## مِنَ الرَّوْضِ

۱- هٰذَا وَقَدْ حَمَلَتْ اُمُّ الْحَبِيْبِ بِهٖ    وَلَيْسَ فِىْ حَمْلِهَا كَرْبٌ وَّلَا ضَرَرٌ

۲- يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا    عَلٰى حَبِيْبِكَ مَنْ زَانَتْ بِهِ الْعُصُرُ

۱- دا حالات دو چه د حضورؐ والده په هغوئی باندے حامله شوه۔ په دے حمل کښې هیڅ درد او تکلیف نهٔ وو۔

۲- یا الله ته خپل خاص رحمت او سلامتیا نازل کړې - په خپل هغه حبیب چه ټولے زمانے په روښانه شوی دی -

# شپږم فصل

## د ولادت شریف د وخت څه حالات او واقعات

**اول روایت**: په مواهب کښې محمد بن سعد رح د عطا رح او ابن عباس رض نه او نورو کسانو نه روایت کوی چه د حضور ع والدے صاحبے فرمائیلی دی کله چه حضور صلی الله علیه وسلم زما د بدن نه جدا شو نو دے جدا کیدو سره داسے رڼا شوه چه مشرق نه ترمغرب پورے ټول ملک روښانه شو. حضور ع چه زمکے ته راغلو نو دواړه لاسونه ئے اونګول یو موټے خاورے ئے را واخستے او سر ئے آسمان طرف ته اوچت کړو. **ف**: د دے رڼا ذکر په بل یو حدیث شریف کښې داسے دے چه په دے رڼا کښې ما د شام محلونه اولیدل. حضور صلی الله علیه وسلم د دے واقعے متعلق خپله فرمائیلی دی. وَرُؤْيَا اُمِّيَ الَّتِيْ رَأَتْ رزهٔ د خپلے والدے هغه نور یم چه هغے لیدلے وو. او دے سره ئے دا هم فرمائیلی دی. وَكَذٰلِكَ اُمَّهَاتُ الْاَنْبِيَاءِ يُرِيْنَ (د هم دغه شان د پیغمبرانو میاندے نور وینی) دا روایت احمد او طبرانی او بزاز او حاکم او بیهقی د عرباض بن ساریه رض په روایت بیان کړے دے. حافظ ابن حجر لیکلی دی چه ابن حبان او حاکم دے روایت ته

صحیح ویلی دی۔

**دویم روایت**۔ عثمان بن ابی العاص دخپلے مور اُمّ عثمان ثقفیه نه روایت کوی۔ د هغې نوم فاطمه بنت عبد الله دو۔ هغه وائی چه زما مور ویلی دی چه د حضورؐ د ولادت په وخت کښې ما خانه کعبه اولیدو چه د نور نه ډکه شوه۔ او ستوری م اولیدهٔ چه زمکې ته داسے نزدے ښکاریدو چه ما ویل په ما راپریوځی۔ دا بیهقی روایت کړے دے۔

**دریم روایت**: ابونعیم د عبدالرحمٰن بن عوف رض نه روایت کوی او هغه دخپلے مور شفا نه روایت کوی هغه وائی کله چه حضورؐ دنیا ته تشریف راوړو۔ نو زما په لاسونو کښې راغلو۔ او د ډېرو د عام عادت موافق ئے دخولے نه آواز اوو تو۔ نو ما یو آواز واوریدو۔ او دو ویلے شو رَحِمَکَ الله (په تا دِ د الله رحمت وی) شفا وائی چه د حضورؐ د پیدائش سره د مشرق نه ترمغرب په ملک داسے روښانه شو چه ما د روم محلونه اولیدل بیا ما پئی دړکړل (یعنی خپل نه بلکه د بی بی آمنه سینے ته م واچولو۔ ځکه چه د حضورؐ د پیو میاند وکښې د شفا نوم چا نهٔ دے لیکلے بیا م اود وه) چه لږ ساعت تیر شو په ما ویرهیبت راغلو او په سترگو م داسے تیارهٔ شوه چه هیڅ م نهٔ لیدل۔ حضورؐ م هم نهٔ لیدو۔ بیا م یو آواز واوریدو۔ او دو ویلے شو۔ هغه ئے چرته بوتلو۔ جواب ورکړے شو مشرق طرف ته۔ هغه وائی د دے واقع هیبت زما په زړهٔ ترهغه دو۔ چه حضورؐ ته رسالت ورکړے

شو۔ نو زهٔ په اول اسلام قبلوونکو کښې شوم۔

**څلورم روایت** = د حضورؐ د ولادت په عجائباتو کښې دا هم

ویلې شوې دی چه د کسرٰی په محل زلزله راغله څوارلس کنګر

ئې راپریوتے۔ او د طبریه بحیره اوچه شوه او د فارس آتشکد

چه زر کالو راسے بلکښې او ربلید و یکدم سړه شوه او ړئے مړه شو

دا بیهقی او ابونعیم او خرائطی او ابن عساکر روایت کړے د

(مواهب) **ف** = دا واقعات اشاره کوی د فارس او شام د

بادشاهیو زوال ته۔ والله اعلم۔

**پنځم روایت** = فتح الباری د سیرت واقدی نه نقل کړ

دے چه حضورؐ د ولادت په ابتداء کښې خبرے کړی وے (مواه

مخکښې ئے د حضورؐ د ولادت متعلق د اهلِ کتابو خبرونه نقل

کړی دی۔ او د کاهنانو او نجومیانو خبرونه م په دے وجه تر

کړو۔ چه د دے دواړو په شریعت کښې څه اعتبار نشته۔ او

سابقه کتابونو (تورات او انجیل) خبرونه فی نفسه معتبر د

که تحریف پکښې نهٔ وی شوے۔

**شپږم روایت** = بیهقی او ابونعیم د حضرت حسان ابن

ثابتؓ نه روایت کوی هغه وائی چه زهٔ د اوو یا اتو کالو وم

لیدلی او ریدلی خبره نبه پوهیدم۔ یوه ورځ سحر وختی

یهودی چغے وهلے اے یهودیانو راجمع شئ چه خلق راجمع

شو۔ ورته اووے په تا څهٔ اوشو چه چغے وهے۔ هغهٔ ور

اووے۔ هغه ستورے د کوم ښکاره کیدو په وخت چه په احمد

پیدا کیدو۔ هغه ستورے بیګاه ښکاره شوے دے (مواهب) او په سیرت ابن هشام کښې د محمد بن اسحاق صاحبِ اکسیر نه روایت دے هغه وائی چه ما د سعید بن عبد الرحمن بن حسان بن ثابت نه تپوس اوکړو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم چه مدینے ته تشریف راوړو نو د حسان بن ثابت عمر څومره وو۔ هغهٔ اووے شپیته ۶۰ کاله په دے وخت کښې د حضورؐ عمر درے پنځوس ۵۳ کاله وو۔ په دے حساب د حضورؐ د ولادت په وخت د هغهٔ عمر اوهٔ کاله وو۔ چه د یهودی دا خبره ئے واوریده۔

**اوُم روایت**: د حضرت عائشهؓ نه روایت دے۔ چه یو یهودی مکے ته راغلے وو۔ په کومه شپه چه د حضور صلی الله علیه وسلم ولادت اوشو۔ هغهٔ اووے اے قریشو په تاسو کښې بیګاه د چا بچے پیدا شوے دے؟ هغوئی ورته اووے موږ نهٔ یو خبر۔ هغهٔ ورته اووے تپوس اوکړئ بیګاه د دے امت نبی پیدا شوے دے۔ د هغهٔ د دواړو ولو ترمینځه یو نخښه ده۔ (د دے نوم مهر نبوت دے) قریشو تحقیق اوکړو۔ نو پته اولګیده چه نن د عبد الله بن عبد المطلب کره بچے پیدا شوے دے۔ هغه یهودی د حضرت عبد الله کورته ورغلو نو خلقو ورته هغه بچے راوستو۔ یهودی چه ئے مهر نبوت اولیدو نو بے هوشه پریوتو۔ او وے وئیل د بنی اسرائیلو نه نبوت رخصت شو۔ اے قریشو واورئ والله دا بچے به په تاسو غلبه مومی۔ او داسے شهرت به حاصلوی چه د مشرق نه ترمغرب به

به ئې شهرت اوشي - فتح الباري کښې ليکلي دي چه دا روايت
يعقوب بن سفيان کړے دے - اسناد ئې حسن دے (مواهب)

# مِنَ الْقَصِيْدَةِ

## د قصيده بردة اشعار دی

| | |
|---|---|
| ١- أَبَانَ مَوْلِدُهُ عَنْ طِيبِ عُنْصُرِهِ | يَا طِيبَ مُبْتَدَءٍ مِنْهُ وَمُخْتَ |
| ٢- يَوْمًا تَفَرَّسَ فِيهِ الْفُرْسُ أَنَّهُمُ | قَدْ أُنْذِرُوا بِحُلُولِ الْبُؤْسِ وَالنِّ |
| ٣- وَبَاتَ إِيوَانُ كِسْرَى وَهُوَ مُنْصَدِعٌ | كَشَمْلِ أَصْحَابِ كِسْرَى غَيْرَ مُلْتَـ |
| ٤- وَالنَّارُ خَامِدَةُ الْأَنْفَاسِ مِنْ أَسَفٍ | عَلَيْهِ وَالنَّهْرُ سَاهِيَ الْعَيْنِ مِنْ سَـ |
| ٥- وَسَاءَ سَاوَةَ أَنْ غَاضَتْ بُحَيْرَتُهَا | وَرُدَّ وَارِدُهَا بِالْغَيْظِ حِينَ ظَـ |
| ٦- كَأَنَّ بِالنَّارِ مَا بِالْمَاءِ مِنْ بَلَلٍ | حُزْنًا وَّبِالْمَاءِ مَا بِالنَّارِ مِنْ ضَـ |
| ٧- وَالْجِنُّ تَهْتِفُ وَالْأَنْوَارُ سَاطِعَةٌ | وَالْحَقُّ يَظْهَرُ مِنْ مَّعْنًى وَّمِنْ كَلِـ |
| ٨- عَمُوا وَصَمُّوا فَإِعْلَانُ الْبَشَائِرِ لَمْ | تُسْمَعْ وَبَارِقَةُ الْإِنْذَارِ لَمْ تُـ |
| ٩- مِنْ بَعْدِ مَا أَخْبَرَ الْأَقْوَامَ كَاهِنُهُمْ | بِأَنَّ دِينَهُمُ الْمُعْوَجَّ لَمْ يَقُـ |
| ١٠- وَبَعْدَ مَا عَايَنُوا فِي الْأُفْقِ مِنْ شُهُبٍ | مُنْقَضَّةٍ وَّفْقَ مَا فِي الْأَرْضِ مِنْ صَـ |
| ١١- يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا أَبَدًا | عَلَى حَبِيبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِـ |

١. د حضور صلى الله عليه وسلم د ولادت زمانے د عجيبه واقعا
د ظهور په وجه خپل لطافت او د خپل اصل مبارک پاکی او لوړوا
څرګند کړو -

اے خلقو را شئی دا بهترينه ابتداء او دا بهترينه خاتمه اوګور

٢ - دا مبارکه ورځ هغه ورځ ده چه اهلِ فارس په خپله پوه
معلومه کړه - چه هغوئی باندے د ويرے او د بادشاهئ د تباه

او د مصیبتونو وخت راغلو۔

۳۔ او د کسرئ په ایوان زلزله راغله مات گوډ شو۔ لکه د کسرئ لښکر چه گډ وډ شکست او خوړو بیا راجمع نشو۔

۴۔ او د فارس آتشکده (چه زر کاله راسے پکښې اور بلیدو) یخه شوه۔ د افسوس په وجه او د فرات نهر د حیرانتیا په وجه خپل بهیدل پریښو۔

۵۔ او د ساوه خلق دے خبرے خفه کړو چه د هغوئ سمندر اوچ شو۔ خلق تږی تږی را واپس شو په غصه کښې۔

۶۔ گویا د اور په لوند والی کښې هغه حالت شو کوم چه د اوبو وی۔ او په تاؤ او گرمئ کښې د اوبو هغه حالت شو کوم چه د اور وی۔ یعنی آتشکده یخه شوه او سمندر اوچ شو۔

۷۔ او پیریانو د حضورؐ د ظهور اعلان کولو۔ او د حضورؐ انوار خرگندیدل۔

۸۔ او حق ظاهر شو په پټو خبرو هم (لکه انوار) او په خرگندو خبرو هم۔ لکه د هاتف آواز۔

مشرکان ړانده کاڼه شو نو د خوشخبرئ اعلان ئے وا نه وریدو۔ او د انذار پړقائے او نه لیده۔

۹۔ سره د دے چه کاهنانو خپل قوم ته خبر ورکړے وو چه ستاسو کوږ دین نور نشی پاتے کیدے۔

۱۰۔ او پس د دے نه چه دوئ اولیدو چه آسمان نه د شهابِ ثاقب لوټے راسے راغورزیږی۔ لکه په زمکه چه به د دوئ بتان

ټوټې کیږی۔

١١- یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا همیشه همیشه د پاره په خپل حبیب نازل کړے۔ چه په ټول مخلوق کښې ټولو نه بهتر دے۔

# اوم فصل

## د ولادت شریف ورځ، میاشت، سن، وخت او مکان

په ورځ د ټولو اتفاق دے چه د ګل (پیر) ورځ وه۔ په تاریخ کښې اختلاف دے چا اتم نیټه لیکلے دے او چا دولسم[١٢] (کذا فی الشمامه) په میاشت د ټولو اتفاق دے چه د ربیع الاول میاشت وه۔ په سنه هم د ټولو اتفاق دے۔ چه عام الفیل وو۔ یعنی په کوم کال چه ابرهه د هاتهیانو د فوج سره په مکه مکرمه حمله کړی وه۔ په قول د سهیلی د دے واقعے نه پنځوس ورځے پس او په قول د میاطی پنځه پنځوس ورځے پس ولادت مبارک شوے وو (کذا فی الشمامه)

وخت: چا د ګل شپه لیکلی ده او چا د ګل ورځ۔ او چا د طلوع فجر وخت لیکلے دے۔ (کذا فی الشمامه)

مکان: چا مکه لیکلے دے[ف١]۔ چا شعبِ ابی طالب او چا رَدْم[ف٢]۔ او چا عسفان لیکلے دے (کذا فی الشمامه)

---

ف١ = دړومبے قول یعنی مکه مشهور دے۔ او نور اقوال ضعیف دی یا ئے مناسب تاویل کیدیشی

ف٢ = دا مکے سره یو ځائے دے (کذا فی القاموس)

# من الروض

دا د الروض النظیف شعر دے

وَكَانَ مَوْلِدُهٗ اَيْضًا وَ نَقْلَتُهٗ لِيَوْمِ الْاِثْنَيْنِ هٰذَا الْاَمْرُ مُعْتَبَرٌ

دھغوئی پیدائش او وفات دواړه د کل په ورځ وو - دا خبره صحیح ده -

# اته فصل

## څهٔ واقعات د وړوکوالی د زمانے

اول روایت = ابن شیخ په خصائص کښ لیکلی دی چهٔ د حضور صلی الله علیه وسلم زانګو به فرشتو زانګوله - (مواهب)

دویم روایت = بیهقی او ابن عساکر د ابن عباس رض نه روایت کړے دے چه حضرت حلیمے ویلی دی چه ما چه حضور ص پیی نه منع کړو - نو هغوئی اوله خبره دا اوکړه - اَللّٰهُ اَكْبَرُ كَبِيْرًا وَّالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْرًا وَّسُبْحَانَ اللّٰهِ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا - حضور ص چه لږ غونډے لوئے شو - نو بهر ته وتو او د وړو د لوبو تماشه به ئے کوله - خو خپله به دړے ته ولاړ وو - هغوئی سره به په لوبو کښ شریکیدونه - (مواهب)

دریم روایت = ابن سعد او ابونعیم او ابن عساکر د ابن عباس رض نه روایت کړے دے چه حضرت حلیمے به حضور ص چرته لرے تلو ته نهٔ پریښو - یو ځل هغے نه په ناخبرئ

کښې خپلے رضاعی خور شیماء سره په غېږه کښې د سارۀ و د سر ځائے ته لاړه وو - حضرت حلیمه ورپسے ورغله چه د خور سره ئے اولیدو - نو خپلے لور ته ئے اووے دے دِ په دے سره غېږه کښې دلے راوستے دے - هغې ورته اووے - مورے زما د ورور گرمی نۀ کیږی ځکه چه د وریځے یو ټکړے په دۀ سورے کړے وی - دۀ سره گرځی - چه دے اودریږی نو هغه هم اودریږی او چه دے روان شی وریځ هم ورسره روانه شی - سورے ئے پرِ کړے وی (نمر په نۀ لگی نو گرمی ئے نۀ کیږی)

**څلورم روایت** : د حضرت حلیمے نه روایت دے چه زۀ طائف نه د بنی سعد قبیلے د ښځو سره بچو ته پیو ورکولو په تلاش کښې مکے ته ورغلم - په دے کال سخت قحط وو - ما سره خپل ځلک وو - او زما سینه کښې دومره پئ نۀ وو چه هغه پِه مور شوے وے - ټوله شپه به ئے د لوږے نه ژړل - زمونږ په اوښه کښې هم پئ نۀ وو چه مونږ په ماړۀ شوے وے - په یو خر سوره ووم - هغه هم دومره خوار او کمزورے وو چه د ټولو نه به روستو تلو - ملگری هم را نه تنگ شوی وو - چه زۀ به ترِ روستو پاتے کیدم -

بهر حال چه مونږ مکے ته اورسیدو - نو کومے ښځے چه به رسول الله صلی الله علیه وسلم اولیدو او خبر به شوه چه یتیم دے نو د هغۀ د اخستو نه به ئے انکار اوکړو - (د زیات انعام طمع به ئے نۀ وه) دلته زۀ کمزوری ووم خپل بچے م

Scanned with CamScanner

هم د پیو دکمی په وجه کمزورے وو - نو ما ته چا بچے نهٔ راکولو (چه دا خپل بچے نشی مړولے نو زمونږ بچی ته به څه درکوی) ما خپل خاوند سره صلاح اوکړه - چه د تش تلو نه خو دا ښهٔ ده چه دا یتیم بچے بوځم - خاوند هم راته اووے چه شاید دے کښی خدائے پاک برکت واچوی - هغه م‍ ‍ر واخستو چه خپلے ډیرے ته راغلم او هغه م‍ ‍ر پیو درکولو دپاره سینے ته واچولو - نو زما په سینه کښی دومره پئ راغلهٔ چه حضورؐ هم ښهٔ موړ شو - او رضاعی ورورئے هم موړ شو - او په آرام اودهٔ شو - او چه خپلے اوښے ته ورغلم نو هغے کښی هم دومره پئ وو - چه زمونږ ټول لوښی د پیونه ډک شو - مونږ دواړو هم ډیر پئ اوڅکل او په آرام اودهٔ شو - دے نه مخکښی به د لوږے دلاسه خوب نهٔ راتلو -

خاوند راته اووے حلیمے داخو ډیر برکتی هلک را وستے دے - بیا چه مونږ د مکے نه واپس روان شو - حضورؐ زما په غیږ کښی وو - زهٔ چه په خپل هغے خر سوره شوم - نو دَ هغهٔ دا حال وو - چه ما راټینګولے نشو - د ټولے قافلے نه به مخکښی مخکښی روان وو - ښځے به ورته حیرانیدے او ویل به ئے چه دا هغه خر دے - چه د هغے مخے راتلے نشو - ما به ورته وے چه دے خو هغه خو اوس ئے حالت بدل دے -

چه کورته اورسیدو - هلته سخت قحط وو - غرونی کښی ګیا او چه شوی وه - د نورو خلقو بیزے به غرهٔ نه نهرے

واپس راتلے او زما بیزو به خیټه راویستی وے ـ ښځے به مړے
وے ـ او د پیو نه به ډکے وے ـ خلقو به خپلو هلکانو ته
وے چه تاسو هم خپل څاروی هغه ځائے ته بوځئ ـ کوم
ځائے چه د حلیمے څاروی څري ـ خو بیا به هم د هغوئ څاروی
اوږی راتله او زما څاروی به ماړهٔ وو ـ د څر په ځائے کښې
خو څهٔ نهٔ وو ـ دا خو خبره بیله وه ـ

غرض دا چه موږ د غه شان د حضورؐ برکات لیدل په
دے کښې دوه کاله پوره شو ـ د حضورؐ د پیو نه منع کولو ( او
واپس بوتلو وخت راغلو ) د حضورؐ صحت د نورو ډېرو په نسبت
ډیر ښهٔ وو ـ د دوو کالو په عمر کښې ښهٔ لوئے ښکاریدو ـ
موږ د وعدے مطابق والدے ته بوتلو ـ لیکن د هغوئ دَ
دے برکاتو په وجه مو زړهٔ غوښتو چه لږ نور ئے هم ځان
سره حصار کړو ـ نو والدے ته مو ئے ډیر منت اوکړو ـ چه مکه
کښې وباء ده ـ موږ ئے بیا ځان سره بوځو ـ څو میاشتے پس
به ئے بیا راولو ـ نو هغې اجازت راکړو او بیا مو راوستو ـ څو
میاشتے پس خپل رضاعی ورور سره د څارو د څر ځائے ته لاړو
ورورے په منډه راغلو ـ ماته او پلار ته ئے اووے زما قریشی
ورور څو سپینو جامو واله دوو سړو اونیوو ـ خیټه ئے ورته
اوخیرله هغه م په دے حال کښې پرینښو زهٔ تاسو خبرولو ته
راغلم ـ موږ دواړه ورسره په هیبت لاړو ـ حضورؐ روغ جوړ
ولاړ وو ـ خو رنګ ئے د هیبته زیړ شوے وو ـ موږ ورته

پتوس اوکړ - چه داځه حیل وو - هغوئ راته اووے - د سپینو جامو واله دوه کسان راغلل - زۀ ئے اونیوم خیټه ئے راته اوخیرله څۀ شے ئے ترې اوغورزولو بیائے نۀ یم چه څۀ وو موږ کور ته راوستو -

خاوند راته اووے هلک باندے د پیریانو اثر شوے دے - مخکښ د دے چه زیات شی مور ته ئے رسول پکار دی - مور ته مو بوتلو نو هغې اووے تا وے چه څۀ مو ده ئے نو رحصاروم اوس دِ دے راوستو - ما ورته اووئیل - اوس د خدائے پاک په فضل لوئے دے - ما خپل خدمت پوره کړو - خدائے خبر چه څۀ پیښ شی - ستا امانت مې تا ته را اورسولو - هغې اووئیل - داخبره نۀ ده - ربښتیا ربښتیا اووایه چه څۀ حیل شوے دے - ولے د راوستو - ما ورته ټوله واقعه تیره کړه - هغې اووئیل - ستا داخیال دے چه څۀ شیطانی اثر پرې شوے دے - ما ورته اووئیل - اَو د دے ویرے نه مې راوستو - هغې اووئیل هیڅ کز نه - والله زما په بچی د شیطان اثر نۀ شی کیدے - د دۀ خاص شان دے - بیائے ورته څۀ حالات د حمل او ولادت بیان کړل - (کوم چه د پنځم فصل په دویم او دریم روایت کښ او د شپږم فصل په دوهمې روایت کښ بیان شوی دی - بیائے ورته اووئیل ښه دے اوس پریږده او ته په خیر سره کور ته لاړه شه (دا روایت د سیرة ابن هشام دے)

ف : د حلیمې د دے هلک چه د حضورؐ رضاعی ورور وو - نوم

عبد الله دے - انیسه او جذامه د دهٔ خوینډے وې - دا جذامه په شیماء مشهوره ده - د حلیمې د خاوند نوم حارث بن عبد العزیٰ وو - (زاد المعاد)

د حلیمې اولاد ټول مسلمانان شوی وو - (شمامه)

**پنځم روایت:** ابن اسحاق د ثور بن یزید نه (د دے سینے څیرلو نه پس واقعه مرفوعاً بیان کړې ده - چه حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی - دے دوو سپین پوشو کسانو کښې یو بل ته اوو ئیل چه دے د خپل امت د لسو کسانو سره او تله - هغهٔ او تللم نو زهٔ تِر درونه اوختم - بیائے د سلو سره او بیا زرو سره او تللم - بیائے اوو ئیل بس کړه - والله که د ټول امت سره ئے او تلے هم دے به تِر درونه خیژی - (داد سیرت بن هشام روایت دے)

ف ۱ دے جمله کښې حضورؐ ته د نبوت خوشخبری ورکړے شوه -

ف ۲ د سینے څیرلو (شق صدر) او د حضورؐ د پاک زړهٔ وینځلو واقعات څلور ځله شوی دی - یو دا کوم چه دے روایت کښې بیان شوے دے - (دا ډیر کم عمرئ کښې وو) دویم ځل د لسو کالو په عمر کښې په صحرا کښې شوے دے - دریم ځل دَ بعثت (یعنی د ډومبئ وحی نازلیدو په وخت) په غار حراء کښې - څلورم ځل په شب معراج کښې - پنځم ثابت نهٔ دے - شاه عبد العزیز صاحبؒ د الم نشرح په تفسیر کښې د دے متعلق یو نکته لیکلی ده - چه ډومبی ځل شق صدر دے د پاره شوے وو چه

د هغوئ د زړهٔ نه د لهو ولعب یعنی د فضول لوبو خواهش اوباسی کوم چه په کم عمرئ کښ د ډېرو په زړهٔ کښې وی۔ دویم ځل شق صدر دے دپاره وو۔ چه د هغوئ د زړهٔ نه هغه خواهشات اوباسی۔ کوم کارونه چه په ځوانئ کښ ځوانانو نه د الله د رضا خلاف کیږی۔ دریم ځل شق صدر دے دپاره وو۔ چه د عالم ملکوت او لاهوت د مشاهدے طاقت ئے په زړهٔ کښې پیدا شی۔

ف لاهوت عطف دے په عالم باندے۔ ځکه چه عالم ماسوائے الله دے او لاهوت په مراتب الهیه کښ دے۔

**شپږم روایت**= نبی کریم صلی الله علیه وسلم به همیشه د سینے د ښی طرف پئ خوړل او ګس طرف به ئے خپل رضاعی ورور ته پریښو۔ په کم عمرئ کښ هم د هغوئ په طبیعت کښ داسے انصاف وو۔ او طبیعت کښ دومره نظافت وو۔ چه چرے ئے په کپړه کښ بول متیازے نهٔ دی کړی۔ بلکه وختونه ئے مقرر وو۔ په هغے وخت کښ به دائی د ضرورت ځائے ته بوتلو۔ او کله ئے هم د پردے ځایونه بربنړ شوی نهٔ وو۔ که چرته به اتفاقاً ورته کپړه پورته شوه۔ نو فرشتو به پټ کړو (تاریخ حبیب الله)

یو ځل د کم عمرئ یو واقعه حضور صلی الله علیه وسلم خپله بیان کړی ده چه یو ځل د ډېرو ګټے راچلولے۔ ټولو خپل لنګونه پرانستی وو۔ په اوږه ئے ګټو ته اینښی وو۔ ما هم د داسے کولو اراده اوکړه (په کم عمرئ کښ بنده مکلّف نهٔ وی۔ او عرفاً هم په دے عمر

کښې داسې کار بې حیائي نشي کېدلې) ناڅاپه په زوره یو غیبي دېکه راکړې شوه۔ او آواز اوشو لنګ دې اوتړه۔ ما لنګ او تړلو او بیا م په تشه اوږه کاڼي چلول (سیرت ابن هشام)

**دُوېم روایت**: ابن عساکر د حلیمه بن عرفطه نه روایت کوي هغه وائي چه زه مکې ته لاړم۔ په دې وخت کښې خشک سالي وه۔ قحط وو۔ قریشو ابوطالب ته اووئیل۔ راځه چه د باران سوال اوکړو۔ ابوطالب در سره روان شو۔ او هغه سره یو هلک وو داسې ښائسته تا به وئیل په وریځ کښې پټ نمر دې۔ (دا حضورؐ وو په دې وخت کښې د ابوطالب په پرورش کښې وو۔ ابوطالب د هغې هلک شا بیت الله شریف ته کړه۔ (او دعائې اوغوښته) هغې هلک په ګوته آسمان ته اشاره اوکړه۔ په آسمان کښې چرته د وریځې پته هم نهٔ وه۔ د دې اشارې سره هر طرف ته وریځې راخورې شوې۔ او ښهٔ ډېر باران اوشو۔ دا د حضورؐ د کم عمرئ واقعه ده (تاریخ حبیب اله)

**درېم روایت**: یو ځل حضورؐ ابوطالب سره د دولسو کالو په عمر کښې د شام په تجارتي سفر روان شو۔ په لار کښې ئې د بحیرا راهب عیسائي سره پړاؤ اوکړو۔ راهب حضورؐ (د نبوت د هغې علاماتو په وجه کوم چه سابقه آسماني کتابونو کښې بیان شوي دي) اوپېژندو۔ ټول قافلې ته ئې دعوت اوکړو۔ او ابوطالب صاحب ته ئې اووئیل۔ دا هلک پیغمبر دې د دواړو جهانو سردار دې۔ یهود او عیسائیان د دهٔ دشمنان دي۔ دې ځان سره

شام ته مهٔ يوزه - هغوئی ورته څهٔ نقصان او نهٔ رسوی نو ابوطالب صاحب خپل د تجارت مال هم هغه ځائے کښې خرځ کړو. او ډيره نفع ئے پکښې اوکړه - د هغے ځائے نه وطن ته راواپس شو - (تاريخ حبيب اله) دا واقعه په سيرتِ ابن هشام کښې هم پوره تفصيل سره بيان شوی ده -

**نهم روايت** = حضورؐ چه د ابوطالب صاحب په پرورش کښې دو - نو کله چه به حضورؐ د هغهٔ د اولاد سره په دسترخوان ناست دو - نو ټول به ښهٔ ماړهٔ شو - چه حضورؐ به ورسره نهٔ دو - نو اوږی به پاتے شو - (شمامه)

## من الروض

### دا اشعار د الروض النظيف دی

۱. وَيَا هَنَابِنَةِ سَعْدٍ فَهِيَ قَدْ سَعِدَتْ — سَعَادَةً قَدْرُهَا بَيْنَ الْوَرٰى خَطَرُ

۲- اِذْ اَرْضَعَتْ خَيْرَ خَلْقِ اللّٰهِ كُلِّهِمِ — هٰذَا هُوَ الْفَوْزُ لَامُلْكٌ وَّلَا وَزَرُ

۳- رَاَتْ لَهٗ مُعْجِزَاتٍ فِي الرِّضَاعِ بَدَتْ — وَشَاهَدَتْ بَرَكَاتٍ لَيْسَ تَنْحَصِرُ

۴- وَحَدَّثَتْ قَوْمَهٗ اَهْلُ الْكِتٰبِ بِمَا — يَكُوْنُ مِنْ شَانِهٖ مُذْ شَخْصُهٗ نَظَرُ

۵- يَارَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا — عَلٰى حَبِيْبِكَ مَنْ زَانَتْ بِهِ الْعُصُرُ

۱- څومره خوش قسمته ده سعديه دا سے سعادت ئے حاصل کړو چه ټوله دنيا کښې ئے عظيم قدر دے -

۲- ځکه چه د خدائے په مخلوق ټولو نه بهتر ته ئے پئ ورکړل دا داسے کاميابی ده چه نهٔ بادشاهی ددے برابری کولے شی نهٔ وزارت -

۳- هغې د رضاع په زمانه کښې د حضورؐ ډیر معجزات او دومره برکات اولیدل چه شمار ئې نشي کیدے۔

۴- او اهل کتابو خپل قوم ته د هغهٔ د لوئې شان خبر ورکړو کوم ورځ نه چه ئې لیدلے وو۔

۵- یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازل کړے همیشه همیشه د پاره په خپل هغه حبیب چه زمانے وربانده بنا شسته شوے۔

# نهم فصل

## په هغې نو مونو کښې چه د حضورؐ تربیت ئې کړیدے او پسې ئې ورکړې دی

حضورؐ د حمل په زمانه کښې وو۔ صرف دوه میاشتے ئې په حمل تیرے شوې وے۔ چه د هغوئ والد صاحب حضرت عبدالله وفات شو۔ (سیرت ابن هشام) هغه د قریشو د تجارتي قافلے سره شام ته لاړ وو۔ واپسئ کښې په لار کښې بیمار شو۔ نو مدینه منوره کښې خپل ماما سره حصار شو۔ او هم هلته وفات شو (تاریخ حبیب الله)

حضورؐ صلی الله علیه وسلم چه شپږ کالو شو نو د هغوئ والده خپلوانو سره ملاقات د پاره مدینے ته لاړه۔ په واپسئ کښې د ابواء په مقام وفات شوه۔ (د هغوئ خادمه

اُمِّ ایمن ورسره وه) حضورؐ هغې عبدالمطلب ته را اوړسولو۔ بیائې عبدالمطلب صاحب پرورش کولو۔ چه حضورؐ د اتو کالو شو عبدالمطلب صاحب هم وفات شو۔ او ابوطالب ته ئې د حضورؐ د پرورش وصیت اوکړو (سیرت ابن هشام) بیا ابوطالب صاحب سره وو۔ تر دے چه نبوت ورکړے شو۔

حضورؐ ته خپلے مور اُووَهٔ ورځے پئ ورکړی وو۔ بیا څو ورځے ثوبیه ورکړو چه د ابوطالب صاحب آزاده کړی خادمه وه د هغې په مسلمانیدو کښې اختلاف دے۔ او حضورؐ سره ئې ابو سلمه او حضرت حمزه ته هم پئ درکړی وو۔ په دے وخت کښې د هغې ځوئے مسروح هم ورسره پئ څکلی وو۔ بیا حلیمے سعدئې بوتلو۔ د هغې سره د پئ شریک ورور اوخویندو نوموته او د اسلام حال په اتم فصل کښې په څلورم روایت کښې بیان شوے دے۔

او دے حلیمے حضورؐ سره د حضورؐ د تره ځوئے حضرت ابوسفیانؓ بن حارث ته هم پئ درکړی وو۔ دا ابوسفیانؓ د فتح مکے په ورځ مسلمان شوے وو۔ او پوخ مسلمان وو۔ د حضورؐ د رضاعت په دے ورځو کښې حضرت حمزهؓ هم د بنی سعد د یو ښځے پئ څکل نو هغې ښځے هم یوه ورځ حضورؐ ته پئ ورکړی وو۔ نو حضرت حمزهؓ د حضورؐ تره هم وو۔ او حضورؐ سره د دوو دایانو د پیو شریک ورور هم وو۔ یو د ثوبیه په وجه او بل د دے سعدئې په وجه (زاد المعاد)

حضورؐ چه د چا په غیږ کښې پاتے شوے دے۔ هغه یو خو

د هغوئ والده ده - بله[۲] ثوبیه ، بله[۳] حلیمه ، بله[۴] د حلیمې لور او د حضورؐ رضاعي خور شیماء بله[۵] د حضورؐ خادمه امّ[۶] ایمن حبشیه چه نوم ئې برکت وو - دا حضورؐ ته د والد صاحب نه میراث کښې رسیدلې وه - هغوئ زید بن حارث ته وادهٔ کړې وه - اسامهؓ د هغې ځوئ وو (زاد المعاد)

شاباش آں صدف کہ چناں پرورد گہر | آبا از و مکرم و ابنا عزیز تر
صلوا علیه ما طلع الشمس والقمر | بعد از خدا بزرگ توئی قصه مختصر

۱- آخرین دوې په هغې صدف چه داسې مرغلرې ئې ساتلې دي - پلار ئې هم د هغهٔ په وجه عزتمند شو او اولاد هم -

۲- درود دې وي په هغهٔ ځو پورې چه نمر سپوږمۍ را خیژي یعنې ترڅو چه دا دنیا آباده وي - مختصره خبره دا ده چه الله نه پس هم ته ټولو نه لوئې ئې -

lecture #9

# لسم فصل

## ځوانئ نه تر نبوته

اول روایت : رسول الله صلی الله علیه وسلم چه د څوارلسو پنځلسو کالو او په یو قول د شلو کالو شو - نو د قریشو او د قیس عیلان قبیلې ترمینځه جنګ جوړ شو - د دې جنګ په څو ورځو کښې حضورؐ هم شریک شوې وو - حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چه ما به خپل ترونه د دشمنانو د غشو نه بچ کول (سیرة ابن هشام)

ف دے نه معلومیږی چه حضورؐ وخته راسے ډیر بهادر وو۔

**دویم روایت** : حضورؐ چه د پنځویشتو [۲۵] کالو شو۔ نو حضرت خدیجےؓ چه په قریشو کښې یو مالداره کونډه وه۔ اوخپل مال به ئے تاجرانو ته په مضاربت ورکولو۔ د حضور صلی الله علیه وسلم د ښو اخلاقو، صداقت او دیانت خبرے چه ئے واوریدے نو حضور صلی الله علیه وسلم ته ئے خواست اوکړو چه زما د تجارت مال په مضاربت باندے شام یوسه۔ زما غلام میسره به درسره دلارے ملگرے شی۔ هغوئی دا خواست منظور کړو۔ حضورؐ شام ته روان شو۔ په لار کښې ئے دیو راهب د دیرے خوا کښې دیو ے ونے سورې ته پړاؤ اوکړو۔ راهب د میسره نه تپوس اوکړو دا ځلے څوک دے۔ هغهٔ ورته اوویل دا د مکے د قریشو د اوچت خاندان یو ځلے دے۔ راهب ورته اوویل دے ونے د لاندے پیغمبر نه علاوه بل څوک نهٔ دی ناست۔ حضورؐ شام کښې مال ښهٔ په ډیره منافع خرڅ کړو۔ واپس راروان شو۔ میسره لیدو چه کله به نمر تیز وو۔ گرمی به ډیره وه۔ نو دوو فرشتو به په حضورؐ سورے کړے وو۔ هغوئی چه مکے ته را اورسیدو۔ نو حضرت خدیجےؓ ته ئے خپل مال حواله کړو۔ هغے اوکتو چه دوچند نفع شوی ده۔ (دا د حضورؐ د صداقت او امانت واضح دلیل وو) میسره چه ورته د راهب خبره اوکړه او د فرشتو د سورې حال ئے ورته اوویل نو هغه لاړه خپل د تره ځوئے ورقه بن نوفل ته ئے دا خبره اوکړے ورقه عیسائی شوے وو۔ د تورات غټ عالم وو۔ ورقه ورته اوویل

اے خدیجے که دا خبرے صحیح وی نو محمد صلی الله علیه وسلم
ددے امت نبی دے۔ ما ته د آسمانی کتابونو نه معلومه شوی
ده چه په دے امت کښې به یو نبی راستولے شی۔ دا ئے زمانه
ده۔ او دا کومے خبرے چه تا بیان کړے دا ئے علامات دی۔
حضرت خدیجه ډیره هوښیاره ښځه وه۔ هغې چه دا خبرے
واوریدے۔ نو حضور صلی الله علیه وسلم ته ئے دخاندانی شرافت
صداقت، امانت او ښو اخلاقو په وجه د نکاح پیغام واستولو۔
هغوئی جواب ورکړو چه زۀ به خپلو ترونو سره صلاح اوکړم۔
بیا به جواب درکړم۔ هغوئی حضرت ابو طالب صاحب سره صلاح
اوکړه۔ هغوئی منظوری ورکړه۔ او د ټولو ترونو په صلاح ئے
حضرت خدیجے سره نکاح اوشوه (سیرتِ ابن هشام)
(ددے راهب نوم نسطورا وو۔ تاریخ حبیب اله)

**دریم روایت[۳۵]**: حضور صلی الله علیه وسلم چه د پنځه دیرشو
کالو شو نو قریشو د بیت الله شریف د تعمیر د نوی کولو اراده اوکړه۔
کله چه د حجر اسود د کیښودو وخت راغلو نو د هرے قبیلے او هر
سردار دا خواهش وو چه دا مبارک کاڼے هغه په خپل لاس د هغې
په مقام باندے کیږدی۔ نو دے وه چه یو بل پسے ئے تورے
راویستی وے۔ او جنګ شروع شوے وے۔ خو مشران ترمینځه شو۔
دا صلاح ئے اوکړه چه صبا ته ټولو نه اول څوک د مسجد حرام
په دروازه راننوځی هغه به دا خبره فیصله کوی هغۀ چه څۀ
فیصله اوکړه ټول به په هغې عمل کوی۔

صباد ټولو ته اول نبي كريم صلی الله علیه وسلم مسجد حرام ته راغلے وو - دوستو چه څوک راغلو هغوئ اوليدو چه حضورؐ راغلے دے ټولو اوويئل چه داخو محمدؐ دے - صادق او امين دے - (د دهٔ فيصله مونږ ټولو ته په خوشئ منظوره ده)

حضورؐ اوفرمائيل - يو لوے څادر راوړئ - هغوئ حجر اسود په مبارکو لاسونو په دے څادر کښې کيښنو - او دے فرمائيل د هرے قبيلے يو يو کس دِ د دے څادر پيسکے اونيسي - دغه شان په شريکه ئے حجر اسود د کيښنوو ځائے ته اوچت کړو - بيا حضورؐ په خپلو مبارکو لاسونو په خپل ځائے کيښنو - (سيرت ابن هشام)

په دے فيصله ټول ډير خوشحاله شو - په اوچتولو کښې خو ئے ټول شريک شو - اوچونکه حضورؐ فرمائيلی وو - چه ټول د په خپل مقام حجر اسود کيښنودو دپاره ماوکيل کړی - (اود وکيل کار د مؤکل کار گڼلے شی) په دے طريقه ئے په کيښنوو کښې هم ټول شريک شو - (تاريخ حبيب الـه)

## من الروض

### داد الروض النظيف اشعار دی

| | |
|---|---|
| ۱- وَفِیْ خَدِیْجَۃِ الْکُبْرٰی وَقِصَّتِهَا | عَجَائِبٌ يَآ اُولِی الْاَبْصَارِ فَاعْتَبِرْ |
| ۲- اِخْتَارَتِ الْمُصْطَفٰی بِعَقْلٍ وَّقَدْ نَظَرَتْ | فِیْ مُعْجِزَاتِ رَسُوْلِ اللّٰهِ تَنْتَشِرْ |
| ۳- يَارَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا | عَلٰی حَبِيْبِكَ مَنْ زَانَتْ بِهِ الْعُصُرْ |

۱- د حضرت خديجة الكبرى په قصه كښې ډير عجائبات دی د

عقل دخاوندانو دپاره نو عبرت حاصل کړئ -

۲ - هغه رسول الله ځان دپاره مخاوند خوښ کړو - په ظاهر و معجزاتو کښې چه ئې سوچ اوکړو -

۳ - یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازل کړے همیشه دپاره په خپل هغه حبیب چه زمانے وریاندے بنا شته شوے

# یوولسم فصل

## وحی نازلیدل او دکفارو مخالفت !!!

حضور صلی الله علیه وسلم چه دڅلویښتو کالو شو - نو تنهائی ئې خوښه شوه - هغوئې به غارِ حرا ته تلل - څو څو ورځې به ئې هلته تنهائی کښې تیرولے - د نبوت نه شپږ میاشتے وړاندے هغوئې رښتونی او واضح خوبونه لیدل شروع کړو - په دے کښې ناڅاپه د ربیع الاول دمیاشتے په اتم تاریخ دګل په ورځ جبریل علیه السلام راغلو - د سورت اِقْرَأْ ابتدائی آیتونه ئې حضور صلی الله علیه وسلم ته راوړل - او وحی نازلیدل شروع شو - حضور صلی الله علیه وسلم ته نبوت ورکړے شو - دے نه ډیرے ورځې پس بیا د سورت مُدَّثِّرْ ابتدائی آیتونه نازل شو - نو حضور صلی الله علیه وسلم د اَنْذِرْ حکم ما تحت د اسلام تبلیغ شروع کړو - لیکن پټ پټ - بیا چه د فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرْ حکم نازل شو - نو حضورؐ علی الاعلان په ښکاره تبلیغ شروع کړو -

بس کفارو ورسره دشمنی او تکلیف ورکول شروع کړو ابوطالب صاحب ئے حمایت کولو ۔ یو ورځ کفار راجمع شو ۔ ابوطالب صاحب ته ئے اوویل چه یا دِ دا وراره موږ ته حواله کړه او یا ټول قوم سره جنګ ته تیار شه ۔ هغوئی کافرانو ته دحضور حواله کول منظور نهٔ کړهٔ ۔ نو کافرانو د ابوطالب صاحب د قتل اراده اوکړه ۔ نو ابوطالب صاحب د حضور صلی الله علیه وسلم د حفاظت په خیال د خپل ټول خاندان بنی هاشم او بنی مطلب سره د کلی نه اووتو ۔ او د کلی نه بهر په یو خوړ کښې ډیره شو ۔ (چه په شعب ابی طالب مشهور دے) قریشو ورسره بائیکاټ اوکړو ۔ خلق ئے منع کړل چه نهٔ به په دوئی څهٔ شے خرڅوی او نهٔ به تر ې اخلئ ۔ نهٔ به ورسره څهٔ تعلق ساتئ ۔ دا عهد نامه ئے اولیکله او بیت الله شریف کښې ئے اوځړان کړه ۔

درے کاله حضور او د حضور ټول خاندان بنی هاشم او بنی مطلب په دے وادئ کښې ډیر په تکلیف تیر کړل ۔ بیا حضور ته د وحی په ذریعه دا خبر ورکړے شو ۔ چه د عهد نامے هغه کاغذ چینجو خوړلے دے ۔ د الله د نوم نه علاوه په کښې هیڅ نهٔ دی پاتے ۔ هغوئی دا خبره ابوطالب صاحب ته اوکړه ۔ هغه کلی ته ورغلو د قریشو مشرانو سره ئے دا خبره اوکړه ۔ او ورته ئے اوویل تاسو هغه کاغذ اوګورئ که دا خبره غلطه وی نو زهٔ به محمد صلی الله علیه وسلم تاسو ته حواله کړم ۔ او که صحیح وی نو تاسو دا مقاطعه ختم کړئ ۔ قریشو چه اوکتو نو خبره صحیح وه ۔ نو قریشو مقاطعه ختم کړه ۔

Scanned with CamScanner

او هغوی ټول خپلو خپلو کورونو ته راغلهٔ۔

**ف** د عبدمناف څلور ځامن دو۔ هاشم[1]، مطلب[2]، عبدشمس[3]، نوفل[4] حضورؐ د هاشم په اولاد کښې دو۔ او د مطلب اولاد بنی مطلب دو۔ د عبد شمس اولاد بنی اُمیه دو۔ حضرت عثمانؓ دے خاندان بنی امیه کښې دو۔ او حضرت جبیر بن مطعمؓ د نوفل په اولاد کښې دو بنی مطلب د کفر په حالت کښې هم د حضورؐ په حمایت کولو کښې بنی هاشم سره ملګری دو۔ په دے وجه کله چه حضورؐ د ذوی القربیٰ حصه مقرر کوله نو بنی هاشمو سره ئے بنی مطلب ته هم مقرر کړی وه۔ په دے باندے حضرت عثمانؓ او حضرت جبیر بن معطمؓ عرض اوکړو۔ بنی هاشم خو ستا خاندان دے۔ په هغے زمونږ څهٔ اعتراض نشته لیکن بنی مطلب او مونږ خو تاسو سره په رشته کښې یو شان یو۔ نو هغوی ته مو ترجیح په څهٔ درکړه۔ حضورؐ او فرمائیل بنی مطلب او بنی هاشم همیشه د یو ذات په شان متحد او سیدلی دی۔ (شعبِ ابی طالب کښې بنی مطلب هم د بنی هاشم سره درے کاله تکلیف برداشت کړے دے۔)

**ف** دا د مقاطعے عهدنامه منصور بن عکرمه بن هشام لیکلی وه۔ نو لاس ئے اوچ شو۔ (تاریخ حبیب اله)

دا مقاطعه د نبوت په اووم کال شوی وه۔ درے کاله پس د نبوت په لسم کال ختم شوه۔ او حضورؐ او ټول بنی هاشم او بنی مطلب د شعب ابی طالب نه کلی ته خپلو خپلو کورونو ته راغلهٔ اَته میاشتے پس ابوطالب صاحب وفات شو۔ او هغوی نه درے

درځے پس حضرت خدیجه رض هم وفات شوه (شمامه)

هم په دے کال (یعنی د نبوت لسم) دحضرت خدیجے رض د وفات نه پس حضور ص دوه نکاح اوکړے - یو دحضرت عائشه رض سره چه عمر ئے په دے وخت کښې اووه کاله وو- (صرف نکاح ئے اوشوه) رخصتی ئے دوه کاله پس د نهو کالو په عمر کښې اوشوه- په مدینه منوره کښې دویمه نکاح حضرت سوده بنت زمعه سره اوشوه- داکونډه وه- حضور ص سره ئے مدینے ته هجرت اوکړو- (تاریخ حبیب الـه)

په دے کال یعنی د نبوت په لسم کال هغوئی د طائف بنی ثقیف قبیلے طرف ته سفر اوکړو- د دے سفر دوه مقصده وو- یو خو دے قبیلے ته د اسلام تبلیغ وو- بل داچه د ابوطالب صاحب د وفات په وجه په مکه کښې څوک با اثره سردار د هغوئی حامی نهٔ وو- نو هغوئی داخیال وو که د طائف سردارانو کښې څوک اسلام قبول کړی نو د هغوئی یو موثر حامی به پیدا شی- او د کافرانو مخالفت به لږ کمزورے شی- لیکن د طائف په سردارانو د هغوئی خبرو هیڅ اثر او نهٔ کړو- هیڅ اسلام قبول نهٔ کړو- بلکه د خپلو کشرانو او نیچ کسانو په ذریعه ئے حضور صلی الله علیه وسلم ته تکلیف اورسولو- حضور صلی الله علیه وسلم د طائف نه خفه راواپس شو- چه بطن نخله نوم ځائے ته را اورسیدو- دے ځائے کښې ئے دمه اوکړه- او شپے تیرولو ته دلته پاتے شو- په مانځه کښې ئے د قرآن شریف تلاوت کولو چه د نینوا چه د موصل سره یو کلے دے- نه یا اووهٔ پیریان په لار تلهٔ دا آواز ئے واوریدو-

کلام الله اوریدو ته حصار شو - او چه حضور ﷺ مونځ ختم کړو - نو هغوئ حاضر شو - خپل ځان ئے څرګند کړو - حضور ورته د اسلام دعوت ورکړو - او هغوئ اسلام قبول کړو - بیا لاړو خپل قوم کښې ئے د اسلام تبلیغ اوکړو - د سورتِ احقاف په آیت مبارک وَاِذْ صَرَفْنَا اِلَیْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ ط (او کله چه مونږ تا ته را اوګرځولو د پیریانو یو ټولے) کښې دے واقعے ته اشاره ده - بیا هغوئ مکے ته تشریف یوړو - او خپل تبلیغی کارکښې مشغول شو - هغوئ به د عکاظ او ذوالمجاز میلو ته تلو - او هلته به ئے میلے ته راتلونکو مختلفو قبائلو ته د اسلام تبلیغ کولو - خو هیچا به ورته توجه نهٔ کوله آخر د نبوت په یولسم کال د حج په موقعه هغوئ خپل د تبلیغ کار کولو - چه د مدینے د انصارو شو کسان ئے اولیدل هغوئ ته ئے د اسلام دعوت ورکړو - هغوئ د یهودیانو نه اوریدلی وو چه په عربو کښې به یو پیغمبر پیدا کیږی - مونږ به هغهٔ سره ملګری کیږو او په تاسو به غلبه حاصلوو - تاسو به قتل کوو هغوئ چه د حضور ﷺ خبرے واوریدے - نو دا خیال ئے اوکړو چه دا جوړ هم هغه پیغمبر دے - چه یهود ئے یادوی - هسے نه چه یهود را نه مخکښې شی - نو د مدینے شپږ کسان مسلمانان شو - او دا اقرار ئے اوکړو - چه بل حج موسم کښې به بیا راځو - هغوئ چه مدینے ته واپس اورسیدو نو دا خبره ئے هلته اوکړه - او س د مدینے هر کورته د عربو د پیغمبر ذکر اورسیدو -

راتلونکے کال چه د نبوت دولسم کال وو - د مدینے دولس کسان حج

Scanned with CamScanner

ته راغلو - او حضور صلی الله علیه وسلم سره ئے ملاقات اوکړو پنځه ډېر نبو کسانو نه وو - اوه نوی وو - هغوئ د اسلام په احکامو د عمل او د حضورؐ د اطاعت بیعت اوکړو - دے ته بیعت عقبه اولیٰ ویلے شی - د هغوئ د خورست موافق حضورؐ مصعب بن عمیرؓ هغوئ سره واستولو چه د مدینے خلقو ته د اسلام تبلیغ کوی - او د هغے ځائے مسلمانانو ته د قرآن شریف او د اسلام د احکامو تعلیم ورکوی - د حضرت مصعبؓ په کوششونو د مدینے ډیر خلق مسلمانان شو -

بل کال ته چه د نبوت دیارلسم ۱۳ کال وو - د مدینے اویا کسان انصار د حج په موقعه د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو - اسلام ئے قبول کړو - د اطاعت اقرار ئے اوکړو - او دا خواست ئے اوکړو - که حضورؐ مدینے ته تشریف راوړو - نو مونږ ئے هر قسم خدمت او امداد ته تیار یو - او که دشمنانو په مدینه حمله اوکړه نو مونږ به ورسره یو ځئے په بهادرئ او جانثارئ جنګ کوو - د دے بیعت نوم بیعتِ عقبه ثانیه دے -

د عقبه معنیٰ ده وادی دا دواړه بیعتونه په یو وادی کښې شوی وو - (تاریخ حبیب الله)

# من الروض

## دا اشعار د الروض النظیف دی

۱- وَعِنْدَ مَا جَاءَ جِبْرِيْلُ وَّقَالَ لَهٗ　　اِقْرَأْ دُ اُنْزِلَتِ الْاٰيَاتُ وَالسُّوَرُ
۲- دَعٰى لِدِيْنِ اِلٰهِ الْعَرْشِ فَابْتَدَرَتْ　　لَمَّا دَعٰى زُمَرٌ مِّنْ بَعْدِهَا زُمَرُ

٣- وَقَامَ يُنْذِرُ قَوْمًا خَالَفُوْا سَفَهًا ‏ ‏ وَكَذَّبُوْا حَسَدًا وَّالْحَقُّ هُمْ بَطَرُ!

٤- فَبَرَّأَ اللّٰهُ مِمَّا قَدْ رَمَوْهُ بِهٖ ‏ ‏ وَرَدَّدُوْهُ فَأَقْوَالُ الْعِدٰى عَذَرُ

٥- وِقَايَةُ اللّٰهِ أَغْنَتْ عَنْ مُّضَاعَفَةٍ ‏ ‏ مِّنَ الدُّرُوْعِ فَمَا الْأَرْمَاحُ وَالْبُتَرُ

٦- يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا أَبَدًا ‏ ‏ عَلٰى حَبِيْبِكَ مَنْ زَانَتْ بِهِ الْعُصُرُ

١- او چه جبرئیل علیه السلام راغلو ورته ئې اوویل- اِقْرَأْ او آیتونه او سورتونه نازلیدل شروع شو-

٢- نو ھغوئ د رب العرش دین ته خلق را اوبلل . د ھغوئ په دعوت چلے راغلے ورپسے نورے چلے راغلے- (یعنی د اسلام اشاعت وسیع شو)

٣- ھغه خپل قوم ویرولو ته اودریده و خوچه د حماقت په وجه ھغوئ مخالفت اوکړو- او د حسد په وجه ئې ورته دروغجن اوویئیل- او د حق دین ته ئې انکار اوکړو-

٤- نو الله تعالیٰ حضورؐ د ھغې الزامونو نه بری کړو- کوم چه به کافرانو لګول نو د دشمنانو خبرے بربادے لاړے-

٥- د الله تعالیٰ امداد ھغه د غبرګو زغرو اغوستونه بچ کړو. نیزے او تورے د الله تعالیٰ د امداد په مقابله کښ ھیڅ هم نهٔ دی-

٦- یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازل کړے- همیشه همیشه د پاره په خپل ھغې حبیب چه زمانے په ښائسته شوے-

# دوولسم فصل

## د معراج شریف په واقعاتو کښې

چونکه دا فصل ډیر اوچت شان واله دے ـ ځکه د دے بیل نوم (تنویر السراج فی لیلة المعراج) تجویز کوم ـ د دے فصل اکثر روایات د مواهب دی ـ چرته که بل روایت پکښې راغلے دے ـ نو هغې سره خپله حواله ورکړې شوې دی ـ دا فصل که چرته چا بیل شائع کولو ـ نو په دے نوم دے شائع کړی ـ او دا د ورسره اولیکی چه دا د نشر الطیب یو فصل دے ـ او دا نوم ئے مصنّف خپله تجویز کړے دے ـ

د نبوت د عظیم الشان کمالاتو نه یو عظیمه واقعه دا د معراج واقعه هم ده ـ دا واقعه مکه کښې په قول د زهری د نبوت په پنځم کال شوې ده [ف] ـ د دے روایت ډیرو صحابو کړے دے ـ یو څو نومونه دا دی ـ [1] حضرت عمر فاروق (رض)، [2] حضرت علی (رض)، [3] حضرت ابن مسعود (رض)، [4] حضرت ابن عباس (رض)، [5] حضرت ابن عمر (رض)، [6] حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص (رض)، [7] حضرت ابی بن کعب (رض)، [8] حضرت ابو هریره (رض)، [9] حضرت انس (رض)، [10] حضرت جابر (رض)، [11] حضرت بریده (رض)، [12] حضرت سمره بن جندب (رض)، [13] حضرت حذیفه بن الیمان (رض)، [14] حضرت شداد بن اوس (رض)، [15] حضرت صهیب (رض)، [16] حضرت مالک بن

---

ف: مشهور روایت د دولسم کال دے ځکه دولسم کال د واقعاتو نه روستو اولیکلے شو ـ

صعصعه رض، حضرت ابی امامه[17] رض، حضرت ابو ایوب[18] رض، حضرت ابو حبه[19] رض
حضرت ابو ذر[20] رض، حضرت ابو سعید خدری[21] رض، حضرت ابو سفیان بن حرب[22] رض
حضرت عائشه[23] رض، حضرت اسماء[24] بنت ابی بکر رض، حضرت ام هانی[25] رض
حضرت ام سلمه[26] رض۔

**اوله واقعه:-** حضور فرمائیلی دی - زه په حطیم کښی اوده ووم - (بخاری) - او یو روایت کښی دی چه شعب ابی طالب کښی ووم (واقدی) او یو روایت کښی دی چه د ام هانی په کور کښی ووم (طبرانی) او یو روایت کښی دی چه خپل کور کښی ووم او چهت پرانستے شو (بخاری) **ف:** دا ټول روایات په دے طریقه جمع کیدے شی - چه د ام هانی کور چه د شعب ابی طالب سره دے حضور صلی الله علیه وسلم هغے کښی اوسیدو - نو خپل کورئے وزته اووے - د ام هانی کور نه حطیم ته بوتلے شو - او د خوب اثر وریاندے باقی وو - نو هلته ئے هم د ډیره داچوله - اوده شو -

**ف:** او په چهت پرانستو کښی حکمت دا دو چه حضور ته د وخته دا معلومه شی چه نن به ماته څه ناشنا واقعات پیښیږی۔

**دویم واقعه:** حضور د خوب او د ویښے ترمینځه وو - یعنی پوخ اوده نه وو - او یو روایت دادے چه حطیم کښی اوده وو - چه جبریل علیه السلام راغلو - او یو روایت دے چه درے کسان راغلهٔ - یو اووے چه په دے کسانو کښی پیغمبر کوم یو دے - بل اوویئل دا په ټولو کښی چه بنا ستہ دے - دریم اوویئل دا ټولو کښی چه بناستہ دے - دے راواخله - بله شپه بیا درے واړه

راغلهٔ - څهٔ ئې اونهٔ ویئیل او حضورؐ ئې او چت کړو - ف = دا حالت

چه نهٔ اودهٔ وو نهٔ ویښ وو - په ابتداء کښې وو - بیا حضورؐ

پوره ویښ شو - او ټول واقعات پوره د بیدارئ په حالت کښې

شوی دی - او په څنې روایاتو کښې دی کوم چه په آخر کښې راغلی

دی - چه " بیا زهٔ راویښ شوم " دے زیاتی ته څنې کسانو غیر

محفوظ ویلی دی - او دا چه ویلی شوی وو - پیغمبرؐ په دے

کسانو کښې څوک دے - دا ځکه چه قریش به د بیت الله شریف

خوا کښې اودهٔ کیدل - په دے وخت هم کښې نور کسان هلته اودهٔ وو۔

(طبرانی) او د طبرانی یو روایت دے چه اول جبریل و میکائیل راغلو

دا خبرے ئې اوکړے او لاړو - بیا درے راغلهٔ - او د مسلم شریف یو

روایت دے - حضورؐ فرمائیلی دی - چه ما دیو کس آواز واوریدو

چه اوئې وے دے دریو کسانو کښې پیغمبرؐ کوم یو دے - بل درته

اووے - دا د دوو کسو ترمینځه چه دے - مواهب کښې دی چه

حضورؐ د حضرت حمزهؓ او حضرت جعفرؓ ترمینځه اودهٔ وو - د دوو

کسو نه مراد حضرت حمزهؓ او حضرت جعفرؓ دی -

**دریمه واقعه** = اول د حضورؐ سینه مبارکه د بره نه د

خیټې تر آخره ټوله او څیرلے شوه - د هغوئ زړهٔ ئې را اوویستو د

زرو په یو پیاله کښې د زمزم اوبهٔ دے - په هغې ئې د حضورؐ زړهٔ

مبارک اووینځلو - او په یو بله پیاله کښې ایمان و حکمت وو د هغې

نه ئې ډک کړو - او په خپل ځائې کښې ئې کیښو او سینه ئې اوګنډله

(مسلم په روایت د ابوذر او مالک بن صعصعه) ف = د زمزم په

Scanned with CamScanner

او بو د زړهٔ وینځل حالانکه فرشتو آب کوثر هم راوړے شو۔ د ځینې عالمانو په نزد دا دے دلیل دے چه آب زمزم د آب کوثر نه بهتر دی۔ او د زرو د پیالے استعمال حالانکه د زرو استعمال منع دے۔ د دے ګڼ توجیهات دی۔ یو دا چه د زرو د لوښو د استعمال د حرمت حکم مدینه کښې راغلے دے۔ مکے کښې لا ممنوع نهٔ وو۔ دویم دا چه معراج د امورِ آخرت نه دے۔ او آخرت کښې د زرو استعمال جائز دے۔ دریم دا چه دا استعمال فرشتو کړے دے۔ او فرشتے مکلف نهٔ دی۔ او په یو پیاله کښې د ایمان وحکمت مطلب دا دے۔ چه څهٔ داسے شے وو یکښې چه په هغې ایمان وحکمت ترقی موی۔ لکه د نیا کښې چه ځنې څیز د نه داسے دی چه قلب و دماغ په قوی کیږی۔ چونکه دا شے د ایمان وحکمت د تقویت سبب وو په دے وجه ئے ورته ایمان وحکمت او وئیل (نووی)

**څلورمه واقعه** = بیا حضورؐ ته یو ځاروے راوستے شو۔ سپین رنګ چه د خر نه لږ غټ او د قچر نه لږ کم وو۔ هغه دومره تیز رفتاره وو۔ چه منتهائے نظر باندے ئے قدم کیښو (مسلم) په هغې زین تړلے شوے وو۔ او خولهٔ کښې ئے قیزه وه۔ چه حضورؐ پرِ سوریدو نو هغهٔ درانے شروع کړو۔ جبریل علیه السلام ورته اووے په تا څهٔ چل اوشو۔ د الله په نزد دهٔ نه زیات عزتمن بنده خو په تا نهٔ دے سور شوے۔ په دے خبره هغه خولے خولے شو (ترمذی) حضورؐ دربانندے سور شو۔ جبریلؑ ئے رکاب اونیولو او میکائیلؑ ئے واږے اونیوے (ابو سعد)

ف = د براق دا ورانے د غصے نه نهٔ وو - د خوشحالئ نه وو چهٔ جبریل ؑ او نورلو نو د شرمه خولے خولے شو او غلے شو - لکه چه یو ځل حضورؐ غر ته ختلے وو - نو غر او خوزیدو - حضورؐ ورته اوفرمائیل اُثْبُتْ فَاِنَّمَا عَلَیْكَ نَبِیٌّ وَصِدِّیْقٌ وَشَهِیْدَانِ -
( کلک شه په تا یو نبی ولاړ دے یو صدیق او دوه شهیدان )
په ځنې روایاتو کښې دی - جبریل ؑ زهٔ د لاس نه اونیوم - او د دنیا آسمان ته ئے او خیژولم ( بخاری ) په ځنې روایاتو کښې دی - جبریل ؑ ځان پسے په براق سور کړم - ( ابن حبان و حارث ) په دے ټولو روایاتو کښې څهٔ تعارض نشته - ممکنه ده چه اول جبریل ؑ خپله سور شوے وی - حضورؐ ئے ځان پسے سور کړے وو - چهٔ حضورؐ طبعی خوف محسوس نهٔ کړی - بیا کوز شوے وی - رکاب ئے نیولے وی - او د ضرورت په وخت کښې ئے حضورؐ د لاس نه هم نیولے وی -

**پنځمه واقعه** = براق چه روان شو - نو په یو داسے علاقه تیریدو چه هلته د کجورو ډیرے ونے وے - جبریل ؑ حضورؐ ته اووئے - دلته کوز شه دوه رکعته نفل اوکړه - حضورؐ چه نفل اوکړل نو جبریل ؑ ورته اووے تا په یثرب ( مدینه ) کښې مونځ اوکړو - بیا په یو خالی علاقه باندے تیریدو ( یعنی چرته چهٔ ونې نهٔ وے ) جبریل ؑ ورته اووئیل کوز شه دلته هم دوه رکعته نفل اوکړه - حضورؐ چه مونځ اوکړو نو جبریل ؑ ورته اووئیل - دا د مَدْیَنْ علاقه ده - بیا بیت اللحم باندے تیر شو - هلته ئے هم را باندے مونځ اوکړو - او دا ئے ورته اووئے دا د عیسٰی علیه السلام د

پیدا اکید وځائے دے۔ (بزاز وطبرانی وبیهقی) او په یو روایت
کښې د مَدْیَن په ځائے طورِ سینا دے۔ چه هغوئی په طورسینا
مونځ اوکړو۔ کوم ځائے چه الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام سره
خبرے کړی دے۔

**شپږمه واقعه**: په دے کښې د برزخ عجیبه واقعات
دی۔ حضور صلی الله علیه وسلم یو بوډئی اولیده چه لار کښې
ولاړه وه۔ حضورؐ جبریلؑ نه تپوس اوکړو داڅوک ده۔ هغهٔ
ورته اووئیل۔ ځه ځه په مخه ځه۔ بیائے د لارے نه یو طرف
ته یو بوډا اولیدو۔ چه حضورؐ ئے ځان ته بللو۔ ورته ئے وئیل
اے محمدؐ دلته راشه۔ جبریلؑ ورته اووئیل په مخه ځه دوئی
ته مهٔ ګوره۔ بیا یو ځائے کښې ګڼړ کسان ولاړ وو۔ حضورؐ ته
ئے په دے الفاظو سلام اوکړو۔ السلام علیک یا اول، السلام
علیک یا آخر، السلام علیک یا حاشر، جبریلؑ ورته اووئیل دوئی
ته د سلام جواب ورکړه۔ د دے حدیث شریف په آخر کښې دی۔ چه
جبریلؑ راته اووئیل۔ دا بوډئی دنیا وه۔ نو د دنیا اوس دومره عمر
پاتے دے۔ څومره چه د یو بوډئی پاتے وی۔ او کوم بوډا چه تا ته
آواز ورکړے وو۔ هغه ابلیس وو۔ که تا ابلیس او دنیا ته جواب
ورکړے وے۔ نو ستا امت به دنیا ته په آخرت ترجیح ورکړی وه۔
(نو آخرت به ئے تباه شوے وو) او کومو کسانو چه تا ته سلام
اوکړو۔ دا حضرت ابراهیمؑ، او موسیٰؑ او عیسیٰؑ وو۔ (بیهقی) او د
طبرانی او بزاز په یو روایت کښې دی۔ حضورؐ یو داسے قوم باندے

تیرشو چه هغوئ په یو درځ کښې فصل کړلو او بیائے ریبلو هم او چه اُو به ئے ریبلو هغه به بیا هغه شان لوئے شو۔ څنګه چه د ریبلو نه مخکښې وو - حضورؐ جبریلؑ نه تپوس اوکړو۔ چه دا څوک دی۔ هغهٔ ورته اووے چه دا د الله د رضا دپاره جهاد کوونکی دی۔ چه د دوئ نیکی اُوهٔ سوه چنده زیاتیږی - او څوک چه دالله په لار کښې خرچ کوی - الله تعالیٰ هغوئ ته بهترینه جزا او بهترین رزق ورکوی۔

بیا په یو قوم یاندے تیرشو چه دهغوئ سرونه په کاڼو چقولے شو۔ چقیدلو نه پس به بیا روغ شو او بیا به اوچقولے شو - او دا سلسله دغه شان جاری وه - حضورؐ جبریلؑ نه تپوس اوکړو چه دا څوک دی هغه ورته اووئیل دا هغه کسان دی چه فرض مونځ کښې به ئے ناراستی کوله۔ بیا یو قوم یاندے تیرشو - چه هغوئ د پړدے ځایونه وړاندے روستو په چیرړ ډپټ کړی وو۔ او دځاروو په شان څرئے کولو۔ د زقوم پاڼړے او د دوزخ کاڼړی ئے خوړو۔ حضورؐ جبریلؑ نه تپوس اوکړو۔ دا څوک دی هغهٔ ورته اووئیل دا هغه کسان دی چه زکوٰة ئے نهٔ ورکولو۔ الله تعالیٰ په دوئ ظلم نهٔ دے کړے۔ ستارب په خپلو بندیانو ظلم نهٔ کوی۔ (دوئ دخپل رب نافرمانی کړی ده په ځان ئے خپله ظلم کړے دے) بیا هغوئ په داسے قوم تیر شو چه دهغوئ مخکښې یوه کټوئ کښې پخه غوښه وه۔ او یوه کټوئ کښې سخا ادمه غوښه وه۔ دوئ هغه پخه غوښه نهٔ خوړه او هغه سخا ګنده غوښه ئے خوړه۔

حضورؐ جبریلؑ نه تپوس اوکړو - دا څوک دی جبریلؑ ورته اووې
دا ستا د امت هغه سړی دی دچا چه خپلې پاکې بیبیانې کور کښې
دی - اوګنده زناکارو ښځو سره شپه تیروی - او هغه پلیتې ښځې
دی دچا چه خپل خاوندان وی - او پردو ګنده سړو سره شپه
تیروی - بیائې یو سړے اولیدو چه د لرګو دومره غټ ګیډے
ئې جمع کړے دے چه اوچتولے ئې نشی او هغه ورته نور نور لرګی
راوړی - حضورؐ تپوس اوکړو - چه دا څوک دے - جبریلؑ ورته اوویل
دا ستا د اُمت هغه سړے دے دچا په زمه چه د خلقو دومره
حقونه او امانتونه دی چه ادا کولے ئې نشی او هغه ورسره نور
هم جمع کوی - بیا هغوئی په داسے قوم تیر شو - چه د هغوئی ژبې
او شونډے په قینچو پریکولے شوے - او پریکولو نه پس به
بیا په خپل حال شوے - بیا به پریکړے شوے - دا سلسله د غه
شان جاری وه - حضورؐ تپوس اوکړو دا څوک دی؟ جبریلؑ ورته
اوویل - دا هغه واعظان دی چه په غلطو وعظونو ئې خلق
ګمراه کول - بیائې بوځائے کښې یو ګټه اولیده چه یو غټ غوئې
درنه را اووتو - بیائې د ورننوتو کوشش کولو خو ورننوتے نشو.
حضورؐ تپوس اوکړو - دا څۀ دی - جبریلؑ ورته اوویل - دا د
هغې سړی حال دے چه یو ډیره غلطه خبره دخولے نه اوباسی.
بیا په پښیمانه وی - خو واپس کولے ئې نشی - بیا په یو داسے
علاقه تیرید و چه ورکښې یخه مزیداره هوا او د مشکو خوشبوئی
وه - او یو آوازئې واوریدو - حضورؐ تپوس اوکړو - دا څۀ دی

جبریلؑ اووے۔ دا دجنت آواز دے۔ وائی چه یا الله تا چه ماسره
کومه وعده کړی وه۔ هغه پوره کړه۔ ځکه چه زما بالاخانے او
د استبرق وحریر و سندس وعبقری جامے جوړے او مرغلرے او
د سونے چاندئ ګلاسونه او پیالے اوصراحئ او پلیټونه او شهد
او پئ او شراب ډیر زیات شو۔ نو اوس دخپلے وعدے مطابق
دجنت اوسید ونکی هم را واستوه چه دا نعمتونه استعمال کړی۔
الله تعالیٰ ورته او فرمایل تا دپاره تجویز شوی دی۔ هر مسلمان
نارینه او مسلمانه زنانه او مؤمن نارینه او مؤمنه زنانه۔ او د
چا چه په ما او زما په رسولانو ایمان وی۔ او ما سره هیڅ شے
نه شریکوی۔ او څوک چه ما نه ویریږی۔ هغه به محفوظ وی۔
او چه څه غواړی هغه به ورکولے شی۔ او څوک چه ما ته قرض
راکوی۔ زهٔ به بهتره بدله ورکوم او څوک چه په ما توکل کوی
زهٔ ورته کافی یم۔ زهٔ الله یم۔ ما نه علاوه بل معبود نشته۔ زهٔ
وعده خلافی نهٔ کوم۔ بیشکه مؤمنانو ته کامیابی حاصله شوه۔
او الله تعالیٰ چه اَحْسَنُ الْخَالِقِيْن دے۔ برکت واله دے۔ جنت
او ویل زهٔ راضی شوم۔ بیا په یو کنده تیریدو په هغے کښ
هیبتناک آواز وو۔ او بد بوئی وه۔ حضورؐ تپوس اوکړو۔ دا څهٔ
دی جبریلؑ ورته او ویل دا د دوزخ آواز دے۔ وائی۔ یا الله ما
سره چه د څهٔ وعده کړی وه هغه پوره کړه۔ زما زنځیرونه
او طوقونه او د اور لمبے ډیرے زیاتے شوی دی او زما ګرمائی هم
ډیره شوی ده۔ او ګرمی ئے زیاته شوی ده اوس ما د دوزخیانو نه

ډک کړه - الله تعالیٰ ورته وائي تا دپاره تجویز شوی دی هر مشرک
نارینه او مشرکه زنانه او هر کبرجن نارینه او هره کبرجنه زنانه
او څوک چه د حساب په ورځ یقین نه لري. دوزخ اووئیل. زه
راضي شوم. بیهقي کښې د ابو سعید نه روایت دے چه حضورؐ
اوفرمائیل ما ته د ښي طرف نه یو آواز اوشو. ما ته اوګوره تا نه
څه پښتنه کوم. ما څه جواب ورنکړو. بیا را ته د ګس طرف نه
آواز اوشو. ما هغه ته هم څه جواب ورنکړو. په دے روایت
کښې دا هم دي چه بیا مې یو ښځه اولیده چه ځان ئې ډیر ښائسته
کړے وو. او دواړه لاسونه ئې غوړولي وو. (لکه چاته چه غاړه
وځي) ما ته ئې اووئیل دے خوا اوګوره. زه در ته څه پښتنه کوم.
ما هغې ته او نه کتل. په دے روایت کښې دي چه جبریلؑ ما ته
اووئیل. وړومبے آواز کوونکے د یهودیانو بلونکے وو. که تا جواب ورکړے
وے نو امت به دې د یهودیانو په شان شوے وو. او دویم آواز کوونکے
د عیسایانو بلونکے وو. که تا جواب ورکړے وے نو امت به دې د عیسایانو
په شان شوے وو. او هغه ښځه دنیا وه. که هغې ته جواب ورکړے
وے نو امت به دې دنیا ته په آخرت ترجیح ورکړې وه. ظاهره دا
ده چه دا واقعات آسمان ته ختو نه مخکښې لیدلي شوي دي. او
په ځنې واقعاتو کښې تصریح ده. چه آسمان ته ختو نه پس لیدلي
شوي دي. لکه په دے حدیث کښې چه دي چه حضورؐ وړومبي
آسمان ته اوختو نو هلته ئې آدم علیه السلام اولیدو. او هلته
ډیر دسترخوانونه غوړیدلي وو. وربانندے پاکه سوتره غوښه

پرته دۀ- او هلته هیڅوک نۀ وو- او په نورو دسترخوانونو کښې ښۀ غوښه پرته وه- په هغې ډیر خلق راجمع وو- خوړه ئې -

جبریل ؑ اووئیل دا هغه خلق دی چه حلاله پریږدی او حرامه خوری او په دے روایت کښې دا هم دی- چه مخکښې ئې څۀ خلق اولیدو چه د هغوئی خیټې ډیرے غټې غټې وے- چه څوک به اودریدو- نو راپریوتو به- او دریدے به نشو- جبریل ؑ اووئیل دا سود خوارۀ دی- مخکښې ئې څۀ خلق اولیدۀ چه د هغوئی شونډے د اوښانو په شان دی- او د اورسکروټے خوری او لاندے ترے وځی- جبریل ؑ اووئیل چه دا هغه خلق دی چه د یتیمانو مال په ظلم خوری- بیائے داسے زنانه اولیدے چه د سینونه اویزانډے وے- جبریل ؑ اووئیل دا زناکارے دی- بیائے داسے خلق اولیدۀ چه د هغوئی د اړخونو نه غوښے پریکولے شوے او په هغوئی خورولے شوے- جبریل ؑ اووئیل دا چغل خوارۀ او عیبونه لټوونکی دی- ف: (ظاهره ده چه دا واقعات د عالم برزخ وو) عالم برزخ هم چرته چه وی- لیکن دا ضروری نۀ ده چه چاته چه ئې انکشاف کیږی هغه دِ هم په هغه ځائے کښې وی چه صاحبِ کشف دِ هم په هغه ځائے کښې وی- او دا احتمال هم شته چه دے واقعاتو کښې ئے صورتِ مثالی لیدلے وے- لکه په لسمه واقعه کښې چه راځی- دے انکشافاتو کښې تصریح نشته- چه آسمان ته ختو نه مخکښې لیدلی شوی دی که روستو-

لیکن د ابنِ عباسؓ په یو روایت کښې تصریح ده - چه معراج نه
پس حضورؐ ځنې پیغمبران اولیدل چه ورسره ډیره ګڼړه وه - او
ځنې ئې اولیدل چه ورسره لږ کسان وو - تر دے چه حضورؐ
د یو پیغمبر سره ډیره درنه جمع اولیده - تپوس ئې اوکړو
دا څوک دے - ورته اوویلے شو دا موسیٰؑ او د هغهٔ قوم دے
لیکن ته پاس اوګوره - نو حضورؐ چه پاس اوکتو د دومره لویه
جمع وه چه ټول آسمان ئې پټ کړے وو - ورته اوویلے شو دا
ستا امت دے - او د دوئی نه علاوه اویا زره نور دی چه بے حساب
به جنت ته ځی - حضورؐ اوفرمائیل دا به هغه کسان وی - چه
داغونه نهٔ لګوی - کوډے نهٔ کوی - او بد فالی نهٔ نیسی - او په
خپل رب توکل کوی - ( ترمذی )

## اوومه واقعه = مسلم کښې د حضرت انسؓ نه روایت دے

حضورؐ چه بیت المقدس ته اورسیدو - نو هغوئی فرمائی چه
براق مې یو کړۍ پورے او تړلو - کومه پورے چه نورو پیغمبرانو خپلے
سورلئ تړلے - او بزاز د بریده نه روایت کړے دے چه جبریلؑ
یو کاڼه کښې په ګوته سورے اوکړو - ما در پورے براق او تړلو -
**ف** = د دواړه روایتونه داسے جمع کیدے شی - چه پخوانئ کړۍ
خاورو کښې پټه شوی وه - جبریلؑ په ګوته صفا کړه سورے
ئې آزاد کړو - او حضورؐ در پورے براق او تړلو - دا شک نهٔ دے
بکار چه د تړلو ئې څهٔ ضرورت وو - هغه خو حضورؐ د پاره راستولے
شوے وو - تښتیدونکے نه - کیدے شی چه دے د نیا ته

راتلو په دجه درکښی د نافرمانئ آثار پیدا شوی وی - یا حضورؐ هسے احتیاطاً تیر لے وی - او د حکمتونو احاطه څوک کولے شی - (خدائے خبر چه دلے ئے تیر لے دو)

**اتمه واقعه** = د ابن ابی حاتم په تفسیر کښی حضرت انسؓ نه روایت دے - چه حضورؐ بیت المقدس ته اورسید و - او هغه ځائے ته ورغلو کوم ځائے چه بابِ محمد دے - نو براق ئے او تړلو او د داړه د جمات صحن ته ورغلو نو جبریلؑ حضورؐ ته اووئیل تا د خپل رب نه د حورعین لید وخواست کړے دو - حضورؐ اوفرمائیل او نو جبریلؑ اووئیل - هغه ښځو ته درشه او سلام په دا چوه - حضورؐ فرمائی زهٔ ورغلم سلام م په واچولو او هغوئ جواب راکړو - ماورته اووئیل تاسو دچا یئ - هغوئ اووئیل مونږ نیکانے او ښائسته یو - دداسے سړو بیبیانے یو چه پاک صاف او نیکان دی - همیشه به مونږ سره په جنت کښی وی - جدا کیږی به نه او همیشه به ژوندی وی - مړهٔ کیږی به نه - مونږ چه مخکښی لاړو - نو لږ ساعت کښی ډیر کسان راجمع شو - یوکس اذان اوکړو - او اقامت ئے اوکړو - مونږ صفونه جوړ کړل - انتظار مو کولو چه څوک به مخکښی کیږی - نو جبریلؑ زه د لاسه اونیوم مخکښی ئے کړم - نو ما ټولو حاضرینو ته امامتی درکړه - چه ما مځه نه فارغ شو - نوجبریلؑ راته اووئیل - څه پوئے شوے مقتدیان درپسے څوک دو - ما اووے نه - هغهٔ اووے څومره پیغمبران چه دنیا ته رالستولی شوی دی - هغه ټولی تا پسے مونځ اوکړو - (ته ئ د ټولو

پیغمبرانو امام شوے ) بیهقی کښې د ابو سعید روایت په دے الفاظو دے - حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی - چه زهٔ او جبریلؑ بیت المقدس ته ننوتو نو دوه دوه رکعته نفل مو اوکړل - د ابنِ مسعودؓ په روایت کښې دومره زیاتے دے - چه حضورؐ فرمائیلی دی موږ دواړه چه جمات ته ننوتو - نو ما پیغمبران او پیژندل مو نځونه ئے کول - څوک په قیام وو - څوک د رکوع په حالت کښې وو - څوک په سجده وو - بیا یو کس آذان اوکړو - موږ ټولو صفونه جوړ کړل په انتظار او دریدو چه څوک به امام کیږی - جبریلؑ زهٔ د لاسه اونیوم مخکښې ئے کړم نوما ټولو ته امامتی ورکړه - مسلم کښې د ابن مسعودؓ روایت په دے الفاظو دے - حضورؐ اوفرمائیل د مانځه وخت شو - نوما ټولو ته امامتی ورکړه - د ابن عباسؓ الفاظ دا دی - حضورؐ اوفرمائیل چه موږ جمات ته ننوتو - نو زهٔ اودریدم مونځ مِ کولو - نو ټول پیغمبران را پسے اودریدل - په جمع مو مونځ اوکړو - او بیهقی کښې د ابو سعید روایت دا سے دے چه حضورؐ چه مسجد اقصیٰ ته ننوتو نو د فرشتو سره ئے مونځ اوکړو - ( یعنی د فرشتو امام شو - او چه حضورؐ د انبیاؤ امام وو نو پیغمبران خود فرشتو نه افضل دی - د فرشتو امام کیدو کښې څهٔ حیرانتیا ده ) چه مونځ اوشو نو فرشتو د جبریلؑ نه تپوس اوکړو - تا سره څوک دے ؟ هغهٔ ورته اووئیل دا محمد رسول الله خاتم النبیین دے - صلی الله علیه وسلم فرشتو اووئیل آیا دهٔ ته د الله پیغام استولے شوے دے ( نبوت

دپاره یا آسمان ته غونښتو دپاره) جبرئیلؑ اووی او دهٔ ته پیغام استولے شوے دے۔ فرښتو اووے - د الله تعالیٰ رحمتونه دِوی په ډیر ښهٔ درور دے۔ او ډیر ښهٔ خلیفه دے۔ (یعني زمونږ درور او د الله خلیفه) بیا د پیغمبرانو د ارواحو سره ملاقات اوشو۔ نو ابراهیمؑ د رب ثنا اووے - او بیا ئے داسے تقریر اوکړو۔ ټول تعریفونه د الله تعالیٰ دی - چه زهٔ ئے خپل خلیل کړم او عظیم الشان ملک ئے راکړو۔ او زهٔ ئے مقتدا کړم چه زما تابعداری اوکړے شی او زهٔ ئے د نمرود د اور نه په امان کړم۔ او هغه اور ئے ما دپاره یخ او ګلونو باغ کړو۔ بیا موسیٰ علیه السلام د الله تعالیٰ ثنا اووے۔ بیا ئے داسے تقریر اوکړو۔ ټول تعریفونه د الله تعالیٰ دی۔ چه ما سره ئے په خاص طرز خبرے اوکړے او زهٔ ئے خپل غوره بنده کړم په ما ئے خپل کتاب تورات نازل کړو۔ فرعون ئے هلاک کړو۔ او بنی اسرائیل ئے د فرعون د ظلم نه خلاص کړل۔ او زما قوم ئے داسے کړو۔ چه خلقو ته د حق هدایت کوی۔ او د حق موافق عدل و انصاف کوی۔ بیا حضرت داؤد علیه السلام د رب ثنا اووئیل بیا ئے داسے تقریر اوکړو۔ ټول تعریفونه د الله تعالیٰ دی۔ چه ما ته ئے عظیم حکومت راکړو۔ او په ما ئے خپل کتاب زبور نازل کړو۔ او ما دپاره ئے اوسپنه نرمه کړه او ما ته ئے غرونه مسخر کړل چه ما سره تسبیح وائی او ما دپاره ئے مرغان هم مسخر کړل چه ما سره تسبیح وائی او ما ته ئے حکمت او صاف تقریر راکړو۔ بیا سلیمان علیه السلام د رب ثنا اووئیل۔ او بیا ئے داسے تقریر اوکړو۔ ټول تعریفونه د الله تعالیٰ دی۔ چه

هوائے زما تابع کړه - او جنات ئے زما تابع کړهٔ چه زما به خدمت کوي. پکار وو - هغه ئے راته تیار ول - عالیشانے ابادئ او غټ غټ مجسمے ئے راته جوړولے - (مجسمے جوړول هغه زمانه کښې حرام نهٔ وو) او ماته ئے د مرغانو خبرے اوښیلے - او په خپل فضل ئے ماته هر قسم څیز ونه راکړل - او د شیطانانو، پیریانو او بندیانو او مرغانو لښکرے ئے زما تابع کړے - او ما ته ئے داسے بادشاهي راکړه. چه ما نه پس داسے بادشاهي هیچا سره لائقه نهٔ وه - او ما ته ئے داسے پاکه بادشاهي راکړه - چه ما سره به ئے هیڅ حساب نهٔ کیږي - بیا حضرت عیسیٰ علیه السلام درب ثنا او وے - او داسے تقریر ئے اوکړو - ټول تعریفونه دالله تعالیٰ دی - چه زهٔ ئے دخپل قدرت یو خاص نشان (کلمة الله) کړم - او زهٔ ئے د آدم علیه السلام په شان کړم - آدم علیه السلام ئے دخاورے نه جوړ کړو - بیا ئے پکښې روح واچولو - زهٔ ئے بے پلاره پیدا کړم او ماته ئے لیکل اوښیل او علم او حکمت ئے راکړو - او په ما ئے انجیل نازل کړو - او ماته ئے داسے طاقت راکړو - چه دختے نه به م د مرغئ شکل جوړ کړو - او پهوکے به م ورکړو - نو دخدائے په حکم په ژوندے شو - او ما ته ئے داسے حکمت راکړو - چه دخدائے په حکم به م پیدائشی ړوند بینا کړو. او د جذام مریض به م دخدائے په حکم جوړ کړو - او مړے به م ژوندے کړو - او زهٔ او زما مورئے د شیطان د اثر نه پاک کړو - په مونږ ئے هیڅ وَش نهٔ رسی.

بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم درب ثنا او وے او داسے

تقریرے اوکړو - ټول تعریفونه دالله تعالیٰ دی - چه زۀ ئے ټولو عالمونو دپاره رحمت کړم - او ټولو خلقو دپاره ئے بشیر او نذیر کړم او په ما ئے قرآن مجید نازل کړو - چه په کښې د دین ټول ضروری احکام بیان شوی دی - صراحةً یا اشارةً - او زما امت ئے په ټولو امتونو کښې بهترین امت کړو - چه د خلقو د دینی نفع دپاره پیدا کړے شو - او زما امت ئے عادل امت کړو - او زما امت ئے داسے کړو چه اول هم دے (د مرتبے په لحاظ) او آخر هم دے - (د زمانے په لحاظ) او زما سینه ئے فراخه کړه او زما بارئے سپک کړو - او زما ذکر ئے بلند کړو - او زۀ ئے د ټولو شروع کوونکے او د ټولو ختم کوونکے کړم - (یعنی په نور کښې اول او په ظهور کښې آخر)

حضرت ابراهیم علیه السلام ټولو ته اووے - بس د دے کمالاتو په وجه محمد صلی الله علیه وسلم تاسو ټولو نه زیات دے - بیا راوی د عروج الی السموات آسمانونو ته ختو ذکر اوکړو - (یعنی دے تقریرونو نه پس حضورؐ آسمانونو ته ختو سفر شروع کړو - په یو روایت کښې صرف د دریے پیغمبرانو، ابراهیم علیه السلام، موسیٰ علیه السلام او عیسیٰ علیه السلام ذکر دے - چه بیت المقدس کښې د دوئی مونځ کولو - او د دریے واړو حلیه ئے هم بیان کړی ده - په هغے روایت کښې دا هم دی - چه زۀ د مونځ نه فارغ شوم نو یو آواز اوشو - اے محمدؐ دا مالک د دوزخ داروغه دے - دۀ ته سلام اوکړه - ما چه هغۀ ته اوکتل نو هغۀ په ما باندے په سلام کښې وړومبے شو (مسلم) د ابن عباسؓ روایت دے چه حضورؐ د

معراج په شپه د دوزخ داروغه لیدلے وو۔ او دجال ئے هم
وو۔ یعنی د دجال صورتِ مثالی ئے لیدلے وو۔ ظاهره ده چې
دجال بیت المقدس کښې نه وو۔

**نهمه واقعه** = یو روایت دے چه حضورؐ فارغ شو نو
ته را اوړو۔ نو جبریل علیه السلام ورته یو پیاله د شرابو او یو
پیاله د پیو راوړه۔ حضورؐ د پیو پیاله واخسته۔ نو جبریلؑ اووئیل
تا فطرت غوره کړو۔ بیا آسمانونو ته عروج (ختل) شروع شو
(مسلم واحمد)

دابن عباسؓ په یو روایت کښې یو پیاله د پیو او یو د شهدو
او د بزاز په یو روایت کښې درے پیالے دی۔ یو د پیو یو د شرابو
د شهدو۔ او د شداد بن اوس روایت کښې دی۔ چه حضورؐ اوفرمائیل
ما څه نه چه فارغ شو نو زه تږے شوم۔ په دے وخت کښې دا پیالے
راوړے شوے۔ چه ما د پیو پیاله واخسته نو یو مشر چه زما
کښې ولاړ وو۔ جبریلؑ ته اووے ۔ چه ستا دوست فطرت اختیار کړو

**ف** = براق تړلو نه پس کوم واقعات چه ذکر شوی دی۔ هغو کښې
ترتیب داسے ښکاری۔

۱۔ جماعت رسیدلو نه پس حور و سره ملاقات او خبرے۔

۲۔ د حضورؐ او جبریلؑ دوه دوه رکعته نفل کول۔ دا غالباً تحیة
المسجد وو۔

۳۔ په دے وخت کښې نور پیغمبران هم جماعت ته را اورسیدل چه
حضورؐ په مختلفو حالتونو کښې اولیدل۔ څوک ولاړ څوک په رکوع

خوک په سجده ۔

۴۔ بیا چه ټول پیغمبران راجمع شول نو اذان او اقامت اوشو۔ او حضورؐ د ټولو پیغمبرانو امام شو۔ په دے کښې څهٔ انبیاء حضورؐ او پیژندل او څهٔ ئے او نهٔ پیژندل۔ ځکه ورته جبریلؑ اووئیل چه دا ټول انبیاء مبعوثین دی۔ چه ته ئے امام شوے او دا تحقیق چه دا کوم مونځ وو۔ په درویشتمه واقعه کښې راغلے دے او اذان او اقامت یا به هم دغه شان وو۔ ځکه چه مدینے منورے ته رسیدو نه پس جاری شو۔ یا به بل شان وو۔

۵۔ بیا فرشتو سره تعارف اوشو۔ مالک د دوزخ داروغه سره ملاقات هم دے وخت کښې شوے دے۔

د فرشتو دا تپوس کول چه آیا دهٔ ته پیغام الٰهی رسیدلے دے؟ د دے دلیل دے چه فرشتو ته دا علم وو۔ چه حضورؐ به آسمانونو ته راځی۔ ځکښې بیا دا احتمال شته چه فرشتے یا د دے نه خبر نهٔ وے۔ چه حضورؐ ته نبوت ورکړے شوے دے۔ ځکه چه د فرشتو په ذمه مختلف کارونه دی۔ هغوئ په خپلو کارونو کښې دومره مصروفے دی چه د دنیا د نورو واقعاتو نه نهٔ خبریږی۔ یا به د دے نه خبر وے چه نبوت ورکړے شوے دے۔ خو دا تپوس ئے کولو چه د معراج حکم ورته رسیدلے دے که نه۔ بیا دغه شان مخکښې نورو آسمانونو کښې چه تپوس شوے دے هغے کښې هم دا دواړه احتماله شته۔

۶۔ بیا پیغمبرانو سره ملاقاتونه اوشول۔

۷- بیا دے پیغمبرانو تقریرونه اوکړل -

۸- بیا پیالے پیش شوے - ټولو روایاتو جمع کولو نه معلومیږی چه پیالے څلور وے - پئ، شراب، شهد، او بهٔ چا دوه ذکر کړی دی چا درے - اوکیدے شی چه درے وے - په یو پیاله کښی د شهدو په شان خوږے اوبهٔ وے - نو چا ورته شهد اوو یل او چا اوبهٔ - (شراب په هغه وخت کښی حرام شوی نهٔ وو - مدینه کښی حرام شو - لیکن د تفریح سامان دے - نو د دنیا په لذتونو کښی شمیر وو - او شهد هم اکثر د مزے د پاره خوړلے شی خالص غذا نهٔ ده - ضرورت نه زیاتی شے دے - نو په دنیاوی لذتونو کښی شمیر شو - او بهٔ اګرچه غذا نهٔ ده - خو د غذا مدګارے دی - غذا د دے په امداد هضمولے شی لکه چه دین روحانی غذا ده - او په قدر ضرورت دنیا د دین معین ده - مقصود نهٔ ده پئ غذا ده - او مقصود ده - غذا نورے هم شته - لیکن پئ یو مکمله او بهترینه غذا ده - داد اوبو او د غذا دواړو کار ورکوی - دغه شان پیالے سدرة المنتهٰی نه پس هم پیش شوی دی لکه چه مخکښ رابه شی -

۹- بیا آسمانونو ته سفر شروع شو - دے تقریر ته ځکه چه د واقعاتو ترتیب معلوم شو - دغه شان روایاتو کښی د تعارض اشکال هم دفع شو - او روایات ټول جمع شو - شاید چه بیت المقدس کښی د پیغمبرانو او فرښتو دا اجتماع د حضورؐ د استقبال د پاره وه - والله اعلم -

لسمه واقعه: ځنې روايا تو نه معلوميږي چه آسمانو نو
ته دختو سفر هم په براق وو - بخاري کښې روايت دے چه حضورؐ
اوفرمائيل د زړهٔ ويخلو او ايمان وحکمت نه ډکولو نه پس جبريلؑ
په براق سور کړم - دهغهٔ قدم په منتهائے نظر پريوتو - تر دے
چه ورومبي آسمان ته اورسيدم - دے نه معلوميږي چه اسمانونو
ته هم په براق سور لاړ وو - اگر چه په لار کښې بيت المقدس کښې
ورنه کوز شوے وو - او د بيهقي يو روايت دے چه حضورؐ فرمائيلي
دي - بيت المقدس کښې مانځه نه او ملاقاتونو نه چه فارغ
شوم نو يو پوړئ راوړے شوه - په کومه چه د بنيادمو روحونه
مرگ نه پس آسمان ته خيژي - نو ددے پوړئ نه ښائسته شے
به هيڅ چا نهٔ وي ليدلے - ځنې کسانو چه په زنکدن کښې سترگے
آسمان ته بچے نيولي وي - بغوئ دے پوړئ ته گوري او خوشحاليږي -
په شرف مصطفےؐ کښې دي چه دا پوړئ د جنت الفردوس نه راوړې
شوي وه - او فرښتے ورنه ښې طرف ته او گس طرف ته چاپيره
دے - او د کعبؓ په روايت کښې دي چه حضورؐ ته يو پوړئ د سپينو
زرو راوړے شوه - او يوه د سرو زرو - حضورؐ او جبريلؑ دواړه په
هغے اوختل - او د ابنِ اسحاق په روايت کښې دي چه د بيت المقدس
د واقعاتو نه فارغ شوم - نو پوړئ راوړے شوه - جبريلؑ زهٔ په
هغے اوخيژولم تر دے چه د آسمان دروازے ته اورسيدم -
ف: د براق او پوړئ په روايا تو کښې جمع داسے کيدے شي چه
ترڅهٔ ځايه ئے په يو شي سفر کړے وي او ترڅهٔ ځايه په بل

شی - لکه عن تمن میلمهٔ ته چه گنړے سورلئ پیش کولے شی چه
کومهٔ خوښه وی په هغې سور شی - یا په ټولو لړه لړه سورلی
اوکړی - او براق اګرچه تیز رفتاره وو - لیکن تیزول او روکول ئے
د حضورؐ په قبضه کښې وو - لکه چه براق باندے سوریدو نه
پس مختلفو ځایونوکښې کوزیدل او مختلفو مقاماتوکښې مناظر تفصیل
سره لیدل ظاهره ده - چه د معتدل رفتار په حالت کښې کیدے
شی -

**یؤلسمه واقعه** = حضورؐ چه جبریلؑ سره د اول آسمانؐ درواز
ته اورسیدو - جبریلؑ ټوکیدو او فرشتوته ورلرے کولو د پاره آواز
ورکړو - ټوکیدو او فرشتو تپوس اوکړو - ټوک ئے - هغهٔ ورته اووے
جبریلؑ - بیائے ورته تپوس اوکړو - درسره ټوک دے - هغهٔ ورته
اووئیل محمد صلی الله علیه وسلم - هغوئ تپوس اوکړو آیا دهٔ ته د
الله تعالیٰ پیغام استولے شوے دے - (د نبوت پیغام یا آسمانونو ته
د داختو پیغام) هغهٔ ورته اووئیل اؤ - په بخاری او بیهقی کښې د
ابو سعیدؓ نه روایت دے - چه مونږ د آسمانونو په دروازو کښې
یو دروازے ته اورسیدو - ددے دروازے نوم بَابُ الحفظه دے -
په دے یو فرشته مقرر ده - نوم ئے اسماعیل دے - د هغې لاندے
دولس زره فرشتے دی - او په بخاری کښې د شریک په روایت کښې دا
هم دی - چه د آسمانونو اوسیدونکی نهٔ خبریږی چه په دنیا
کښې الله تعالیٰ څهٔ کول غواړی - ترڅو چه هغوئ ته خبر ورنهٔ
کړے شی - دے نه دا معلومه شوه چه فرشتو چه هغهٔ ته تپوس

کړے دو چه آیا محمدؐ ته د الله تعالیٰ پیغام رسیدلے دے؟ ددے وجه
داده چه حضوریؐ د دین د کارونو نه نهٔ خبریږی۔ او په دے تپوس
کښی چه موږ دوه احتماله ذکر کړی دی۔ (د نبوت پیغام یا آسمانونو
ته د ختو پیغام) ددے تفصیل په اتمه واقعه کښی بیان شوے دے۔
اوهلته ددے تپوس یو عقلی وجه بیان شوی ده۔ دے روایت
دهغے عقلی توجیه تائید اوکړو۔ د بخاری په روایت کښی داهم دی
چه فرشتو چه د جبریلؑ جواب واوریدو۔ نو اوئے ویل مرحبا
ډیر ښهٔ راتلل دی۔ او دروازه ئے پرانسته۔ حضورؐ فرمائی۔ زهٔ
چه هلته اورسیدم نو حضرت آدم علیه السلام موجود وو۔
جبریلؑ راته اووئیل دا ستاسو پلار حضرت آدمؑ دے۔ په دهٔ سلام
واچوه۔ ما په سلام واچولو۔ نو هغهٔ جواب راکړو۔ او وے وئیل
مَرْحَبًا نیک اولاد او نیک نبی۔

اویو روایت کښی دی یو سړے ناست وو۔ ښی طرف ته ئے هم څهٔ
شکلونه ښکاریدهٔ اوګس طرف ته هم۔ ښی طرف ته چه به ئے
اوکتل۔ او به ئے خندل۔ اوګس طرف ته چه به ئے اوکتل اُو به
ئے ژړل۔ ما جبریلؑ نه تپوس اوکړو۔ دا څوک دے۔ هغهٔ راته اووئیل
دا آدمؑ دے۔ او دا ښی طرف ته اوګس طرف ته چه شکلونه ښکاری۔
دائے د اولاد روحونه دی۔ ښی طرف ته جنتیان دی اوګس طرف
ته دوزخیان دی۔ ښی طرف ته چه اوګوری خوشحاله شی اوګس
طرف ته چه اوګوری خفه شی۔ (مشکوٰة ، بخاری ومسلم)
او د بزاز په حدیث کښی د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه دهغهٔ

بنی طرف ته یو دروازه وه - هغې نه خوشبوئی راتله - او کس طرف
ته یو دروازه وه هغې نه بد بوئی راتله - هغه چه بنی طرف
ته اوګوری خوشحال شی او چه کس طرف ته اوګوری خفه شی - او
د شریک په روایت کښ دا هم دی چه هغوئی په وړومبی آسمان
کښ دریائے نیل او فرات اولیدل او یو بل نهرئے اولیدو چه د
هغې د پاسه د مرغلرو او زبرجدو محلونه جوړ وو -

**ف** : حضورؐ دے نه مخکښ حضرت آدم علیه السلام د نورو پیغمبرانو
سره بیت المقدس کښ هم لیدلے وو - دلته ئے هم اولیدو - او
په دے وخت کښ هغه په خپل قبر کښ هم موجود وو - او دغه
شان نور پیغمبران هم کوم چه ئے په نورو آسمانونو کښ لیدلی
وو - ددے تعدد حقیقت دا دے چه په قبر کښ خو ئے خپل اصلی
بدن دے - او په نورو ځایونو کښ ئے روحونو ته غیر عنصری بدن
ورکړے شوے وو - چه صوفیان ورته جسم مثالی وائی - او جسم
مثالی سره د روح تعلق په یو وخت کښ په ګڼو ځایونو کښ
ممکن دے - لیکن دا اختیاری نهٔ دے - بلکه محض د الله تعالیٰ په
قدرت او اراده موقوف دے - او داسے ښکاری چه د جسم مثالی
شکلونه په مختلفو ځایونو کښ مختلف وو - ځکه حضور صلی الله علیه
وسلم بیت المقدس کښ لیدونه پس هم دلته او نهٔ پیژندو -
البته عیسیٰ علیه السلام په آسمان کښ هم خپل عنصری بدن
سره موجود دے - نو هلته به ئے خپل بدن سره لیدلے وی -
البته بیت المقدس کښ به هغه جسم مثالی سره موجود وو -

Scanned with CamScanner

ځکه چه د روح تعلق مرګ نه مخکښ هم جسم مثالی سره دخرقِ عادت په طور ممکن دے۔ اګر چه دا هم ممکنه ده۔ چه بیت المقدس کښ هم خپل جسم عنصری سره موجود وی۔ د حضور ملاقات ته آسمان نه راکوز شوے وی۔ او بیا آسمان ته ختلے وی۔ آسمان کښ هم خپل عنصری جسم سره موجود وی۔ لیکن خلافِ ظاهر ده والله اعلم۔

او د آدم علیه السلام ښی طرف ته او ګس طرف ته چه کوم شکلونه ښکاریدو۔ دا هم د روحونو مثالی صورتونه وو۔ او د بزاز په روایت کښ غور کولونه معلومیږی چه دا روحونه په آسمان کښ په خپلو خپلو ځایونو کښ موجود وو۔ او د هغ مقام او آدم علیه السلام ترمینځه یو دروازه وه۔ د هغ دروازے نه د هغ روحونو عکس په دے ځائے کښ ښکاریدو۔ یا هغه هوا کومه چه راتله هغه هم یو جسم دے۔ په هغ کښ به داخاصیت وو۔ چه د هغ ارواحو عکس ئے دلته راوړو۔ لکه ټیلی ویژن کښ چه د بجلئ د لهرونو په ذریعه دیو ځائے عکس بل ځائے کښ ښکاره کیږی۔ چونکه دے روایت کښ د دروازے لفظ راغلے دے۔ دے نه معلومیږی چه دا دروازه د هغ عکس ښکاره کیدو ذریعه وه۔ والله اعلم۔ اوس دا اشکال پاتے نشو چه د قرآن شریف تصریح ده۔ چه د کافرانو ارواح آسمان ته نشی ختے۔ نو په اول آسمان کښی د کافرانو روحونه څنګه اولیدے شو۔

ارشاد دے۔ اِنَّ الَّذِیْنَ کَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا وَاسْتَکْبَرُوْا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ اَبْوَابُ السَّمَآءِ۔ (بیشکه چا چه زما د آیتونو تکذیب او هغے نه ئے

انکار کړے دے - هغوئ ته به د آسمانونو دروازے نشی لرے کولے دے آیت مبارک کښې تصریح ده - چه د کافرانو روحونه به آسمان ته نشی ختے - نو دلته په اول آسمان کښې د آدم علیه السلام گس طرف ته د کافرانو روحونه ځنګه اولیدے شو - (جواب کښې دا واضحه شوه چه هغه روحونه په خپل ځائے موجود وو - دلته ئې عکس اولیدے شو )

په دے روایت کښې بل اعتراض دا دے - چه نورو روایاتونو نه ثابته ده - چه دریائے نیل او فرات د اوم آسمان د پاسه د سدرة المنتهٰی د جړو نه راوتی دی - د دے اعتراض تفصیلی جواب به هغه ځائے کښې ورکولے شی - چرته چه د سدرة المنتهٰی بیان راشی - دلته صرف د روایاتو اختلاف ختمولو د پاره مختصر طور دا عرض دے - چه کیدے شی چه ددے دریابونو اصل جړه سدرة المنتهٰی کښې وی - هغه ځائے نه اول آسمان ته رابهیږی او بیا زمکے ته راځی -

په دے جواب د حوضِ کوثر اشکال هم رفع کیدے شی - چه نورو روایاتونه ثابته ده - چه حوضِ کوثر په جنت کښې دے کیدے شی چه اصل حوض جنت کښې وی - او دے آسمانونو ته تریو شاخ راغلے وی - لکه چه یو شاخ به ئے د قیامت په میدان کښې هم وی - میدان عرصات کښې - پوره تفصیل به ئے د قیامت په بیان کښې راشی -

**دولسمه واقعه** = د بخاری شریف په روایت کښې دی چه بیازه جبریل<sup></sup> سره نور په بره اوختم تر دے چه د دویم آسمان دروازے ته اورسیدم - نو جبریل<sup></sup> ټکوکید او فرشتو ته د ور لوے کولو اووے - هغوئی آواز ورکړو څوک ئے - هغهٔ ورته اووے زهٔ جبریل یم - څوکیدار فرشتو ورته اووے در سره څوک دے - هغهٔ ورتهٔ اووے محمد صلی الله علیه وسلم - څوکیدار او تپوس اوکړو - آیا دهٔ ته د الله تعالیٰ پیغام استولے شوے دے - (یعنی د نبوت پیغام یا د معراج پیغام) هغهٔ ورته اووے - اؤ - فرشتو اووے مرحبا - ستا سو راتلهٔ ډیر ښهٔ دی - او دروازه ئے پرانسته - هلته حضرت یحییٰ علیه السلام او حضرت عیسیٰ علیه السلام سره زما ملاقات اوشو - دوئی دواړه خپلو کښې ترورځی دی - جبریل راته اووے دا دواړه یحییٰ او عیسیٰ دی - په دوئی سلام واچوه ما په سلام واچولو نو هغوئی جواب راکړو - او وے دے مرحبا برادرِ صالح او نبی صالح -

ف = د حضرت یحییٰ علیه السلام والده د حضرت مریم علیه السلام ترور وه - نو حضرت عیسیٰ علیه السلام د حضرت یحییٰ علیه السلام د ترور نوسے دے - چونکه نیا د مور په حکم کښې وی - نو د عیسیٰ نیا ته ئے د هغه مور اووے - په دے طریقه دواړه ترورځی شو مطلب دا شو چه عیسیٰ د یحییٰ د ترور په اولاد کښې دے - او هغوئی ورته برادر صالح ځکه اووئیل چه هغوئی د حضور په نیکو نو کښې نهٔ دی (هغوئی د حضرت یعقوب علیه السلام اولاد کښې دی او حضور د

حضرت اسماعیلؑ په اولاد کښې دے - نو سره د ترونو ځامن دی.
او د تره ځوئے درور پلے شی)

**دیارلسمه واقعه** = د بخاری شریف په روایت کښې دی - بیا زهٔ جبریلؑ سره د دریم آسمان دروازے ته اورسیدم - جبریلؑ څوکیدار فرښتو ته د درلرے کولو اووے - هغوئی تپوس اوکړو - ته څوک ئے هغهٔ ورته اووے زهٔ جبریلؑ یم بیائے تپوس اوکړو - در سره څوک دے - هغهٔ ورته اووے محمد صلی الله علیه وسلم - فرښتو اووے آیا دهٔ ته د الله تعالیٰ پیغام استولے شوے دے - هغهٔ ورته اووے - او فرښتو اووے مرحبا ستاسو راتله ډیر ښهٔ دی - درئے لرے کړو - زهٔ چه هلته اورسیدم نو یوسفؑ موجود وو - جبریلؑ راته اووئیل دا یوسف علیه السلام دے - سلام په واچوه - ما په سلام واچولو هغهٔ جواب راکړو - اووے دے - مرحبا برادر صالح او نبی صالح - او په یو روایت کښې دی چه حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. ما اولیدو چه یوسف علیه السلام ته ډیر ښائست ورکړے شوے دے - (مشکوٰة او مسلم او بیهقی کښې دا حدیث په روایت د ابو سعیدؓ دے - او طبرانی کښې د ابو هریرهؓ په روایت د یوسفؑ په باره کښې دی - هلته م یو داسے بنده اولیدو چه ډیر ښائسته وو - د نورو خلقو په نسبت د هغهٔ ښائست داسے وو - لکه د څوارلسمے سپوږمئی او نورستوری -

**ف** : په دے کښې دوه احتماله دی - یو دا چه د دے عموم نه حضور صلی الله علیه وسلم مستثنیٰ دی - یعنی حضورؐ نه علاوه

نور مخلوق نه زیات حسین دی۔ دویم دا چه عموم په خپل حال وی۔ او افضلیت جزوی او منلے شی۔ یا دا چه د حسن انواع مختلف دی۔ په یو نوع کښ حضرت یوسف علیه السلام احسن دی۔ او په نورو انواعو کښ حضورؐ احسن دی۔ او خپله په دے نوع کښ هم تفاضل داسے وی۔ چه نوعِ یوسفی په ظاهره زیات ښکاری۔ خو دی محدود دی او نوع محمدیؐ په حقیقت کښ زیات وسیع او زیات لطیف او غیر محدود دی۔ یو قسم ته حسن صباحت او بل ته حسن ملاحت ویلے شی۔ والله اعلم۔

ترمذی کښ د حضرت انسؓ روایت دے چه حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ پیغمبران ټول الله تعالیٰ ډیر ښائسته او خوش آوازه پیدا کړی دی۔ او ستاسو نبی د ټولو نه زیات ښائسته او خوش آوازه دے۔

**څلورلسمه واقعه:** د بخاری شریف په روایت کښ دی چه بیا زهٔ جبریلؑ سره څلورم آسمان ته اورسیدم۔ هغهٔ څوکیدارو فرشتو ته د ورلرے کولو اووے۔ نو هغوئی تپوس اوکړو۔ تهٔ څوک ئے۔ هغهٔ ورته اووے جبریلؑ۔ هغوئی بیا تپوس اوکړو۔ در سره څوک دے۔ هغهٔ اووے محمد صلی الله علیه وسلم۔ هغوئی بیا تپوس اوکړو۔ آیا دهٔ ته د الله تعالیٰ پیغام استولے شوے دے۔ هغهٔ اووے۔ آؤ۔ فرشتو ورلرے کړو۔ او وے وے۔ مرحبا ستاسو راتلل ډیر ښهٔ دی۔ زهٔ چه هلته اورسیدم نو هلته حضرت ادریسؑ موجود وو۔ ما ته جبریلؑ اووے۔ دا ادریس علیه السلام دے۔

په دهٔ سلام واچوه - ما په سلام واچولو - هغهٔ جواب راکړو بیا ئې اووے مرحبا برادر صالح او نبي صالح -

ف = سړه دا دے چه ادریسؑ د حضورؐ په نیکونو کښې دے بیا ئې ورته برادر د نبوت د ورورولئ په وجه اووے - او په ابن صالح باندے ئې اخ الصالح ته ترجیح ورکړه - د ادب په لحاظ -

په یو روایت کښې ابن صالح هم راغلے دے - او څنې عالمانو ویلی دی چه دا ادریس د حضرت الیاس علیه السلام لقب دے - او دے د حضورؐ په نیکونو کښې نهٔ دے - والله اعلم -

**پنځلسمه واقعه** = د بخاری په روایت کښې دی چه بیا زهٔ جبریلؑ سره نور بره اوختم تردے چه پنځم آسمان ته اورسیدو. جبریلؑ څوکیدارو فرشتو ته د ورلړے کولو اووے - نو هغوئ تپوس اوکړو ته څوک ئې - هغهٔ اووے جبریلؑ - هغوئ بیا اووے درسره څوک دے - هغهٔ اووے محمد صلی الله علیه وسلم - هغوئ اووے آیا دهٔ ته د الله تعالیٰ پیغام استولے شوے دے - هغهٔ اووے - او - هغوئ ورلړے کړو - او وے دے ستاسو راتلهٔ ډیر ښهٔ دی - هلته چه اورسیدم نو هارون علیه السلام موجود وو. جبریلؑ راته اووے - دا هارونؑ دے - سلام په واچوه - ما په سلام واچولو - هغهٔ جواب راکړو - بیا ئې اووے مرحبا برادر صالح او نبي صالح -

**شپاړسمه واقعه** = د بخاری شریف په روایت کښې دی - چه بیا زهٔ جبریلؑ سره نور بره اوختم - تردے چه شپږم آسمان ته

اورسیدم - جبریلؑ خوکیدارو فرشتو ته د ورلرے کولو اووے -
هغوئی تپوس اوکړو ته څوک ئے ؟ هغهٔ ورته اووے جبریلؑ
بیائے ورته تپوس اوکړو - درسره څوک دے - هغهٔ ورته اووے
محمد صلی الله علیه وسلم - هغوئی اووے آیا دهٔ ته د الله تعالیٰ
پیغام استولے شوے دے - هغهٔ اووے - اَؤ - هغوئی ورلرے کړو -
اووے وے مرحبا ستاسو راتلهٔ ډیر ښهٔ دی - زهٔ چه هلته
اورسیدم - هلته موسیٰ علیه السلام موجود وو - جبریلؑ اووئیل
دا موسیٰؑ دے دهٔ باندے سلام واچوه - ما په سلام واچولو -
هغهٔ جواب راکړو - بیائے اووے مرحبا برادر صالح و نبی صالح -
چه زهٔ مخکښې لاړم - نو هغهٔ اوژړل - تپوس ورته اوشو - ولے
دِ اوژړل هغهٔ اووئیل ځکه مِ اوژړل - چه دا ځلمے پیغمبر ما نه
پس رااستولے شوے دے - په جنت کښې به ددهٔ امتیان زما د
امت نه زیات وی - نو ما ته دخپل امت په حالت ژړا راغله - چه
هغوئی زما دومره تابعداری اونکړه - څومره چه به ددهٔ امت
ددهٔ تابعداری وی - زما د امت ډیر کسان به د جنت نه محروم شی
نو د هغوئی په حالت ژړا راغله -

**ف** : حضور صلی الله علیه وسلم ته ئے ځلمے پیغمبر په دے اووے -
چه د هغوئی د تابعدارو شمیر به په لږ عمر کښې (چه لا به بوډا والی
ته نهٔ وی رسیدلے) دومره ډیر شی چه نور پیغمبران بوډاکان
شو او تابعدارے دومره ډیر نهٔ شو - حضور صلی الله علیه وسلم
د درے شپیتو کالو په عمر کښې وفات شو - او د موسیٰ علیه السلام

عمر یو نیم (۱۵۰) سل کاله وو۔

**اوولسمه واقعه:** د بخاري په روایت کښې دي چه زهٔ بیا جبریلؑ سره نور په بره اوختم تر دے چه اُووم آسمان ته اورسیدو جبریلؑ خوکیدو اوفرشتو ته د وَرْ لرے کولو اووے۔ نو هغوئي تپوس اوکړو۔ ته څوک ئے۔ هغهٔ اووے جبریلؑ۔ هغوئي بیا تپوس اوکړو در سره څوک دے۔ هغهٔ اووے محمد صلی اللہ علیه وسلم۔ هغوئي اووے۔ آیا دهٔ ته د اللّٰه تعالیٰ پیغام استولے شوے دے۔ هغهٔ اووے۔ اَؤ۔ هغوئي اووئیل مرحبا ستاسو راتلهٔ ډیر ښهٔ دي۔ وَرْ ئے لرے کړو۔ زهٔ چه هلته اورسیدم نو حضرت ابراهیم علیه السلام موجود وو۔ جبریلؑ راته اووے دا ستا نیکهٔ حضرت ابراهیمؑ دے په دهٔ سلام واچوه۔ ما په سلام واچولو۔ هغهٔ جواب راکړو۔ بیا ئے اووے۔ مرحبا فرزندِ صالح او نبی صالح۔ په یو روایت کښې دي۔ چه ابراهیمؑ بیت المعمور ته شا لګولې وه۔ ناست وو۔ (په مسلم شریف کښې او په دلائل بیهقي کښې د ابو سعیدؓ نه روایت دے چه بیت المعمور ته هره ورځ اویا زره فرښتے ننوځي او د هغوئي دار بیا نهٔ راځي۔ یعنی بله ورځ نورے اویا زره درننوځي د ابو سعیدؓ په روایت کښې دي چه اُووم آسمان کښې م ابراهیمؑ سره ملاقات اوشو۔ ډیر ښائسته وو۔ در سره د خپل قوم څهٔ کسان وو۔ ما سره هم د خپل امت څهٔ کسان وو۔ څهٔ صفا سپینو جامو کښې وو۔ او څهٔ خیرنو جامو کښې وو۔ زهٔ بیت المعمور ته ننوتم سپینو جامو واله کسان هم راسره ننوتو۔ او خیرنو جامو واله منع کړے شو۔

ما او زما ملګرو مونځ اوکړو۔

ف: په څنګ روایاتو کښې د پیغمبرانو د منازلو ترتیب بل شان راغلے دے۔ لیکن د یر صحیح روایت دادے کوم چه ذکر شو۔ والله اعلم۔ د بیت المعمور متعلق څه خبرے به د روستو د سدره د ذکر نه پس راشی۔

**اتلسمه واقعه**: د بخاری شریف په روایت کښې دی۔ بیا زهٔ سدرة المنتهٰی ته اوچت کړے شوم۔ نو د هغې بیرے دومره غټے غټے دے لکه د ځجر چاټئ او د هغې پاڼړے دومره غټے غټے دے لکه د هاتهی غوږونه۔ جبریل ؑ راته اووئیل۔ دا سِدرَةُ الْمُنْتَهٰی ده۔ د لته څلور نهرونه وو۔ دوه د ننه بهیدو او دوه بهر رابهیدو۔ ما جبریل ؑ نه تپوس اوکړو چه دا څهٔ دی هغهٔ اووے۔ دا چه د ننه ځی دا د جنت دوه نهرونه دی۔ او دا چه بهر را اوځی دا نیل او فرات دی بیا ماته یو لوښے د شرابو او د پیو او د ریم د ګبین راوړے شو۔ ما د پیو لوښے خوښ کړو۔ جبریل ؑ اووئیل دا فطرت یعنی دین فطرت دے۔ په کوم چه به تهٔ او ستا امت قائم وی۔

او د بخاری شریف په یو روایت کښې دی د سدرة المنتهٰی په بیخ کښې څلور نهرونه وو۔ او د مسلم په روایت کښې دی د سدرة المنتهٰی د جړو نه څلور نهرونه روان وو۔ او ابن ابی حاتم د حضرت انس ؓ نه روایت کړے دے۔ چه ابراهیم ؑ سره ملاقات نه پس زهٔ د اووم آسمان نه پاس سطح ته بوتلے شوم۔ دلته په یو نهر باندے د یاقوتو مرغلرو او زبرجد و پیالے پرتے وے۔ په دے نهر شنے شنے بناسته

مرغئ هم دے۔ جبریلؑ راته او وے - دا نهر کوثر دے۔ کوم چه ستا رب تاته درکړے دے۔ په دے نهر د سرو زرو او سپینو زرو لوښی پراته دی۔ او په دے نهر کښی سنګریزے د یاقوتو او زمردو دے او به د پیو نه زیاتے سپینے دے۔ ماتر په یو لوښی کښی لږے او به او څکلے - ډکبین نه زیاتے خوږے او د مشکو نه زیاتے خوشبویه دے۔ او د بیهقی په یو حدیث کښی د ابو سعیدؓ نه روایت دے چه هلته یو چینه ده۔ د هغے نوم سلسبیل دے۔ او دے نه دوه نهرونه روان دی۔ د یو نوم کوثر او د بل نوم نهر رحمت دے۔ او د مسلم په یو روایت کښی دی چه بیا زهٔ سدرة المنتهٰی ته اورسولے شوم۔ او دا په شپږم آسمان کښی ده۔ او د زمکے نه چهٔ کوم اعمال راخیژی تر دے را رسی۔ بیا د دے نه پورته خیژولے شی۔ او کوم احکام چهٔ بره نه راځی اول تر دے رارسی بیا کوز عالم دنیا ته وړے شی۔ په دے وجه د دے نوم سدرة المنتهٰی دے۔ او د بخاری په روایت کښی دی په سدرة المنتهٰی داسے رنګونه خوارهٔ دو۔ چه پته نشته چه دا څهٔ رنګونه وو۔ (یعنی د هغے د پاره ما سره الفاظ نشته۔ ناشنا رنګونه وو) او د مسلم په روایت کښی دی۔ چه هغه د سرو زرو د پرپرکونه ډکه ده۔ او په یو روایت کښ دی په هغے د سرو زرو ملخی وو۔ (یعنی د سنهری رنګونو پرپرکی یا ملخی وو) او یو حدیث کښ دی چه په هغے فرشتے راغونډیدلی دے۔ (یعنی دومره ډیرے فرشتے درنه چاپیره دے چهٔ پټه کړی ئے وه) او په یو حدیث شریف کښ دی کله چه د خدائے

په حکم په سدرة المنتهى يو عجيبه شے راخور شو۔ نو د هغے شکل بدل شو۔ او بند يانو کښ هيڅوک د هغے کيفيت نشي بيانولے۔ (يعنى هغے دپاره الفاظ نشته)

او په يو روايت کښ سدرة المنتهى ته رسيدو او لو بنو پيش کيدو ترمخله دا خبره ده چه بيازه بيت المعمور ته اوچت کړے شوم۔ او په يو روايت کښ سدرة المنتهى ليدو نه پس دى۔ بيا زۀ جنت ته ننوتم نو په جنت کښ د مرغلرو نه جوړ يو گنبت وو۔ د هغے خاوره د مشکو په شان خوشبويه ده (مشکوٰة بخارى ومسلم)

ف: په ظاهره سدرة المنتهى په اوُوم آسمان باندے معلوميږى۔ او په يو روايت کښ چه شپږم آسمان باندے دَه۔ ددے دا تاويل کيدے شى۔ چه ممکنه ده جرړے ئے په شپږم آسمان کښ دى۔ او په بره ختى دى۔ اوُوم آسمان ته دتى دى۔ بره لاړه دى۔ نو دا د بره دتى دا موقع ورته هم د جړو په مثال ده۔ نو هغه څلور نهرونه ئے اوُوم آسمان باندے د دے ځائے نه اوځى۔ کوم چه د دنه بهيږى۔ هغه نهر کوثر او نهر رحمت دى۔ او دا دواړه د سلسبيل شاخونه دى۔ او د سدرة دا دويم نمبر جړے د هغے مقام دے۔

او د ابن ابى حاتم د روايت نه چه معلوميږى چه کوثر په جنت کښ دے۔ نو را اوځى په اوُوم آسمان کښ د سدره د دوئم نمبر جړونه او بهيږى۔ په جنت کښ لکه چه نورو احاديثو نه هم دا معلوميږى چه کوثر په جنت کښ دے۔ او د نيل د فرات په

آسمان کښې کیدو دا مطلب کیدے شی چه دنیا کښې چه کوم نی
د فرات بهیږی. ظاهره ده چه د باران اوبهٔ په غرونو کښې جز
کیږی. او بیا د چینو په شکل را اوځی او سیندونه دریا جوړیږ
او باران د آسمان نه کیږی. نو د نیل د فرات اصل بنیاد د آسم
نه دے. او د سدرة المنتهٰی متعلق چه د یلی شوی دی. چه
سرو زرو ملخی یا پرپرکی وو وریانده. نو دا د تشبیهه په طور
شوی دی. ورنه په حقیقت کښې فرښته دے. او حضورؐ دا او فر
چه نهٔ پوهیږم چه دا څهٔ وو. ددے مطلب دا دے چه ممکن
په دوه مبی نظرئے نهٔ وی پیژندلی. بیائے او پیژندے چه
دی. او کیدے شی د تعجب په طورئے د یلی وی. چه نهٔ پوه
چه د هغې د حُسن اظهار په کومو الفاظو کښې اوکړم. یعنی د هغې د
د اظهار د پاره راسره الفاظ نشته. او د مسلم په روایت کښې دی با
بیت المعمور ته اوچت کړے شوم نو معلومیږی چه بیت المعمو
سدرة المنتهٰی نه اوچت دے. ځکه چه دا رفع د سدرة المنته
لیدونه پس ده. لکه څنګه چه د ثُمَّ رُفِعَتُ د الفاظو نه معلو
او سدرة المنتهٰی د ابراهیمؑ د مقام نه اوچته ده. څنګه چه د
الفاظو نه معلومیږی. بیا زهٔ سدرة المنتهٰی ته اوچت کړے شو
او دا واقعه د ابراهیمؑ د ملاقات نه پس شوی ده. د لفظ د ثُمَّ
دا معلومیږی نو بیا ابراهیمؑ بیت المعمور ته ډیره څنګه وهلی ده
څنګه چه په دولسمه واقعه کښې بیان شوی ده. ددے توجیه
دا ښه کیدے شی چه د بیت المعمور بنیاد به په اووم آسمان

وی لیکن اوچتوالے بہ ئے ډیر اوچت وی۔ د سدرۃ المنتھٰی نه هم
اوچت۔ او ابراهیمؑ به ئے لاندے دیوال ته ډډه وهلی وی۔ او
حضور صلی الله علیه وسلم چه هلته د ابراهیمؑ سره مونځ کړے دے۔
په دے کښې هم څه اشکال نشته۔ مونځ به ئے په لاندے درجه
کښې کړے وی۔ لکه څنګه جماتونو کښې چه داسے کیږی۔ او په طبرانی
کښې د قتاده نه روایت دے۔ چه مونږ ته ویلی شوی دی۔ چه
حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ بیت المعمور په آسمان کښې
یو جمات دے۔ عین د بیت الله شریف د پاسه په داسے شان که
فرض کړه راپریوځی نو بیت الله شریف د پاسه به راپریوځی۔ هغے ته
هره ورځ اویا زره فرښتے ننوځی۔ او چه کومے را اووځی دهغوئی نمبر
بیا ته نه راځی (یعنی هره ورځ نورے فرښتے ورننوځی۔ او جنت ته
ننوتل چه ذکر شوی دی۔ ممکنه ده چه د بیت المعمور د لید ونه
مخکښې وی۔ او کیدے شی چه روستو وی۔ لیکن دومره د قرآن شریف
نه ثابته ده۔ چه جنت سدرۃ المنتھٰی سره نزدے دے کیدے شی
چه نزدے وی خو د بیت المعمور نه هم اوچت وی۔ لکه بیهقی کښې
د ابو سعید خدری روایت دے۔ بیا زهٔ جنت ته اوچت کړے شوم۔
والله اعلم۔ او د بیهقی په روایت کښې دا هم دی۔ چه د جنت د سیل
نه پس را ته دوزخ مخامخ کړے شو۔ پکښې د الله تعالیٰ غضب او عذاب
وو۔ که په هغے کښې اوسپنه او کاڼی د اچولے شی۔ نو اُو به ئے خوری۔
بیا را نه دوزخ پناه کړے شو۔ دے الفاظو نه معلومیږی چه حضورؐ
په خپل ځائے (یعنی جنت کښې) ولاړ وو۔ صرف ترمینځه حجاب لرے

شوے وو۔ (هغوئی دوزخ دلرے نه او لیدو) دوزخ ته ورغلے نهٔ وو۔

**نولسمه واقعه**: د بخاری په روایت کښ د بیت المعمور لیدو نه پس او د لوښو پیش کیدو نه پس ذکر دے چه حضور او فرمائیل بیا ما باندے هره ورځ کښ پنځوس مونځونه فرض کړے شو۔ او په یو روایت کښ د ابراهیمؑ د ملاقات نه پس دا ذکر دے چه بیا زه او خیژولے شوم۔ تر دے چه یو هموار میدان ته اورسیدم۔ چکښ په قلمونو د خط لیکلو آواز راتلو۔ نو په ما په ورځ کښ پنځوس مونځونه فرض کړے شو۔ (مشکوٰة، بخاری ومسلم)

**ف**: په دواړو روایت کښ مونځونه فرض کیدل د بیت المعمور د لیدو نه او بیا ساعت پس دی۔ لکه چه ثُمَّ د لفظ تقاضه ده۔ او په دویم روایت کښ میدان ته رسیدو سره متصل دی لکه چه د فا د لفظ نه معلومیږی۔ نو ترتیب داسے ښکاری چه بیت المعمور لیدو نه پس دے میدان ته او خیژولے شو۔ او دلته رسیدو سره سمدستی د مونځونو حکم اوشو۔ والله اعلم۔

او د نورو علامو نه هم معلومیږی چه دا د قلمونو د آواز اوریدو میدان د بیت المعمور نه او سدرة المنتهیٰ نه اوچت دے حُکه چه دا آوازونه د تقدیر د روزانه تکوینی احکامو د لوحِ محفوظ نه د نقل کولو آوازونه دی۔ او مخکښ په اتلسمه واقعه کښ ذکر شوی دی۔ چه د بره نه احکام نازلیږی۔ اول سدرة ته راځی بیا عالم دنیا ته ځی۔ نو سدرة د لوحِ محفوظ نه ښکته ده۔ دغه شان د بیت المعمور بنیاد په اُووم

آسمان کښې دے۔ او هلته فرښتې په عبادت کښې مشغولې وی۔ او سمٰوات په دے عموم کښې داخل دی۔ ارشاد دے یَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَیْنَهُنَّ (راکوزیږی احکام په دے آسمانونوکښې) نو بیت المعمور هم په دے کښې راغلو۔

**شلمه واقعه** = بزاز د حضرت علیؓ نه د معراج په واقعه کښې یو روایت ذکر کړے دے چه جبریلؑ براق سره تلو تر دے چه حجاب ته اورسیدو۔ او یو فرښته د حجاب نه راووته نو جبریلؑ اوویل قسم په هغه ذات چه تا ئے حق دین سره رسول کړے ئے۔ کله نه چه زهٔ پیدا شوے یم۔ دا فرښته ما نهٔ ده لیدلی۔ حالانکه زهٔ د مرتبې په لحاظ ډیر مقرب یم۔ او په بل روایت کښې دی۔ چه دے ځائے کښې جبریلؑ ما نه پاتے شو۔ زهٔ یواځے شوم۔ او دلته ټول آوازونه ختم شو۔ (خاموشی وه) (شرح نووی المسلم) او ابو الحسن بن غالب په شفاء الصدور کښې دیو روایت نسبت ابن عباسؓ ته کړے دے۔ چه حضورؐ فرمائیلی دی۔ جبریلؑ ما ته راغلو۔ زهٔ ئے خپل رب ته بوتلم۔ زما د سفر ملګرے وو۔ تر دے چه یو مقام ته اورسیدو۔ جبریلؑ هلته اودریدو۔ ما ورته اووئے: اے جبریلؑ په داسے ځائے کښې څوک یو دوست بل دوست یواځے نهٔ پریږدی۔ هغهٔ راته اوویل که زهٔ دے ځائے نه لږ وړاندے لاړم۔ نو اُوبه سوزم شیخ سعدیؒ د دے حدیث ترجمه په اشعارو کښې داسے کړے ده۔

(۱) بدو گفت سالار بیت الحرام — که اے حاملِ وحی برتر خرام

(۲) چو در دوستی مخلصم یافتی — عنانم زِ صحبت چرا تافتی

(۳) بگفتا فراتر مجالم نماند   بماندم که نیروئے بالم نماند

(۴) اگر یک سرِ موئے برتر پرم!   فروغِ تجلیّ بسوزد پرم!

۱- د بیت الحرام سالار یعنی حضور جبریل ته اووے - اے وحی راوړونکیه او ډیر اوچت الوتونکیه-

۲- چه زهٔ د په دوستئ کښې مخلص اومونتم - یعنی چه زهٔ دِ مخلص دوست یم - نو بیا دے مګرتیا واګے دِولے واړولے - (یعنی زهٔ د یواځے ولے پریښوم -

۳- جبریل اووئے دے ته بره م طاقت نشته - ځکه پاتے شوم چه نور مخکښې تلے نشم - (اجازت نشته)

۴- که یو ویښتهٔ برابر نور مخکښې لاړم - نو د انوارو تیزی به م وزرے اوسوزوی-

په دے حدیث شریف کښې دی بیا زهٔ په نور کښې ډوب کړے شوم. اوبیا زره پردو نه واوړیدم دهغے یو پرده د بلے په شان نهٔ وه- (ټولے جدا جدا وے) دلته د ټولو بنیادمو او فرښتو آوازونه ختم شو (کامله خاموشی شوه) نو زهٔ وارخطا شوم- په دے کښې د ابوبکر د آواز په شان یو آواز م واوریدو - چه لږ اودریږه ستا رب مونځ کوی- زهٔ په دوو خبرو حیران شوم- یو داچه آیا ابوبکر مانه وړاندے لاړ دے- بل داچه زما رب خو ما نځه نه بے نیازه دے- (هغه د چا عبادت کوی - هغهٔ نه لوئے خوځوک نشته) په دے وخت کښې ارشاد اوشو- اے محمد دا آیت یاد کړه- هُوَ الَّذِیْ یُصَلِّیْ عَلَیْکُمْ وَمَلٰئِکَتُهٗ لِیُخْرِجَکُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوْرِ وَ کَانَ

بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا ط (الله هغه ذات دے چه رحمت نازلوی په تاسو
و د هغهٔ فرشتے درته د رحمت دعا کوی - چه تاسو د تیرونه د ایمان
رنړا ته اوباسی - او هغه په مؤمنانو ډیر مهربانه دے) - (یعنی
دلته د صلوٰة معنٰی مونځ نهٔ دے - رحمت دے - مطلب دا دے چه
الله تا ته خپل رحمت متوجه کړے دے - چه تهٔ د دے ځائے نه
مخکښ د تلو قابل شے) او د ابوبکر غوندے آواز قصه دا ده - چه مونږ
د ابوبکر په شکل یو فرشته پیدا کړه - چه تهٔ د خپل دوست آواز
واورے - او د تنهایئ وارخطائی د کمه شی - او دومره وارخطا نشی
چه اصل مقصود کښ حرج راشی -

او شفاء الصدور کښ یو روایت دا هم دے چه حجابونو ختمیدونه پس
ما ته یو شنه کدئ زَفرَف راوړے شوه - زهٔ په کیناستم - دا کدئ په
بره تله تر دے چه زهٔ ئے عرش ته اورسولم - نو ما یو داسے امر عظیم
اولیدو - چه په ژبه د هغے بیان نشی کیدے - (مواهب د ابن غالب
په حواله دا روایات د شفاء الصدور نه نقل کړیدے او د صحت ذمه واری
ئے په هغهٔ ده) ف = د بزاز د روایت نه معلومیږی چه په آسمانونو
کښ عروج (یعنی د یو آسمان نه بل ته هم د براق په ذریعه شوے
دے - والله اعلم - او د رحمت الٰهی د توجه په وخت کښ چه
حضورؐ ته د اودریدو حکم اوشو - نو د دے دا مطلب نهٔ دے چه
د هغوئ مخکښ تلل به نعوذ بالله د الله تعالٰی په توجه کښ خنډ
حرج راولی لکه د مخلوق په توجه کښ چه حرج راځی - بلکه مطلب
ئے دا دے چه حضورؐ چه روان وی نو د رحمت اَخَذ ته به کامله

توجه ورته کړے شی - نو مطلب دا شو چه حضورؐ ته اوویلے
په دے وخت کښې الله تعالیٰ په تا خاص رحمت نازلوی - ته رفتار
بس کړه چه حاصلولو ته پوره توجه اوکړے شی - والله اعلم

**یوویشتمه واقعه** = دالله تعالیٰ لیدل او ورسره خبرے کول
ترمذی کښې د حضرت ابن عباسؓ نه روایت دے - چه حضورؐ خپل
رب اولیدو - او عبدالرزاق د معمر په واسطه د حسنؓ نه روایت
کړے دے - چه هغهٔ قسم اوخوړو چه حضورؐ خپل رب اولیدو -
ابن خزیمه د عروه بن زبیر نه دا روایت کړے دے - او د ابن عباس
قول شاګردان او کعب احبارؓ او زهری او معمرؒ قول د دے قائل دی -
نسائی په صحیح سند د عکرمه په واسطه ابن عباسؓ نه روایت کړے
دے - او حاکم هم ورته صحیح سند ویلے دے - هغوئی فرمائی -
تاسو ته دا عجیبه ښکاری چه حضرت ابراهیمؑ د پاره خُلّت وی او
موسیٰؑ د پاره کلام وی - او حضرت محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم
د پاره د رؤیت خصوصیت وی - او طبرانی په صحیح سند د ابن
عباسؓ نه روایت کړے دے - چه حضورؐ دوه ځله خپل رب لیدلے
دے - یو ځل د سترګو په سترګو او یو ځل د زړهٔ په سترګو - او خلال
په کتاب السنه کښې د مروزی قول نقل کړے دے - چه ما امام احمد
ته اوویل - چه خلق وائی چه حضرت عائشهؓ فرمائیلی دی - چه
څوک وائی چه حضورؐ خپل رب لیدلے دے - هغوئی په الله تعالیٰ
باندے بهتان لګوی - نو د حضرت عائشهؓ د دے قول جواب په څه
کیدے شی - هغهٔ اوویل چه د حضورؐ په دے قول چه هغوئی

فرمائیلی دی۔ رَاَیْتُ رَبِّیْ۔ (ما خپل رب اولیدو) نو د امام احمدؒ په روایت دا حدیث مرفوع هم ثابت شو۔ او په صحاحو کښی دا امور ثابت شوی دی۔ پنځه[1] مونځونه فرض شو۔ خواتیم[2] د سورت بقره د دے سورت بقره آخری آیتونه ورکړے شو۔ او د[3] حضورؐ په امت کښی چه څوک د الله سره شریک او نهٔ منی د هغه گناهونه معاف شو۔ او دا[4] وعده او شوه چه څوک چه د یو ے نیکئ اراده اوکړی۔ او د کولو توفیق ئے اونشی هغهٔ ته به یو نیکی لیکلے شی۔ او څوک چه نیکی اوکړی هغهٔ ته به د هغے لس چنده ثواب ورکولے شی۔ او څوک[5] چه د بدئ اراده اوکړی خو دے نهٔ کړی هغهٔ ته به هیڅ نشی لیکلے او څوک چه بدی اوکړی هغهٔ ته به صرف د دے بدئ برابر گناه لیکلے شی۔ (مسلم)

او په بیهقی کښی د ابو سعید خدریؓ نه د یو اوږد حدیث روایت شوے دے۔ چه حضورؐ د خپل رب په دربار کښی عرض اوکړو۔ حضرت ابراهیمؑ ته دِ خلیل اعزاز ورکړے شوے دے۔ موسٰیؑ ته د همکلامئ اعزاز حاصل دے۔ د عیسٰیؑ په دعا پیدائشی ړوند او د برص مریض ښهٔ کیدل۔ داودؑ ته بادشاهی او د اوسپنے نرمیدو معجزه ورکړی شوی ده۔ او غرونه ئے تابع وو۔ سلیمانؑ ته عظیمه بادشاهی ورکړی شوی ده۔ هوا او پیریان ئے تابع وو۔ الله تعالٰی اوفرمائیل۔ ته زما حبیب ئے۔ د ټولے دنیا بنیادمو ته م رسول استولے یئے۔ شرح صدر، وضع وزر او رفعِ ذکرم درکړے دے۔ کله چه زما ذکر کیږی۔ ستا ذکر هم ورسره کیږی۔ ستا امت م په ټولو امتونو کښی بهتر

امت او عادل امت او آخری امت گرځولے دے۔ او دهغوئی یو خطبه هم صحیح نهٔ دهٔ۔ ترڅو چه ستا په عبدهٔ ورسوله ګواهی ورنهٔ کړی۔ او ستا امت کښې مې داسے خلق پیدا کړی دی۔ چه تا باندے نازل شوے زما کتاب ئې په سینو کښې محفوظ دے۔ او ستا پیدائش مې په عالم نور کښې د ټولو نه اول اوکړو۔ او دنیا ته مې ټولو نه آخر کښې راواستولے۔ او په قیامت کښې به (ستا د امت) فیصله ټولو نه مخکښې کیږی۔ او تا ته مې سبع مثانی او خواتیم د سورتِ بقره بلا شرکت د نورو انبیاؤ درکړی دی۔ او حوضِ کوثر او هجرت او جهاد او مونځ، روژه، زکوٰة او امر بالمعروف او نهی عن المنکر مې درکړی۔ او خاتم الانبیاء کړے مې یئ۔ (ددے په سند کښې ابو جعفر دے چه حافظ ابن کثیر ورته ضعیف الحفظ ویلے دے) یعنی حافظه ئې کمزوری ده۔

ف = څنې صحابو چه د رؤیت نفی کړی ده۔ دا دهغوئی ذاتی خیال دے۔ کوم چه د نصوص د عموم نه اخستے شوے دے۔ لکه په لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ (هغه په سترګو نشی لیدے)

لکه د حضورؐ قول نُوْرٌ اَنّٰى اَرَاهُ (هغه خو نور دے ما څنګه لیدے شو) لیکن هر کله چه روایاتو ته رؤیت ثابت شو۔ نو د نصوصو د عموم به دا مطلب اخستے شی۔ چه معرفت د حقیقت د ذات او احاطه ئې ممکنه نهٔ ده۔ او دے نه د مطلق رؤیت نفی نهٔ کیږی۔

او خواتیم د سورتِ بقره نازل شوی په مدینه کښې دی۔ او

معراج په مکه کښې شوی دے۔ په دے وخت کښې ورسره د خواتیمو د نزول وعده شوی وه۔ بیا په مدینه کښې دا وعده پوره شوه۔ او د پنځو مونځونو فرض کیدو مطلب دا دے چې آخر کښې پنځهٔ پاتے شو۔ اگرچه دے وخت کښې ورته پنځوس ویلی شوی وو۔ په ظاهره داسے ښکاری چې دا ټولے خبرے د رؤیت په مقام کښې شوی دی۔ په نولسمه واقعه د صریف الاقلام د مقام نه پس د مونځونو فرض کیدل ذکر شوی دی۔ او په ظاهره د صریف الاقلام د مقام نه پس د خبرو مقام معلومیږی۔ او داسے ښکاری چې دا ټولے خبرے په دے مقام کښې شوی دی۔ والله اعلم۔

او په احادیثو کښې چې د کعبؓ یو قول نقل شوے دے۔ إِنَّ اللّٰهَ قَسَّمَ رُؤْيَتَهُ وَكَلَامَهُ بَيْنَ مُحَمَّدٍ وَّمُوْسٰى۔ (الله تعالیٰ خپل رؤیت او کلام تقسیم کړے دے۔ د محمدؐ او موسیٰؑ ترمینځه) یعنی حضورؐ ته رؤیت خاص شوے دے۔ او موسیٰؑ ته کلام۔ د دے نه دا نهٔ ثابتیږی چې گونے حضورؐ سره معراج کښې کلام نهٔ دے شوے دلته د کلام نه مراد عادةً کلام۔ یعنی کوم چې بار بار کیږی۔ او په دے حدیث کښې د کعبؓ قول دے۔ فَكَلَّمَ مُوْسٰى مَرَّتَيْنِ وَرَاٰه محمد مرتین۔ دلته د دوه ځله لیدو مطلب هم هغه دے۔ کوم چې د ابن عباسؓ قول دے۔ چې یو ځل ئے د سر په سترگو لیدلے دے او یو ځل د زړهٔ په سترگو او د حضرت جابرؓ په روایت کښې چې راغلی دی۔ چې دے نه مخکښې ئے هیڅ سره داسے مخامخ خبرے نهٔ دی کړی۔ (یعنی عام انسان سره) نو دے نه یو نبی سره د

خبرو نفی نهٔ کیږی - او حضرت ابن عباسؓ چه فرمائیلی دی - خل
ابراهیمؑ د پاره دے - او رؤیت محمدؐ د پاره - نو دے مطلب دے
خُلَّتْ حُسْنی خاص آثار نو دے نه د نفسِ خُلَّتْ نفی نهٔ کیږی -
حضورؐ نه - او دا چه ارشاد دے - چه د نیکئی په اراده یو نیکو
لیکلے شی - او د بدئی اراده نشی لیکلے - دے نه مراد د عزم درجه یعن
پخه اراده نهٔ ده - ځکه چه پخه اراده خپله یو عمل دے - نیکئ
کښی هم لیکلے شی او بدئی کښی هم - بلکه مراد ورنه د خواهش پ
درجه کښی دے - چه اراده لا پخه شوی نهٔ وی - لیکن نیکئ کښ
ئے که په دے خواهش د عمل کولو اراده وی - نو هغه به لیکلے شی
او بدئی کښی چه ئے دا اراده وی چه په دے خواهش به عمل
کوم نو هغه خواهش به نشی لیکلے -

## دوویشتمه واقعه = د آسمانونو نه اوچت مقاماتو نه

آسمانونو ته واپس راکوزیدل - د بخاری شریف په روایت کښی دی چ
د بیت المعمور دلیدو او د شرابو ګبین او پیو د پیالو پیش کیدو ن
پس په ما شپه ورځ کښی پنځوس مونځونه فرض کړے شو - بیا زهٔ
واپس شوم - واپسئ کښی م موسیٰؑ اولیدو - بیوس ئے رانه اوکړو
چه څهٔ حکم درته اوشو - ما ورته اووے شپه ورځ کښی راباندے
پنځوس مونځونه فرض شو - راته ئے اووے ستا امت دا پیټے نشی
پورته کولے - زما تجربه شوی ده - خپل رب ته واپس لاړ شه (یعنی
هغه مقام ته واپس لاړ شه) کوم ځائے چه درته دا حکم درکړے
شوے دے - د تخفیف سوال اوکړه - زهٔ واپس لاړم نو الله تعالیٰ

راته لس مونځونه معاف کړو - زۀ بیا موسیٰؑ ته راغلم - هغهٔ راته بیا اووے چه اوس هم ډیر دی - بیا لاړ شه د تخفیف سوال اوکړه زۀ بیا لاړم الله تعالیٰ راته لس نور کم کړل - زۀ بیا موسیٰؑ ته راغلم - هغهٔ بیا واستولم الله تعالیٰ راته لس نور هم کم کړو - زۀ بیا موسیٰؑ ته راغلم هغهٔ راته اووے بیا لاړ شه - زۀ بیا لاړم - اوس راته صرف دلسو مونځونو حکم اوشو - زۀ بیا موسیٰؑ ته راغلم هغهٔ بیا واستولم داځل پنځه معاف شو - صرف پنځه پاتے شو - موسیٰؑ راته اووے ستا امت (یعنی ټول امت) به هره ورځ پنځه مونځونه هم اونکړے شی - زما تجربه شوی دۀ - زما په امت صرف دوه مونځونه فرض وو - سمی اوما بنام هغوئی هغه پوره نهٔ کړے شو - بیا ورشه او الله تعالیٰ نه نور تخفیف اوغواړه - ما ورته اووئیل خپل رب نه مې ډیر سوالونه اوکړو - اوس شرمیږم - بیا نشم ورتلے - بس دے په دے راضی یم - اومنم ئے - حضورؐ فرمائی چه مخکښې لاړم - نو د الله تعالیٰ د طرف نه ارشاد اوشو - ما خپل فرض جاری کړل - بندیانو نه مې تخفیف اوکړو - د مسلم په روایت کښې صرف تلو کښې پنځه پنځه کم شوی دی - او د دے روایت په آخر کښې دی - اے محمدؐ دا پنځه مونځونه دی - او دا هر یو دلسو برابر دے - نو پنځوس شو (یعنی دی پنځه خو اجر به د پنځوسو ورکولے شی) او د نسائی په روایت کښې دی چه ماته الله تعالیٰ اووئیل ما چه دکومے ورځے نه زمکه او آسمانونه پیدا کړی دی - ستا په امت مې پنځوس مونځونه فرض کړی دی - اوس دا پنځه د پنځوسو برابر دی - نو ته او ستا امت د دے پابندی کوئی زۀ پوه

شوم چه د الله تعالیٰ د طرف نه آخری خبره ده - چه موسیٰ ته
ورغلم هغهٔ راته اووے چه بیا لاړ شه - نور تخفیف اوغواړه نو
زهٔ بیا لا نهٔ ړم - د بخاری او مسلم په روایت کښ دی - چه کمید
کمید د پنځه پاتے شو. نو الله تعالیٰ اوفرمائیل دا پنځه په ثواب کښ
پنځوسو برابر دی - ما سره خبره نهٔ بدلیږی - (یعنی پنځوس مونځ
مقرر شوی وو - نو که پنځه شو هم څهٔ کمے پکښ رانغلو ثواب ب
هم هغه د پنځوسو درکوم)

ف = د مونځونو د حکم نه پس راضی وری نهٔ ده چه هغوئی سم
واپس شوی دی - رؤیت او شو خیرے او شوے هغے نه پس واپس
شو - او کومو روایاتو کښ چه د لسو لسو کمے دے او کومو کښ چ
د پنځو پنځو کمے دے - دے کښ څهٔ تعارض نشته - په دوه ځله تل
کښ د لسو کمے راځی - د بخاری او مسلم د روایت نه پنځه پاتے کید
پس د بیا نهٔ تلو او شرمیدو وجه هم معلومه شوه - چه ورته
ویلی شوی وو - د دے پنځو ثواب د پنځوسو هومره دے - او دا پنځه
خبره ده - ما سره خبره نهٔ بدلیږی - حضورؐ په دے پوه
شو چه د الله رضا په دے کښ ده نو هغه هم په راضی شو -
په دے کښ د نور کمی نهی نهٔ وه شوی - او نهٔ دا خبره وه که نور
کم شوے دے نو ثواب به کم شوے وو - که نور کم شوے وے نو هغه
عدد هم د پنځوسو برابر کیدے شو (لیکن حضورؐ د الله رضا ته
اوکتل نور سوال ئے اونکړو)

## درویشتمه واقعه

= د آسمانونو نه زمکے ته واپسی

محمد بن اسحاق ویلی دی چه اُمِّ هانی بنت ابی طالب چه نوم ئے
هنده دو - د معراج متعلق اووے چه په دے شپه حضورؐ زما
په کور کښ اوده وو - حضورؐ د ماسخوتن مونځ اوکړو - بیا اوده شو -
او مونږ هم اوده شو - د صبا ختو نه لږ مخکښ حضورؐ مونږ بیدار
کړو - سحر مونځ مو حضورؐ سره اوکړو - بیا حضورؐ ما ته اووے -
اے اُمِّ هانی تا ته معلومه ده - چه ما تا سو سره د ماسخوتن
مونځ کړے دے - دے نه پس بیا زهٔ بیت المقدس ته لاړم -
هلته م مونځ اوکړو - بیا راغلم او تا سو سره م د سحر مونځ اوکړو -
دا خبره ئے اوکړه - او پا سیدو بهر ته اُووتو - ما ئے د څادر پیڅه
اونیوه درته م اووے - یا رسول الله دا خبره بل چا سره مهٔ کوه -
خلق به ئے دروغ اوګڼړی - او تا ته به تکلیف اورسی - حضورؐ
اوفرمائیل - والله زهٔ به ئے ضرور وایم - ما خپلے حبشی خدمتګارے
ته اووے - ته در پسے ورپسے لاړه شه اوګوره چه حضورؐ څهٔ
وائی - او خلق درته څهٔ وائی - حضورؐ بهر ته اووتو - خلقو ته ئے
دا خبره اوکړه - هغوئی ورته اووے تا سره څه داسے نشانی شته
چه زمونږ په یقین راشی - ځکه چه مونږ داسے عجیبه خبره
هیچرے نهٔ ده اوریدلی - حضورؐ اوفرمائیل - زهٔ چه په فلانئ
وادی تیریدم نو د فلانئ قبیلے قافله روانه وه - هغوئی نه یو
اوښ تښتیدلے وو - ما ورته اوښیلو - په دے وخت کښ زهٔ
شام ته روان ووم - (یعنی د سفر ابتداء وه) بیا چه واپس راتلم
په ضجنان کښ د فلانئ قبیلے قافلے پړاؤ کړے وو - خلق اوده وو -

ورسره په يو لوښي کښې اوبه وې - سرپوښ وې - ماتړ سرپوښ لرې کړو اوبه مې اوڅکلې او بيا مې لوښي باندې سرپوښ کيښو - هغه قافله اوس د بيضاء نه تنعيم ته را روانه ده - ټولو نه مخکښې يو خړ اوښ دې - په هغه دوه بوجئ باردی - يو توره ده او بله ليکې ليکې ده - خلقو تنعيم طرف ته منډې کړې - نو واقعي خړ اوښ د ټولو نه وړاندې وو - څنګه چه حضورؐ ويلي وو - يعنې هغه شان دوه بورئ وربانديې وې - اود اوبو تپوس ئې ورنه اوکړو - نو هغوئ اوويئيل - دا وبو لوښې هغه شان پټ وو - څنګه چه مونږ ايښې وو - خو اوبه پکښې نه وې -

او د هغې بلې قافلې نه ئې هم تپوس اوکړو - د چا نه اوښ تښتيدلے وو - هغه قافله مکې ته را رسيدلې وه - هغوئ اوويئيل - واقعي فلانئ کنده کښې مونږ نه اوښ تښتيدلے وو - مونږ ورپسې ګرځيدو ليدو مونه - مونږ ديو سړي آواز واوريدو چه دا اوښ پته ئې راکړه - مونږ ورغلو - اوښ مو اونيوو - (سيرت ابن هشام)

د بيهقي روايت دے چه حضورؐ نه د نښانې تپوس اوشو - نو هغوئ ورته اوويئيل - د فلانئ قبيلې قافله را روانه ده - د چارشنبې تر ورځې به را اورسي - چه د چارشنبې ورځ شوه - نو هغه قافله را اونه رسيده - تر دې چه نمر په ډوبيدو شو - حضورؐ الله تعالی نه سوال اوکړو - چه نمر ډوبيدو نه لږ حصار شي - نمر ډوبيدو کښې لږ تاخير اوکړو او هغه خلق را اورسيدو -

ف = دے روايا تو نه څو خبرې معلومے شوے - يو دا چه دا

ټول سفر د تلو او راتلو د ماسخوتن نه تر سحره په یو شپه کښې شوے وو۔ او د ماسخوتن مونځ اګرچه تر دے وخته لا فرض شوے نهٔ وو۔ خو حضورؐ به کولو او نورو مسلمانانو به هم حضورؐ سره کولو۔ او د دے سحر مونځ د معراج نه پس وو۔ لیکن احادیثو نه ثابته ده چه جبریلؑ ورومبئ امامتی د ماسپښین کړی وه۔ غالباً د دے فرضیت ابتداء به د ماسپښین نه مقرر وه۔ او بیت المقدس کښې چه ئے کوم مونځ کړے وو۔ او روایت کښې الفاظ دی۔ حَانَتِ الصَّلٰوۃُ (د مانځه وخت شو) نو دا د ماسخوتن مونځ خو نهٔ وو۔ ځکه چه د ماسخوتن مونځ حضورؐ کړے وو۔ غالباً دا به د تهجد د وخت وو۔ چه تر څهٔ وخته په حضورؐ لکه د فرضو مؤکد وو۔ او اذان هم تهجد د پاره وو۔ لکه رمضان کښې به بلالؓ تهجد وته اذان کولو۔ دویمه[2] خبره دا ده چه معراج جسمانی وو۔ خوب یا روحانی سفر نهٔ وو۔ ورنه خلقو به پکښې شک ولے کولو۔ او حضورؐ به ئے جواب ولے ورکولو۔ خوب خو بنده هر قسم لیدے شی۔ انکار ترې څوک نهٔ کوی۔ دریمه[3] خبره دا ده چه سیرت ابن هشام کښې چه د کومو دوو قافلو ذکر دے۔ هغو کښې یوه خو مکے ته را رسیدلې وه۔ او دویمه تنعیم کښې خلقو اولیده۔ او بیهقی کښې چه د کومے قافلے ذکر دے۔ دا دریمه ښکاری۔ کومے چه تاخیر اوکړو۔ او د هغو را رسیدو پورے نمر ډوبیدو کښې تاخیر اوکړو۔ په مواهب کښې بے سنده دا دواړه خبرے د اوښ د تښتیدو او د خړ اوښ په قافله کښې ټولو نه مخکښې تلو دواړه خبرے ئے

یوے قافلے تہ منسوب کړی دی - دا سے معلومیږی چہ دا درے واړہ دیوے قافلے درے حصے وے - غتہ قافلہ وه - پہ دریو حصو کښی وړاندے وروستو روانہ وه - نو دا دوه خبرے وړښبی دوو ټکړو سره اوشوے - او د تاخیر خبره دریے ټکړے سره اوشوه -

ف : او د نمر پہ تاخیر کښی څۀ عقلی اشکال نشتہ چہ انکارئے اوکړے شی - او د تاخیر عام شهرت ئے ځکہ نۀ دے شوے - چہ تاخیر ئے لږ وخت وو - چا ورتہ هډو خیال نۀ دے کړے -

حضرت تهانویؒ فرمائی : ډیر کوشش نہ پس هم ما معلوم نۀ کړے شو - چہ واپسی سفر هم پہ براق شوے وو - کہ پہ څۀ بلہ طریقہ - کہ چا معلوم کړے شو نو پہ حاشیہ دے ئے اولیکی -

## ځلیریشتمہ واقعہ

(دے واقعے اوریدو نہ پس دخلقو معاملہ)

حضرت عائشہؓ نہ روایت دے - کلہ چہ حضورؐ پہ یوه شپہ کښی بیت المقدس تہ لاړو - (دے کښی دځنګښ تلونګی نشتہ) سحر ئے خلقو تہ اووئیل - ځنی کسان چہ مسلمانان شوی وو - مرتد شول (یعنی بیا خپل مذهب تہ واوړیدل) او ځنی مشرکان حضرت ابوبکرؓ تہ راغلۀ - ورتہ ئے اووئیل دخپل دوست دحال نہ څۀ خبر ئے وائی چہ زۀ پہ یو شپہ کښی بیت المقدس تہ بوتلے شوم او واپس راوستے شوم - حضرت ابوبکرؓ ورتہ اووئیل کہ هغۀ دا وئیلی دی صحیح ئے وئیلی دی - هغوئی ورتہ اووئیل تہ ئے دا خبره منے چہ پہ یو شپہ کښی بیت المقدس تہ لاړو او راغلو - حالانکہ بیت المقدس

ير لرې دې ـ هغهٔ ورته اوويل زهٔ خو د هغهٔ د دې نه ناشنا خبرې
م منم چه د آسمان نه ورته فرښته سحر یا ماښام خبرونه راوړی
لا دانکه آسمان د بیت المقدس نه ډیر لرې دې ـ د دې تصدیق په
جه د ابوبکرؓ نوم صدّیق شو ـ

## پنځه ویشتمه واقعه = د کافرانو بیا بیا دلیلونه غوښتل

و د حضور صلی الله علیه وسلم استقامت ـ

ستقامت = ابوهریرهؓ نه روایت دې چه حضورؐ فرمائیلی دی ـ
یه زهٔ په حطیم کښې ناست ووم ـ او قریشو زانه د معراج د سفر
تعلق تپوسونه کول ـ هغوئی زانه د بیت المقدس متعلق داسې تپوسونه
وکړل چه ماتهٔ د یاد ساتلو څهٔ ضرورت نهٔ ووګڼړلې ـ (په غور م ورته
نهٔ وو کتلی) نو زما زړهٔ داسې تنګ شو چه داسې هیڅرې نهٔ وو
نګ شوې ـ نو الله تعالیٰ بیت المقدس ماته راښکاره کړو چه هغوئی
به زانه څهٔ تپوس کولو ما به ورته کتل او جواب به م ورکولو (مسلم)
و امام احمد او بزاز د ابن عباسؓ نه روایت کړې دې ـ چه هغه د
بیت المقدس جمات ماته راوړې شو ـ (راتښ دې کړې شو) تر دې
چه د عقیل د کور په خوا کښې کیښودې شو ـ ما به ورته کتل او هغوئی
ته به م جوابونه ورکول ـ او ابن سعد د امّ هانیؓ نه روایت کړې دې ـ
چه حضورؐ اوفرمائیل چه بیت المقدس ماته مُتَخَیَّلْ او مُتَمَثَّلْ کړې
شو ـ یعنی د بیت المقدس نقشه زما ذهن کښې داسې صفا راغله چه
هغوئی د هر تپوس م پوره پوره جواب ورکړو ـ د امّ هانیؓ په روایت
کښې دی چه خلقو حضورؐ نه تپوس اوکړو ـ د بیت المقدس د جمات

Scanned with CamScanner

دروازے څو دی۔ حضور ﷺ فرمائیل چه ماتهٔ شمیرل ضروری نهٔ
گڼڑلی۔ شمیرلے مې نهٔ وے۔ اوس مې ورته کتل او شمیرلے مې۔ ابوبکر
وائی چه دا تپوس جبیر بن مطعم بن عدی کړے وو۔
ف = دے نه دا هم معلومیږی چه دا سفر په بیداری کښی
سره وو۔ منامی په خوب کښی یا روحانی نهٔ وو۔ ورنه دا تپوس
به ورنه چا نهٔ کول۔ په یو روایت کښی دی چه حضرت ابوبکر
ته اوویئیل۔ تهٔ ماته د بیت المقدس حال بیان کړه۔ ما لیدلے
حضور ﷺ ورته تفصیل بیانولو او ابوبکر ؓ تصدیق کولو۔ (سیرت
هشام) حضور ﷺ اوفرمائیل اے ابوبکر ته صدیق ئے۔
ف = دا ابوبکر دا تپوس د شک په وجه نهٔ وو۔ د هغهٔ یقین
(بے تپوسه ئے اوریدو سره تصدیق کړے وو) دا تپوس ئے
د پاره کولو چه کافران ئے واوری او چا چه بیت المقدس لیدلے
دا واوری نو یقین به ئے او شی۔ او د کافرانو په ابوبکر اعتبار
چه په محسوساتو کښی به ئے خلافِ واقعه تصدیق نهٔ کوی۔
کافرانو به تپوسونه یا په دے موقع کړی وی۔ یا به ئے بل
کړی وی۔ او بیت المقدس په خپل ځائے پروت دلته دا
کړے شو چه د هغے صورتِ مثالی ورته د دارِ عقیل په خوا کښی
کړے شو۔ لکه څنګه چه د نسائی شریف په یو حدیث کښی
چه جنت او دوزخ حضور ﷺ ته متمثل کړے شو۔
نو د انتهائی مشابهت په وجه حضور ﷺ اوفرمائیل چه بیت المقدس
راته راوړے شو۔ یا بیت المقدس راته مخامخ کړے شو۔ نو

Scanned with CamScanner

اشکال پاتے نشو۔ (چه که بیت المقدس راوړے شوے وے نو
خپل ځائے نه به غائب شوے وو۔) اودا عجیبه خبره به په
اریخ کښې ضرور لیکلې شوے وه۔

## دمعراج د واقعے متعلق نور فوائد

ونکه دا واقعه ډیره مهتم بالشان ده۔ ځکه د دے متعلق یوڅو
ور فوائد هم اختصار سره لیکل مناسب اوګڼړلے شو۔ دا فوائد
وه قسمه دی۔ یو حُکمیّه د ح په پیښ یعنی دکومو نه چه څۀ
ملی احکام مقصود دی۔ دوئیم حِکَمِیّه دکومونه چه څۀ علمی فائده
قصود دی۔ وړومبی قسم دپاره په مقدمه کښې باب الانوار تجویز
شوے دے۔ او دوئیم دپاره باب الاسرار تجویز شوے وو۔

## اول قسم فوائد

ائده ع۱ = دمعراج په واقعه کښې ذکر شوی دی چه دحضورؐ سینه
بارکه اوخیرلے شوه۔ دے نه دا حکم ثابتیږی چه سړے د سړی
سینه ته کتے شی۔ اګرچه فرشتو کښې نراوښځه نشته۔ (دجسمانی
ضرورتونو نه پاکے دی) خو بیا هم شرعی الفاظو کښې دنارینه په
صیغه ذکر کیږی۔ ځکه دا حکم راویستے شی۔
فائده ع۲ = دمعراج په داقعه کښې دی چه بیت المقدس ته
ورسیدو۔ نو براق ئے یوکړئ پورے اوتړلو۔ دے نه ثابته شوه چه
معاملاتو کښې احتیاط پکار دے۔ او دا چه دظاهری اسبابو استعمال
توکل خلاف نهٔ دے۔

Scanned with CamScanner

فائده ع۳ = جبریل ؑ ته د آسمان په دروازه پتوس او شوچه
یئ - جبریل ؑ په جواب کښې خپل نوم واخستو - زهٔ یم ئ او نه
دے نه معلومه شوه چه د داسې پتوس په وخت خپل نوم اخ
پکار دی - (په آواز به یا او پیژندے شی یا نه) په یو حدیث
کښې - زهٔ یم ویلو ته نهی هم راغلی ده -

فائده ع۴ = دے نه د استیذان حکم هم ثابتیږی - چه یو
ته اگرچه مردانه ځائے وی - بے اجازت اخستو ننوتل نهٔ دی پ

فائده ع۵ = د معراج په واقعه کښې دا هم دی چه ابراهیم ؑ بیت ا
ته ډډه وهلی وه - دے نه ثابته شوه چه د بیت الله شریف
ته ډډه وهل او قبلے ته شا کول جائز دی - اگرچه ادب دا دے چ
بے ضرورته داسې کول نهٔ دی پکار -

فائده ع۶ = په دے واقعه کښې دا هم دی چه آدم ؑ ښی طرف
کتل خندل ئے او گس طرف ته به ئے کتل ژړل ئے - دے نه شفق
پدری ثابتیږی - چه د اولاد په خوشالئ خوشالیدل او ب
بد حالئ ئے خفه کیدل پکار دی -

فائده ع۷ = او په دے کښې دا هم دی چه حضرت موسیٰ ؑ په د
اوژړل چه د حضور ؐ امتیان به په جنت کښې د هغهٔ د اُمت نه زیا
دی - چونکه د هغوئی دا ژړا د خپل امت په بد حالئ خفگان او
حضور ؐ د امت په ډیر والی او د هغوئی په تابعدارئ غبطے په د
وو - دے نه دا ثابته شوه چه په کارِ خیر کښې غبطه بنهٔ د
او غبطه دے ته وائی چه بل چا باندے یو نعمت او وینی د

خواهش خپل ځان دپاره هم اوکړی۔ چه که ماسره هم دا نعمت وے۔ دبل نه ئے د زوال تمنا نۀ وی۔ یعنی داخواهش نۀ وی چه داشے دۀ سره نۀ وے ماسره وے۔ بلکه داخواهش وی چه دا نعمت ماسره وے۔ که دبل نه د زوال خواهش ورسره وی۔ نو دا حسد دے اوحرام دے۔ (اوپیغمبران دګناه نه پاک دی ځکه مونږ ویلے شو چه دموسیٰؑ داخواهش غبطه وه حسد نۀ وو۔ مترجم)

(دا فوائد قول امام نووی شارح مسلم لیکلی دی) مولانا فرمائی څه نور فوائد چه نما په فکرکښ راځی هغه هم لیکم۔

فائده ع۸ = په دے واقعه کښ داهم دی۔ چه جبریلؑ د براق رکاب اونیوو۔ او میکائیلؑ واګے اونیوے۔ او حضورؐ په براق سور شو۔ دے نه دا ثابته شوه چه که راکب دخپلۀ مصلحت په وجه خادم نه داسے کار واخلی یا یو خادم خالص د محبت په وجه داسے اوکړی۔ او راکب ئے قبول کړی۔ جائز دی خو چه د کبر په وجه نۀ وی۔

فائده ع۹ = په دے کښ دا هم دی۔ چه حضورؐ په لارکښ ځنی متبرکو ځایونوکښ مونځ اوکړو۔ دے نه ثابته شوه چه متبرکو ځایونوکښ مونځ کول موجبِ برکت دی۔ په دے شرط چه دے ځایونوکښ دچا مخلوق تعظیم مقصود نۀ وی۔ زیاد لرئی دا نازک مقام دے)

فائده ع۱۰ = په دے کښ دا هم دی چه په لارکښ ابراهیمؑ و موسیٰؑ وعیسیٰؑ حضور صلی الله علیه وسلم باندے سلام واچولو څنګه چه شپږمه واقعه کښ ذکر شوے دے۔ دے نه معلومه شوه چه که راکب معابر

دنهٔ لیدو یا تیز تلو په وجه که په ناست بنده یا پیاده تلونکی باندے سلام وانهٔ چولے شی۔ نو هغوئ د پاره بهتره دا ده۔ چه هغوئ ور باندے سلام واچوی۔

فائده ع ۱۱ = او په دے کښې دا هم دی۔ چه حضورؐ ځنی کسان (د نیکو اعمالو) په جزا حاصلولو اولیدل او ځنی کسان ئے د بدو اعمالو په سزا مونتو اولیدل۔ دے نه ثابته شوه چه دا نیک اعمال کول پکار دی۔ او د بدو اعمالو نه ځان ساتل پکار دی۔

فائده ع ۱۲ = په دے کښې دا هم دی چه حضورؐ چه بیت المقدس ته ننوتو۔ دوه رکعته مونځ ئے اوکړو۔ دے نه د تحیة المسجد مسنون کیدل ثابت شو۔

فائده ع ۱۳ = په دے کښې دا هم دی چه بیت المقدس کښې حضورؐ امام کړے شو۔ دے نه ثابته شوه چه امامتئ د پاره د افضل القوم مخکښې کیدل پکار دی۔

فائده ع ۱۴ = په دے کښې دا هم دی چه بیت المقدس کښې ټولو پیغمبرانو په تقریر کښې خپل خپل فضائل بیان کړل۔ دے نه دا ثابته شوه چه د شکر ادا کولو په طور د الله تعالیٰ د نعمتونو اظهار محمود دے۔

فائده ع ۱۵ = په دے کښې دا هم دی چه حضورؐ تږے شو نو هغوئ ته څو قسمه مشروبات پیش کړے شو۔ دے نه ثابته شوه چه عزتمن میلمهٔ د پاره د خوراک څښاک په څیزونو کښې وسعت جائز دے۔

فائده ع ۱۶ = او که په دے پیښې کښې دا خیال اوشی چه دا یو امتحان وو۔ نو دے نه ثابته شوه چه د چا د دیندارئ امتحان اخستل

جائز دی -

فائده ع۱۷ = او په دے کښ دا هم دی چه حضورؐ نه فرشتے چاپیره شوے - څنګه چه په لسمه واقعه کښ ذکر شوے دے - دے نه ثابته شوه چه د میلمهٔ د عزت د پاره ورته خادمان چاپیره کیدل جائز دی -

فائده ع۱۸ = په دے کښ دا هم دی چه هغوئ چه آسمان ته اورسیدل نو فرشتو او پیغمبرانو دربانده سلام واچولو او مرحبا ئے ورته اوویل - دے نه ثابته شوه - چه د میلمهٔ په راتلو د خوشحالئ اظهار کول او ورته پخیر راغلے ویل پکار دی -

فائده ع۱۹ = په دے کښ دا هم دی چه حضورؐ په پیغمبرانو سلام واچولو - دے نه ثابته شوه چه راتلونکے به په ناستو خلقو سلام اچوی - اګرچه دا راتلونکے افضل وی -

فائده ع۲۰ = په دے کښ دا هم دی چه حضورؐ د نورو پیغمبرانو فضائل بیانولو نه پس څانته دعا اوغوښته - دے نه معلومه شوه چه مقامِ قرب ته رسیدو نه پس هم دعا غوښتل بهتر دی -

فائده ع۲۱ = په دے کښ دا هم دی چه موسیٰؑ حضورؐ ته په مونځونو کښ د تخفیف غوښتو مشوره ورکړه - دے نه معلومه شوه چه نیکه مشوره ورکول او خیرخواهی اَمرِ مطلوب دے - اګرچهٔ چاته چهٔ مشوره ورکولے شی هغه ددهٔ نه په مرتبه کښ زیات وی -

فائده ع۲۲ = په دے کښ دا هم دی چه حضورؐ د الله په دربار کښ د تخفیف سوال اوکړو - دے نه معلومه شوه چه نیکه مشوره قبلول

پکار دی - اګرچه مشوره ورکوونکے دهٔ نه دکمے مرتبے وی.

فائده ۲۳ = په دے واقعه کښې دا هم دی چه حضرت اُمّ ها
حضورﷺ ته مشوره ورکړه - چه دا واقعه خلقو ته مهٔ بیانوه. دے
معلومه شوه چه دکومے واقعے په اظهار کښې د فتنے خطره وی د هغ
اظهار نهٔ دے پکار - ځکه چه مبنیٰ د هغے د مشورے هم دا وه -

فائده ۲۴ = د حضورﷺ د جواب نه معلومه شوه چه دے کښ
تفصیل دے - کوم کار چه دین کښې ضروری نهٔ وی دا سے وخت کښ
هغے اظهار نهٔ دے پکار او که ضروری وی نو د هغے په اظهار کښې د فتن
څهٔ پرواه نهٔ ده پکار اظهارئے پکار دے -

فائده ۲۵ = په دے کښې دا هم دی چه حضرت ابو بکرؓ حضورﷺ
د بیت المقدس د حالاتو تپوس اوکړو - په دے کښې ئے غرض دا وو
چه زهٔ ئے تصدیق اوکړم - نو قریش به ئے تصدیق اوکړی - دے نه
معلومه شوه د اهل حق او اهل باطل د بحث په وخت کښې که
حق د تائید د پاره په خبرو خبرو کښې د مخالف طرفداری کیدل هم
جائز دی - دا ټول پنځه ویشت فوائد شو - د واقعاتو د تعداد برابر
والله اعلم -

## فوائد حِکَمِیَّه

داهم پنځه ویشت دی - پنځلس د ۲۵ تنبیه په عنوان کښې دی - پنځه
د تحقیق په عنوان کښې او پنځه د اشکال د حل په عنوان کښې - دا
ټول د آیت اَسْریٰ د تفسیر په شکل کښې لیکلی شوی دی - د خپل تفس
بیان القرآن نه ئے نقل کوم -

# تفسیر د آیتِ اسریٰ

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

سُبْحٰنَ الَّذِیْ اَسْرٰی بِعَبْدِہٖ لَیْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَی الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا
الَّذِیْ بٰرَکْنَا حَوْلَهٗ لِنُرِیَهٗ مِنْ اٰیٰتِنَا اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْبَصِیْرُ

(پاک دے هغه ذات چه خپل بنده (محمد صلی الله علیه وسلم) ئے د شپے په وخت کښې مسجد حرام نه (یعنی د بیت الله شریف د جمات نه) مسجد اقصیٰ (یعنی بیت المقدس ته)، کوم چه د شام ملک دے کوم نه چه چار چاپیره چه مونږ (دینی او دنیاوی برکتونه ایښی دی) (دینی برکت دا چه هلته ډیر پیغمبران دفن دی) دنیاوی برکتونه دا چه (اباد ملک دے هلته د باغونو او د فصلونو پیداوار ډیر دے غرض دا چه مسجد حرام نه مسجد اقصیٰ پورے ئے په داسے عجیبه طریقه دے دپاره بوتلو چه خپل بنده ته د خپل قدرت څه عجائبات او ښیم.
(په دے کښې څنی خو د دے ځائے متعلق دی. مثلاً د دومره لږ وخت کښې دومره ډیره فاصله طے کول او پیغمبرانو سره ملاقات وغیره او څنی د مخکښې متعلق دی - لکه آسمان ته ختل او هلته نور عجائبات لیدل.
بیشکه الله تعالیٰ ډیر اوریدونکے ډیر لیدونکے دے - چونکه د حضورؐ خبرے ئے اوریدے او د هغهٔ حالات ئے لیدل ځکه ئے په داسے عجیبه طریقه مکرم او مقرب کړو.
په دے ځائے کښې یو څو تنبیهات او یو څو تحقیقات دی او یو څو

دمشکلاتو جوابونه دی۔

**تنبیه ۱** = سبحان - د تنزیه (پاکئ) او تعجب دپاره استعمالیږی. چونکه دا بوتلل په ډیره عجیبه طریقه وو - او د عجیبه کیدو په وجه ئے د الله تعالیٰ په عظیم قدرت دلالت کولو۔ ځکه ئے په دے لفظ شروع کول مناسب اوګڼړلو - او مائے په ترجمه کښ په عجیبه طریقه بوتلو الفاظو سره د دے اظهار اوکړو - او دا بوتلل په براق باندے وو۔ ځنګه چه د صحاحو په روایاتو کښ د هغے د عجیبه تیز رفتارئ ذکر دے۔

**تنبیه ۲** = د مسجد حرام نه مسجد اقصیٰ پورے تلو ته اَسْرَاءْ ویلے شی۔ او دے نه هخکښ آسمانونو ته ختو ته معراج ویلے شی او کله کله د دواړو مجموعے ته معراج ویلے شی۔

**تنبیه ۳** = د لته بِعَبْدِهٖ ویلو کښ دوه فائدے دی یو خو د هغوئ د قرب او مقبولیت اظهار دے۔ بل دا چه د دے عجیبه معجزے په وجه دریاندے څوک د خدائی شک او نکړی۔ خدائے نهٔ دے د خدائے خاص بنده دے۔

**تنبیه ۴** = اګرچه دَ اِسْرَاءْ معنٰے د شپے سفر دے لیکن لیلاً ورسره دے دپاره راوړے شو چه دا معلومه شی چه دا اوږد سفر د شپے په لږه حصه کښ شوید ے۔ دا تبعیض باندے دلالت ئے عبد القاهر او سیبویه او ابن مالک نه صاحب روح المعانی دا سے بیان کړے دے۔

اَللَّیْلُ وَالنَّهَارُ اِذَا عُرِّفَا کَانَا مِعْیَارًا لِلتَّعْمِیْمِ وَظَرْفًا مَحْدُوْدًا بِخِلَافِ الْمُنَکَّرِ فَلَمَّا عَدَلَ عَنْ تَعْرِیْفِهٖ عُلِمَ اِنَّهٗ لَمْ یَقْصُدْ اِسْتِغْرَاقَ السُّرٰی:

لیل او نهار چه معرفه ذکر شی یعنی اللیل والنهار او ویلے شی مراد تر تعمیم دی یعنی ټوله ورځ یا ټوله شپه دے کار د پاره ظرف وی۔ په خلاف د نکرے۔ هر کله چه دلته معرفه نهٔ کړے شوه۔ معلومه شوه چه مقصود ټوله شپه سفر نهٔ دے۔ بلکه دا سفر د شپے په لږه حصه کښ شوید دے۔

**تنبیهه ۵** = د مسجد حرام اطلاق کله کله په مطلق حرم کیږی یعنی د حرم حد و د چه د مکے نه بهر طرف ته تقریباً دوه دوه میله پورے دے۔ او کله خاص د بیت الله جمات مراد وی۔ دلته دواړه معنیٰ صحیح کیدے شی۔ ځنی روایاتو کښ دی چه حضورؐ دے وخت کښ حطیم کښ اوده وو۔ او ځنی روایاتو کښ دی چه د امّ هانیؓ په کور کښ اوده وو۔ او د امّ هانی کور حد و د حرم دننه وو۔ جمات نه ډیر لرے نهٔ وو۔ د دواړو روایاتو تطبیق داسے کیدے شی چه حضورؐ د امّ هانی د کور نه حطیم ته راغلے وی۔ او د حطیم نه سفر شروع شوے وی۔

**تنبیهه ۶** = مسجد اقصیٰ د مکے نه ډیر لرے دے۔ ځکه ورته مسجد اقصیٰ ویلے شی۔ په عربئ کښ د اقصیٰ د لفظ معنیٰ ده ډیر لرے۔

**تنبیهه ۷** = اګرچه د عجائباتِ قدرت مشاهده هلته بوتلو نه بغیر هم ممکنه وه۔ لیکن په دے طریقه بوتلو کښ ډیر عزت او د ډیرلوئے شان اظهار دے ځکه ئے په دے طریقه بوتلو۔

**تنبیهه ۸** = په شپه بوتلو کښ دا حکمت لیکلے شوے دے چه عادةً دا وخت د تنهائی او خلوت دے۔ په دے وخت کښ بلل د زیات خصوصیت دلیل دے۔

**تنبیه ع۱۹** = دلته د مسجد اقصٰی نه مراد صرف د دے جمات زمکه ده - او په حقیقت کښ جمات هم د دے زمکے نوم وی- د تاریخ نه ثابته ده چه د عیسٰی علیه السلام او حضور صلی الله علیه وسلم د زمانے ترمینځه د دے جمات آبادی ورانه کړی شوی ده - لکه د آیت وقضینا الی بنی اسرائیل په تفسیر کښ به تفصیل سره هغه حالات بیان شی - چه د دے جمات ابادی ورانه کړی شوی ده - چونکه جمات نه مراد د جمات زمکه وی- نو دلته دا شبهه نشی کیدے چه دے وخت کښ خو مسجد اقصٰی وران وو- نو هلته د بوتلو څهٔ معنٰی- که څوک دا اووائی چه کافرانو هغوئی د بیت المقدس هیئت متعلق پتوسونه کول - نو چه آبادی ورانه وه- نو د دے پتوسونو څهٔ مطلب دے - د دے جواب دا دے چه د وران عمارت د کنډرونه هم د هغے د اصل هیئت پته لګیدے شی- دومره نښانات ئے پاتے وی. بل دا چه هغه وخت کښ ځنی خلقو د بیت المقدس د اصل زمکے سره نزدے د بیت المقدس په نوم څهٔ آبادئی جوړے کړے وے- دا هم ممکنه ده چه د هغے پتوسونه ئے ترې کړی وی.

**تنبیه ع۲۰** = الذی بارکنا درسره د دے پاره زیات شوید ے. د دے نه د جمات مبارک کیدل هم معلومیږی چه چارچاپیره علاقه ئے مبارکه ده - نو جمات به هم مبارک وی- چاپیره تر دوه قسمه برکتونه وو - دینی او دنیاوی- دینی دا چه د ډیرو پیغمبرانو دلته قبرونه دی. نو دغی خو صرف بدن سره تعلق لری - لیکن دا د نورو پیغمبرانو قبله هم وه - د بنی اسرائیلو ټولو پیغمبرانو به مونځ کښ بیت المقدس

طرف ته مخ کولو) او د قبلې تعلق روح سره دے - او دا ډیر د برکت سبب دے - خصوصاً ځوک چه هلته اوسی - او بیت المقدس ته مخ کوی - چه جسمانی تعلق ئے هم ور سره وی - او روحانی هم - چونکه دا د ډیرو پیغمبرانو قبله وه ځکه ورکښې ډیر فضیلت او ډیر برکت دے او ځنې کتابونو کښې چه لیکلی دی چه کومه زمکه سره چه د حضورؐ بدن مبارک لګیدلے دے - هغه د عرش نه هم افضله ده - دا په جزوی فضیلت محمول کول پکار دی - والله اعلم -

**تنبیهه ع۱۱** = لِنُرِیَهٗ مِنْ اٰیٰاتِنَا - د آیات اطلاق عرفاً په عظیمو او کاملو نشانو باندے کیږی - او آیات سماوی خصوصاً آسمانونو کښې پیغمبرانو سره ملاقات او خیرے ځنګه چه د معراج په احادیثو کښې ذکر شوی دی - د ارضی آیاتونه اعظم او اکمل دی - په دے آیت مبارک کښې دے ته هم اشاره ده - چه حضورؐ مسجد اقصیٰ نه مخکښې نور هم بوتلے شوے وو - ځکه په روح المعانی کښې ئے دا تفسیر شوے دے:

اَیْ لِنُرْفَعَهٗ اِلَی السَّمَاءِ حَتّٰی یَرٰی مَا یَرٰی مِنَ الْعَجَائِبِ - یعنی چه آسمانونو ته ئے او خیژوم چه هلته ډیر عجائبات اووینی - او آسمان ته د خیژولو تصریح نه کولو کښې دا نکته ده چه ډیره عجیبه خبره ده - انکار ته ډیره نژدو ده - (کیدے شی چه د ځنی مسلمانانو هم پکښې شک پیدا شی - او د صریح نص نه انکار کول کفر دے - نو دا تصریح نه ئے کول د کمزوری ایمان والوو د پاره رحمت دے -

**تنبیهه ع۱۲** = په مِنْ اٰیٰاتِنَا کښې مِنْ تبعیضیه اخستے شوے دے - یعنی د قدرت څه عجائبات (ټول نه) او شوی هم دا سے ده -

لکه د صحاحو په روایت کښې دی اَسْمَعُ صَرِيْفَ الْاَقْلَامِ د قلمونو چليدو (خط ليکلو) آواز م آوريدو - په ظاهره داسې ښکاري چه قلمونه به نهٔ وو ليدلی صرف آوازونه اوريدلے وو - (نو ټول عجائبات ليدل نشو کُنی عجائبات بهٔ اوليدل)

**تنبیهه ۱۳**: اَسْرىٰ کښې ضمير د غائب دے (يعنی اسری د ماضی واحد غائب صيغه ده - دے نه شروع شوی ده - او په آخر کښې هم اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ کښې هم هو د غائب ضمير دے - په مينځ کښې لِنُرِيَهٗ مِنْ اٰيٰتِنَا کښې د متکلم صيغه ده - کوم چهٔ په عظمت دلالت کوی - په دے کښې دا نکتې دی - (۱) تجديد د کلام (۲) د دے برکاتو او نشانو ښيلو عظمت ته اشاره ده - (۳) دے ته اشاره ده - چه د اسراء په وخت د هغوئی قرب او محبوبيت نور هم زيات شو - والله اعلم -

**تنبیهه ۱۴**: اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ جمله زياتولو کښې د مخکښې ليکلی شوی درے فائدو نه علاوه دا هم ده چه منکرينو ته وعيد دے چه زهٔ د تاسو خبرے اورم - او د تاسو مخالفت وينم - پوره پوره سزا به درکړم -

# تحقيقات

**تحقيق ۱**: دلته مسجد اقصیٰ پورے د تلو ذکر دے - مخکښې جمات ته ننوتل او پيغمبرانو سره ملاقات او د پيغمبرانو امام کيدل په صحيح احاديثو کښې راغلی دی -

**تحقیق ۲** = ځنګښې آسمان ته د ختو دلته آیت کښې تصریح نشته. اګرچه اشاره شته. او صراحت ته ډیره نژدې اشاره په وَالنَّجْمِ سورت کښې ده - چه ارشاد دے - وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰی عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰی - د جبریل ذکر دے - چه حضور یو ځل بل هم جبریل سِدْرَةُ الْمُنْتَهٰی سره لیدلے دے - د دهٔ و مبې ځل لیدو ذکر ئے ځنګښې وَهُوَ بِالْاُفُقِ الْاَعْلٰی کښې راغلے دے. ظاهره ده چه حضور سدرة المنتهٰی ته رسیدلے دے - جبریل ئے هلته اولیدو - ځکه چه عِنْدَ د رَاٰی سره متعلق دے - نو دے نه ثابتیږی چه رَاءِی او مَرْءِی دواړه سدره سره وو - په احادیثو کښې خو ددے دا سے تصریح ده - چه د انکار ګنجائش پکښې نشته - او سدرة المنتهٰی د اووم آسمان نه هم پورته ده - (نو دے کښې تصریح شوه چه حضور آسمانونو نه پورته ختلے دے)

**تحقیق ۳** = د جمهور اهل سنت والجماعت مذهب دا دے چه معراج جسمانی وو - او د بیدارئ په حالت کښې وو - خوب نهٔ وو - او اهل سنت سره ددے دلیلونه دا دی -

**دلیل ۱** = الله تعالٰی د اسراء دا واقعه ډیر اهتمام سره بیان کړی ده - ځکه چه ډیره عجیبه واقعه ده - که د بیدارئ په حالت کښې او جسمانی نهٔ وے نو دومره عجیبه به نهٔ وه - (په خوب لیدو هیڅ پابندی نشته بنده ډیر عجیبه خوبونه لیدے شی) -

**دلیل ۲** = بِعَبْدِهٖ کښې د عَبْد د لفظ اطلاق په جسم و روح

دواړو کیږی۔ لکه خلق وائی جَاءَ عَبْدُ زَیْدٍ۔ د زید غلام راغلو۔ ظاهره ده چه دلته تر جسم او روح دواړه مراد دی۔ که روح یکښ نهٔ وے۔ مړوے نو د جَاءَ اطلاق په نهٔ کیدو۔ او رائدل په وینښه کیږی۔ (خوب کښ دګر خیدو هیڅ اعتبار نشته)

**دلیل ع۳** = که معراج منامی یا روحانی وے۔ نو قریشو چه حضورؐ نه د بیت المقدس د جمات متعلق یا د خپلو قافلو متعلق تپوسونه کول نو هغوئ ورته ډیر په آسانه ویلے شو۔ چه ما کله دا دعوی کړی ده۔ چه زهٔ په وینښه تللے لاړیم چه تاسو رانه داسے تپوسونه کوئ۔ او د بیت المقدس د حالت بیانولو په فکر کښ به نهٔ پریوتو۔ ځنګه چه احادیثو کښ راغلی دی۔ چه هغوئ ئے داسے په غور د کتو ضرورت نهٔ وو کتلے حالت ئے ورته پوره یاد نهٔ وو۔ نو پریشان شو۔ الله تعالی ورته بیت المقدس منکشف کړو۔ نو هغوئ ورته کتل او خلقو ته ئے حالت بیانولو۔ (مسلم) ځنی عالمانو د آیت وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤْیَا الَّتِیْٓ اَرَیْنٰکَ۔ نه دا خیال کړے دے چه معراج منامی وو۔ ځکه چه رُؤیا خوب له وته ویلے شی۔ نو اول خو دا احتمال دے چه رؤیا نه معراج مراد نهٔ دی۔ بلکه دے نه د بدر د واقعے خوب یا د عمرے کولو خوب مراد دی۔ لکه چه ځنی مفسرینو لیکلی دی۔ لکه چه په دے آیت مبارک اِذْ یُرِیْکَهُمُ اللّٰهُ فِیْ مَنَامِكَ قَلِیْلًا او لَقَدْ صَدَقَ اللّٰهُ رَسُوْلَهُ الرُّءْیَا بِالْحَقِّ۔ آیتونو کښ د بدر خوب او د عمرے خوب ته اشاره ده۔ او که معراج تر مراد دی هم رؤیا کله کله د رُؤیت په معنیٰ هم راځی۔ دواړه د رأی مصدر دی نه

دی - لکه قُربیٰ او قُربت۔

یا لکه څنګه چه څنی عالمانو ویلی دی - رُؤیا د شپے لیدو ته ویلے شی - اګرچه د بیدارئ په حالت کښ وی - یا تشبیهاً ورته رؤیا او ویلے شو - او وجه د تشبیهه ئے عجائبات دی - یا د شپے لیدل دی (روح المعانی)

او څنی عالمانو ته د شریک د روایت نه شک شوے دے - چه د نصفے په آخر کښ دی - ثُمَّ اسْتَيْقَظْتُ = (بیا راویښ شوم) چونکه شریک حافظ حدیث نهٔ دے - او د حُفّاظ په روایتونو کښ دا ټوټه نشته - نو دا زیاتے قابلِ قبول نهٔ دے - (روح المعانی)

یا دا محمول دے په تعدد د واقعاتو - عالمانو لیکلی دی چه د جسمانی معراج نه مخکښ حضورؐ څو ځله روحانی معراج کړے دے - او د دے حکمت دا بیان شوے دے - چه د دے عظیم جسمانی معراج د پاره استعداد پیدا شی -

او څنی کسانو ته د حضرت معاویهؓ او حضرت عائشهؓ د اقوالو نه دا شک پیدا شوے دے - نو حضرت عائشهؓ خو په دے وخت کښ کم عمره وه - د حضورؐ په نکاح کښ نهٔ وه راغلی او حضرت معاویهؓ تر دے وخته مسلمان شوے نهٔ وو - خدائے خبر چه د چا نه ئے اوریدلی دی - یائے خپل اجتهاد کړے دے - (نو د دوئ د قول څهٔ اعتبار نشته)

**تحقیق ۴** = بیت المقدس ته تلو نه منکر کافر دے - (ځکه چه د دے په قرآن شریف کښ تصریح ده - او صریح نص نه منکر کافر دے) - او تاویل کوونکے ئے بدعتی دے - او مخکښ تلو نه آسمانونو ته

ختونه ئے منکر کافر نهٔ دے۔ انکار کوونکے او تاویل کوونکے ئے بدعتی دے۔ ځکه چه قرآن کریم کښې ئے دغلښې تلو تصریح نشته۔

اګرچه په سورت نجم کښې تقریباً تصریح ده۔ لیکن هلته هم دا احتمال شته چه عِنْدَ د رَاٰهُ مفعول یا حال دی۔ (نو کیدے شی چه جبریل سدرة المنتهٰی سره وو۔ او حضورؐ هلته نهٔ وو بل ځائے نه ئے لیدلے وی۔ نو دا آیت هلته د حضورؐ په موجودګئ نص نهٔ دے)

**تحقیق ۵** = په دے مسئله کښې اختلاف دے۔ د سلفو او خلفو ټولو۔ یعنی د پخوانو مشرانو عالمانو هم او د وروستو هم۔ چه آیا د معراج په شپه حضورؐ خپل رب لیدلے وو که نه۔ دلیدو متعلق روایاتو کښې دا احتمال شته چه قلبی رؤیت مراد وی۔ او د نفی په روایاتو کښې دا احتمال شته چه د خاص انداز لیدو نفی وی۔ یعنی دومره صفائے نهٔ وی لیدلے۔ لکه جنت کښې چه به ئے جنتیان وینی۔ لیکن لیدل ورته ویلے شی۔ ځکه چه لیدو کښې فرق وی۔ لکه بے چشمو لیدل هم لیدل وی خو په چشمو کښې صفا واضح اولیدے شی۔ نو په دے مسئله کښې تَوَقُّف بهتر دے۔ (د توقف مطلب دا دے چه مهٔ ئے دلیدو نه انکار کوئی۔ او مهٔ ئے دلیدو اقرار کوئی) والله اعلم۔

## د اشکالونو جواب

**د دیرو نبی اشکال جواب**: څنه کسانو ته دا دسوسه شوی ده۔ چه د ...هیم علیه السلام په حق کښې خودیلی شوی دی۔ نړئ

إِبْرَاهِيْمَ مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ - او حضورؐ د پاره ورکښ مِنْ تبعیضیه استعمال شوے دے - د دے جواب داد ے - چه د ملکوت السمٰوٰت والارض نه خو دا نهٔ ثابتیږی - چه د سماوات والارض کل عجائبات ورته ښیلے شوی دی - او کیدے شی چه حضورؐ ته چه کوم بعض ښیلے شوی دی - هغه ډیر عظیم وی - د هغے بعضو نه کوم چه ابراهیمؑ ته ښیلی شوی وو -

**ددویم اشکال جواب** = دحُتی ظاهر پرستو دا شک دے - چه آسمان کښ خرق والتیام ممکن نهٔ دے - (نو حضورؐ د آسمانونو نه بره څنګه لاړو) ؟ -

د دے جواب دا دے چه د دے دلیل ټول مقدمات باطل دی - لکه چه په خپل مقام کښ په دلیلونو ثابته شوی ده - چه دا خبره غلطه ده -

**ددریم اشکال جواب** = حُتی خلق وائی چه دومره تیز رفتار ممکن نهٔ دے - جواب ئے دا دے چه حُتی ستوری سره د دے چه ډیر غټ او درانهٔ وی - په ډیر تیز رفتار روان وی - د تیز رفتارئ عقلاً څهٔ حد نشته -

**دڅلورم اشکال جواب** = حُتی خلق وائی د آسمان نه لاندے هوا نشته - او حرارت دومره دے چه جسم عنصری ورکښ سلامت نشی پاتے کیدے - د دے جواب دادے چه حرارت نهٔ تیریدل ناممکن نهٔ دی - مشکل ضرور دی - لیکن د تیزئ په وجه کیدے شی

**دپنځم اشکال جواب** = خُتی خلق وائی آسمان هیڅ وشته نه - موجود

نهٔ دے۔ ددے جواب دادے چه د آسمان په عدم هیچا سره څهٔ دلیل نشته۔ که چا سره څهٔ دلیل وی نو پیش دی کړی۔

هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ۔ که په دے خبره کښی رښتونی یئ نو څهٔ دلیل ئے پیش کړئ۔ (بے دلیله خبره د منلو نهٔ ده۔ ت)

# من القصيدة

## د قصیدهٔ بردے اشعار دی

سَرَيْتَ مِنْ حَرَمٍ لَيْلاً إِلَى حَرَمٍ	كَمَا سَرَى الْبَدْرُ فِيْ دَاجٍ مِّنَ الظُّلَمِ

په شپه کښی د حرم مکے نه د بیت المقدس حرم ته لاړے لکه د څوارلسمے سپوږمۍ چهٔ په توره تیارهٔ کښی روانه وی۔

وَبِتَّ تَرْقَىٰ إِلَىٰ أَنْ نِلْتَ مَنْزِلَةً	مِنْ قَابَ قَوْسَيْنِ لَمْ تُدْرَكْ وَلَمْ تُرَمِ

او د شپے د ترقی کوله په یره تلے تر دے چه د قرب داسے مقام ته اورسیدے۔ چه نهٔ ورته څوک رسیدے شی۔ او نهٔ ئے اراده کولے شی۔

وَقَدَّمَتْكَ جَمِيْعُ الْأَنْبِيَاءِ بِهَا	وَالرُّسُلِ تَقْدِيْمَ مَخْدُوْمٍ عَلَىٰ خَدَمِ

او دے بیت المقدس کښی ټولو پیغمبرانو او ټولو رسولانو خپل امام او پیشوا کړے لکه مخدوم چهٔ د ټولو خادمانو پیشوا دی۔

وَأَنْتَ تَخْتَرِقُ السَّبْعَ الطِّبَاقَ بِهِمْ	فِيْ مَوْكِبٍ كُنْتَ فِيْهِ صَاحِبَ الْعَلَمِ

او تهٔ د اوو آسمانونو نه تیر شوے۔ د فرشتو د عظیم لښکر سره او تهٔ ئے سردار وے۔

حَتَّىٰ إِذَا لَمْ تَدَعْ شَأْوًا لِمُسْتَبِقٍ	مِنَ الدُّنُوِّ وَلَا مَرْقًى لِمُسْتَنِمِ

ترڅې په بره تلې قرب د حاصلولو - چه بل مخکښې تلونکی د پاره د
قرب نوره موقع پاتې نشوه- یعنې دا سې مقام ته اورسیدې چه
جبریل ؑ هم نور مخکښې نشو تلې-

خُفِضْتَ كُلَّ مَكَانٍ بِالْإِضَافَةِ اِذْ      نُوْدِيْتَ بِالرَّفْعِ مِثْلَ الْمُفْرَدِ الْعَلَمِ

روستو دېرېښوده د قرب هره درجه کله چه تا ته آواز درکړې شو-
چه نور په بره راشه دیکتا سردار په شان -

كَيْمَا تَفُوْزُ بِوَصْلٍ اَىِّ مُسْتَتَرٍ      عَنِ الْعُيُوْنِ وَسِرٍّ اَىِّ مُكْتَتَمِ

دا آواز درکړې شو چه ته ؐ په دا سې وصل کامیاب شې کوم چه د
سترګو نه ډېر پټ دې - او په دا سې اسرار و خبر شې کوم چه ډېر
پټ دی -

يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا      عَلٰى حَبِيْبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمِ

یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازل کړې همیشه همیشه د پاره
په خپل حبیب چه په ټول مخلوق کښې ټولو ته بهتر دې -

وَلْنَخْتِمِ الْكَلَامَ عَلٰى وَقْعَةِ الْاِسْرَاءِ      بِالصَّلٰوةِ عَلٰى سَيِّدِ اَهْلِ الْاِصْطِفَاءِ
وَ اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَهْلَ الْاِجْتِبَاءِ      مَا دَامَتِ الْاَرْضُ وَالسَّمَاءُ

اوس مونږ د معراج په واقعه خپلې خبرې ختموو - د الله تعالیٰ خاص
رحمت دې وی د پیغمبرانو په سردار او د هغه ؐ په آل و اصحابو ترڅو چه
زمکه او آسمان قائم وی -

# دیارلسم فصل

## د حبشې هجرت

دا هجرت د نبوت پنځم کال کښې شوے دے۔ په دے وجه چه کافرانو به مسلمانان ډیر تنګول نو د حضورؐ په اجازت یو څو مسلمانانو حبشې ته هجرت اوکړو۔ د حبشې بادشاه نجاشی عیسائی وو۔ هغه د مسلمانانو قدر اوکړو۔ په عزت ئې ځائے ورکړو۔ قریش په دے ډیر خفه شو۔ هغوئی د تحفو سره نجاشی ته یو وفد واستولو۔ چه مسلمانانو ته خپل ملک کښې د اوسیدو اجازت ورنکړی۔ د قریشو وفد چه نجاشی ته خپل مطلب بیان کړو۔ نو هغه مسلمانان خپل دربار ته را اوغوښتل چه دوئی سره مخامخ خبرے اوکړی۔ د حضرت علیؓ ورور حضرت جعفرؓ اووے۔ مونږ ګمراه وو۔ الله تعالیٰ مونږ ته خپل پیغمبر را واستولو۔ په هغه ئې خپل کلام نازل کړو۔ هغه مونږ ته نیغه لار اوښیله۔ هغه مونږ ته د ښو کارونو حکم کوی او د خرابو کارونو نه مو منع کوی۔ نجاشی ورته اووے کوم کلام چه په هغه نازل شوے دے۔ د هغې نه ماته څه واوروه۔ هغه ورته د سورتِ مریم څه حصه واوروله۔ هغه ډیر متأثر شو۔ مسلمانانو ته ئې تسلی ورکړه۔ او د قریشو وفد ناکامیاب واپس شو۔ په احادیثو کښې تصریح ده۔ چه دا بادشاه مسلمان شوے وو۔ او په زاد المعاد

کښې دی - بیا دے مسلمانانو ته چه د حضورؐ د هجرت خبر اورسیدو۔ نو د هغوئی نه درے دیرش ۳۳ کسان مکے ته راغلو - چه دے ځائے نه بیا مدینے ته لاړ شو - خو په هغو کښې درے کسه کافرانو حصار کړو۔ هجرت نه ئې منع کړو - باقی مدینے ته لاړو - او حبشه کښې پاتے کسان د کشتئ په ذریعه نیغ مدینے ته اورسیدو - دے دواړو ډلو ته صاحب الهجرتین دوه هجرته کوونکی ویلے شی۔

# من القصیدة

## د قصیدہ بردے اشعار دی

وَلَنْ تَرٰى مِنْ وَّلِيٍّ غَيْرَ مُنْتَصِرٍ ... بِهٖ وَلَا مِنْ عَدُوٍّ غَيْرَ مُنْقَصِمِ

او ته به د الله یو دوست هم داسے او نه وینے چه د حضورؐ په برکت کامیاب شوے نه وی - او نه به د الله یو دشمن داسے او نه وینے چه شکست ئې نه وی خوړلے۔

اَحَلَّ اُمَّتَهٗ فِيْ حِرْزِ مِلَّتِهٖ ... كَاللَّيْثِ اَحَلَّ مَعَ الْاَشْبَالِ فِيْ اَجَمِ

خپل امت ئې د خپل دین په قلعه کښې داسے محفوظ کړو - لکه زمری چه خپل بچی خپل غار کښې محفوظ کړی وی۔

كَمْ جَدَّلَتْ كَلِمَاتُ اللهِ مِنْ جَدَلٍ ... فِيْهِ وَكَمْ خَصَمَ الْبُرْهَانُ مِنْ خَصِمِ

ډیر ځله ذلیل کړی دی د الله کلام د رسالت نه انکار کوونکی او ډیر ځله غالب شوی دی د رسالت دلائل په دشمنانو۔

يَارَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا ... عَلٰى حَبِيْبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمِ

یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازل کړے همیشه همیشه د پاره

په خپل هغه حبیب چه په ټول مخلوق کښې ټولو نه بهتر دے۔

# څوارلسم فصل

## نبوت نه پس د مکې ژوند متفرق واقعات

**واقعه ۱** = حضورؐ باندے چه وړومبئ وحی نازله شوه۔ او هغوئ حضرت خدیجې ته حال اووے۔ نو هغې حضورؐ خپل د تره ځوئ ورقه بن نوفل ته بوتلو۔ او هغهٔ ته ئے د حضورؐ د وحی نازلیدو خبره اوکړه (هغه د تورات عالم وو) عیسائی شوئے وو) نو هغهٔ ئے تصدیق اوکړو (د ورقه ذکر دلسم فصل په دویم روایت کښې راغلے دے) او حضرت خدیجؓ د حضورؐ په رسالت ایمان راوړو۔ په ښځو کښې ټولو نه وړومبئ مسلمانه شوه۔ په آزادو سړو کښې ټولو نه اول مسلمان حضرت ابو بکرؓ وو۔ په هلکانو کښې حضرت علیؓ په آزاد کرده غلامانو کښې حضرت[1] زیدؓ بیا حضرت[2] عثمانؓ، حضرت سعد[3] بن ابی وقاصؓ، حضرت طلحه[4]ؓ، حضرت[5] زبیرؓ او حضرت عبدالرحمان[6] بن عوفؓ بیا درځ په درځ نور کسان مسلمانیدل او د مسلمانانو شمیره درځ په درځ زیاتیده۔

**واقعه ۲** = په حضورؐ چه آیت وَ اَنْذِرْ عَشِیْرَتَکَ الْاَقْرَبِیْنَ نازل شو۔ (خپل نزدے خپلوان د انجام نه اووېره وه) نو حضورؐ په صفا غونډۍ باندے اودریدو۔ آوازونه ورکړو۔ خپل خپلوان ئے راغونډ کړل۔ او په کفر باندے د پاتې کیدو د انجام نه ئے اوویرول۔ د حضورؐ تره ابولهب د حضورؐ په شان کښې ګستاخي اوکړه۔ نو سورت

Scanned with CamScanner

تَبَّتْ يَدَا اَبِیْ لَهَبٍ وَّتَبَّ نازل شو۔ چه پکښې د ابولهب او د هغهٔ د بي بي مذمت دے۔ هغې هم حضورؐ سره ډیره دشمني کوله۔ د ابولهب دوه ځامن وو۔ عُتبه او عُتَیبه۔ په دوئي د حضورؐ دوه لونړه واده وے۔ رقیه او ام کلثوم۔ (تر دے وخته لا غیرمسلم سره د نکاح د حرمت حکم نهٔ وو راغلے) دے واقعې نه پس ابولهب دواړو ځامنو ته اووے خپلې ښځې طلاقې کړئ ورنه زهٔ به درسره تعلق ختم کړم هغوئ دواړو د پلار خبره اومنله۔ او عتبه بے حیا دومره ګستاخي اوکړه چه راغلو خپلې ښځې ته د طلاق ورکولو الفاظ ئې د حضورؐ په مخکښې اووے۔ په دے ګستاخئ ورته حضورؐ بد دعا اوکړه۔ وے فرمائیل اَللّٰهُمَّ سَلِّطْ عَلَيْهِ كَلْبًا مِّنْ كِلَابِكَ (یا الله د خپلو سپو نه یو سپے ورباندے مسلط کړے) دے نه پس یو ورځ عتبه د پلار سره په تجارتي سفر شام ته روان وو۔ په لارئې یو ځائے کښې پړاؤ اوکړو۔ دلته یو آدم خور زمرے وو۔ د ابولهب په زړهٔ کښې خو د حضورؐ د بد دعا قبلیدو ویره وه۔ د شپې ئې د عتبه د حفاظت دپاره سخت انتظام اوکړو۔ د قافلې ټول مال اسباب ئې راجمع کړو۔ یو اوچت ډیرے ئې ورنه جوړ کړو۔ عتبه د ډیرې د پاسه اوچت اوده شو۔ چاپیره تر د قافلې نور خلق پریوتل د شپې څهٔ وخت کښې زمرے غلې غلې راغلو نورو خلقو ته ئې هیڅ اونهٔ وئیل۔ نیغ عتبه ته ورغلو۔ عتبه ئې اوخوړو او لاړو۔ لیکن د ابو[illegible] زړهٔ [illegible] سخت وو۔ چه دے څرګندے معجزے لیدو نه [illegible] ایمان رانهٔ وړو۔ دا واقعه د بعثت په نزدے ورځو کښې شوې ده۔

**واقعه ۳** = مسلمانانو چه جبشې ته هجرت کولو۔ حضرت ابوبکرؓ هم د هجرت اراده کړې وه۔ مکې نه وتے وو۔ څلور پړاؤ لرې د برک الغماء په مقام د قار قبیلے سردار مالک بن دغنه اولیدو۔ او څان سره ئے مکے ته واپس راوستو۔ عام اعلان ئے اوکړو چه ابوبکر ما په خپله پناه کښې راوستے دے۔ چه څوک دې ته څۀ تکلیف ورنکړی۔ قریشو ورته اووے۔ ستا پناه په یو شرط منو۔ چه دے به قرآن د کور نه بهر په اوچت آواز نۀ وائی۔ ابوبکر څو ورځو په دے عمل اوکړو۔ بیائے صبر اونکړے شو۔ په اوچت آواز ئے تلاوت کولو۔ د محلے ښځې به ئے اوریدو ته راجمع کیدے۔ کافرانو هغه سردار ته خبر داستولو۔ هغۀ ابوبکر ته خبر راواستولو۔ که دعدے خلاف کوے نو زما پناه کښې به نۀ دے۔ زۀ به خپله پناه واپس کړم هغۀ ورته اووئیل۔ ما ته د خپل رب نه علاوه د بل چا پناه ضرورت نشته۔ هغۀ د خپلے پناه واپس کولو اعلان اوکړو۔ الله تعالیٰ د ابوبکر حفاظت اوکړو۔ هیچا ورته څۀ نشو ویلے۔

**واقعه ۴** = نبی کریمؐ به د خپلو ملګرو سره د ارقمؓ په کور کښې پټ عبادت کولو۔ د کافرانو د ویرے بیت الله شریف کښې څرګند نشو جمع کیدے۔ په دے وخت کښې د مسلمانانو شمار یو کم څلویښتو ته رسیدلے وو۔ په دے وخت کښې عمر بن خطابؓ او عمر بن هشام (ابوجهل) د قریشو ډیر مشهور سرداران وو۔ یوه ورځ حضورؐ دعا اوغوښته یا الله اسلام ته په عمر بن خطاب یا عمر بن هشام تقویت ورکړے۔ دعا قبوله شوه۔ او بله ورځ

حضرت عمرؓ اسلام قبول کړو۔ (او هم په دغه ورځ مسلمانان عبادت دپاره حرم شریف کښې راغونډ شو۔ په ښکاره ئې خپل عبادت اوکړو۔ (د حضرت عمرؓ د ویرې هیڅوک ورته غبر اونکړے شو۔ مترجم) دا د نبوت د شپږم کال واقعه ده (تاریخ حبیب اله)

**واقعه ۵** = حضورؐ چه د طائف د تبلیغی سفر نه واپس راغلو۔ نو مطعم بن عدی ته ئې خوک واستول۔ امان ئې ورنه اوغوښتو هغهٔ امان ورکړو۔ او ورسره (اعلان دپاره) مسجد حرام ته راغلو۔ په دے به ئې حضورؐ شکریه ادا کوله۔

**ف** = د بخاری په روایت کښې دی چه د بدر قیدیان چه حضورؐ ته پیش کړے شو۔ نو حضورؐ اوفرمائیل۔ که مطعم بن عدی وے او د دوئی سفارش ئې کړے وے۔ نو ما به ټول قیدیان بغیر فدیے اختو پرېښی وو۔ د دے ارشاد وجه دا واقعه وه۔ (شمامه عن اسد الغابه)

# من القصيدة

## دا د قصیده بردے اشعار دی

لَاتَعْجَبَنْ لِحَسُوْدٍ رَاحَ يُنْكِرُهَا　　　تَجَاهُلًا وَّهُوَ عَيْنُ الْحَاذِقِ الْفَهِمِ

ته حیرانیږه مه که یو حاسد د ضد په وجه د دے ښکلي و معجزو نه انکار اوکړی۔ حالانکه هغه ډیر هوښیار دی۔

قَدْ تُنْكِرُ الْعَيْنُ ضَوْءَ الشَّمْسِ مِنْ رَّمَدٍ　　　وَيُنْكِرُ الْفَمُ طَعْمَ الْمَاءِ مِنْ سَقَمٍ

ځکه چه کله کله سترګے د خوږ په وجه د نمر د رڼا نه انکار کوی۔ او کله کله د بیمارئ په وجه خوله د اوبو د خوند نه انکار کوی (خوږے

او به پرې ترخ نکي)

یَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا عَلٰی حَبِیْبِکَ خَیْرِ الْخَلْقِ کُلِّهِمِ

یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازل کړې همیشه د پاره

په خپل هغې حبیب چه ټول مخلوق کښې ټولونه بهتر دے۔

# پنځلسم فصل

## مدینې منورې ته هجرت

د نبوت په دیارلسم کال چه د عقبه ثانیه بیعت اوشو۔ حضورؐ اصحابو ته مدینې ته د تلو اجازت ورکړو۔ نو اصحاب پټ پټ مدینې ته روان شو۔ یوه ورځ د قریشو سرداران ابوجهل وغیره په دارالندوهؓ کښې راجمع شو۔ دا د قریشو مشورې د پاره د راجمع کیدو یو مکان وو۔ د ډیر بحث نه پس ئے دا فیصله اوکړه چه محمدؐ قتل کول پکار دی په دے طریقه چه د قریشو د هرے قبیلے نه یو یو ځلمے راغونډ شی۔ او د حضورؐ د مکان نه چاپیره شی۔ څوکئ کوی چه څهٔ وخت حضورؐ کور نه را اوځی۔ ټول د دربانډے یکدم حمله اوکړی۔ نو د حضورؐ خاندان بنی هاشم به یوا ځی د ټول قوم مقابله کولے نهٔ شی۔ بدل به اخستے نشی نو په دیت اخستو به راضی شی۔ او مونږ ټول به په شریکه دیت په آسانه ورکړو۔ الله تعالیٰ حضورؐ په دے حال خبر کړو۔ او مدینې ته د هجرت کولو حکم ورته اوشو۔ حضورؐ سره د خلقو ډیر امانتونه پراته ود۔ هغه ئے حضرت علیؓ

ته حواله کړو- چه دا مبا ته خپلو خپلو مالکانو ته اورسوه- نو ته هم مدینې ته راشه- کفارو کور ته چاپیره پراته وو- خو کټ نې کوله- خو حضورؐ د شپې کور نه اووتو- او د خدائ په قدرت کافرانو اونه لیدو- هغوئ دابوبکر کور ته لاړو- هغه ئې ځان سره ملګرے کړو- ډیر په احتیاط اووتو- لاړو غارِ ثور کښې پټ شو- چه هغوئ غار ته ننوتو- نو د خدائ په حکم جولا د غار په خوله کښې جاله جوړه کړه- او د غار په خوله کښې کونترے جاله جوړه کړه- اګئ ئې پکښې واچولے او دربانده ے کیناسته- کافرانو چه سمې اوکتهٔ چه حضورؐ کورنشته دے دے- نو هرطرف ته ئې د هغوئ تلاش شروع کړو- غارِ ثور ته هم راغلو- خو چه د غار په خوله کښې ئې د جولا جاله اولیده- او کونتره ئې په اګو ناسته اولیده نو واپس شو- او وئې وے که دے غار ته څوک ننوتے وے- نو کونتره به الوتې وه- او د جولا جاله به ورانه شوې وه- الله تعالیٰ په خپل فضل د جولا د جالے غوندے کمزورې شی بانده د هغوئ دا سې حفاظت اوکړو- چه مضبوط قلعه کښې به هم نه وو شوے-

## د قصیدے په اشعارو کښې دے ته اشاره ده!

وَمَا حَوَى الْغَارُ مِنْ خَيْرٍ وَّمِنْ كَرَمٍ      وَكُلُّ طَرْفٍ مِّنَ الْكُفَّارِ عَنْهُ عَمِىْ

زهٔ قسم خورم د هغې خیر او کرم کوم چه دے غار راجمع کړې وو- یعنی حضورؐ او ابوبکر- په دا سې حال کښې چه د ټولو کافرانو سترګے ورنه

ړندے وے (چه هغوئی ئے په غار کښې نه لیدل)

فَالصِّدْقُ فِي الْغَارِ وَالصِّدِّيقُ لَمْ يَرِمَا ۔۔۔ وَهُمْ يَقُوْلُوْنَ مَا بِالْغَارِ مِنْ اَرَمٖ

نو حضورؐ چه سراسر صدق وو۔ او صدیق په غار کښې وو خو او نهٔ لیدے شو۔ او کافرانو ویل چه په غار کښې هیڅوک نشته۔

ظَنُّوا الْحَمَامَ وَظَنُّوا الْعَنْكَبُوْتَ عَلٰى ۔۔۔ خَيْرِ الْبَرِيَّةِ لَمْ تَنْسُجْ وَلَمْ تَحُمٖ

هغوئی دا گومان اوکړو چه کونترے او جولاگی به د حضور په موجودگئی کښې جاله نهٔ وی جوړه کړی۔ او کونتره به د حضورؐ په حفاظت کښې نهٔ وی ناسته۔

وِقَايَةُ اللهِ اَغْنَتْ عَنْ مُضَاعَفَةٍ ۔۔۔ مِّنَ الدُّرُوْعِ وَعَنْ عَالٍ مِّنَ الْاُطُمٖ

د الله تعالیٰ حفاظت دوئی د برغدوزغی و اغوستونه او په دنګو قلعه گانو کښې پناه اخستونه بے غمه کړهٔ۔

درے ورځے په دغه غار کښې دیره وو۔ د ابوبکرؓ آزاد کرده غلام عامر بن فهیره به د ابوبکر زیے دے غرهٔ ته څرولو ته راوستے او پئی به ئے دوئی ته ورکول۔ او د ابوبکرؓ ځوئے عبدالله چه ځلمے وو۔ هغه به د شپے راتلو او د قریشو د مجلسونو حال به ئے ورته راوړو۔ او ابوبکر دوه تیز رفتارے اوښے هجرت د پاره اخستی دے۔ او عبدالله بن اریقط ئے رهبرئی د پاره نوکر ساتلے وو۔ دے په دے وخت کښې مشرک وو۔ خو د هغهٔ په دے رازدارئی اطمینان دو۔ درے ورځے پس هغهٔ اوښے غار ته راوستے او حضورؐ او ابوبکر او عبدالله درے واړه د ساحل په لاره مدینے ته روان شو۔

په لاره کښې ډیر عجیبه عجیبه واقعات پیښ شو۔ خو هغے په لیکلو

هسې خبره اوږده ده۔ حبیب الله وغیره کتابونو کښې ئې کته شته۔

د مدینې خلق چه د حضورؐ د راروانېدو نه خبر شوی وو۔ هره ورځ به استقبال ته د مکې لارې ته راوتل۔ ترغرمې به ئې انتظار اوکړو۔ بیا به واپس شو۔ په دغه ورځ هم واپس کېدل چه یو یهودی ورته آواز ورکړو۔ چه واپس کېږئ مه۔ تاسو چه د چا انتظار کوئ هغوئ را اورسیدل هغهٔ دغې ته نه لیدلی وو۔ خلق واپس شو۔ او حضورؐ سره بیا کلی ته راغلو۔ په دغه ورځ د مدینې خلق بې اندازې ډېر خوشحاله وو۔ ورو ورو جینکو په شوق کښې دا نظم وئیلو۔

طَلَعَ الْبَدْرُ عَلَيْنَا ۔ مِنْ ثَنِيَّاتِ الْوِدَاعِ

په مونږ د څوارلسمې میاشت راوخته۔ د وداع د غونډیو د طرف نه۔

وَجَبَ الشُّكْرُ عَلَيْنَا ۔ مَا دَعَا لِلّٰهِ دَاعٍ

په مونږ باندې شکر واجب شو۔ ترڅو چه څوک الله ته دعا غواړی۔ (یعنی تر قیامته)

اَيُّهَا الْمَبْعُوْثُ فِيْنَا ۔ جِئْتَ بِالْاَمْرِ الْمُطَاعِ

اے مونږ ته راستولی شوی رسوله۔ تا داسې احکام راوړی دی چه د هغې اطاعت ضروری دے۔

حضورؐ مکې معظمې نه د کال په ورځ د ربیع الاول (دوه ویشتمې خور) په میاشت کښې د درې پنځوس کالو په عمر کښې مدینې منورې ته روان شوے وو۔ او هم د کال په ورځ په دولسم ربیع الاول مدینې منورې ته رسیدلے وو۔ رسیدو سره د ښار نه لږ د چې ته د قبا په محله کښې د بنی عمرو بن عوف په کور کښې حصار شو۔ په دریمه ورځ حضرت علیؓ

هم دلته را اورسیدو. بیا حضورؐ ښارته دننه دتلو اراده اوکړه. د
هر یو انصاری داخواهش وو. چه حضورؐ زموږ په محله کښې قیام اوکړی.
حضورؐ په اوښه سور شو. دانصارو دهرے قبیلے خلق ورسره وو. او
دا درخواست یے کولو چه موږ سره دیره شئ. حضورؐ اوفرمائیل
تاسو زما اوښه آزاده پریږدئ (مهار نه ئے مه نیسئ) دے ته حکم
شوے دے. داچه کوم ځائے خپله کیناسته زهٔ به هلته قیام کوم.
اوښه تله تله دغه ځائے کیناسته په کوم ځائے چه دمسجد نبوی
ممبر دے. دے سره متصل دحضرت ابو ایوب انصاری کور وو. دحضورؐ
سامان هلته کوز کړے شو. او حضورؐ دهغهٔ په کور کښې حصار شو. بیا
کوم ځائے چه اوښه ناسته وه. هغه ځائے حضورؐ په بیعه واخستو.
او دمسجد نبوی تعمیر ئے شروع کړو. (تاریخ حبیب اله و زاد المعاد)

# من الروض

## دا د روض النظیف اشعار دی

وَالْيُمْنُ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ مَنْقَبَةٌ     شَرِيفَةٌ مَّا حَوَاهَا قَبْلَهُ بَشَرٌ

اوکوم وخت چه دوئ دواړه په غار کښې وو. یو داسے اعزاز د ورته
مبارک وی. چه بل بشرته نهٔ دے حاصل شوے. (غالباً لاتحف
ان الله معنا ته اشاره ده)

وَهَاجَرَا مِثْلُ لَمَّا حَاوَلَا سَفَرًا     لِطَيْبَةٍ وَّتَنَاهَى عِنْدَهَا السَّفَرُ

او دواړه دغار نه اووتو کله چه ئے مدینے ته دسفر اراده اوکړه
او سفر ئے په مدینه ختم کړو. (یعنی په خیریت مدینے ته
اورسیدو)

فَسَلْ سُرَاقَةَ[۱] مِنْهُ اِنْ تُرِدْ خَبَرًا    وَاُمَّ مَعْبَدَ[۲] يَجْلُوْ مِنْهَا الْخَبَرُ

د سراقه او ام معبد نه تپوس اوکړه - که د هغوئ د سفر حالات معلومول غواړې -

طَابَتْ بِهٖ طَيْبَةُ لَمَّا اَقَامَ بِهَا    وَفَاحَ حِيْنَ اَتَاهَا نَشْرُهَا الْعَطِرُ

مدینه طَیِّبَه (پاکیزه) شوه کله چه دړکښې هغوئ قیام اوکړو - او خوشبویه شوه کله چه ورته د هغوئ د رارسیدو خوشبودار خبر را اورسیدو -

یَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا    عَلٰى حَبِيْبِكَ مَنْ زَانَتْ بِهِ الْعُصُرُ

یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازل کړې همیشه دپاره په خپل هغه حبیب چه زمانې په ښائسته شوی دی -

[۱] د سُرَاقَه واقعه داسې وه چه قریش چه د حضورؐ په تلاش کښې ناکام شو - نو اعلان ئې اوکړو - که چا حضورؐ گرفتار کړو یا ئې موږ ته د هغهٔ خبر راوړو چه چرته دے - هغهٔ ته به سل (۱۰۰) اوښان انعام ورکولے شی - ډیر خلق د حضورؐ په تلاش کښې د انعام په طمع خوارهٔ شو - په هغوکښې یو سړی سراقه هغوئ اولیدل - ابوبکرؓ هم هغه اولیدو - او پریشان شو - حضورؐ ته ئې عرض اوکړو - دے سړی موږ اولیدو قریشو ته به خبر یوسی - حضورؐ اوفرمائیل لَا تَخَفْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا - هغه سړے په تیز رفتار آس سور وو - چه ډیر رانزدے شو - حضورؐ دعا اوغوښته یا الله د دے سړی د شر نه موږ بچ کړے - دے سره د سراقه آس په کلکه کانړیزه زمکه کښې ترخیټه خښ شو - سراقه په چابک ډیر اووهلو - او آس ډیر زور اولګولو خو ځان ئې

خلاص نکړے شو۔ سراقه پوهه شو۔ د آس نه راکوز شو۔ په خدمت کښ حاضر شو۔ قسمونه ئے اوخوړو۔ چه زهٔ به ستاسو حال چا ته نهٔ وایم۔ بلکه نورکسان که څوک دے خواه راځي هغوئ به واپس کوم۔ خو دعا اوکړئ چه زما آس خلاص شی۔ حضورؐ دعا اوکړه آس خلاص شو او سراقه واپس شو۔ په لار کښ چه به ورته څوک مخے ته راتلو واپس کول به ئے چه دا علاقه ما اوکته دلته نشته۔ دغه شان الله تعالیٰ د خپلو دوستانو حفاظت اوکړو۔

۳۔ د اُمِّ مَعْبَدْ واقعه داسے وه چه دا یو مالداره ښځه وه۔ ښځے خاوند د داړو د مدینے په لار کښ د لارے په غاړه جونګړه جوړه کړی وه۔ مسافرو ته به ئے مفت اوبهٔ خواړهٔ ورکول۔ او که د نورڅهٔ د امداد ضرورت به وو ورته۔ حضورؐ او ابوبکرؓ چه د غار نه مدینے ته روان شو۔ نو لار کښ دے د پاره کوز شو او ابوبکر د دے بوډئ جونګړے ته ورغلو که اوبهٔ درسره وی چه اوڅکو۔ د بوډئ جونګړه کښ یو بوډئ ژبه تړلی وه۔ بوډئ ورته اووے اوبهٔ اوڅکه او د خوراک را سره څهٔ نشته۔ دا بوډئ ژبه اوچه ده۔ د نورو ژبو سره غرهٔ کښ ګرځیدے نشی ځکه م دلته تړلی ده۔ ابوبکرؓ ورته اووے۔ که ستا اجازت وی نو زهٔ به ئے خپل سردار د پاره اولوشم۔ هغے اوخندل ورته ئے اووے۔ دے کښ پئ چرته دی؟ که ته ئے درکښ څه مونده شے اوئے لوشه۔ ابوبکرؓ ورته کینا ستو۔ د حضورؐ په برکت ژبے دومره پئ اوکړو چه د بوډئ جونګړه کښ چه څومره لوښی وو۔ هغه ټول ئے ډک کړل۔ حضورؐ او ابوبکرؓ د داړو پئ

اوځکل او روان شو۔

د بوډئ خاوند چه راغلو۔ لو بنو کښې ئے پئ اولیده نو بوډئ نه ئے تپوس اوکړو۔ دا دومره پئ چرته وو؟ هغې ورته ټوله قصه اوکړه۔ چه د مکے د طرف نه د غه شان د ده مسافر راغلی وو۔ دا د هغوئ برکت دے۔ هغې چه په کومو الفاظو کښې خاوند ته د حضورؐ حال بیان کړے دے۔ هغه یو ادبی شهپاره ده۔ د احادیثو په کتابونو کښې محفوظه ده۔ (دا دواړه بیا مسلمانان شو (مترجم))

# شپاړسم فصل

## مدینے ته تشریف راوړونه پس څهٔ واقعات

**واقعه ۱** :- حضورؐ چه مدینے ته راغلو۔ نو دلته عبد الله ابن سلام یو یهودی عالم وو۔ هغه د حضورؐ ملاقات ته راغلو۔ او درے تپوسونه ئے حضورؐ نه اوکړل۔ صحیح صحیح جوابونه ئے واوریدل او مسلمان شو۔

**واقعه ۲** :- حضرت سلمان فارسیؓ چه په اصل کښې مجوسی وو۔ او ډیر عمر وو۔ او مجوسی دین ئے پریښے ؤ۔ عیسائی شوے وو۔ او د عیسائی او یهودی عالمانو نه ئے اوریدلی وو چه عربو کښې به یو نبی پیدا کیږی۔ او مکے نه به مدینے ته هجرت کوی۔ نو هغه د حضورؐ ملاقات ته مدینے ته را روان شو۔ په لار ډیر خایه غلام شو۔ او خرڅ شو۔ په دے وخت کښې مدینه کښې د یو یهودی غلام

وو - د حضورؐ ملاقات ته راغلو - او مسلمان شو - حضورؐ ورته اُفرمائیل خپل ځان آزاد کړه - هغهٔ خپل مالک سره خبره اوکړه - نو هغهٔ ورته اووے - څلویښت اوقیهٔ سرهٔ راکړه - نو آزاد به دے کړم - دے نه پنځهٔ پاوه وزن جوړیږی - بل شرط ئے په دا کیښو چه زما په باغ کښې درے سوه د کجورو بوټی اولګوه - چه هغه باردار شی هلهٔ به آزادیږے (عام د میوو بوټی خو اکثر درے کاله پس بار کوی - لیکن کجوره ډیره موده اخلی - مترجم) نبی کریمؐ هغهٔ د پاره په خپلو مبارکو لاسونو بوټی اولګول - او هم په هغه کال ئے بار اونیوو - او مالِ غنیمت کښې د اګئ برابره زرو یو غونډ راغلے وو - حضورؐ سلمانؓ ته ورکړو - چه مالک ته یو سه چه آزاد شے - هغهٔ عرض اوکړو - چه هغه خو څلویښت اوقیے زرغواړی - په دے به څهٔ اړ شی - حضورؐ هغے زرو باندے خپل لعاب مبارک اولګول - او دعائے اوغوښته - سلمانؓ ته ئے اووئیل دا یوسه انشاء اللّٰه پوره به شی - سلمانؓ وائی ما چه یوړه - اوُمِ تلله نو پوره څلویښت اوقیهٔ اوخته - نهٔ کمه، نهٔ زیاته (تاریخ حبیب اله)

**واقعه ۳** = په مدینه منوره کښې یو کوهے وو - بیر رومه د هغے اوبهٔ خوږے وے - نورے ټولے اوبهٔ تروے وے - د هغے مالک یو یهودی وو - هغهٔ به ئے اوبهٔ خرڅولے - (او مهاجر مسلمانان غریبانان وو) د اوبو تکلیف وو ورته - حضورؐ افرمائیل چا چه دا کوهے واخستو او مسلمانانو ته ئے وقف کړو - هغهٔ د پاره جنت دے - حضرت عثمانؓ دا کوهے (په ډیر ګران قیمت) واخستو - او مسلمانانو د پاره ئے وقف کړو -

# من القصیدہ

## د قصیدہ بردے اشعار دی

کَفَاكَ بِالْعِلْمِ فِی الْاُمِّیِّ مُعْجِزَۃً فِی الْجَاھِلِیَّۃِ وَالتَّادِیْبِ فِی الْیُتُمِ

اے مخاطبه د جاهلیت په زمانه کښې او د حضورؐ د ظاهری بے تعلیمئ په حالت کښې د هغوی د علم دا معجزه کافی ده - او د یتیمئ په حالت کښې د هغوی دو مره اعلیٰ اخلاق غښته معجزه ده -

یَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا عَلٰی حَبِیْبِكَ خَیْرِ الْخَلْقِ کُلِّھِمِ

یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازل کړے همیشه همیشه دپاره په خپل هغه حبیب چه په ټول مخلوق کښې ټولو نه بهتر دے۔

# اولسم فصل

## د حضورؐ د غزاګانو او ورسره متعلق نورد واقعاتو حال د سن په ترتیب سره

---

په مدینه منوره کښې د حضورؐ د ژوند موده لس کاله او دوه میاشتے دی - کله نه چه جهاد فرض شو - هغوی کافرانو سره جنګونه شروع کړو - کوم جنګ ته چه حضورؐ خپله تشریف وړے دے - هغے ته غزا ویلے شی - او کوم ته چه ئے بل چا په مشرئ کښې لښکر استولے دے - هغے ته سَرِیَه ویلے شی - د ټولو غزاګانو او سَرِیُو پوره تفصیلی حالات بیانول خو اوږد او ګران کار دے - دځنی مشهورو

غزا کانو مختصر حال او ددے وخت مناسب ځنی نور واقعات لیکلے شی.
**دهجرت دوهم کال سنه ۲ھ** = جهاد فرض شو۔ حضورؐ حضرت حمزهؓ
د دیرشو مهاجرینو سره واستولو چه دقریشو قافلے ته مخه اونیسی۔
دا واقعه په رمضان کښې شوی وه۔ او حضرت عبیده بن حارثؓ ئے د
شپیتو مهاجرینو سره بطن رابغ ته په شوال کښې واستولو۔ او حضرت سعد
بن ابی وقاص ئے دشلو مهاجرینو سره خرار ته چه جحفه سره نزدے
یو ځائے دے په ذی قعده کښې واستولو۔ چه دقریشو قافلے ته مخه
اونیسی۔ دا ټولے سریّے دی۔ بیا دصفر په میاشت کښې د اَبْوَاءْ
غزا اوشوه۔ (یعنی ابواء ته حضورؐ خپله تشریف وړے وو)۔ ابواء د
مکے او مدینے ترمینځه یو کلے دے۔ دے غزا ته دَ وِدَّان غزا هم
ویلے شی۔ په دے کال دمانځه داطلاع دپاره اذان مقرر شو۔ او
په دے کال دحضرت عائشےؓ رخصتی هم اوشوه۔ یعنی حضورؐ کور ته
راوسته (نکاح ئے مخکښې په مکه کښې شوی وه) او په دے کال د
مهاجرینو او انصارو ترمینځه دمواخات (ورورولئ) معاهده هم
اوشوه۔
**سنه ۲ھ** = په ربیع الاول کښې د بواط غزا اوشوه۔ دقریشو قافلے ته
ئے مخه نیوه۔ خو دمقابلے موقع رانغله۔ بیا دعُشیْره غزا اوشوه۔ دے
دے کښې هم دقریشو قافلے ته لار نیول مقصد وو۔ کومه چه د مکے نه
شام ته تله۔ په واپسئ کښې ورته بیا راوتی وو۔ خو قافله بچ شوه
او بدر غزا اوشوه۔ په دے وجه دِعُشَیْره دے غزا ته بَدْرِ اُوْلیٰ
هم ویلے شی۔ بیا درجب په میاشت کښې ئے عبدالله بن جحش اَسَدِیْ

بطن نخله ته واستولو - په دے واقعه کښې دا آیتونه نازل شو -
يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْهِ (تا نه تپوس کوی چه دے
میاشت کښې خو جنګ حرام دے - نو ته ورته ووایه چه په دے کښې فوج کشی ښکاره ګناه ده - )
(ذی قعد، ذی الحجه، محرم، رجب دا څلور میاشتے محترمے دی - په دے
کښې جنګ بند وو) په دے کال د رمضان په میاشت کښې د ټولو نه
عظیمه غزا د بدر اوشوه - چه بدر کبری ورته وایلے شی - په دے کښې
حضورؐ دریالس دپاسه درے سوه [۳۱۳] اصحابو سره د قریشو د قافلے مخے
نیوو ته اراده کړې وه - دا قافله د شام نه واپس راتله - خو قافله بچ
شوه - په بله لار لاړه - قریشو ته دا خبر رسیدلے وو - چه مسلمانانو
د قافلے لوټ کولو اراده کړې وه - نو هغوئ د یو زر [۱۰۰۰] په وسله پوره ځوانانو
سره د قافلے د حفاظت په اراده را اوُتو - بدر ته چه را اورسیدو نو
خبر شو چه قافله بچ شوی ده - په بله لار لاړه ده - خو بیا هم واپس
نشو - په دے خیال چه مسلمانان لږ دی - غریبانان دی - پوره وسله
او سورلئ ورسره نشته مونږ به ئے ختم کړو - بیا به زمونږ قافلو ته
خطره نه وی - او په نورو قبائلو به مو رعب پریوځی - دا خیال ئے
هم نه وو - چه دا درے سوه بے ساز و سامانه کسان به په زرو وسله
کړی ځوانانو غلبه مومی - الله تعالیٰ ته دا منظوره وه چه اسلام ته
عزت ورکړی - او کفر ذلیل کړی - سخته مقابله اوشوه - مسلمانانو فتح
اوکړه - کافرانو شکست اوخوړو - ډیر سرداران ئے قتل شو - ډیر ګرفتار
شو - نیمه ذلیل شو - د کبر سزائے اوخوړه - د دے غزا نه په شوال کښې
فارغ شو - بیا اووه ورځے پس د سلیم غزا ته لاړو - خو جنګ اونشو -

بیا دوه میاشتې پس د سویق غزا اوشوه۔ قریشو چه بدر کښې شکست اوخوړو۔ مکې ته اورسیدو۔ نو ابوسفیان بیا دوه سوه سورو سره په مدینه حملې ته را روان شو۔ مدینې ته رانزدې شوې وو۔ چه مسلمانان خبر شو۔ نو حضورؐ خپله اصحابو سره مقابلې دپاره اووتو۔ کفار اوتښتیدل۔ اوځان سره ئې چه راشن دپاره ستوان راخیستی وو۔ هغه ئې د وزن سپکولو دپاره په لار کښې اوغورزول۔ (سویق وېلې شی ستوانو ته۔ هغوئی به وړته غله غنم یا جوار میده کړل څه خواړه به ئې ورسره گډ کړل۔ او د ضرورت په وخت به ئې خوړل۔ تیار خوراک وو۔ نهٔ ورته چرته د کیناستو ضرورت وو۔ نهٔ د لوښو وغیره تکلف وو۔ په رواته روانه کښې به ئې ځان موړ کړو۔ مترجم) دا واقعه په ذی الحجه (د لوئې اختر میاشت) کښې اوشوه۔ د ذی الحجې باقی ورځې حضورؐ مدینه کښې قیام اوکړو۔ بیا د غطفان قبیلې سره غزا دپاره ئې د نجد علاقې ته تشریف یوړو۔ او د صفرې تر آخره هلته حصار وو۔ خو جنگ اونشو۔ په دې کال د شعبان په نیمه کښې تحویل قبله اوشوه۔ یعنی قبله بدله شوه۔ د بیت المقدس په ځائې بیت الله قبله شوه۔ او زکوٰة فرض شو۔ د شعبان په آخر کښې روژې فرض شوې۔ او د رمضان په آخر کښې صدقهٔ فطر واجب شوه۔ او د اخترونو مونځ او قربانی واجب شوه۔ او د جُمعې مونځ مخکښې په دوهمی کال فرض شوې وو۔

د بدر د غزا نه واپس کیدو نه یو ورځ مخکښې د حضورؐ لور د حضرت عثمانؓ بی بی حضرت رقیهؓ وفات شوه۔ بیا حضورؐ خپله بله لور حضرت امّ کلثومؓ حضرت عثمانؓ ته په نکاح ورکړه۔ ځکه هغوئی ته

ذوالنورین و بلے شی - او د حضرت فاطمہ رض نکاح هم بدر ته پس شوی
دہ -

**سنه ۳ هـ** = په ربیع الثانی کښې حضورؐ بیا د قریشو په تعاقب کښې تر نجران لاړو - خو مقابله اونشوه - دوه میاشتې ئې هلته تیر ے کړے - بیا مدینے ته واپس شو - بیا د مدینے د یهودو د یو قبیلے بنی قینقاع نه ئې گیره واچوله - د هغوئی د بد عهدئی په سزا کښې پنځلس ورځے محاصره کښې اخستی وو - بیائے د عبد الله بن اُبیؓ په سفارش آزاد کړل - او د بد عهدئی په وجه د کعب بن اشرف د قتل کولو حکم اوشو - او هغه قتل کړے شو -

او هم د دے کال د شوال (دواړه اختر) په میاشت کښې د احد غزا اوشوه - د کومے ذکر چه قرآن شریف کښې د څلورم پارے د ربع نه شروع شوے او نیمے پورے لاړ دے - د احد نه پس بیا د حمراء الاسد غزا اوشوه - د دے واقعه دا شے ده - چه قریش چه د احد د غزا نه واپس شو - نو د لارے نه ئې بیا مدینے ته د را واپس کیدو اراده اوکړه حضورؐ ته خبر اورسیده و - نو هغوئی د رپسے اصحابو سره خپله را روان شو - چه حمراء الاسد ته را اورسیده و - نو خبر شو چه قریش واپس اوتښتیدل - حضورؐ هم را واپس شو - بیا په دے کال کښې تر محرم پله واقعه نه ده شوی - بیا چه د محرم میاشت اولیده شوه - نو د طلحه بن خویلد او سلمه بن خویلد د خپلے قبیلے سره په مدینه پاندے د حملے کولو خبر راغلو - حضورؐ حضرت ابو سلمه رض د یو نیم سل (۱۵۰) مهاجرینو سره د هغوئی مقابلے ته واستولو - مقابله اونشوه - هغوئی اوتښتیدو

او دهغوئ خاروی ئے په مالِ غنیمت کښ راوستو - بیا په پنځم محرم د خالد بن سفیان دلښکر جمع کولو او په مدینه دحملے کولو خبر را اورسید - نو حضورؐ عبد الله بن انیس مقابلے د پاره واستولو - مقابله اوشوه - خالد قتل کړے شو - دهغهٔ سَر ئے مدینے ته راوړو - دوئ اتلس ورځے پس راواپس شو - په درویشتم محرم -

بیا د صفر په میاشت کښ د رجیع سَرِیَه اوشوه - د مکے د کافرانو په لمسون د عضل او قاره قبیلو څو کسان دربار نبویؐ ته راغلو - په دروغه ئے اووے چه موږ مسلمانان شوی یو - موږ سره څو کسان واستوه - چه موږ ته د قرآن او د اسلام د احکامو تعلیم راکوی - حضورؐ لس کسان ورسره کړل - دوئ چه د رجیع مقام ته اورسیدل - چه د هذیل قبیلے د اوبو تالاب دے - نو بے لوظی ئے اوکړه - (ددے اصحابو لا سونه ئے تړل د قیدیانو په شان) هغوئ ورسره مقابله اوکړه - نور شهیدان شو لکه عاصمؓ وغیره او حضرت حبیبؓ گرفتار شو - بیا شهید کړے شو -

او هم په دے کال د صفر په میاشت کښ د بیر معونه واقعه اوشوه - دا یو ځائے دے - د مکے او د غسفان قبیلے ترمینځه د هذیل قبیلے په علاقه کښ - دا واقعه د ۴ ھ ده - چه یو سړے عامر بن مالک د نجد اوسیدونکے د بنی عامر قبیلے سردار د حضورؐ په دربار کښ حاضر شو - چه زهٔ مسلمانیږم خو قوم م مخالفت کوی - تاسو ما سره څو کسان واستوئ چه هغوئ زما قوم ته د اسلام دعوت ورکړی - نو زهٔ به هم مسلمان شم - حضورؐ ورته اوفرمائیل چه ما سره خطره ده

چه اهل نجد به دوئی ته نقصان اورسوی - هغهٔ اودے هیڅ پرواه نشته زهٔ به خپله پناه ورکړم - حضورؐ اویا کسه قاریان (یعنی دقرآن حافظان اوعالمان ورسره کړل) دا حضرات چه بیرمعونه ته اورسیدل نو دلته دریاندے د رعل و ذکوان قبیلے خلقوحمله اوکړه - دا حمله ئے دعامر بن مالک د وراره عامر بن طفیل په شرارت کړی وه - اصحابو مقابله اوکړه - اوټول شهیدان شو - د بخاری په روایت حرام بن ملحان هم په دے حمله کښ شامل وو - عامر بن مالک په دے ډیرخفه وو - چه زما ورارهٔ زما د پناه خیال اونهٔ ساتلو - هم دے عامر بن طفیل حضورؐ ته خبر راستولے وو - چه یا ماسره بادشاهی نیمه کړه - یا ما خپل ولی عهد کړه - چه تا نه پس زهٔ د مدینے بادشاه شم - ورنه لوئے لښکر سره به دریاندے حمله اوکړم او بادشاهی به درنه په زوره واخلم - حضورؐ دعا اوغوښته اَللّٰهُمَّ اكْفِنِيْ عَامِرًا - (یا الله عامر نه مِ خلاص کړے) نو هغه په طاعون مړ شو - حضورؐ ددے قاریانو د شهادت نه پس یو میاشتے پورے ددے قاریانو قاتلانو ته په دعائے قنوت کښ بد دعا کوله - بیا دا عامر بن مالک مسلمان شو - نو حضورؐ دعائے قنوت بس کړه - هم په دے ورځو کښ د بنی نضیر غزا اوشوه - دا واقعه داسے اوشوه چه بنی نضیر د مدینے د یهودو یو قبیله وه - د بیر معونه په واقعه کښ یو مسلمان عمرو بن امیه ضمری هم قید شوے وو - د عامر بن طفیل د مور په ذمه یو غلام آزادول وو - نو عامر بن طفیل دده د تندی ویښته پرے کړل - او د غلام په ځائے ئے آزاد کړو - هغه چه مدینے ته تلو - لار کښ ئے د بنی عامر قبیلے دوه مشرکان اولیدل -

دوایړه ئې د عامر بن طفیل نه د انتقام په طور قتل کړل۔ هغې دوایړو ته نبی کریمؐ امان ورکړے وو۔ خو دے خبر نۀ وو۔ حضورؐ د دا قتل په قتلِ خطا حساب کړو۔ او هغوئ ته ئې د دیت ورکولو اِراده اوکړه۔ د بنی عامر قبیلے د بنی نضیر سره معاهده وه۔ نو حضورؐ دا خوښه کړه چه د بنی نضیر په مشوره د دیت فیصله اوکړی۔ حضورؐ چه کله مدینے ته تشریف راوړو۔ نو دلته د یهودو دوه قبیلے بنی قریظه او بنی نضیر د ښار نه بهر په دوو محلوکښ آباد وو۔ هغوئ حضورؐ سره معاهده اوکړه چه موږ به تاسو سره دشمنی نۀ کوو۔ او د تا د دشمنانو امداد به نۀ کوو۔ حضورؐ چه د دیت په معامله کښ صلاح کولو دپاره د بنی نضیر محلے ته تشریف یوړو۔ د یو دیوال په خوا کښ هغوئ سره ناست وو۔ خبرے کیدے۔ نو دے یهودیانو خپلو کښ صلاح اوکړه۔ چه بره دیوال نه به په حضورؐ یو غټ کاڼړے را اوغورزوو۔ او حضورؐ به قتل کړو۔ حضورؐ د وحی په ذریعه خبر کړے شو۔ نو هغوئ پاځیدو مدینے ته لاړو۔ او هغوئ ته ئې خبر دا ستولو۔ چه ددے بے لوظئ په سزا کښ تاسو لسو ورځو کښ دننه دننه دا علاقه خالی کړئ۔ یا جنګ ته ځان تیار کړئ۔ هغوئ د جنګ تیارے اوکړو۔ د هغوئ دا دوایړه محلے قلعه بند وے۔ مضبوط دیوالونه ترچاپیره وو۔ حضورؐ چه لښکر سره تشریف راوړو۔ نو دوئ مقابلے ته را اونۀ وتو۔ د قلعه د ورونه ئې بند کړل۔ هغوئ د ونه چاپیره ګیره واچوله۔ (نه دوئ وتے شو نۀ ورته څوک راتلے شو) هغوئ تنګ شو۔ آخر ئې د صلحے پیغام راواستولو اوکور دونه خالی کولو ته تیار شو۔ حضورؐ ئې پیغام منظور کړو۔ په دے

شرط چه وسله به دلته پریدئ. وسله به درسره نهٔ وی او نور
خومره سامان چه ځان سره اخیستے شئ هغه ځان سره وړے شئ.
هغوئ لاړو. څنی په خیبر کښ آباد شو. او څنی شام ته لاړل. دا
واقعه قرآن شریف کښ په سورتِ حشر کښ بیان شوی ده. په دے
کال یا په راتلونکی کال شراب حرام شو. او امام حسنؓ پیدا شو.

**سنه ۴ھ** = ابوسفیان چه احد نه واپس شو. نو دا اعلان ئے
کړے وو. چه راتلونکی کال کښ به بیا په بدر کښ مقابله وی. هغه
ورځ را نزدے شوے. او دا ابوسفیان بدر ته د تلو همت اونشو. نو
خهٔ داسے چل ئے جوړولو. چه مسلمانان هم بدر ته رانشی. چه دے
د بے لوظئ د شرم نه خلاص شی. یو سړے نعیم بن مسعود نوم ئے
مدینے ته داستولو. چه هلته دا خبر مشهور کړی چه ابوسفیان
ډیر لوئے لښکر جمع کړے دے. بدر ته را روان دے. چه مسلمانان
مرعوب شی او بدر ته رانشی. مسلمانانو چه دا واوریدهٔ. دے
وئیل. حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ. او د جنگ تیارے ئے شروع کړو.
حضورؐ د پنځلس سوو (۱۵۰۰) جانبازو سره بدر ته تشریف یوړو. څو ورځے ئے هلته
انتظار اوکړو. خو ابوسفیان رانغلو. نو بیا را واپس شو. اصحابو هلته
په تجارت کښ ښه منافع اوکړه. دے غزا ته بدر ثانی او بدر صغریٰ
او بدر موعد وئیلے شی.

دا واقعه په شعبان کښ او د چا په خیال ذی قعد کښ شوی ده. په
دے کال امام حسینؓ پیدا شو.

**سنه ۵ھ** = په دے کال ربیع الاول کښ د دومة الجندل غزا اوشوه.

حضورؐ ته خبر رسیدلے وو۔ چه دلته د کافرانو لښکر جمع شوے دے۔ په مدینه حمله کوی۔ حضورؐ د یو زر اصحابو سره ور روان شو۔ (چه مقابله د مدینے نه بهر اوشی)۔ هغوئ چه خبر شو نو اوتښتیدل خوارهٔ وارهٔ شو۔ حضورؐ څو ورځے هلته تیرے کړے۔ بیا مدینے ته را واپس شو۔ په دے کال شعبان کښ د مریسیع غزا اوشوه۔ دے ته د بنی مصطلق غزا هم ویلے شی۔ حضورؐ ته خبر را رسیدلے وو۔ چه بنی مصطلق قبیلے په مدینه د حملے نیت کړے دے۔ حضورؐ د خپل لښکر سره مقابلے ته ورغلو۔ خو مقابله او نشوه هغوئ اوتښتیدو د هغوئ خاروی او زنانه په مالِ غنیمت کښ قبضه شو۔ حضرت جویریهؓ په دے غزا کښ د ثابت بن قیس په حصه کښ رسیدلی وه۔ هغهٔ مکاتبه کړه (یعنی ورته ئے اوویل که دومره رقم درا کړو نو آزاده به دِ کړم) نو حضورؐ دا رقم هغے صحابی ته ورکړو۔ او حضرت جویریهؓ ئے آزاده کړه۔ هغه بیا مسلمانه شوه۔ او حضورؐ خانته په نکاح کړه۔ په دے غزا کښ د اِفک واقعه یعنی په حضرت عائشهؓ باندے د تهمت لګولو دردناکه واقعه شوی وه۔ او په دے کال شوال کښ د خندق غزا چه ورته غزوهٔ احزاب هم ویلے شی۔ شوی وه۔ بنی نضیر چه مدینے نه خارج کړے شو۔ نو د هغو یو ډیر فسادی سړے حیی بن اخطب په خیبر کښ آباد شو۔ هغهٔ ځان سره څهٔ مفسدان بوتلل۔ مکے ته لاړو قریش ئے په مدینه باندے حملے ته تیار کړل۔ چه زهٔ به سړی هم درکوم۔ او د جنګ د تیاری د پاره به مال هم درکوم۔ (د جنګ خرچه به پوره نماوی) تا سو نور قبائل هم راجمع کړئ۔ د دغه شان ئے لس زره فوج

Scanned with CamScanner

تیار کړو۔ په مدینه باندے حملے ته روان شو۔ حضورؐ ته چه خبر
اورسیدو نو د سلمان فارسیؓ په مشوره ئے د سلح غونډئ طرف ته
خندق کنستو حکم ورکړو۔ د مدینے باقی درے طرفونه د آبادئ او د باغونو
د دیوالونو په وجه محفوظ وو۔ د کافرانو لښکر چه را اورسیدو خندق
ئے اولیدو نو حیران شو په عربو کښې مخکښې داطریقه چرته نه وه۔
خندق نه د بخوا دیره شو۔ دغشو او کانړو ویشتو جنګ شروع شو۔
صحابو هم په غشو او په کانړو جواب ورکولو۔

حیی بن اخطب خان سره د مدینے یهود بنی قریظه هم ملګری کړو
حضورؐ صحابو سره مشوره اوکړه چه په څه طریقه د احزاب دے مختلفو
قبائیلو کښې اختلاف داچولے شی۔ د غطفان قبیلے یو سړے نعیم بن مسعودؓ
چه تازه مسلمان شوے وو۔ او کفار د هغهٔ د اسلام نه خبر نهٔ وو۔
عرض اوکړو چه زهٔ دوی ته بیرکولے شم۔ حضورؐ په قاعده د
اَلْحَرْبُ خُدَعَةٌ اجازت ورکړو۔

هغه بنی قریظه ته لاړو۔ ورته ئے اووئے۔ تاسو غلطی
اوکړه چه قریشو سره ملګری شوئ۔ که قریش کامیاب نهٔ شو۔
مسلمانان ئے ختم نهٔ کړل۔ نو بیا به مسلمانان په تاسو فوج کشی
اوکړی۔ او تاسو یواځے د مسلمانانو مقابله نشئ کولے۔ تباه به مو کړی۔
هغوئ ورته اووے اوس به دوی څه ته بیرکیږی۔ هغهٔ ورته
اووئیل۔ تاسو قریشو ته خبر واستوئ۔ چه خپل یو څو سرداران
دلته را واستوی۔ چه تاسو سره وی۔ که مسلمانان په تاسو حمله
کوی۔ نو هغوئ به د خپلو سردارانو د حفاظت په خاطر ستاسو

امداد ته راځي - که هغوئ داخبره اومنله نو يوه شئ چه د نړۍ نه ستاسو ملګري دي - اوکه دے ته ئې منله نو يوه شئ چه د نړۍ نه ستاسو ملګري نه دي - هغوئ داخبره اومنله - قريشو ته ئې سړے داستولو - بيا نعيم هلته لاړو - اوځان ئې د هغوئ خيرخواه کړو - چه ما اوريدلي دي چه بني قريظه پټ د محمدؐ ملګري دي - او هغوئ درته ويلي دي چه موږ به په تاسو باور هله اوکړو - چه د قريشو څو سرداران زموږ په لاس ګرفتار کړئ - نو اوس هغوئ د تاسو نه سړي غواړي - او هغوئ ته به ئې ورکوي - دا وعده ئې ورسره کړې ده - چه سړي ورنکړئ - بيا لاړو د غطفان قبيلے مشرانو سره ئې هم دغه شان خبره اوکړه -

د بني قريظه پيغام چه را اورسيدو - نو د قريشو يقين اوشو - چه د نعيم خبره رښتيا ده - انکار ئې ورته اوکړو - په دے طريقه په دے قبائلو کښې پوره بے اعتباري او بے اتفاقي خوره شوه -

دلته ابوسفيان د دے بے اتفاقئ په وجه پريشان شو هلته د باندے الله تعالي داسے سخته سيلئ راوسته چه د خيمو موږې ئې اووتلے - طنابونه ئې اوشليدل - د خوراک ديګونه ئې نسکور نه اپوته پريوتل - او آسونو ئې جلبونه اوشلول - ځنګل ته اوتښتيدو - ابوسفيان اووئيل - چه اوس نور پاتے کيدل ګران دي - فوراً ئې د لښکر د واپسئ حکم اوکړو - او لښکر واپس روان شو - قرآن شريف کښې په سورت احزاب کښې د دے غزا ذکر شوي دے -

د دے غزا پسے سمدستي د بني قريظه غزا اوشوه - قريش چه

دایس شو۔ مسلمانان کورونو ته راغلو۔ نو حضورؐ د غسل اراده کوله۔
چه جبریلؑ د الله تعالیٰ حکم راوړو چه دَمَه مه کوه سمدستی بنی قریظه
ته د بے لوظئ سزا ورکړه۔ حضورؐ حکم اوکړو۔ لښکر بنی قریظه ته
روان شو۔ هغوئ قلعه بند شو۔ اسلامی لښکر ورته محاصره اوکړه۔
(ګیره ئے ورته واچوله) په هغوئ داسے هیبت راغلو۔ چه سمدستی
ئے سرے را واستولو۔ د صلح درخواست ئے اوکړو۔ په دے طریقه
چه سعد بن معاذؓ چه زمونږ په حق کښں څه فیصله اوکړه۔ هغه
مونږ ته منظور ده۔ دا سعد بن معاذؓ د انصارو د اوس قبیلے سردار
وو۔ دا قبیله مخکښں د بنی قریظه حلیف وو۔ نو د هغوئ دا خیال وو۔
چه اوس به هم مونږ د پاره څه مراعات حاصل کړی۔

حضرت سعدؓ دا فیصله اوکړه چه د دوئ ځلمی دِ قتل کړے شی۔
زنانه او هلکان، جینکئ دِ ئے غلامان کړے شی۔ او ټول جائیداد دِ ئے
ضبط شی۔ (په هغه زمانه کښں د جنګ دا قانون وو۔ شکست خورده
دشمن سره به هم دغه شان کیده۔ بنی قریظه سره هم دغه شان
اوشوه۔ حضرت سعدؓ څه مراعات ورته ونه کړل۔ مترجم)

په دغه درځو کښں ابو رافع یهودی هم قتل کړے شو۔ دا ډیر
مالداره سوداګر وو۔ خیبر سره نزدے یو کلی کښں اوسیده۔ د احزاب
په جنګ کښں ئے قریشو سره ډیر مالی امداد کړے وو۔ په دے وجه حضورؐ
عبدالله بن عتیقؓ یو څو انصارو سره د دے یهودی د قتل کولو د پاره
واستولو۔ او هغوئ د شپے قتل کړو۔ احادیثو کښں ئے پوره تفصیل موجود
دے۔ دا واقعه د خندق او قریظه د غزا نه پس شوی ده۔ لیکن خاص

Scanned with CamScanner

تاریخ ئې معلوم نهٔ دے۔ دے نه پس اول دعسفان غزا اوشوه۔ بیا
دخبط سریّه اوشوه۔ خبط ویلے شی د ونو پاڼو ختنولو ته۔ په
دے سریّه کښې اصحابو سره خوراک ختم شوے وو۔ نو خوراک دپاره ئې
د ونو پاڼې ختلی دے۔ ځکه ئې سریّه خبط نوم شی۔ دمدینے منورے
نه د ساحل سمندر په غاړه غاړه د پنځو ورځو په مزل جهینه نوم
ئې قبیلے سره مقابلے دپاره دحضرت ابو عبیدهؓ په مشرئ کښې د درسوه
مهاجرینو دا دسته استولی شوې وه۔ او په دے سفر کښې عنبر مهی
د سمندر موجونو غاړے ته را غورزولے وو۔ دا ډیر غټ مهی وو۔ ډیرے
ورځے په دا اصحابو د راشن کار اوشو۔ احادیثو کښې ئې تفصیل موجود دے
د دے غزا نوم سیف البحر هم دے۔ (یعنی د سمندر د غاړے غزا) او
څنې روایاتو کښې دی چه داغزا هم د قریشو د قافلے دلارے نیولو
دپاره وه ۔ **ف** : دے نه معلومیږی چه دا غزا د صلح حدیبیه نه
مخکښې وه۔ ځکه چه هغے نه پس د صلح زمانه وه۔ د قریشو قافلے بے
خطرے تلے۔ او په دے کال او د څنو په قول دے نه مخکښې کال کښې د
حجاب آیت نازل شوے دے۔

**سنه ٦ھ** : د بنی قریظه د غزا نه شپږ میاشتے پس حضورؐ بنی لحیان
قبیلے طرف ته د غزا په نیت روان شو۔ هغوئی ته چه داخبر اورسیدو
نو کلے ئې خالی کړو۔ غرونو ته اوتښتیدو۔ هغوئی هلته دیره شو۔ د
فوج دستے ئې هر طرف ته د هغوئی په تلاش کښې واستولے۔ خو
هغوئی ئې اونهٔ مونتو ۔ حضورؐ هلته څوارلس ورځے حصار شو۔
بیا مدینے ته را واپس شو۔ دے نه پس ئې نجد طرف ته یو لښکر

داستولو چه د بنی حنیفه قبیلے سردار ثمامه بن آثال قیدی راولی.
هغه بیا مسلمان شو. په دے کال ذی قعده کښی د حدیبیه واقعه
اوشوه. نبی کریمؐ خوب اولیدو چه مکے معظمے ته لاړیم. عمره کوم.
اصحابو ته ئے دا خوب بیان کړو. اصحاب خو د عمرے په شوق کښی بے
قراره وو. ددے خوب اوریدو سره ئے د عمرے د سفر تیارے شروع
کړو. حضورؐ هم چه د هغوئی شوق ته اوکتل نو د عمرے نیت ئے
اوکړو. روان شو. تردے چه مکے ته اورسیدو. قریشو چه دا واوریدو
نو دے ویل چه موږ خو ئے عمرے ته نهٔ پریږدو. حضورؐ چه خبر
شو. نو واپس شو. په حدیبیه کښی ئے پړاؤ اوکړو. دلته کوهے دے او
آزاد میدان دے. د فوج د پړاؤ دپاره ښه ځائے دے. بیا ډیرو خبرو
اترو نه پس کوم چه تفصیل سره بخاری کښی ذکر دی. په دے صلح اوشوه
چه مسلمانان داوس واپس شی. بلکښی کال ته دِ بیا راشی خو درے
ورځو نه زیات به نهٔ حصار یږی. لس کاله د صلح موده مقرر شوه.
په دے موده کښی به یو بل سره جنګ نهٔ کوو. قریش به د حضورؐ حلیف
قبیلو سره جنګ نهٔ کوی. او حضورؐ به د قریش حلیف قبیلو سره.
حلیف هغے قبیلو ته وائی چه خپلو کښی ئے د جنګ نهٔ کولو معاهده
کړی وی. هلته بنی بکر او بنی خزاعه دوه قبیلے دے. بنی بکر د قریشو
حلیف وو. او بنی خزاعه د حضورؐ حلیف وو. دے صلح نامے نه پس حضورؐ
مدینے ته واپس شو.

هم په دے کال واقدی یو څو سریّے ذکر کړی دی. د صلح نه
مخکښی. د عمرے د سفر نه مخکښی ربیع الاول کښی د عکاشه بن محصن

په مشرقۍ کښې د خلوېښتو کسانو يو ډله غمرته لاړه. هغه خلق اوتښتېدل. د هغوئ ددوه سوه اوښان مسلمانانو راوستل. او د ابو عبيدهؓ په مشرئ کښې يو ډله ذی القصه ته لاړهٔ. هغه خلق اوتښتېدل. يو سړے ترګرفتار شو. او مسلمان شو. او محمد بن مسلمه لس کسانو سره واستولے شو. هغه خلق پټ شول چه مسلمانان اوده شول نو هغوئ دربانده ناڅاپي حمله اوکړه. او ټول ئے شهيدان کړل. صرف محمد بن مسلمه زخمي بچ شو.

او په دے کال د زيد بن حارثه په مشرئ کښې يو سريه جموح ته واستولے شوه. او څه قيديان او څهٔ څاروی په لاس ورغلل. او په جمادی الاول کښې زيد بن حارثه پنځلس کسانو سره طرف ته لاړو. او شل اوښان ئے راوستل. او هم په دے مياشت کښې حضرت زيدؓ عيص طرف ته لاړو. ابو العاص بن ربيع چه د حضورؐ زوم د حضرت زينبؓ خاوند وو. د قريشو مالِ تجارت ئے د شام نه راوړو. حضرت زيد د دے قافلے ټول مال قبضه کښې واخستو. ابو العاص مدينے ته راغلو. حضرت زينبؓ سره ئے پناه واخسته. او حضورؐ ته ئے عرض اوکړو. چه دا مال ما ته واپس راکړئ. حضورؐ د ټولو مسلمانانو په اجازت ورته مال واپس کړو. هغه چه مکے ته اورسيدو. نو خلقو ته ئے خپل امانتونه واپس کړو. او مسلمان شو. ليکن زاد المعاد کښې دا واقعه د زيدؓ په ځائے ابو بصير ته منسوب شوی ده. او د حديبيے د صلح نه پس بيان شوی ده. دا مال ابو بصير د حضورؐ په ارشاد واپس کړے وو.

او دے کال په شعبان کښې د عبد الرحمن بن عوف سريه دومة الجندل ته لاړه ده - هغه خلق ټول مسلمانان شو - د دے کال په شوال کښې د کرزؓ بن جابر فهرى سريه د عرنيين مقابلے ته شلو کسانو سره لاړه ده - هغه کسان ئے اونيول او قتل ئے کړل. دے نه پس د حديبيهٔ صلح اوشوه - ف ۔ د حديبيهٔ د واقع نه دا نهٔ ثابتيږى چه د حضورؐ خوب غلط وو - ځکه چه خوب کښې څهٔ وخت نهٔ وو ښيلے شوے - صرف عمره ئے ليدلې وه - نو عمره په دے کال اونشوه په بل کال اوشوه -

حديبيه نه پس بيا د غابه غزا اوشوه - د دے نوم د ذى قرد غزا هم ده - غابه د مدينهٔ منورے نه د څلورو ورځو په مزل يو ځائے دے - دلته د حضورؐ څهٔ اوښان څريدل چه عبد الرحمٰن فزارى ساروان قتل کړو - او اوښان ئے اوتښتول - حضورؐ د څو کسانو سره ورپسے ورغلو - په دے ورځ سلمه بن اکوعؓ ډير کار کړے وو - هغه کسان ئے تر ذى قرد اورغلول او ټول اوښان ئے ورته راخلاص کړل - دا قصه پوره تفصيل سره احاديثو کښې موجوده ده - حضورؐ چهٔ حديبيهٔ نه واپس شو - نو تقريباً شل ورځے پس د خيبر غزا اوشوه - حضورؐ د لښکر سره سحر خيبر ته رسيدلے وو - هغه خلق خپلو آلاتِ زراعت سره پټو ته روان وو - چهٔ لښکر ئے اوليدو نو واپس شو - او د قلعه دروازے ئے بندے کړے - حضورؐ ورته چاپيره ګيره واچوله د خيبر ټولے اوهٔ قلعه وے - ټولے وار په وار فتح شوے - حضورؐ د فتح نه پس د يهودو خيبر نه جلاوطن کولو او د هغوئ ټول مال

اوجایئداد ' باغونه او پټی ټول ضبط کولو حکم اوکړو - ژځنګه چه په
دے زمانه د مفتوح قوم سره عامه طریقه دا) هغوئ عرض اوکړو.
چه د دے ځائے د زراعت دپاره به تاسو ته د مزدورانو ضرورت وی.
نو موږ جلاوطن کوئ مه - دا مزدوری به موږ اوکړو - حضور د
هغوئ عرض قبول کړو - په خپل ځائے پاتے کړل - په دے طریقه چه
نیم پیداوار به د هغوئ وی - په مزدورئ کښ او نیم پیداوار به
بیت المال ته راځی - او ورته ئے اوفرمایئل - چه فی الحال موږ تاسو
جلاوطن کوونه - مزدورئ دپاره مو ساتو - خو کله موږ مناسب اوګڼړله
نو بیا به مو جلاوطن کوو - بیا حضرت عمرؓ د خپل خلافت په زمانه کښ
په جزیره عرب د کافرانو نه خالی کوله - نو یهودئے د خیبر نه او ویستو
شام ته ئے اوشړل -

خیبر سره نزدے یو ځائے فدک وو - هغے خلقو حضورؐ سره دا ستے
صلح اوکړه چه نیمه زرعی زمکه تاسو واخلئ خپله ئے سنبالوئ او
نیمه موږ ته پریږدئ - (دا هم په نیمه صلح وه - خو طریقه ئے
بدله وه) د خیبر په مال غنیمت کښ حضرت صفیهؓ د حضرت دحیهؓ
په حصه کښ راغلی وه - حضورؐ د هغهٔ نه (په قیمت) واخسته - آزاده
ئے کړه - او نکاح ئے ورسره اوکړه - ( په امهات المؤمنین کښ شمارشوه)

حضورؐ لا په خیبر کښ وو - چه حضرت جعفر بن ابی طالب د یو
څو نورو مهاجرینو سره د حبشے نه د ابو موسٰی اشعری او یو څو نورو
اشعرینو سره په کشتئ کښ تشریف راوړو - او په دے خیبر کښ یو
یهودنړے د چیلی د رنبی په غوښه زهر اچولی وه - حضورؐ ته ئے

راوی دہ - حضورؐ چہ ترِ نوری خولے تہ ورہ - نو دے فرمائیل - دے غوښے ماتہ اووسے: چہ ماکښې زهر دی - او پہ دے غزا کښې د خر غوښہ حرامہ شوہ - او پہ دے غزا کښې دمُتعے د حرمت حکم هم راغلو - د اوطاس پہ غزا کښې اجازت ورکړے شوے وو - بیا ترقیامتہ حرامہ شوہ - مسلم شریف کښې دا حدیث موجود دے - حضورؐ فرمائیلی دی - مُتعَہ ترقیامتہ حرامہ دہ -

حضورؐ چہ د خیبر نہ فارغ شو - نو وَادی القُریٰ تہ روان شو - هلتہ څہ یهودیان وو - او څہ عرب وو - لږ جنګ نہ پس هغہ هم فتح شوہ - حضورؐ څلور ورځے دلتہ حصار شو - د تَیمَاءْ یهودیان چہ خبر شو - هغوئی هم د خیبر پہ شان صلح اوکړہ - او پہ خپلہ زمکہ قابض پاتے شو - حضرت عمرؓ چہ یهودیان د خیبر نہ شړل نو فدک او تیما والہ ئے هم اوشړل - او وادی القریٰ والہ ئے او نہ شړل ځکہ چہ دا علاقہ د ملکِ شام حصہ دہ - حضورؐ چہ خیبر نہ واپس شو نو بیا ترشوال سنہ پورے خپلہ چرتہ نہ دے لاړ - مختلفو قبائلو تہ ئے فوجونہ استولی دی -

(۱) حضرت ابوبکرؓ ئے نجد تہ د بنی فزارہ قبیلے مقابلے تہ واستولو -

(۲) حضرت عمرؓ ئے هوازن تہ واستولو -

(۳) عبداللہ بن رواحہ ئے د بشیر بن دارام یهودی مقابلے تہ واستولو -

(۴) بشیر بن سعدؓ ئے د بنی مرہ قبیلے مقابلے تہ واستولو -

(۵) حضرت اسامہ بن زیدؓ ئے د جهینہ قبیلے مقابلے تہ واستولو -

ف: پہ دے جنګ کښې حضرت اسامہ نہ د غلطی شوی دہ چہ

• سرې بانده ئې توره راپورته کړې وه - نو هغه نه کلمه اووې - خو حضرت اسامه بیا هم قتل کړو - چه دا کلمه ئې د زړه نه نه ده ویلی - ځان بچ کولو د پاره ئې ویلی ده - (بیا حضورؐ ډیره زورنه ورکړه چه تا ئې زړه څیرلے وو څه ؟ مترجم)

(۶) حضرت غالب بن عبد الله کلبی ئې کدید ته د بنی ملوح مقابلے ته واستولو -

(۷) بشیر بن سعدؓ ئې یمن طرف ته د عُیَینَه د عطفان او لحیان قبیلو مقابلے ته واستولو -

(۸) یو سَرِیّه د ابی حدرد اسلمی ده -

(۹) او یو سَرِیّه اضم قبیلے ته لاړه ده -

(۱۰) یو سَرِیّه د عبد الله بن حذافه سهمی ده -

خیبر نه پس یو غزا د ذات الرقاع شوی ده - په دے کښ د عطفان قبیلے سره مقابله شوی ده - او دے ته د نجد او بنی انمار غزا هم ویلے شی - په دے کال قحط سالی وه - بیا د حضورؐ په دعا باران اوشو -

**سنه ۷ھ** = پورتنئ ځنی سَرِیے په دے سن کښ شوی دی - خو تاریخ ئې پوره متعین نه دے - نو تبعاً خیبر سره ذکر کړے شوے -

د دے کال په ذی قعده کښ عمرة القضا ادا کړے شوه - (پروسکال چه د عمرے نیت شوے وو - او د قریشو د رکاوټ په وجه ادا نه کړے شوه - د حدیبیے د صلح د شرائطو مطابق څښتکال هغه قضا عمره ادا کړے شوه) حضورؐ سره د ا صحابو مکے ته تشریف یوړو - او حکم ئے اوکړو - چه د حدیبیے په سفر کښ چه موږ سره څوک ملګری وو -

هغه ټول به څنګال ضرور ځي - عمره ئې اوکړه - او د شرط موافق ئې درې ورځې مکه کښې تیرې کړې - او دلته ئې د حضرت میمونه رض بنت حارث سره نکاح اوکړه - په دریمه ورځ چه واپس مدینې ته روانیدل نو د حضرت حمزه رض دره لور په چغو چغو حضور صلی الله علیه وسلم پسې را روانه وه - حضور هغه ترور ته حواله کړه - چه د حضرت جعفر رض په نکاح کښې وه -

**۸ سنه** = په دې کال جمادی الاولی کښې د موته غزا اوشوه - د دې وجه دا وه چه د حضور یو قاصد د حضور خط مبارک د بصرې حاکم ته وړو - په لار کښې د موته حاکم هغه قاصد شهید کړو - دا ښار د شام په علاقه کښې دې - او د دې حاکم نوم شرجیل بن عمرو غسانی وو - حضور په دې قاتل پسې درې زره لښکر د حضرت زید بن حارثه په مشرئ کښې واستولو - او وې فرمائیل که زید شهید شو نو جعفر بن ابی طالب دِ امیر شي - او که هغه شهید شو - نو عبدالله بن رواحه دِ امیر شي - او که هغه هم شهید شو - نو بیا چه مو خپلو کښې څوک خوښ کړو - چنانچه په دې ترتیب دا ټول امیران شهیدان شو - بیا هغوئ حضرت خالد بن ولید امیر کړو - او فتح اوشوه - په دې کال جمادی الاخرئ کښې د ذات سلاسل غزا اوشوه - دا ځائې په وادی قرئ کښې دې - او د مدینې نه د لسو ورځو په مزل دې - حضور ته خبر رارسیدلې وو - چه د بنی قضاعه قبیلې یو لښکر په مدینه حمله کوی - هغوئ حضرت عمرو بن العاص رض د درې سوه کسانو سره مخې ته ور واستولو - بیا خبر را اورسیدو چه د کفارو د لښکر شمار ډیر دې - نو حضور دوه سوه کسان نور

د ابو عبیده په سردارئ کښې در واستول۔ د اصحابو په دے ډله کښې حضرت ابوبکرؓ هم وو۔ دوئ روان وو۔ په لار کښې ئے دشمنان اولیدل۔ دوئ دربانده حمله اوکړه۔ نو هغوئ اوتښتیدل۔ په دے غزا کښې اسلامی لښکر د اوبو په یو چینه ډیره وو۔ د هغے نوم سلسل وو۔ په دے وجه د دے غزا نوم ذات سلاسل مشهور شو۔ اوچا ویلی دی چه سلاسل د ریګستان سلسلے ته ویلے شی۔ او دا علاقه ریګستانی ده۔ په بخاری شریف کښې د ذات سلاسل نه علاوه یو غزا د ذی الخلصه هم ذکر شوی ده۔ په دے کښې حضورؐ حضرت جریر بن عبدالله د یو نیم سل [۱۵۰] کسانو سره د احمس کور درانولو دپاره استولے وو۔ دا په خثعم قبیله کښې چه د یمن په علاقه کښې ده۔ د کعبے په نوم جوړ کړے شوے وو۔

**ف** : دا دواړه سرئے دی۔ غزا ورته په لغوی معنیٰ یعنی د جنګ په معنیٰ ویلے شی۔ په اصطلاحی معنیٰ غزا نهٔ ده۔ یعنی حضورؐ دو کښې خپله شریک نهٔ وو۔ بیا هم د دے کال په رمضان کښې مکه فتح شوه۔ دا یو عظیمه فتح ده۔ د اسلام عزت غلبه او د دین د اشاعت کنجی ده۔

د دے سبب دا شو۔ چه د حدیبیے په صلح کښې دا فیصله شوی وه۔ چه مسلمانان او قریش به خپلو کښې هم جنګ نهٔ کوی او د یو بل معاهد قبیلو سره به هم جنګ نهٔ کوی۔ او نهٔ به د حمله آور مدد کوی۔ قریشو د دے معاهدے خلاف ورزی اوکړه۔ بنی خزاعه د حضورؐ معاهد وو۔ او بنی بکر د قریشو معاهد وو۔ د دے دواړو قبیلو

خپلو کښې جنګ اوکړو ـ زیاتے بنی بکر کړے وو ـ چه په خزاعه ئے د شپے حمله کړی وه ـ قریشو د بنی بکر پټ امداد کړے وو ـ نو د دے وعده خلافئ په وجه حضور د قریشو خلاف لښکر تیار کړو ـ د مهاجرینو انصارو او نورو مسلمانانو عرب قبائلو دولس زره لښکر سره حضور مکے ته اورسیدو ـ جنګ اوشو ـ ډیر کفار قتل شو او د قریشو غټ سرداران اوتښتیدو ـ بیا چه څوک حاضر شو ـ معفوئی ته معافی ورکړے شوه ـ په دے ورځ لږ ساعت د پاره حرم کښې د جنګ اجازت الله تعالیٰ ورکړے وو ـ

د فتح قصه په تاریخ حبیب الله کښې ډیر په تفصیل سره بیان شوی ده ـ دلته ئے اختصار سره لیکو ـ حضور بیت الله ته ننوتو ـ او بیت الله کښې چه څومره بتان وو ـ ټول ئے مات کړل ـ څه غټ غټ بتان مکے نه بهر وو ـ هغے ماتولو پسے ئے کسان واستول ـ حضرت خالد رض ئے عزا نوم ئے بت ماتولو پسے واستولو ـ دا بت د قریشو او د بنی کنانه مشهور غټ بت وو ـ حضرت عمرو بن عاص رض ئے سواع نوم ئے بت ماتولو پسے واستولو ـ دا د هذیل قبیلے بت وو ـ او حضرت سعد بن زید اشهلی ئے منات نوم ئے بت ماتولو پسے واستولو دا د اوس و خزرج او غسان قبیلے بت وو ـ دے ټولو خپل کار اوکړو ـ راغلو ـ بیا حضور حضرت خالد رض بنی خذیمه قبیلے ته تبلیغ د پاره واستولو ـ د مکے د فتح نه پس بیا د حنین غزا اوشوه ـ دے ته د اوطاس غزا هم وئیلے شی ـ دا دواړه ځایونه د مکے او طائف ترمینځه دی ـ او دے ته د هوازن غزا هم وئیلے شی ـ ځکه چه هم د دے قبیلے

خلق مسلمانانو باندے حملے دپارہ راجمع شوی دو۔ حضورؐ تہ چہ دا خبر را اورسیدو۔ نو هغوئی دولس زرہ فوج سرہ د دوئی مقابلے تہ راغلو۔ جنگ اوشو۔ د جنگ پہ دوران کښی اسلامی لښکر لږ پریشان هم شو۔ خو آخر کښی اللہ تعالیٰ مسلمانانو تہ فتح ورکړہ۔ دا جنگ د حنین پہ مقام شوے وو۔ کافران اوتښتیدو۔ اوطاس تہ لاړو۔ هلتہ ئے بیا لښکر راجمع کړو۔ اسلامی لښکر پہ حملہ اوکړہ۔ او شکست ئے ورکړو۔ بیا دے نہ پس د شوال پہ میاشت کښی حضورؐ د طائف محاصرہ اوکړہ۔ چہ هلتہ بنی ثقیف لښکر راجمع کولو۔ د حملے تیارے ئے کولو۔ لیکن پہ دے وخت د طائف فتح مقدر نہ وہ۔ حضورؐ محاصرہ پورتہ کړہ۔ واپس شو۔ بیا د تبوک د غزا نہ پس دا خلق خپلہ حاضر شو۔ او بے مقابلے مسلمانان شو۔ او لات چہ د دوئی بت وو۔ مات کړے شو۔

بیا هم د دے کال پہ محرم کښی عیینہ بن حصن فزاری د پنځوسو سورو سرہ د بنی تمیم قبیلے مقابلے تہ واستولے شو۔ هغوئی مقابلے نہ اوتښتیدہ۔ څہ سړی او ښځے گرفتار شو۔ مدینے تہ راوستے شو۔ بیا د هغوئی یو څو سرداران اقرع بن حابس وغیرہ مدینے تہ راغلہ۔ اؤ نظم او نثر څہ ادبی مقابلے نہ پس مسلمانان شو۔ حضورؐ ډیر بخشش ورکړو۔

بیا قطبہ بن عامر ختعم قبیلے تہ واستولے شو۔ جنگ او شو۔ او څہ مالِ غنیمت ئے مدینے تہ راوړو۔ پہ دے کال د حضورؐ ځوئے حضرت ابراهیم پیدا شو۔ او د حضورؐ لور حضرت زینبؓ وفات شوہ۔

**سنه ۹ھ** = د دے کال په ربیع الاول کښې یو لښکر د ضحاک بن سفیان رض
په مشرۍ کښې د بنی کلاب مقابلې ته واستولے شو۔ جنګ اوشو۔
کافرانو شکست اوخوړو۔ بیا په ربیع الثانی کښې یو لښکر د علقمه
بن مجزز مدلجی په مشرۍ کښې حبشې ته واستولے شو۔ او یو لښکر
د عبداللّٰه بن حزافه سهمی په مشرۍ کښې هم ورسره شو۔

هم په دے کال کښې یو لښکر د حضرت علی رض سره د یو بت خانے
ورانولو د پاره واستولے شو۔ دا بت خانه په طے قبیله کښې وه۔
کومه چه د مشهور سخی ځوان حاتم طائی قبیله ده۔ بت خانه ورانه
کړے شوه۔ څه قیدیان راوستے شو۔ د حاتم طائی ځوئے عدی اوتښتیدو
او د حاتم طائی لور قید کړے شوه۔ هغه بیا حضور ص آزاده کړه۔ سورلی ئے
ورکړه۔ او خپل کور ته ئے په عزت واستوله۔ هغه چه لاړه خپل
رور ته ئے د حضور ص د مهربانئ او د دے احسان او د هغوئ د اعلیٰ
اخلاقو ډیر صفتونه اوکړل۔ عدی رض بیا راغلو مسلمان شو۔ بیا د دے
کال د رجب په میاشت کښې د تبوک غزا اوشوه۔ تبوک د شام په علاقه
کښې د یو ځائے نوم دے۔ دے غزا ته غزوهٔ عُسرت هم ویلے شی ځکه
چه په سخته ګرمئ کښې او ډیر د تکلیف په حالت کښې د دے تیارے
شوے وو۔ وجه ئے دا وه چه حضور ص ته خبر را اورسیدو چه د
روم بادشاه هرقل په مدینه حملے ته لښکر راجمع کوی۔ هغوئ
دا خوښه کړه۔ چه مقابلے ته مخکښے ورشی۔ چه جنګ د مدینے نه
۳۰۰۰۰
لرے اوشی۔ نزدے عرب قبیلو ته ئے خبرونه واستول۔ د دیرش زره
جان بازو لښکر تیار شو۔ روان شو۔ تبوک ته اورسیدو۔ هرقل

ته چه خبر اورسیدو- نو هغه اوویریدو- د مقابلے اراده ئے پریښوه
ځکه چه د هغه یقین وو- چه حضورؐ برحق نبی دے- خو د قوم د
ویرے ئے ایمان نهٔ راوړو- په دے هم پوهیدو چه د پیغمبر مقابله
نشی کولے- حضورؐ په تبوک کښ دیره شو- او اخوا دیخوا ئے لښکرے
واستولے- حضرت خالد بن ولید ئے د دومة الجندل حاکم اکیدر
مقابلے ته واستولو- هغه ئے گرفتار راوستو- چالیکی دی- چه
هغهٔ جزیه اومنله او آزاد کړے شو- او چالیکی دی چه مسلمان شو۔
حضورؐ هلته دوه میاشتے تیرے کړے- بیائے د اصحابو سره مشوره
اوکړه- او واپس شو- په دے ورځو کښ د مسجد ضرار ورانولو واقعه
اوشوه- د بنی خزرج یو شیطان سړے وو- ابو عامر اول عیسائی
راهب شو- د آخری نبی د راتلو پیشگوئی به ئے کوله- چه حضورؐ
مدینے ته تشریف راوړو- نو د حسد په وجه مسلمان نشو- د
مسلمانانو سخت دشمن شو- د بدر د غزا نه پس مدینے نه مکے ته
لاړو- قریش به ئے د مسلمانانو خلاف جنگ ته تیارول- د اُحد د
غزا نه پس روم ته لاړو- چه د روم بادشاه په مدینه حملے ته
تیار کړی- چه په دے کښ کامیاب نهٔ شو- نو بیا مدینے ته راغلو۔
د مدینے منافقان ئے دے ته تیار کړل چه په قبا کښ د جمات په
نوم یو ځائے جوړ کړی- دا به د مسلمانانو خلاف د مشورے کولو او
راجمع کیدو ځائے وی- دا ځائے د تبوک د سفر نه مخکښ جوړ شوے
وو- منافقانو حضورؐ ته عرض اوکړو- تاسو راشئ دلته زمونږ جمات
کښ مونځ اوکړئ - چه مبارک شی - حضورؐ افرمایئل- اوس خو جهاد

ته روان یم۔ واپسئ کښې به کتے شی۔ واپسئ نه پس منافقانو بیا درخواست اوکړو۔ نو دا آیتونه نازل شو۔ وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا ضِرَارًا الآیه۔ (ددے په آخرکښې صفا حکم دے) لَا تَقُمْ فِيْهِ اَبَدًا (په دے کښې هیڅرے مونځ مهٔ کوه) بیا حضورؐ د هغې د ورانولو حکم اوکړو۔ هغه آبادی ئے ورانه کړه۔ د هغې لرګی ئے اوسوزول۔ او ددے بنیادونه ئے اوکنستل چه هیڅ نښه ئے پاتے نشی۔ په دے کال حج فرض شو۔ حضورؐ خپله خود مختلفو قبائلو د جرګو سره د ملاقاتونو او د جهاد د انتظام په وجه حج کولو ته تیاریدے نشو۔ حضرت ابوبکرؓ ئے په خپل ځائے امیر حج مقرر کړو۔ چه خلقو یاندے د اسلامی شریعت د احکامو موافق حج اوکړی۔ او سورت برات کښې چه د معاهدے ختمولو متعلق کوم احکام دی هغه ئے ورکړو چه د حج په موقع خلقو ته ددے اعلان اوکړی۔ بیا ئے ورپسے حضرت علیؓ هم داستولو۔ ځکه چه عربو کښې قانون داوو چه د معاهدے ختمولو متعلق اعلان صرف د معاهدے کوونکی قریبی رشته دار کولے شی۔

په دے کال د حضورؐ لور اُمِّ کلثومؓ وفات شوه۔

**سنه ۱۰ھ:** په دے کال نبی کریمؐ خپله حج اوکړو۔ د حضورؐ د حج خبر چه خلقو واوریدو۔ نو هر طرف نه مسلمانان راجمع کیدل شروع شو۔ یو لاکھ مسلمانان هغوئ سره حج کښې شریک شو۔ په دے موقع د حج په خطبه کښې هغوئ داسے خبرے اوکړے۔ خلقو ته ئے داسے نصیحتونه اوکړل۔ لکه څوک چه رخصت اخلی۔ او آخری وصیت کوی۔ په دے وجه دے ته حج وِدَاع ویلے شی۔ په دے

حج کښې د عرفې په ورځ دا آیت مبارک نازل شو۔ اَلْیَوْمَ اَکْمَلْتُ لَکُمْ دِیْنَکُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَیْکُمْ نِعْمَتِیْ وَ رَضِیْتُ لَکُمُ الْاِسْلَامَ دِیْنًاؕ (نن مې تاسو ته دین مکمل کړو۔ او په تاسو مې خپل نعمت پوره کړو۔ او تاسو دپاره مې اسلام دین خوښ کړو) دے حج نه د واپسئ په موقع د غَدِیْرِ خُمْ نوم پړاؤ په مقام ئې حضرت علی رضی الله عنه سره په محبت ساتلو ډیر تاکید اوکړو۔ ځکه چه دیمن ځنې خلقو هغوئی نه څه شکایتونه کړی وو۔

حضورؐ چه مدینے ته اورسیدو۔ نو بیا د خلقو په هدایت او ارشاد او د خالق په عبادت کښې مصروف شو۔ او په ربیع الاول کښې ئې د آخرت سفر اوکړو۔

# مِنَ الْقَصِیْدَةِ

## په غزواتو کښې د قصیدهٔ بردے اشعار دی

مَا زَالَ یَلْقَاهُمْ فِیْ کُلِّ مُعْتَرَکٍ حَتّٰی حَکَوْا بِالْقَنَا لَحْمًا عَلٰی وَضَمٍ

هغوئی کافرانو سره په هر میدانِ جنګ ملاقات کولو۔ تردے چه کافران د مجاهدینو په نیزو کښې داسے شو لکه په سیخونو کښې پیرلی د ښکار غوښے۔

یَجُرُّ بَحْرَ خَمِیْسٍ فَوْقَ سَابِحَةٍ تَرْمِیْ بِمَوْجٍ مِّنَ الْاَبْطَالِ مُلْتَطِمٍ

د اسلامی لښکر د بهادرانو دریاب په تیز رفتاره اسونو په چپو روان دے۔ د چپو په موجونو کښې بهادران یو بل سره ګډوډ کیږی۔ (یعنی د کثرت والی او تیز رفتارئی په وجه ئې صفونه یو بل کښې ننوځی)

هُمُ الْجِبَالُ فَسَلْ عَنْهُمْ مُصَادِمَهُمْ    مَاذَا رَأٰى مِنْهُمْ فِيْ كُلِّ مُصْتَدِمِ

هغوئ د استقلال غر ونه دی۔ که یقین دے نه کیږی۔ نو چه چا
د دسره ټکره وهلی ده۔ هغو نه تپوس اوکړه۔ چه په هره ټکره
کښ ئے د هغو طرف نه څۀ لیدلی دی۔ یعنی په هره مقابله
کښ کافرانو شکست خوړلے دے۔ او هغه د استقلال غر ونه خپل ځائے
نه نۀ دی خوزیدلی۔

وَسَلْ حُنَيْنًا وَّسَلْ بَدْرًا وَّسَلْ اُحُدًا    فُصُوْلُ حَتْفٍ لَّهُمْ اَدْهٰى مِنَ الْوَخَمِ

او د حنین او بدر او احد نه تپوس اوکړه۔ د هغوئ د مرګ اقسام
چه هغوئ د پاره د وبا نه هم زیات وو۔ ( یعنی څوک په تورو ټوټے
شوی وو۔ څوک نیزوکښ پیرلی وو۔ څوک په غشو سوری سوری
شوی وو۔ په قسم قسم مرګونو مړۀ وو) دا جنګونه هغوئ د پاره
وبائی مرض وو۔

وَمَنْ يَّكُنْ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ نُصْرَتُهٗ    اِنْ تَلْقَهُ الْاُسْدُ فِيْ اٰجَامِهَا تَجِمِ

او رسول الله چه د چا مدګار وی۔ هغوئ که زمرو سره د هغوئ په
غارونوکښ مقابل شی۔ هم ختم به ئے کړی۔

يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا    عَلٰى حَبِيْبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمِ

یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازل کړے۔ همیشه همیشه د پاره
په خپل هغه حبیب چه مخلوق کښ ټولو نه بهتر دے۔

Scanned with CamScanner

# ۱۸
# اتلسم فصل

## د قبائلو د وفدونو په بیان کښې

د عربو په زړونو کښې د بیت الله شریف عظمت ډیر زیات وو۔ د اصحابِ فیل د واقعے لږه موده شوې وه۔ نو د عربو دا عقیده پخه شوې وه۔ چه باطل طاقت په مکه غلبه نشي کولے۔ د فتحِ مکے نه پس د عربو په زړونو کښې د اسلام په حقانیت عقیده پخه شوه۔ نو ټولي اسلام قبلولو ته د هر طرف نه راتلل شروع شو۔ څنې قبائل به خپله راغلو۔ او چا به د اسلام احکام زده کولو د پاره خپل وفد رااستولو۔ په سنه ۹ ھ کښې ډیر وفدونه راغلي وو۔ نو دے کال ته عام الوفود ویلے شي۔ وفود د وفد جمع ده۔ د وفدونو کال۔ نبی کریمؐ به د وفدونو ډیر قدر عزت کولو۔ څه تحفے به ئے ورکړے۔ رخصت به ئے کړل۔

عام عرب قومونو دا انتظار هم کولو چه خپل قوم سره د حضورؐ معامله څنګه ختمیږي۔ فتحِ مکے نه پس چه قریشو اسلام قبول کړو۔ نو د نورو عربو قومونو زړونه هم نرم شو۔ ډیر وفدونه د تبوک نه پس راغلي دي۔ چه د روم غوندے مضبوط حکومت هم د مسلمانانو د مقابلے نه ډډه اوکړه۔ نو عربو ته د مسلمانانو د غلبے او طاقت احساس اوشو۔ په دے وجه هم ډیر قبائیل تابعدار شو۔ د تاریخ په کتابونو کښې د وفودو پوره تفصیل لیکلے دے۔ دلته ئے مختصر فهرست

Scanned with CamScanner

ذکر کولے شی۔

۱- دبنی ثقیف وفد چه دطائف دغزا په حال کښی ذکر شویدے چه بنی ثقیف خپله حاضر شو۔ اسلام ئے قبول کړو۔

۲- دبنی تمیم وفد دطائف دغزا نه پس راغلے وو۔ چه اقرع بن حالبس وغیره پکښی حاضر شوی وو۔

۳- دبنی طے وفد دتبوک نه مخکښی ذکر شویدے چه عدی بن حاتم درسره راغلو مسلمان شو۔

۴- دبنی عبدالقیس وفد چه دهغوئی سردار اَشج درسره راغلے وو۔ مسلمان شوے وو۔

۵- دبنی حنیفه وفد چه مُسَیلَمَه کذاب درسره راغلے وو۔ په دے کښی ځنی کسان مسلمانان شوی وو۔ روستو بیا مرتد شو۔ داخلق دسنه ۹ھ په آخر کښی راغلی وو۔

۶- دبنی طے دویم وفد چه زید خیل درسره راغلے وو۔

۷- دبنی کِنْدَه وفد دوئی سره اشعث بن قیس راغلے وو۔

۸- وفد داهل یمن د اَشْعَرِیئِیْنُوْ۔

۹- د اُزْدْ قبیلے وفد دوئی سره صرد بن عبدالله راغلے وو۔

۱۰- دبنی حارث بن کعب وفد دا په سنه ۱۰ھ په ربیع الثانی یا جمادی الاول کښی راغلے وو۔

۱۱- د همدان وفد۔

۱۲- دمزینه وفد۔

۱۳- ددوس وفد۔

۱۴- د نجران دعیسایانو وفد- دوئی اسلام قبول نکړو- جزیه ئے ادمنله او تابعدار شو.

۱۵- د بنی سعد بن بکر وفد دا ضمام بن ثعلبه راوستے دو-

۱۶- طارق بن عبد الله دخپل قوم سره-

۱۷- د تجیب وفد.

۱۸- د بنی سعد ندیم وفد.

۱۹- د بنی قریظه وفد دتبوک نه پس راغلے وو-

۲۰- د بنی اسد وفد.

۲۱- د بهراء وفد.

۲۲- د عذره وفد صفره سنه ۹ھ کښ راغلے وو.

۲۳- د بلی وفد په ربیع الاول سنه ۹ھ کښ راغلے وو-

۲۴- د ذی مره وفد.

۲۵- د خولان وفد شعبان سنه ۱۰ھ کښ راغلے وو.

۲۶- د محارب وفد سنه ۱۰ھ دحج وداع په موقع راغلے وو.

۲۷- د صداء وفد.

**ف** = د زیاد بن حارث صدائی د اذان قصه چه احادیثو کښ راغلے ده دے تیر شوے دو-

۲۸- د غسان وفد-

۲۹- د سلامان وفد شوال سنه ۱۰ھ کښ راغلے وو-

۳۰- د بنی عبس وفد.

۳۱- د ازد دویم وفد دوئی سره سوید بن حارث راغلے وو-

۳۲- د بنی مُنتَفِق وفد.

۳۳- د نخع وفد- (زادالمعاد)

ف: دے نه که د نجران وفد اوباسو چه اسلام ئے نهٔ وو قبول کړے- اودطے او ازد دوه دوه وفدونه په یو یو حساب کړو- نو ټول ۳۰ دیرش وفدونه پاتے کیږی-

## مِنَ الْقَصِيدَةِ

يَا خَيْرَ مَنْ يَمَّمَ الْعَافُونَ سَاحَتَهُ ‍ ‍ ‍ سَعْيًا وَّفَوْقَ مُتُوْنِ الْاَيْنُقِ الرُّسُمِ

اے بهترین د هغه کسانو چه د هغو دربارته سوالگری+ په منډه او په خوارو اوښو سوارهٔ راځی-

وَمَنْ هُوَ الْاٰيَةُ الْكُبْرٰى لِمُعْتَبِرٍ ‍ ‍ ‍ وَمَنْ هُوَ النِّعْمَةُ الْعُظْمٰى لِمُغْتَنِمِ

اے هغه ذاته چه د الله د قدرت غټه نشانی ده- سوچ کوونکو دپاره اوچه غټ نعمت دے قدردانو دپاره-

يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا ‍ ‍ ‍ عَلٰى حَبِيْبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمِ

یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازل کړے همیشه همیشه د پاره په خپل هغه حبیب چه ټول مخلوق کښی تولونه بهتر دے-

# نولسم ۱۹ فصل

## په مختلفو علاقو باندے حاکمان مقررکول

---

د اسلامی حکومت د ملکی انتظام او د زکوٰة او جزئے راجمع کولو دپاره په څومره علاقه کښی چه اسلامی حکومت جوړ شوے وو-

نبی کریمؐ داکسان حاکمان مقرر کړی دی۔

۱۔ مهاجر بن ابو اُمَیَّه بن مُغِیْرَةؓ په صنعا باندے حاکم کړو۔

۲۔ زیاد بن لُبَیْد انصاری په حضرموت باندے حاکم کړو۔

۳۔ عَدِیْ بن حاتمؓ په طے او بنی اسد قبیلو باندے حاکم کړو۔

۴۔ مالک بن نویره یربوعیؓ په بنی حنظله باندے حاکم کړو۔

۵۔ زبرقان بن بدر د بنی سعد په څه علاقه حاکم کړو۔

۶۔ قیس بن عاصم د بنی سعد په باقی علاقه حاکم کړو۔

۷۔ علاء بن الحضرمیؓ په بحرین باندے حاکم کړو۔

۸۔ حضرت علیؓ په اهل نجران باندے حاکم کړو۔

۹۔ عتاب بن اُسَیْدؓ په مکه باندے حاکم کړو۔

۱۰، ۱۱۔ معاذ بن جبلؓ او ابوموسیٰ اشعریؓ په یمن باندے حاکمان مقرر شوی وو۔

په سیرت ابن هشام او د احادیثو په کتابونو کښې دا تقرری موجوده دَه۔

## مِنَ الْقَصِیْدَة

مِنْ کُلِّ مُنْتَدِبٍ لِلّٰهِ مُحْتَسِبٍ    یَسْطُوْ بِمُسْتَاصِلٍ لِلْکُفْرِ مُصْطَلِمِ

اصحابِ کرامو کښې هر یو حق مُبَلِّغ دے۔ او د الله تعالیٰ نه د ثواب امیدوار دے۔ په کفر باندے داسے حمله کوی چه جرړے ئے پریکوی۔ (نو حضورؐ چه څوک کوم ځائے ته داستول۔ د ثواب حاصلولو په نیت لاړل۔ د اسلام تبلیغ ئے اوکړو۔ کفر ئے د بیخه اوویستو)۔ (د عُهدو او حکومت لالچیان نه وُو)

حَتّٰى غَدَتْ مِلَّةُ الْإِسْلَامِ وَهْيَ بِهِمْ ... مِنْ بَعْدِ غُرْبَتِهَا مَوْصُولَةَ الرَّحِمِ

تر دے پورے چه اسلامی حکومت دکنو ورئی ته پس د دوئی په حمایت سبـهٔ قوی شو۔

يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا أَبَدًا ... عَلٰى حَبِيْبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمِ

یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازل کړے همیشه د پاره په هغه حبیب چه ټول مخلوق کښې ټولو نه بهتر دے۔

# شلم ۲۰ فصل

## بادشاهانو او حاکمانو ته مبارک خطونه استول

۱۔ د روم بادشاه هرقل ته ئے د دحیه بن خلیفه په لاس خط مبارک واستولو۔ هغه سړه دے چه د حضورؐ په نبوت ئے یقین وو۔ ایمان ئے رانهٔ وړو۔ لیکن د خط مبارک قدر ئے اوکړو۔ او قاصد ئے په عزت رخصت کړو۔

۲۔ د فارس بادشاه کسریٰ ته ئے د عبد الله بن حذافه سهمی په لاس خط مبارک واستولو۔ هغه ظالم خط مبارک اوشلولو ټوټے ټوټے ئے کړو۔

حضورؐ چه خبر شو۔ نو دے فرمائیل۔ الله تعالیٰ به دده بادشاهی دغسے ټوټے ټوټے کړی۔ او هم دغه شان اوشوه۔

۳۔ د حبش بادشاه نجاشی ته ئے د عمرو بن اُمیه ضمری په لاس خط مبارک واستولو۔ نجاشی د حبش د هر یو بادشاه لقب وو۔ دا هغه

نجاشی نهٔ دے - دچا پہ زمانه کښې چه اصحابو حبشے ته هجرت کړے دو.
او هغهٔ ئے قدر عزت کړے دو - خپله هم مسلمان شوے دو - او بیا چه
وفات شو - حضورؐ ئے غائبانه دجنازے مونځ کړے دو - ددے بادشاه
داسلام حال معلوم نهٔ دے - (زادالمعاد)

۴- دمصر بادشاه مقوقس ته ئے دحاطِب بن اَبِی بَلْتَعَهٔؓ په لاس
خط مبارک واستولو - دے مسلمان نهٔ شو - خو د خط قدر ئے اوکړو.
او دقاصد په لاس ئے تحفے راواستولے.

۵- دبحرین حاکم منذر بن ساوی ته ئے دعلاء بن الحضرمیؓ په لاس
خط مبارک واستولو - دے مسلمان شو - او په خپل حکومت قائم
پریښودے شو.

۶- دعمان دوو حاکمانو جیفر بن جلندی او عبد بن جلندی ته ئے
دعمرو بن العاص په لاس خط مبارک واستولو - دا دواړه مسلمانان
شو - او په خپل ځائے پاتے شو.

۷- دیمامه حاکم هوزه بن علی ته ئے دسُلَیْط بن عمرو عامری په
لاس خط مبارک واستولو - دے مسلمان نشو.

۸- دشام دیو علاقے غوطه حاکم حارث بن ابی شمر غسانی ته ئے
دشجاع بن وهب په لاس دحدیبیے دصلح نه پس خط مبارک استولے دو.

۹- او جبله بن ایهم غسانی ته ئے هم دشجاع بن وهب په لاس
استولے دو - (سیرت ابن هشام)

حضورؐ چه تبوک نه واپس شو - نو دحمیر دشاهی خاندان
نه دیمن دځهٔ علاقو حاکمانو هغوئی ته دخپل اسلام خبر د

قاصدانو په لاس راواستولو - د هغوئی نومونه دادی -

۱- حارث بن عبد کلال -

۲- نعیم بن عبد کلال -

۳- د ذورعین او معافر او همدان حاکم نعمان -

۴- زرعه -

۵- فروه بن عمرو چه د سلطنت روم د طرف نه دیو علاقے حاکم وو -
هغهٔ د خپل اسلام خبر راواستولو - رومیانو هغه قید کړو - او بیائے قتل کړو - ( سیرت ابن هشام )

۶- د کسری د طرف نه دیمن صوبیدار باذان د خپلو دوو ځامنو او دیمن او فارس دیو څو نورو کسانو سره مسلمان شو - او د خپل اسلام خبرئے حضورؐ ته راواستولو - ( تاریخ حبیب اله )

حضورؐ چه خطونه مبارک استولی یا چه هغوئی ته راغلی دا تول پنځلس [15] دی - ( نهه هغوئی استولی او شپږ هغوئی ته راغلی دی )

او په سیرت بن هشام کښې د رفاعه بن زید جذامی د لاس یو خط دے - چه هغه مسلمان شوے وو - او بیائے خپل قوم ته د حضورؐ د طرف نه خط لیکلے وو - نو هغوئی هم مسلمانان شو - او د بخاری په شرح کرمانی کښې لیکلی دی - چه دیمن په بادشاهانو کښې ذوالکلاع حمیری او ذوعمره مسلمانان شوی وو - او د حضورؐ په دربار کښې حاضریدو ته را روان شوی وو - خو د حضورؐ په حیات کښې را اونهٔ رسیدهٔ -

# من القصیدة

اٰیاتُهُ الغُرُّ لَا یَخْفٰی عَلٰی اَحَدٍ    بِدُوْنِهَا العَدْلُ بَیْنَ النَّاسِ لَمْ یَقُمِ

د هغوی ردنیا ته احکام هیچا ته پټ نه دی - د اسلامی احکامو نه بغیر دنیا کښی عدل نشی قائمیدے.

مُحْکَمَاتٌ فَمَا یُبْقِیْنَ مِنْ شُبَهٍ    لِذِیْ شِقَاقٍ وَّلَا یَبْغِیْنَ مِنْ حَکَمِ

د اسلام احکام په جګړه کښی توی فیصله کوونکی دی - اختلاف کوونکو ته څه شک نهٔ پریږدی - نو هغوی ته د ثالث ضرورت نهٔ پاتے کیږی.

مَا حُوْرِبَتْ قَطُّ اِلَّا عَادَ مِنْ حَرَبٍ    اَعْدَی الْاَعَادِیْ اِلَیْهَا مُلْقِیَ السَّلَمِ

د اسلام مقابله چه کله چا کړی ده - نتیجه ئے دا وی چه غټ دشمن هم صلح ته راضی شی.

یَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا    عَلٰی حَبِیْبِكَ خَیْرِ الْخَلْقِ کُلِّهِمِ

یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازل کړے همیشه همیشه د پاره په خپل هغه حبیب چه ټول مخلوق کښی ټولو نه بهتر دے.

# ۲۱ یوویشتم فصل

## د حضور ﷺ په اخلاقو، عاداتو او صفاتو کښی

(حضرت تهانوی رح فرمائی)

په دے فصل کښی د مولانا الٰهی بخش صاحب کاندهلوی رساله

نَسِيْمُ الْحَبِيْبِ نقل کول کافی گنړم ـ دا ډیره مختصره او جامع ده ـ ددے عربی رسالے د ترجمے نوم شَمُّ الطِّيْبِ تجویز کوم ـ وَمِنَ اللّٰهِ التَّوْفِيْقُ (اللّٰه تعالیٰ تو فیق ورکوونکے دے) ـ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۵

۲ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَرْسَلَ اِلَيْنَا رَسُوْلًا عَرَبِيًّا هَاشِمِيًّا مَكِّيًّا مَدَنِيًّا سَيِّدًا اَمِيْنًا صَادِقًا مُصَدُّوْقًا قُرَيْشِيًّا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ كَانُوْا لَهٗ حَفِيًّا نَجِيًّا ـ

ټول تعریفونه دا اللّٰه تعالیٰ دی چه موږ ته ئے داسے رسول راواستولو چه عربی هاشمی مکی مدنی سردار رښتونے او رښتونی خبرونه ورکړے شوے قریشی دے ـ اللّٰه تعالیٰ د خپل خاص رحمت نازل کړی په هغهٔ او دهغهٔ په آل او دهغهٔ په اصحابو چه دهغهٔ خاص دوستان او راز داردی ـ

۲ وَبَعْدُ فَاِنَّ الْعُلَمَاءَ قَدْ جَمَعُوْا شَمَائِلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَلَكُوْا فِيْهِ مَسْلَكًا طَيِّبًا وَّنَهَجُوْا مَنْهَجًا سَوِيًّا وَّلٰكِنَّ بَعْضَهُمْ قَدْ
۳ اَطْنَبُوْا اِطْنَابًا مُمِلًّا وَّبَعْضُهُمْ اَوْجَزُوْا اِيْجَازًا مُخِلًّا فَالنَّاسُ بَيْنَ هَارِبٍ وَّشَائِقٍ وَّطَالِبٍ وَّتَائِقٍ فَاَرَدْتُ اَنْ اَذْكُرَ نُبْذًا مِّنْ مَّحَاسِنِهٖ وَمَكَارِمِهٖ ـ

حمد وصلوات نه پس عرض دادے چه عالمانو همیشه دحضورؐ شمائل جمع کړی دی په دیکښ هرچا نوی نوی طریقے خوښے کړیدی لیکن ځنی کسانو دومره اوږده کړیدی چه زړه سترے کړی او ځنی دومره مختصر کړیدی چه مطلب ئے هم واضح نهٔ دے ـ نو ځنی خلق خوئے د اوږدوالی نه تښتی او څوک ئے شوقیان او طلبګار دی ـ (بهر حال د اطناب او اختصار دواړو فائده عامه نهٔ ده ـ او درمیانه مقدار مناسب دی ـ هر څوک تر فائده اخیستے شی)

وَشَطْرًا مِنْ شَمَائِلِهِ وَخِصَالِهِ
مُخْتَصَرًا وَافِيًا وَمُوجَزًا شَافِيًا
فَبَاتَ الْعَاشِقُ الْهَائِمُ الْمَهْجُورُ
إِذَا فَقَدَ الْوِصَالَ يَتَسَلَّى بِذِكْرِ
الدَّارِ وَالْخَالِ وَيَتَعَلَّلُ بِوَصْفِ
الْجَمَالِ وَتَذْكَارِ الْخِصَالِ وَمَعَ
ذٰلِكَ فَأَرْجُوا بِهِ الثَّوَابَ وَ
النَّجَاةَ مِنَ الْعَذَابِ وَالشَّفَاعَةَ
مِنْ حَبِيبِ رَبِّ الْأَرْبَابِ وَالدُّعَاءَ
مِنَ الطُّلَّابِ وَالْأَحْبَابِ كَيْفَ
وَلَا وَسِيلَةَ لِي مِنْ حُسْنِ الْعَمَلِ
وَالْعُمْرُ مَصْرُوفٌ فِي الْمَعَاصِي
وَالزَّلَلِ فَتَمَسَّكْتُ بِذِكْرِ مَدَائِحِهِ
وَفَضَائِلِهِ تَقَبَّلَ اللّٰهُ عَنِّي
وَعَنْ جَمِيعِ الْمُسْلِمِينَ وَالْحَمْدُ
لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.
وَلَمَّا كَانَ الْكِتَابُ الْمُسْتَطَابُ
الشَّمَائِلُ لِأَبِي عِيسَى التِّرْمِذِيِّ
وَالشِّفَاءُ لِقَاضِي عِيَاضٍ رَحِمَهُمَا
اللّٰهُ الْفَيَّاضُ أَجْمَعَ وَأَضْبَطَ
فِي هٰذَا الْبَابِ فَالْتَقَطْتُ مِنْهُمَا

نو ما اراده اوکړه چه د هغوئ د اوصافو او
اعلیٰ اخلاقو او عاداتو نه دومره قدر راجمع کړم
چه مختصر دی خو کافی شافی دی. ځکه چه حیران
او هجران وهلے عاشق چه د وصال نه محروم دی نو
د محبوب کور او د صفهٔ خط و خال را یاد وی.
او د محبوب د ښائست او اخلاقو په یادولو
زړهٔ ته تسلی ورکوی. او سره د دے زهٔ
د الله تعالیٰ نه د ثواب طمع لرم او د عذاب نه خلاصے
غواړم. او د حبیب د رب الارباب د شفاعت
طمع لرم. او د طالبانو او دوستانو نه د
دعا امید لرم. او د طمع به ولے نهٔ کوم چه د نیک
عمل څه پنګه راسره نشته. عمرم ټول په ګناهونو
او غلطو کښے تیر شو. نو د شمائلو لمن م ټینګه کړه
او د حضور په صفت کولو او فضائلو ذکر کولو م منګولے
ښخے کړے. الله تعالیٰ دے زما او ټولو مسلمانانو
د طرفه قبول کړی. والحمد لله رب العالمین
هر کله چه د ابو عیسیٰ ترمذی کتاب شمائل
او د قاضی عیاض کتاب الشفاء په
دے باب کښے ډیر جامع او مستند
دو. نو ما هم د دے دواړو نه دومره
قدر انتخاب اوکړو. چه

مَا يُغْنِيْ الطَّالِبَ الْمُشْتَاقَ وَ
يَشْفِيْ بِهِ الْمَهْجُوْرَ الْمُشْتَاقَ
فَلْنَبْدَأْ بِحَدِيْثِ الْحَسَنِؓ بْنِ
عَلِيٍّؓ عَنْ هِنْدٍ فَإِنَّهٗ فِيْ غَايَةِ
الْفَصَاحَةِ وَالْبَلَاغَةِ وَ اَقْصٰى
دَرَجَةِ تِبْيَانِ خَصَائِصِ مَعْدَنِ
النُّبُوَّةِ وَالرِّسَالَةِ عَلَيْهِ مِنَ
الصَّلٰوةِ وَالسَّلَامِ اَتَمُّهُمَا وَ
اَكْمَلُهُمَا اَقُوْلُ رَوَى الْقَاضِيْ
بِإِسْنَادِهِ الْمُعَنْعَنِ الْمُتَّصِلِ إِلٰى
عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ وَهُوَ الْإِمَامُ الْهُمَامُ
زَيْنُ الْعَابِدِيْنَ اَنَّهٗ قَالَ قَالَ الْحَسَنُ
بْنُ عَلِيٍّ سَأَلْتُ خَالِيْ هِنْدَ بْنَ
اَبِيْ هَالَةَ عَنْ حِلْيَةِ رَسُوْلِ اللهِ
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ وَ
صَّافًا وَ اَنَا اَرْجُوْ اَنْ يَصِفَ لِيْ
مِنْهَا شَيْئًا اَتَعَلَّقُ بِهٖ قَالَ كَانَ
النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخْمًا

مشتاق طالب او عاشق مهجور د
نورو کتابونو نه بے نیازه کړی
نو شروع کوم د حسن بن علیؓ د
حدیث نه چه هغه د هند نه
روایت کړے دے۔ کوم چه د فصاحت
او بلاغت انتهائی اعلیٰ درجے ته رسیدلے
دے۔ او د معدنِ نبوت او رسالت
یعنی نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خصوصیاتو
او صفاتو بیانولو کښې ډیر کامل دے۔ نو دایم
چه قاضی عیاض پخپل معنعن سند چه علی
بن حسینؓ ته رسیدلے دے۔ او د هغه لقب
امام زین العابدین دے۔ هغه وائی چه ما د
خپل ماما هند بن هاله نه د نبی کریم صلی الله
علیه وسلم د حُلیے تپوس اوکړو۔ او هغهٔ به
کثرت سره د حضور صلی الله علیه وسلم د
اوصافو ذکر کولو۔ زما دا طمع وه چه هغه به
ما ته د حضورؐ دا ف اوصاف بیان کړی چه زهٔ ئے حیثه
یاد اولرم۔ هغه اوئیل نبی کریمؐ خپله عظیم وو۔

ف: ابوهاله د حضرت خدیجےؓ د مخکینی خاوند نوم دے۔ هند ئے د هغهٔ نه ځوئے دے۔ نو
د حضرت فاطمےؓ نا ځکه رور او د امام حسنؓ ناځکه ماما دے۔

Scanned with CamScanner

مُفَخَّمًا يَتَلَأْلَأُ وَجْهُهٗ تَلَأْلُؤَ
الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ اَطْوَلُ مِنَ
الْمَرْبُوْعِ وَاَقْصَرُ مِنَ الْمُشَذَّبِ
عَظِيْمُ الْهَامَةِ رَجِلُ الشَّعْرِ
اِنِ انْفَرَقَتْ عَقِيْقَتُهٗ فَرَقَ
وَاِلَّا فَلَا - يُجَاوِزُ شَعْرُهٗ شَحْمَةَ
اُذُنَيْهِ اِذَا هُوَ وَفَّرَهٗ اَزْهَرُ
اللَّوْنِ وَاسِعُ الْجَبِيْنِ اَزَجُّ
الْحَوَاجِبِ سَوَابِغَ مِنْ غَيْرِ
قَرَنٍ بَيْنَهُمَا عِرْقٌ يُدِرُّهُ
الْغَضَبُ اَقْنَى الْعِرْنِيْنِ لَهٗ
نُوْرٌ يَعْلُوْهُ يَحْسَبُهٗ مَنْ
لَمْ يَتَأَمَّلْهُ اَشَمَّ
كَثُّ اللِّحْيَةِ اَدْعَجُ

اود خلقو په نظر کښې هم عظیم دو - د
هغهٔ مخ مبارک داسې پرقیدو لکه د
څوارلسم سپوږمۍ چه پرقیږی - د
هغوئ قد مبارک درمیانه دو - دلنډی نه
اوچت او د ډیر دنګ نه کم - سر مبارک ئې
اعتدال سره غټ دو - ویښتهٔ مبارک ئې هوار
لږ غونډې تاؤ شوی دو - که د سر په ویښتو
کښې به ئې خپله ځیله اووته نو ده به که نهٔ دی
نهٔ به ده - (د اسلام په ابتداء کښې ئې داطریقه
ده بیا به ئې قصدًا لیکه ویسته) د هغوئ د سر
ویښتهٔ به د غوږ د نرمې نه اوږده نهٔ وو - چه پریښی
به ئې وو - رنګ مبارک ئې پرقیدارو - تندې ئې فراخ
دو - روزې مبارکې ئې ډکې وې - او یو بل سره نږدې
دې - بالکل یو ځائې نهٔ وې - د دواړو تر مینځه
یوه رګ دو - چه د غصې په وخت کښې به را اوچت
شو - پوزه مبارکه ئې اوچته ده - د ریاندې
به یو نور دو - په ډیر سری نظر ئې
پوزه اوږده ښکاریده - ږیره مبارکه
ئې درنه او تکه توره وه -

سَهْلُ الْخَدَّيْنِ ضَلِيْعُ
الْفَمِ اَشْنَبُ مُفَلَّجُ الْاَسْنَانِ

اننګې مبارکې ئې ډیر ډک نهٔ وو - خوله مبارکه ئې
اعتدال سره فراخه ده - غاښونه مبارک ئې

| | |
|---|---|
| دَقِيقُ الْمَسْرُبَةِ كَأَنَّ عُنُقَهُ | پر قتدار دوه - یو بل پورے بخت |
| | نه دو۔ تر مینځه ئے نرئ نرئ جدائی |
| جِيدُ دُمْيَةٍ فِي صَفَاءِ الْفِضَّةِ | ده - څټ مبارک ئے داسے دو لکه |
| | چه په قلم جوړه دی - په صفائی لکه |
| مُعْتَدِلُ الْخَلْقِ بَادِنًا مُتَمَاسِكًا | د سپینو زرو په شان دو - بدن مبارک |
| | ئے درمیانه او کو تلے ډک دو - |
| سَوَاءُ الْبَطْنِ وَالصَّدْرِ مُشِيحُ | سینه مبارکه او خیټه ئے یو برابر وے۔ |
| | (خیټه ئے راوتی غټه نه ده ) |
| الصَّدْرِ بَعِيدُ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ | بلکه سینه ئے تر لوړه اوچته ده - اوږے |
| | ئے پلنے وے - جوړونه ئے مضبوط دو۔ |
| ضَخْمُ الْكَرَادِيسِ أَنْوَرُ الْمُتَجَرَّدِ | کمپاے یه ئے نه دی اغوستی نو بدن |
| | مبارک به ئے روښانه پرتیده - د |
| مَوْصُولُ مَا بَيْنَ اللَّبَّةِ وَالسُّرَّةِ بِشَعْرٍ | مرئ نه تر نامه ئے د ویښتو یو |
| | نرئ لیکه ده - دے لیکے نه |
| يَجْرِي كَالْخَطِّ عَارِي الثَّدْيَيْنِ مَا | علاوه ئے په سینه نور |
| | ویښته نه دو - لیچے ئے د |
| سِوَى ذٰلِكَ أَشْعَرُ الذِّرَاعَيْنِ وَالْمَنْكِبَيْنِ | ویښتو نه ډکے وے - په اوږو |
| | او د سینے په اوچته حصه ئے |
| وَأَعَالِي الصَّدْرِ۔ | لږ لږ ویښته دو - |
| طَوِيلُ الزَّنْدَيْنِ رَحْبُ الرَّاحَةِ | لیچے ئے اوږدے وے - د لاس تلے |
| شَثْنُ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ | ئے فراخ دو - د لاسونو تلی |

سَائِلُ الْأَطْرَافِ أَوْ قَالَ شَائِلُ
الْأَطْرَافِ ـ سَبْطُ الْعَصَبِ خُمْصَانُ
الْأَخْمَصَيْنِ مَسِيحُ الْقَدَمَيْنِ يَنْبُو
عَنْهُمَا الْمَاءُ إِذَا زَالَ زَالَ
تَقَلُّعًا وَيَخْطُو تَكَفُّؤًا وَيَمْشِي هَوْنًا
ذَرِيعَ الْمِشْيَةِ إِذَا مَشَى كَأَنَّمَا
يَنْحَطُّ مِنْ صَبَبٍ إِذَا الْتَفَتَ
الْتَفَتَ جَمِيعًا خَافِضُ الطَّرْفِ
نَظَرُهُ إِلَى الْأَرْضِ أَطْوَلُ مِنْ نَظَرِهِ إِلَى
السَّمَاءِ جُلُّ نَظَرِهِ الْمُلَاحَظَةُ يَسُوقُ
أَصْحَابَهُ وَيَبْدَأُ مَنْ لَقِيَهُ بِالسَّلَامِ

او د ښېو پنجې ئې ډکې وې ـ د لاسو
ښپو ګوتې ئې اوږدې وې ـ پټې ئې
مضبوطې وې ـ د ښپو تلی ئې ډوب وو ـ
(په تلو کښې په زمکه نه لګېدو)
ښپې مبارکې ئې داسې صفا او غوړې
وې ـ چه اوبه به په خوېدې ـ
قدم چه به ئې اوچتولو مضبوط
به ئې اوچتولو ـ او چه کېښودو
به ئې په قلار به ئې کېښودو ـ د
تواضع په وجه به مخ ته لږ ټيټېدو ـ
په تلو کښې به داسې ښکارېده لکه چه
په اترائی کوزېږی ـ په ترس شی ـ
نه چه به ئې کتل نو پوره به مخ
نه راواړېدو ـ (د سترګو په ګوټ کښې
ئې نه کتل) نظر به ئې ټيټ
وو ـ زمکې ته کتل ئې د ډېره کتو نه
زيات وو ـ عام عادت ئې په
ټيټ نظر کتل وو ـ (ښېغ ښېغ ئې چا ته
نه کتل) په تلو کښې به ئې اصحاب ځان
نه مخکښې کول ـ څوک چه به ئې اوليدل
سلام کښې به په مخکښې کېدو ـ

قُلْتُ صِفْ لِيْ مَنْطِقَهٗ قَالَ
كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَوَاصِلَ الْاَحْزَانِ
دَائِمَ الْفِكْرَةِ لَيْسَتْ لَهٗ
رَاحَةٌ وَلَا يَتَكَلَّمُ فِيْ غَيْرِ ۲
حَاجَةٍ طَوِيْلَ السُّكُوْتِ
يَفْتَتِحُ الْكَلَامَ وَيَخْتِمُهٗ
بِاَشْدَاقِهٖ وَيَتَكَلَّمُ بِجَوَامِعِ
الْكَلِمِ فَصْلًا لَا
فُضُوْلَ فِيْهِ وَلَا تَقْصِيْرَ
دَمِثًا لَيْسَ بِالْجَافِيْ وَلَا
الْمَهِيْنِ يُعَظِّمُ النِّعْمَةَ
وَاِنْ دَقَّتْ لَا يَذُمُّ
مِنْهَا شَيْئًا غَيْرَ اَنَّهٗ لَمْ
يَكُنْ يَذُمُّ ذَوَاقًا وَلَا يَمْدَحُهٗ
وَلَا يُقَامُ بِغَضَبِهٖ اِذَا تُعُرِّضَ
لِلْحَقِّ بِشَيْءٍ حَتّٰى يَنْتَصِرَ لَهٗ ۳
وَلَا يَغْضَبُ لِنَفْسِهٖ وَلَا يَنْتَصِرُ
لَهَا وَاِذَا اَشَارَ اَشَارَ بِكَفِّهٖ
كُلِّهَا وَاِذَا تَعَجَّبَ قَلَبَهَا وَاِذَا
تَحَدَّثَ اِتَّصَلَ بِهَا

ما ورته اووئیل دخضور نې دخبرو څه
حال راته اووایه ـ هغهٔ اووئیل حضور
صلی اللّٰه علیه وسلم به همیشه دآخرت په غم کښ
او دآخرت په فکرکښ وو ـ هیڅ وخت به ئې آرام
نهٔ وو ـ بې ضرورته ئې خبرې نهٔ کولې زیات به
خاموش وو ـ شروع نه تر آخره به ئې خبرې په ډیرې
فصاحت ـ کلام به ئې جامع وو ـ (یعنی الفاظ کم او
مطلب به ئې ډیر وو) کلام به ئې واضح وو ـ نهٔ به
درکښ فضول الفاظ وو ـ او نهٔ به کم وو ـ نرم
ګفتار وو ـ نه ئې سخت خبرې کولې او نهٔ ئې
دمخاطب توهین کولو ـ دنعمت به ئې قدر
کولو ـ اګرچه ډیر وړکے نعمت به وو ـ
هیڅ شی ته ئې خراب نه ویئیل ـ دخوراک
دڅیز به ئې نهٔ صفت کولو ـ او نهٔ
به ئې ورته خراب ویئیل ـ
او که چا به دحق خبرې لره غوندې مخالفت اوکړو
نو دحضور دغصې طاقت به هیچا ته لرو ـ
ترڅو چه به ئې هغه حق غالب کړے
نهٔ وو ـ دخپل ځان دپاره به نهٔ
غصه کیدو او نهٔ به ئې دچا نه خپل
بدل اخستو ـ او کله چه به ئې

فَضَرَبَ بِاِبْهَامِهِ الْيُمْنٰى
رَاحَتَهُ الْيُسْرٰى وَاِذَا
غَضِبَ اَعْرَضَ وَ اَشَاحَ
وَاِذَا فَرِحَ غَضَّ طَرْفَهُ
جُلُّ ضِحْكِهِ التَّبَسُّمُ وَيَفْتَرُّ
عَنْ مِثْلِ حَبِّ الْغَمَامِ
قَالَ الْحَسَنُ فَكَتَمْتُهَا عَنِ
الْحُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا
زَمَانًا ثُمَّ حَدَّثْتُهُ فَوَجَدْتُهُ
قَدْ سَبَقَنِيْ اِلَيْهِ فَسَأَلَ اَبَاهُ
عَنْ مَدْخَلِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

څه شی ته اشاره کوله په ټول لاس به ئے کوله
اوکله چه به ئے د تعجب اظهار کولو لاس به ئے
اپوته کړو - اوکله چه به ئے څه خبره کوله - د
ښی لاس غټه گوته به ئے د گس لاس په تلی
کینوه اوکله چه به غصه شو مخ به ئے واړولو
اواړخ به ئے بدل کړو - اوکله چه به خوشال
شو سترگے به ئے ټیټے کړے - اکثر د
حضور خندا صرف مسکے کیدل وو -
او چه غاښونه به ئے ښکاره
شو - دا سے سپین به ښکیدو
لکه د ږلیو دانے
(دویم وصل = د حضورؐ د اوقاتو تقسیم
او طرز معاشرت په بیان کښ) - حسن رض
اووئیل ما دا روایت څه موده د حسین
بن علی رض نه پټ اوساتلو - بیا چه کله م
ورته بیان کړو - نو معلومه شوه
چه هغه زمانه د حضورؐ په حالاتو
معلومولو کښی مخکښی شوے وو -
نو د خپل پلار نه ئے د
رسول الله صلی الله علیه
وسلم کور ته ننوتو.

وَ مَخْرَجِهٖ وَ مَجْلِسِهٖ وَشَكْلِهٖ
فَلَمْ يَدَعْ مِنْهُ شَيْئًا
قَالَ الْحُسَيْنُ سَأَلْتُ أَبِيْ
رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنْ دُخُوْلِ
رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فَقَالَ كَانَ دُخُوْلُهٗ لِنَفْسِهٖ
مَأْذُوْنًا لَهٗ فِيْ ذٰلِكَ فَكَانَ إِذَا
أَوٰى إِلٰى مَنْزِلِهٖ جَزَّءَ
دُخُوْلَهٗ ثَلَاثَةَ أَجْزَاءٍ
جُزْءً لِلّٰهِ وَ جُزْءً لِأَهْلِهٖ وَجُزْءً
لِنَفْسِهٖ ثُمَّ جَزَّءَ جُزْءَهٗ بَيْنَهٗ وَبَيْنَ

او کور ته دا اووتو۔ او د
هغوئ د مجلس او د هغوئ
د حُلئے متعلق هر څه ئے معلوم
کړی دو۔ هیڅ شے نه ئے دو پرېښے۔
حسین رض اوفرمائیل ما د پلار
نه د رسول الله صلی الله
علیه وسلم کور ته د
ننوتو د حال تپوس اوکړو۔
نو هغوئ را ته
اووے چه حضور صلی الله
علیه وسلم ته د
خپلو ضروریاتو خوراک
څښاک وغیره دپاره کور ته
د ننوتو د الله تعالیٰ د طرف
نه اجازت دو۔ نو هغوئ چه به
کورته ننوتو۔ دکور دننه وخت
به ئے په درے حصو کښې تقسیم کړو۔
یو حصه د الله تعالیٰ دعبادت دپاره
یو حصه د کوروالوو د ضروریاتو
دپاره او یو حصه د خپلو ضرورو

النَّاسَ خَاصَّةً ذٰلِكَ عَلَى الْعَامَّةِ
بِالْخَاصَّةِ وَلَا يَدَّخِرُ عَنْهُمْ
شَيْئًا وَكَانَتْ مِنْ سِيرَتِهِ
فِي جُزْءِ الْأُمَّةِ إِيثَارُ أَهْلِ
الْفَضْلِ بِإِذْنِهِ وَقَسْمِهِ عَلَى
قَدْرِ فَضْلِهِمْ فِي الدِّينِ فَمِنْهُمْ
ذُو الْحَاجَةِ وَمِنْهُمْ ذُو الْحَاجَتَيْنِ
وَمِنْهُمْ ذُو الْحَوَائِجِ فَيَتَشَاغَلُ بِهِمْ
وَيَشْغَلُهُمْ فِيمَا أَصْلَحَهُمْ وَالْأُمَّةَ
مِنْ مَسْأَلَتِهِ عَنْهُمْ وَإِخْبَارُهُمْ بِالَّذِي
يَنْبَغِي لَهُمْ وَيَقُولُ لِيُبَلِّغِ
الشَّاهِدُ مِنْكُمُ الْغَائِبَ

او لږ آرام د پاره - یا خپله هغه هم
به ئې په خپل خاصانو او خلقو کښې
تقسیم کړه - نو په دې کښې به ئې
لپاره هغه عامو خلقو او
او خاصو اصحابو کښې صرف کړه.
او هیڅ وخت به ئې ورنه نه
پټ کولو. (یعنې ټول وخت به ئې د
امت د عوامو او خواصو په کارونو
کښې لګولو) او د امت د وخت په
حصه کښې د هغوی عادت دا وو
چې اهل علم ته به ئې په
نورو ترجیح ورکوله - د هغوی د علم
دین په اندازه - نو په دوی کښې به
د چا یو حاجت وو - د چا دوه د چا
زیات - نو حضور به دوی سره د دوی
په کارونو کښې مصروف شو - او هغوی به
ئې داسې کارونو کښې اولګول چې د هغوی او د ټول
امت د فائدې کارونه به وو - (یعنې هغوی به
د دین خبرې زده کړې او هغه به ئې بیا نورو ته
اورسولې) حضور به ورته فرمایل - موجود
کسان دې غیر حاضرو ته خبر ورکړي -

وَاَبْلِغُوْنِیْ حَاجَةَ مَنْ لَّا یَسْتَطِیْعُ
اِبْلَاغِیْ حَاجَتَهٗ فَاِنَّهٗ مَنْ اَبْلَغَ
سُلْطَانًا حَاجَةَ مَنْ لَّا
یَسْتَطِیْعُ اِبْلَاغَهَا ثَبَّتَ اللّٰهُ قَدَمَیْهِ
یَوْمَ الْقِیَامَةِ عَلَی الصِّرَاطِ لَا یُذْکَرُ
عِنْدَهٗ اِلَّا ذٰلِكَ وَلَا یَقْبَلُ مِنْ
اَحَدٍ غَیْرَهٗ وَفِیْ حَدِیْثِ
سُفْیَانَ عَنْ وَکِیْعٍ قَالَ
عَلِیٌّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ یَدْخُلُوْنَ
رُوَّادًا وَّلَا یَنْصَرِفُوْنَ عَنْهُ
اِلَّا عَنْ ذَوَاقٍ وَ یَخْرُجُوْنَ
اَدِلَّةً یَعْنِیْ فُقَهَاءَ

قُلْتُ فَاَخْبِرْنِیْ عَنْ مَخْرَجِهٖ

کَیْفَ یَصْنَعُ فِیْهِ قَالَ کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَخْزُنُ

لِسَانَهٗ اِلَّا مِمَّا یَعْنِیْهِمْ وَیُؤَلِّفُهُمْ

او حضور به فرمائیل ماته را رسوئی حاجت
دهغه چا چه خپله ئے ماته درا رسولو طاقت
نه لری ځکه چه څوک چه حاکم ته دهغه چا
حاجت اورسوی چه څوک ئے خپله نشی رسوے
الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ په پل صراط
دهغه قدمونه مضبوط کړی - د حضور
په مجلس کښی به هم داسے خبرے کیدے د نورو
خبرو اجازت نه وو - او سفیان د وکیع نه
روایت کړے دے چه علی اوویل چه خلق
به خپلو حاجتو تو دپاره د حضور مجلس
ته ورتلل او واپس کیدل به پدا حال کښی چه څه
علمی فائده به ئے حاصله کړی وه - نو واپس به
شو - هدایت یافته یعنی عالمان -

امام حسین فرمائی ما پلار ته
اوویل د حضور بهر ته را وتو
حال راته اووایه - چه څه به
ئے - هغه اوویل رسول الله صلی
الله علیه وسلم به خپله ژبه
د فضول خبرو نه بچ ساتله صرف
د خلقو د فائدے خبرے به ئے کولے -
او د هغوئی اتفاق به ئے راوستو

وَلَا يُفَرِّقُهُمْ وَيُكْرِمُ كَرِيْمَ
كُلِّ قَوْمٍ وَيُوَلِّيْهِ عَلَيْهِمْ وَ
يُحَذِّرُ النَّاسَ وَيَحْتَرِسُ مِنْهُمْ
مِنْ غَيْرِ اَنْ يَّطْوِيَ عَنْ اَحَدٍ
بِشْرَهٗ وَخُلُقَهٗ وَيَتَفَقَّدُ
اَصْحَابَهٗ وَيَسْأَلُ النَّاسَ عَمَّا
فِي النَّاسِ وَيُحَسِّنُ الْحَسَنَ
وَيُصَوِّبُهٗ وَيُقَبِّحُ الْقَبِيْحَ وَ
يُوَهِّنُهٗ مُعْتَدِلَ الْاَمْرِ غَيْرَ
مُخْتَلِفٍ لَا يَغْفُلُ مَخَافَةَ
اَنْ يَّغْفُلُوْا اَوْ يَمَلُّوْا

صحابو کښې به ئې اختلاف نه پیدا
کولو ـ او د هر قوم د سردار عزت به
ئې کولو ـ او په صحابو به ئې حاکم
کولو ـ او خلق به ئې د شر د کارونو
منع کول ـ او ځان به ئې هم د
خلقو د شر نه بچ کولو ـ او
په خپله خوش اخلاقئ کښې
به ئې فرق نهٔ راوستو ـ او د
خپلو اصحابو د حال نه به ئې
ځان خبرولو ـ او د واقعاتو
تپوس به ئې کولو (چې د مظلوم
امداد اوکړی او ظالم منع کړی)
د ښهٔ کار به ئې صفت کولو ـ
او شاباش به ئې ورکولو ـ
خراب کار ته به ئې بد وئیل ـ
او ملامته کول به ئې ـ د صحابو
کار کښې اعتدال وو ـ بې انتظامي
نهٔ وه ـ د خلقو په تعلیم کښې
به ئې سستي نهٔ کوله ـ چې خلق
دین نه غافل نشي یا دین نه
بد دله نشي ـ

لِكُلِّ حَالٍ عِنْدَهُ عَتَادٌ لَا يُقَصِّرُ عَنِ
الْحَقِّ وَلَا يُجَاوِزُهُ إِلَى غَيْرِهِ الَّذِيْنَ
يَلُوْنَهُ مِنَ النَّاسِ خِيَارُهُمْ أَفْضَلُهُمْ
عِنْدَهُ أَعَمُّهُمْ نَصِيْحَةً وَأَعْظَمُهُمْ عِنْدَهُ
مَنْزِلَةً أَحْسَنُهُمْ مُوَاسَاةً وَمُؤَازَرَةً
فَسَأَلْتُهُ عَنْ مَجْلِسِهِ عَمَّا كَانَ يَصْنَعُ
فِيْهِ فَقَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
لَا يَجْلِسُ وَلَا يَقُوْمُ
إِلَّا عَلَى ذِكْرٍ وَلَا يُوَطِّنُ
الْأَمَاكِنَ وَيَنْهَى عَنْ إِيْطَانِهَا

د هر حال دپاره یو خاص انتظام
دو . په حق ویناکښې ئې کوتاهي نه
کوله . او غیر حق ته ئې
تجاوز نه کولو . هغوئ ته
مقرب په ټولو کښې بهتر کسان
دو . هغوئ سره ټولو کښې
افضل هغه څوک دو . چه د
خلقو به زیات خیرخواه او
خلقو ته به ډیره فائده رسوونکې
دو . بیا ما هغوئ نه تپوس
اوکړو د هغوئ د مجلس چه
څه به ئې کول پکښې هغوئ
اوو ئیل حضور صلّی الله علیه
وسلم به چه مجلس ته کیناستو
هم د الله تعالیٰ ذکر به ئې کولو
او چه به پاسیدو هم
ذکر به ئې کولو . او کیناستو
دپاره به ئې خاص ځائې
نه مقرر کولو . او خلق
به ئې هم ځائې مقرر
کولو نه منع کول .

وَإِذَا انْتَهَى إِلَى الْقَوْمِ جَلَسَ
حَيْثُ يَنْتَهِي بِهِ الْمَجْلِسُ
وَيَأْمُرُ بِذَالِكَ وَيُعْطِي كُلَّ
جُلَسَائِهِ نَصِيبَهُ حَتَّى لَا يَحْسَبُ
جَلِيسُهُ أَنَّ أَحَدًا أَكْرَمُ عَلَيْهِ
مِنْهُ مَنْ جَالَسَهُ أَوْ قَاوَمَهُ
لِحَاجَةٍ صَابَرَهُ حَتَّى يَكُونَ
هُوَ الْمُنْصَرِفُ مَنْ سَأَلَهُ
حَاجَةً لَمْ يَرُدَّهُ إِلَّا بِهَا أَوْ بِمَيْسُورٍ
مِنَ الْقَوْلِ وَقَدْ وَسِعَ النَّاسَ
بَسْطُهُ وَخُلُقُهُ فَصَارَ لَهُمْ أَبًا

او چه دیو قوم د غونډے
ځائے ته به ورسیدو نو
کوم ځائے پورے چه به
خلق ناست وو ۔ هغوئ به
د ټولو په آخر کښې کیناستو ۔
او خپلو اصحابو ته ئے هم
د داسے کولو حکم کولو او خپل
مجلس کښې ناست هر سړی
ته به ئے د توجه پوره برخه
ورکوله تر دے چه د هر
سړی به دا خیال وو چه
ما ته ګران ورته بل نشته
او چا چه به څه د
ضرورت د پاره کینولو یا
به ئے اودرلو نو ترڅو چه
به هغه بنده خپله واپس شوے نه
وو ۔ حضور به ورسره قید وو ۔ که چا به
ورنه څه شے اوغوښتو نو تش به ئے نه واپس
کولو یا به ئے هغه شے ورکړو یا به ئے په خوږه
خبره رخصت کړو ۔ او د هغوئ سخاوت او خندہ
روئ دومره عامه شوه چه د ټولو پلار شو

وَمَا رُدُّوا عِنْدَهُ فِي الْحَقِّ
مُتَقَارِبِيْنَ مُتَفَاضِلِيْنَ بِالتَّقْوٰى
وَفِي رِوَايَةٍ اُخْرٰى مَا رُدُّوا
عِنْدَهُ فِي الْحَقِّ سَوَاءٌ
مَجْلِسُهُ مَجْلِسُ حِلْمٍ وَّعِلْمٍ وَّ
حَيَاءٍ وَّصَبْرٍ وَّ اَمَانَةٍ لَا
تُرْفَعُ فِيْهِ الْاَصْوَاتُ وَلَا تُوْبَنُ
فِيْهِ الْحُرَمُ وَلَا تُنْثٰى فِيْهِ فَلَتَاتُهُ
يَتَعَاطَفُوْنَ بِالتَّقْوٰى مُتَوَاضِعِيْنَ
يُوَقِّرُوْنَ فِيْهِ الْكَبِيْرَ وَيَرْحَمُوْنَ الصَّغِيْرَ
وَيَرْفِدُوْنَ ذَا الْحَاجَةِ

او خلق د هغهٔ په نزد په حق
کښې یوشان دو - البته د تقوی
په وجه ئې په یو بل فضیلت
دو - او په بل روایت کښې دا
الفاظ دی - خلق د هغهٔ په نزد
په حق کښې برابر دو - (مطلب
د دواړو یو دے صرف الفاظو کښې
فرق دے)
د هغوی مجلس د حلم او علم
او حیا او صبر او امانت
مجلس دو - په اوچت آواز
پکښې خبرے نهٔ کیدے - د
چا په عزت پکښې داغ نهٔ
لګیدو - د چا غلطئ نهٔ
شوے خورګندولے - د تقوی
په وجه ئې یو بل سره
مینه او تواضع کوله -
د مشرانو به پکښې عزت
کیدو - او په کشرانو به
رحم کیدو - او د حاجتمن
به امداد کیدو -

وَيَرْحَمُوْنَ الْفَقِيْرَ فَسَأَلْتُهُ عَنْ سِيْرَتِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ جُلَسَائِهٖ فَقَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَائِمَ الْبِشْرِ سَهْلَ الْخُلُقِ لَيِّنَ الْجَانِبِ لَيْسَ بِفَظٍّ وَلَا غَلِيْظٍ وَلَا صَخَّابٍ وَلَا فَحَّاشٍ وَلَا عَيَّابٍ وَلَا مَدَّاحٍ يَتَغَافَلُ عَمَّا لَا يَشْتَهِيْ وَلَا يُؤْيِسُ مِنْهُ قَدْ تَرَكَ نَفْسَهٗ عَنْ ثَلَاثٍ اَلرِّيَاءِ وَالْإِكْثَارِ وَمَا لَا يَعْنِيْهِ وَتَرَكَ النَّاسَ عَنْ ثَلَاثٍ كَانَ لَا يَذُمُّ اَحَدًا وَلَا يُعَيِّرُهٗ وَلَا يَطْلُبُ عَوْرَتَهٗ

او رحم به ئې کولو په بې وزلو (امام حسین
فرمائی) بیا مې ورنه تپوس اوکړو چه
د حضورؐ د خپل مجلس دکسانو سره سلوک
څنګه وو۔ هغهٔ اووئے۔ رسول الله
صلی الله علیه وسلم همیشه خنده
رویه۔ نرم خویه۔ آسانئ سره
ملګرے کیدونکے وو۔ سخت خویه
او سخت خبرے کوونکے نهٔ وو۔ نهٔ ئې
چغې ویستې۔ نهٔ ئې خرابې خبرې
کولې۔ او نهٔ ئې د چا عیبونه
بیانول او نهٔ ئې د چا صفتونه
کول۔ کومه خبره چه به ئې
خوښه نهٔ وه۔ په هغې به ئې ځان
ناخبره کړو۔ څوک ئې منع کول هم
نه۔ (خاموش به شو) درے
څیزونو نه ئې ځان بچ کړے وو۔ ریا[1]
زیرے[2] خبرے او بې فائدې[3] خبرې
او درے څیزونو نه ئې خلق بچ کړی
وو۔ د هیچا[1] ئې بد نهٔ وے۔
حیا[2] ئې پیغور ئې ورکولو او
د چا عیبونه[3] ئې نهٔ لټول۔

وَلَا يَتَكَلَّمُ إِلَّا فِيمَا يَرْجُو ثَوَابَهُ وَإِذَا
تَكَلَّمَ أَطْرَقَ جُلَسَاؤُهُ كَأَنَّمَا عَلَى
رُؤُوسِهِمُ الطَّيْرُ وَإِذَا سَكَتَ تَكَلَّمُوا
وَلَا يَتَنَازَعُونَ عِنْدَهُ الْحَدِيثَ
مَنْ تَكَلَّمَ عِنْدَهُ أَنْصَتُوا لَهُ
حَتَّى يَفْرُغَ حَدِيثُهُمْ حَدِيثُ
أَوَّلِهِمْ يَضْحَكُ مِمَّا يَضْحَكُونَ وَ
يَتَعَجَّبُ مِمَّا يَتَعَجَّبُونَ وَيَصْبِرُ
لِلْغَرِيبِ عَلَى الْجَفْوَةِ فِي الْمَنْطِقِ
وَيَقُولُ إِذَا رَأَيْتُمْ صَاحِبَ
الْحَاجَةِ يَطْلُبُهَا فَأَرْفِدُوهُ

او صرف هغه خبره به ئے کوله چه
دثواب طمع به وه پکښې اوکله چه به
حضورؐ خبرے کولے اصحابو به سرونه
ټيټ کړی وو۔ لکه چه په سرئے مرغه ناست
وی اوکله چه به غلی شو هغوئی به خبرے
کولے خو هغوئی مخکښې به ئے په خبره
یو بل سره بحث نهٔ کولو۔ چا چه به
حضورؐ سره څهٔ خبره کوله۔ اصحاب به
غلی وو۔ تردے چه هغه سړے به
فارغ شو۔ په مجلس کښې ناست
هر سړی خبره به ئے داسے په
مینه اوریده که د دړمبی سړی خبره
(یعنی د هیچا بے قدری ئے نهٔ کوله)
په کومه خبره چه به نورو خندل
هغوئی به هم خندل او په کومه خبره
چه به نورو تعجب کولو هغوئی به هم کولو
(یعنی خپلو ملګرو سره ئے مجلس کښې پوره شرکت
کولو) د ناواقفه کسانو په سختو خبرو
به ئے صبر کولو۔ او فرمائیل به ئے چه
څوک ضرورتمند اووینئ چه څهٔ
غواړی نو ضرورت ئے پوره کوئ۔

وَلَا يَطْلُبُ الثَّنَاءَ اِلَّا مِنْ مُكَافِئٍ وَ
لَا يَقْطَعُ عَلٰى اَحَدٍ حَدِيْثَهٗ حَتّٰى
يَتَجَوَّزَهٗ فَيَقْطَعُهٗ بِاِنْتِهَاءٍ اَوْ
قِيَامٍ وَفِيْ رِوَايَةٍ قُلْتُ كَيْفَ كَانَ
سُكُوْتُهٗ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ
كَانَ سُكُوْتُهٗ عَلٰى اَرْبَعٍ عَلَى الْحِلْمِ
وَالْحَذَرِ وَالتَّقْدِيْرِ وَالتَّفَكُّرِ فَاَمَّا
تَقْدِيْرُهٗ فَفِيْ تَسْوِيَةِ النَّظَرِ وَالْاِ
سْتِمَاعِ بَيْنَ النَّاسِ وَاَمَّا تَفَكُّرُهٗ
فَفِيْمَا يَبْقٰى وَيَفْنٰى وَجُمِعَ لَهُ الْحِلْمُ فِي
الصَّبْرِ فَكَانَ لَا يُغْضِبُهٗ شَيْءٌ يَسْتَفِزُّهٗ

او د خپل صفت کولو اجازت به ئے نه ورکولو
مګر صفت چا ته چه د احسان په بدله کښ به
ئے کولو په دے شرط چه د حد نه تجاوز
او نکړی - او د چا خبره به ئے نه پریکوله
تر څو چه به ئے د حد نه تجاوز نه وو
کړے که چا به د حد نه تجاوز اوکړو نو په
هغه به ئے خبره بس کړه - یا به تر حضورؐ
پاڅیدو - او په یو روایت کښ دی چه
ما تپوس اوکړو - د حضورؐ سکوت څنګه
وو - هغه یعنی حضرت علیؓ اووئیل - د
هغوئ سکوت په څلورو خبرو وو - په
په حلم په احتیاط په اندازه لګولو
په سوچ کولو - نو اندازه لګول ئے
دا وو چه په حاضرینو به ئے نظر
دا چولو - او د هغوئ په خبرو اوریدو
کښ به ئے د برابرئ خیال ساتلو او سوچ
به ئے په باقی او فانی کښ کولو - یعنی
د دنیا په فنا او د آخرت په بقا کښ او
یو ځائے کړے شوے وو - هغه د پاره
حلم د صبر سره نو هیڅ شی دا سے نشو
غصه کولے چه بے قابو شوے وو-

وَجُمِعَ لَهُ فِي الْحَذَرِ اَرْبَعٌ اَخْذُهُ
بِالْحَسَنِ لِيُقْتَدٰى بِهٖ وَتَرْكُهُ الْقَبِيْحَ
لِيُنْتَهٰى عَنْهُ وَاجْتِهَادُهُ الرَّأْيَ بِمَا اَصْلَحَ
اُمَّتَهُ وَالْقِيَامُ لَهُمْ بِمَا جَمَعَ لَهُمْ اَمْرَ الدُّنْيَا
وَالْاٰخِرَةِ اِعْلَمْ اَنَّ مِثْلَ هٰذِهِ الشَّمَائِلِ
وَرَدَ فِيْ اَحَادِيْثَ شَتّٰى عَنْ اَنَسٍ[1] وَاَبِي
هُرَيْرَةَ[2] وَبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ[3] وَعَائِشَةَ[4] وَ
اَبِيْ جُحَيْفَةَ[5] وَجَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ[6] وَاُمِّ مَعْبَدٍ[7]
وَابْنِ عَبَّاسٍ[8] وَمُعَرِّضِ بْنِ مُعَيْقِيْبٍ[9] وَ
اَبِي الطُّفَيْلِ[10] وَعَدَّاءِ بْنِ خَالِدٍ[11] وَخُرَيْمِ[12]
بْنِ فَاتِكٍ وَحَكِيْمِ بْنِ حِزَامٍ[13]

او جمع کړے شو هغهٔ ته په احتياط کښې
څلور څيزونه نيک کار خوښول چه نور
ئے هم اوکړي۔ او خراب شي ترک کول چه
نور هم ترې منع شي۔ او خپل سوچ په
هغه کار کښې صرف کول۔ چه امت د پاره
زيات مفيد دي۔ او د داسې کار خوښول
چه امت د پاره ورکښې د دنيا او
آخرت دواړو فائده دي۔

**(دريم وصل د اول وصل تتمه ده)**

ياد لرئ۔ د داشان شمائل په نورو
ګڼړو احاديثو کښې هم راغلي دي۔ د
انس[1] رض ته۔ د ابو هريرة[2] رض ته۔ د
براء بن عازب[3] رض ته د عائشه[4] رض ته
د ابو جحيفه[5] رض۔ د جابر بن سمره[6] ته
د ام معبد[7] رض ته۔ د ابن عباس[8] ته
د معرض بن معيقيب[9] رض ته
د ابو الطفيل[10] ته۔ د عداء[11] بن
خالد ته۔ د خريم[12] بن
فاتک ته۔
د حکيم[13] بن حزام ته۔

وَالْمُحْتَسِبُ بِذِكْرِ نُبَذٍ مِّنْهَا اَيْضًا فَقَالُوْا
رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِيْنَ. كَانَ رَسُوْلُ
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَزْهَرَ اللَّوْنِ
اَدْعَجَ اَنْجَلَ اَشْكَلَ اَهْدَبَ الْاَ
شْفَارِ اَبْلَجَ اَزَجَّ اَقْنٰى اَفْلَجَ
مُدَوَّرَ الْوَجْهِ كَاَنَّهٗ قِطْعَةُ
قَمَرٍ كَثَّ اللِّحْيَةِ تَمْلَاُ صَدْرَهٗ
سَوَاءَ الْبَطْنِ وَالصَّدْرِ وَاسِعَ الصَّدْرِ
عَظِيْمَ الْمَنْكِبَيْنِ ضَخْمَ الْعِظَامِ عَبْلَ
الذِّرَاعَيْنِ وَالْعَضُدَيْنِ وَالْاَسَافِلِ
رَحْبَ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ

نو موږ د ثواب حاصلولو په خيال د
هغې رواياتو نه هم څه حصه ذکر
کوو. نو هغې ټولو رضى الله عنهم ويلي
دى. چه د رسول الله صلى الله
عليه وسلم رنګ مبارک چمکدار وو.
سترګې ئې تورې او غټې غټې وې.
پکښې سره رګونه وو. باڼه ئې
اوږدې وې. د دواړو وروځو ترمينځه
ئې لږه فاصله وه. ورځې ئې خمدار
وې. پوزه ئې دنګه وه. د غاښونو
ترمينځه ئې لږه لږه فاصله وه.
(بالکل جخت نه وو) مخ مبارک ئې غونډ
وو. ګويا د سپوږمۍ ټوټه وه. ږيره
ئې ډکه وه. سينه ئې پټوله خيټه
او سينه ئې برابر وې. (خيټه ئې
غټه نه وه) سينه ئې فراخه وه.
اوږې ئې پلنې وې. هډوکې ئې
مضبوط وو. دواړه ليچې او مټې
او پنډۍ ئې ډکې وې. د
لاسونو تلې او د ښپو
پښې ئې ډکې وې.

دَقِيْقَ الْمَسْرُبَةِ رَبْعَةَ الْقَدِّ لَيْسَ بِا
الطَّوِيْلِ الْبَائِنِ وَلَا بِالْقَصِيْرِ الْمُتَرَدِّدِ
وَلَمْ يَكُنْ يُمَاشِيْهِ اَحَدٌ يُنْسَبُ اِلَى
الطُّوْلِ رَجُلَ الشَّعْرِ وَاِذَا اِفْتَرَّ ضَاحِكًا
اِفْتَرَّ عَنْ مِثْلِ سَنَا الْبَرْقِ وَعَنْ
مِثْلِ حَبِّ الْغَمَامِ وَاِذَا تَكَلَّمَ رُئِيَ
كَالنُّوْرِ يَخْرُجُ مِنْ بَيْنِ
ثَنَايَاهُ اَحْسَنَ النَّاسِ
عُنُقًا لَيْسَ بِمُطَهَّمٍ
وَلَا مُكَلْثَمٍ مُتَمَاسِكُ
الْبَدَنِ ضَرْبَ اللَّحْمِ

د سینې نه تر ناسه د ویښتو تړلې لیکه
وه - قد مبارک ئې درمیانه وو - نهٔ
ډیر اوږد نهٔ ډیر کم - چه اندامونه
ئې یو بل کښې ننوتي وو - په رفتار
کښې درته هیڅوک نشو رسیدے -
(یعنی رفتار تیز وو خو بے تکلفه)
حضورؐ د ټګ نهٔ وو - خو ډنګ به
ښکاریده - (ډنګ درته د پیلے
شو) دیبسته ئې لږ غونډے
خمدار وو - کله چه به ئې خندا
کښې غاښ مبارک ښکاره شو - نو
چمک به ئې کولو - د ږلئ د دانو
په شان سپین وو - او کله چه
به ئې خبرے کولے - نو داسے به
ښکاریدو لکه چه غاښ د وو
غاښونو نه ئې رڼا راووځی - غاړه
مبارک ئې ټولو خلقو نه ډیر
ښائسته وو - غاړه مبارک ئې نهٔ پړسیدلے
وه او نهٔ ډیر غونډ وه بلکه
غوښې والی ته مائل وو بدن مبارک ئې
کوټلے وو - خو کلک او غوښینه په نهٔ وه -

وَفِيْ رِوَايَاتٍ اُخَرَ سَجِرَ الْعَيْنِ ضَخْمَ
الْمُشَاشِ اِذَا وَطِئَ بِقَدَمٍ وَطِئَ بِكُلِّهَا
لَيْسَ لَهٗ اَخْمَصُ هٰذَا كُلُّهٗ خُلَاصَةُ مَا فِي
الشِّفَاءِ وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ فِيْ شَمَائِلِهٖ عَنْ
اَنَسٍ كَانَ حَبِيْبُنَا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَثْنَ
الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ ضَخْمَ الرَّأْسِ ضَخْمَ
الْكَرَادِيْسِ لَمْ يَكُنْ بِالطَّوِيْلِ الْمُمَغَّطِ
وَلَا بِالْقَصِيْرِ الْمُتَرَدِّدِ كَانَ فِيْ وَجْهِهٖ
تَدْوِيْرٌ اَبْيَضُ مُشْرَبٌ اَدْعَجُ
الْعَيْنَيْنِ اَهْدَبُ الْاَشْفَارِ
جَلِيْلُ الْمُشَاشِ وَالْكَتَدِ

او په نورو روایاتو کښې دي چه د حضورؐ
د سترګو په سپینو کښې نرۍ نرۍ سرخي ده۔
د اندامونو جوړونه ئے مضبوط دو چه
قدم به ئے کیښود نو ټول قدم به ئے
لګیدو۔ تلې کښې ئے ږوړ نه دو۔ دا
ټول د قاضي عیاض د کتاب الشفاء خلاصه
ده۔ او امام ترمذي رح په خپل شمائل کښې
د انس رض نه روایت کړے دے۔ چه زمونږ
د حبیب صلی الله علیه وسلم د دواړو
لاسونو تلې او د دواړو پښو پنجے
د غوښے نه ډکے وے۔ د اندامونو
جوړونه ئے مضبوط دو۔ د
هغوئي قد مبارک درمیانه دو۔
نه ډیر دنګ دو۔ او نه ډیر
لنډے۔ مخ مبارک ئے غونډ دو۔
رنګ مبارک سور سپین دو۔
سترګے ئے تورے وے یانړه
ئے اوږده دو۔ اوږے ئے
پلنے وے۔ او د اوږے
هډوکے ئے غټ دو۔

اَجْرَدُ ذُوْ مَسْرُبَةٍ اِذَا الْتَفَتَ الْتَفَتَ
مَعًا بَيْنَ كَتِفَيْهِ خَاتَمُ النُّبُوَّةِ وَهُوَ
خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ وَفِيْ رِوَايَةِ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ
كَانَ ضَلِيْعَ الْفَمِ مَنْهُوْسَ الْعَقِبِ اَشْكَلَ
الْعَيْنَيْنِ اِذَا نَظَرْتَ اِلَيْهِ قُلْتَ اَكْحَلُ
الْعَيْنَيْنِ وَلَيْسَ بِاَكْحَلَ اَيْ لَيْسَ بِمُكْتَحِلٍ
وَقَالَ اَبُو الطُّفَيْلِ اللَّيْثِيْ رَضِيَ اللّٰهُ
عَنْهُ كَانَ اَبْيَضَ مَلِيْحًا مُقْتَصِدًا وَ
عَنْ اَنَسٍ كَانَ رَبْعَةً حَسَنَ الْجِسْمِ
اَسْمَرَ اللَّوْنِ عَظِيْمَ الْجُمَّةِ اِلٰى
شَحْمَةِ اُذُنَيْهِ عَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ

نور بدن مبارک ئے ویښتو نه خالی
دو - صرف سینه نه نامه پورے ئے
د ویښتو نرئی لیکه وه - کله چه
به ئے یو اړخ ته څه څیز کتل
نو ټول به هغه طرف ته داوړیدو -
(د سترګو په ګوټه کښ ئے نه کتل)
شاته د ددابهو ډلو ترمینځه ئے مهر نبوت
دو - او هغه خاتم الببین دو -
او د جابر بن سمره په روایت کښ دی -
د هغوئ خوله مبارکه معتدله فراخه
ده - پوندے ئے غټه نه دے -
په سترګو کښ ئے سرے لیکے دے -
نورے سترګے ئے داسے تورے دے -
تا به ویل را نجه ئے اچولی دی - او
هغوئ به رانجه نه وو اچولی قدرتی
تورے دے - ابو طفیل لیثی رض وائی
حضور سور سپین دو - درمیانه قد
انس رض نه روایت دے چه حضور درمیانه
قد بنانسته بدن غنم رنګ د سر
ویښته ئے ګنړ دو - او د غوږونو ترنرئ اوږده
دو - سره لکیرداره جوړه ئے اغوستی وه -

وَرُوِيَ فِي الشَّمَائِلِ لِلتِّرْمِذِيِّ عَنْ أَنَسِ
بْنِ مَالِكٍ لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ بِالطَّوِيلِ الْبَائِنِ وَلَا بِالْقَصِيرِ وَلَا بِالْأَ
بْيَضِ الْأَمْهَقِ وَلَا بِالْآدَمِ وَلَا بِالْجَعْدِ الْقَطَطِ
وَلَا بِالسَّبْطِ بَعَثَهُ اللهُ تَعَالَى عَلَى رَأْسِ
أَرْبَعِينَ سَنَةً فَأَقَامَ بِمَكَّةَ عَشْرَ سِنِينَ
وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ ثَلَاثَ عَشْرَ يُوحَى إِلَيْهِ وَ
بِالْمَدِينَةِ عَشْرَ سِنِينَ فَتَوَفَّاهُ اللهُ تَعَالَى
عَلَى رَأْسِ سِتِّينَ سَنَةً وَقَالَ الْبُخَارِيُّ
ثَلَاثٌ وَسِتِّينَ أَكْثَرُ أَيْ فِي الرِّوَايَةِ لَيْسَ
فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ عِشْرُونَ شَعْرَةً بَيْضَاءَ وَقَالَ

او روایت شوے دے۔ په شمائل ترمذی
کښې د انس بن مالک نه چه حضورؐ
نه ډیر دنګ وو۔ نه ډیر مندرے
او نه ډیر سور وو۔ نه تور کاڼرے
د حضورؐ ویښته مبارک نه ډیر
تاؤ شوی وو۔ او نه بالکل
نیغ اُواز (بلکه سرونه ئے لږ لږ
تاؤ وو) الله تعالیٰ د څلویښتو
کالو په عمر کښې نبوت ورکړو۔
نو په مکه کښې ئے قیام وو۔
لس کاله وحی په راتله۔ او
ابن عباسؓ ویلی دی دیارلس
کاله۔ او په مدینه کښې لس کاله
بیا الله تعالیٰ وفات کړو۔
د شپیتو کالو په عمر
کښې او امام بخاریؒ
ویلی دی۔ روایات د
درے شپیتو ډیر دی۔
او د حضورؐ په سر
او په بږیره کښې شل
ویښته هم سپین نه وو۔

الْمُحَقِّقُوْنَ اِنَّ الشُّعُوْرَ الْاَبْيَضَ فِيْ رَأْسِهٖ
وَلِحْيَتِهٖ كَانَ سَبْعَةَ عَشَرَ وَقَالَ جَابِرُ بْنُ
سَمُرَةَ رَأَيْتُ الْخَاتَمَ بَيْنَ كَتِفَيْ رَسُوْلِ
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُدَّةً حَمْرَاءَ مِثْلَ
بَيْضَةِ الْحَمَامِ وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ مِثْلُ
زِرِّ الْحَجَلَةِ وَعَنْ عُمَرَ بْنِ اَخْطَبَ الْاَ
نْصَارِيِّ شَعَرَاتٍ مُجْتَمِعَةٍ وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ
كَانَ فِيْ ظَهْرِهٖ بَضْعَةٌ نَاشِزَةٌ وَفِيْ رِوَايَةٍ
مِثْلَ الْجُمْعِ حَوْلَهَا خِيْلَانٌ كَأَنَّهَا ثَآلِيْلُ
قَالَ الْبَرَاءُ مَا رَأَيْتُ مِنْ ذِيْ لِمَّةٍ فِيْ حُلَّةٍ
حَمْرَاءَ اَحْسَنَ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

تحقیق کوونکو ویلی دی۔ د حضوری په
سر او په ږیره کښی ټول سپین ویښته
اوولس وو۔ او جابر بن سمرهؓ ویلی دی
ما د حضوری مهر نبوت لیدلے دے د
ولو په مینځ کښی د غوښې سره غوټه
وه۔ د کونترے د اګئی په شان او
سائب بن یزید نه روایت دے چه
د چپرکټ د پردے د تنړئی پشان
وه۔ او د عمر بن اخطب نه روایت
دے۔ چه یو څو ویښته راجمع وو
او د ابو سعید خدری نه روایت
دے۔ چه د حضوری ملا باندے
یو د غوښې راپورته شوی غوټه وه۔
د موټی په شان چاپیره تر تور
خالونه وو۔ لکه د زخ په شان
دے ټول روایاتو کښی څه تضاد نشته
ټول جمع کیدل ممکن دی۔ حضرت براءؓ
وائی۔ ما څوک د سر ویښتو واله
په سره لکیر داره جوړه کښی د
حضور صلی اللہ علیه وسلم نه
زیات ښایسته نه دے لیدلے۔

وَقَالَ اَبُوْ هُرَيْرَةَ مَا رَأَيْتُ شَيْئًا
اَحْسَنَ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ كَاَنَّ الشَّمْسَ تَجْرِىْ فِىْ وَجْهِهٖ
وَاِذَا ضَحِكَ يَتَلَأْلَأُ نُوْرُهٗ فِى الْجُدُرِ
وَقِيْلَ لِجَابِرٍ رض اَكَانَ وَجْهُ رَسُوْلِ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَالسَّيْفِ قَالَ
لَا بَلْ كَالشَّمْسِ وَالْقَمَرِ
وَكَانَ مُسْتَدِيْرًا وَقَالَتْ
اُمُّ مَعْبَدٍ كَانَ اَجْمَلَ النَّاسِ
مِنْ بَعِيْدٍ وَاَحْلَاهُ وَاَحْسَنَهٗ
مِنْ قَرِيْبٍ وَقَالَ عَلِيٌّ رض

او ابو هریره رض وئیلی دی ما هیڅ شئ
د حضور صلی الله علیه وسلم
نه ښائسته نه دے لیدلے گویا
د هغوئ په مخ کښې نمر ځلیدو.
او کله چه به حضور ص اوخندل
د سپینو غاښونو مبارکو رڼا
به ئې په دیوالونو اوبرقیده.
او جابر رض ته اووئیلے شو. آیا
د حضور صلی الله علیه وسلم
مخ مبارک د تورے په شان
پرقیدو. هغهٔ اووے نه بلکه
د نمر او سپوږمئ په شان
پرقیدو. او غونډ وو (د تورے
په تشبیهه کښې دا کمے دو
چه توره اوږده وه غونډه
نه وه. او د حضور ص مخ مبارک
غونډ وو) ام معبد وئیلی دی
حضور ص تر ټولو خلقو نه ډیر
ښائسته ښکاریدو. د لرے نه
او د نژدے نه ښائسته او
خوږ وو. او علی رض وئیلی دی

مَنْ رَاٰہُ بَدَاهَةً هَابَهٗ وَمَنْ
خَالَطَهٗ مَعْرِفَةً اَحَبَّهٗ لَمْ
اَرَ قَبْلَهٗ وَلَا بَعْدَهٗ مِثْلَهٗ
قَالَ اَنَسٌ رض شَمِمْتُ عَنْبَرًا قَطُّ
وَلَا مِسْكًا وَّلَا شَيْئًا اَطْيَبَ
مِنْ رِّيْحِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ يُصَافِحُ
الْمُصَافِحُ فَيَظِلُّ يَوْمَهٗ
يَجِدُ رِيْحَهَا وَيَضَعُ يَدَهٗ
عَلٰى رَأْسِ الصَّبِيِّ فَيُعْرَفُ
مِنْ بَيْنِ الصِّبْيَانِ بِرِيْحِهَا

چاچه به حضور ﷺ ډېر مبې ځل د
لرے نه اولیدو۔ هیبت به پهٔ
راغلو۔ او چاچه به او پیژندو
او ورسره به ئې تعلق جوړ شو۔
وربانده به مینٔ شو۔ او ما د
هغوئ نه وړاندے یا هغوئ
نه پس د هغوئ په شان څوک
نهٔ دی لیدلی۔

**(څلورم وصل د حضور ﷺ د خوشبوئ
او خوشبویه کولو په بیان کښ)**

انس رض ویلی دی۔ ما عنبر یا مشک
یا بل شے د حضور ﷺ د خوشبوئ
نه زیات خوشبویه نهٔ دے
بوئ کړے۔ حضور ﷺ چه به چا سره
مصافحه اوکړه۔ نو ټوله ورځ به
د هغهٔ لاس خوشبویه وو۔
او چه هغوئ به د چا هلک په سر
لاس کینو۔ نو هغه هلک به
په ټولو هلکانو کښ پیژندے
شو۔ چه سر به ئے
خوشبویه وو۔

Scanned with CamScanner

وَنَامَ فِيْ دَارِ أَنَسٍ فَعَرِقَ
فَجَاءَتْ أُمُّهُ بِقَارُوْرَةٍ تَجْمَعُ
فِيْهَا عَرَقَهُ فَسَأَلَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَالِكَ
فَقَالَتْ نَجْعَلُهُ فِيْ طِيْبِنَا وَهُوَ
أَطْيَبُ الطِّيْبِ وَذَكَرَ الْإِمَامُ الْبُخَارِيُّ
فِي التَّارِيْخِ الْكَبِيْرِ عَنْ جَابِرٍ رض
لَمْ يَكُنْ يَمُرُّ النَّبِيُّ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فِيْ طَرِيْقٍ فَيَتْبَعُهُ أَحَدٌ إِلَّا
عَرَفَ أَنَّهُ سَلَكَهُ مِنْ طِيْبِهٖ

او حضور صلی الله علیه وسلم
یو ځل د انس رض په کور کښې اوده
شوے وو۔ نو خولے شو۔ نو د
انس رض مور شیشه راوړه د حضور ص
خوله ئې پکښې جمع کوله۔ حضور ص
ورته تپوس اوکړو۔ نو هغې
اوویئل دا مونږ په خپلو عطرو
کښې شامله وو۔ او دا د ټولو
عطرو نه زیاته خوشبویه ده۔
(عطر دریاندے خوشبویه شی)
او امام بخاری په خپل تاریخ
کبیر کښې د حضرت جابر رض نه
روایت کړے دے۔ چه کله
چه به حضور ص په یو
لار لاړو۔ بیا بل څوک
به درپسے په هغه لار
لاړو۔ نو د حضور ص د
خوشبوئی په وجه
به پوهه شو۔ چه
حضور صلی الله علیه وسلم
په دے لار لاړ دے۔

قَالَ إِسْحَاقُ بْنُ رَاهُوَيْهِ إِنَّ
تِلْكَ كَانَتْ رَائِحَتُهُ بِلَا طِيبٍ
وَرَوَى إِبْرَاهِيمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ ٢
الْمُزَنِيُّ عَنْ جَابِرٍ أَنَّهُ أَرْدَفَنِي
رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فَالْتَقَمْتُ خَاتَمَ النُّبُوَّةِ بِفِيَّ
فَكَانَ يَنِمُّ عَلَيَّ مِسْكًا وَرُوِيَ أَنَّهُ
إِذَا تَغَوَّطَ انْشَقَّتِ الْأَرْضُ فَا
بْتَلَعَتْ غَائِطَهُ وَبَوْلَهُ وَفَاحَتْ لِذٰلِكَ ٣
رَائِحَةٌ طَيِّبَةٌ كَذَا رَوَتْ عَائِشَةُ
وَلِذَا قِيلَ بِطَهَارَةِ الْحَدَثَيْنِ مِنْهُ

اسحاق بن راهویه ویلی دی - دا
د حضور ﷺ د بدن خپله خوشبوئی
ده - خـشـهٔ عطر به ئے نهٔ وو لګولی -
او ابراهیم بن اسمٰعیل مزنی د جابر رض
نه روایت کوی - هغه وائی چه یو
ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم
ځان سره شا ته سور کړے وم -
نو مهر نبوت م په خوله
کښ اونیوو - نو د هغې نه د
مشکو په شان خوشبوئی
راتله - او روایت شوے دے
چه حضور صلی الله علیه
وسلم چه به اودس ماتی
ته لاړو - نو زمکه به اوچاوده
او د هغوئی بول متیازے به پکښ
غیبې شوے - او د هغه ځائے
نه به خوشبوئی راتله -
عائشه رض نه هم دا سے
روایت شوے دے - او په دې وجه
ځنی عالمانو د هغوئی بول متیازو
ته پاک ویلی دی -

حَكَاهُ اَبُوْبَكْرِ بْنِ سَابِقٍ
اَلْمَالِكِيْ وَاَبُوْ نَصْرٍ وَشَرِبَ
مَالِكُ بْنُ سِنَانٍ دَمَهٗ يَوْمَ
اُحُدٍ وَمَصَّهٗ فَقَالَ لَنْ
تُصِيْبَهُ النَّارُ وَشَرِبَ عَبْدُ
اللّٰهِ بْنِ زُبَيْرٍ دَمَ حِجَامَتِهٖ
وَشَرِبَتْ بَرَكَةُ بَوْلَهٗ وَ
اُمُّ اَيْمَنَ خَادِمَتَهٗ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَجِدَاهُ اِلَّا كَمَاءٍ
عَذْبٍ طَيِّبٍ وَقَدْ وُلِدَ مَخْتُوْنًا
مَقْطُوْعَ السُّرَّةِ مُكْحَلاً

ابوبکر بن سابق مالکی او ابونصر
د پاکوالی دا خبره نقل کړی ده۔
او مالک بن سنانؓ د احد د
غزا په ورځ د حضورؐ د زخم نه
وینه رابښکله او وئے څښکله۔
نو حضورؐ ارفرمائیل دهٔ باندے
به د دوزخ اور نهٔ لګی او
عبد الله بن زبیرؓ د
هغوئ د ښکر لګولو وینه
څښکلی وه۔ او د حضور
صلی الله علیه وسلم
خادمانو برکت او امّ ایمن
د حضور صلی الله علیه وسلم
متیازے څښکلے وے۔ نو هغوئ
وائی چه د پاکو خوږو
اوبو په شان وے۔
او هغه سنت کړے او
نوم پرے کړے پیدا
شوے دے۔ او رانجهٔ
ئے لګولی وو۔

وَقَالَتْ اٰمِنَةُ اُمُّهٗ وَلَدْتُهٗ
نَظِيْفًا مَا بِهٖ قَذَرٌ وَكَانَ
يَنَامُ حَتّٰى يَكُوْنَ لَهٗ ۲
غَطِيْطٌ فَيُصَلِّيْ وَلَا يَتَوَضَّأُ
رَوَاهُ عِكْرِمَةُ وَكَانَ مَحْرُوْسًا
عَنْ حَدَثِ الْمَنَامِ وَقَالَ
وَهْبُ بْنُ مُنَبِّهٍ قَرَأْتُ فِيْ اَحَدٍ وَّ
سَبْعِيْنَ كِتَابًا فَوَجَدْتُّ فِيْ جَمِيْعِهَا
اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اَرْجَحُ ۳
النَّاسِ عَقْلًا وَاَفْضَلُهُمْ رَأْيًا وَكَانَ يَرٰى فِي
الظُّلْمَةِ كَمَا يَرٰى فِي الضَّوْءِ كَمَا رَوَتْ عَائِشَةُ

او د هغوئ والده حضرت آمنه فرمائي
هغوئ پاک پیدا شوی وو۔ هیڅ
گند دپوری نهٔ وو۔ او حضورؐ به
داسے اوده شو چه د خریده
اواز به ئے واوریدے شو۔
خو مونځ به ئے اوکړو۔ اودس
به ئے اونهٔ کړو۔ (یعنی په خوب
د هغوئ اودس نهٔ ماتیدو۔
دا روایت عکرمهؓ کړے دے داځکه
چه هغوئ په خوب کښ
بے اوده سه کیدو نه محفوظ وو۔

## ریښتم وصل د هغوئ دَ

بصیرت او بصری طاقت په بیان کښ)
او وهب بن مُنَبِّه نه روایت دے۔
چه ما یو اویا کتابونه لوستی
دی۔ په ټولو کښ دا لیکلی وو چه
حضورؐ د ټولو خلقو نه زیات
عاقل وو۔ او د حضورؐ رائے
به ټولو نه بهتره وه او هغوئ
په تیاره کښ داسے لیدو لکه په رڼا
کښ ځنګه چه عائشےؓ فرمائیلی دی۔

وَكَانَ يَرٰى مِنْ بَعِيْدٍ كَمَا يَرٰى مِنْ

او هغوئ د لرے نه هم دا سے
لیدو لکه د نژدے نه چه ئے لیدو۔

قَرِيْبٍ وَكَانَ يَرٰى مِنْ خَلْفِهٖ كَمَا يَرٰى مِنْ

او شاته ئے هم دا سے لیدو
لکه مخامخ چه ئے لیدو۔ او

اَمَامِهٖ وَكَانَ يَرٰى جَنَازَةَ النَّجَاشِيِّ وَصَلّٰى

د نجاشی جنازه ئے لیده نو جنازے
مونځ ئے پهٔ ادا کړو۔ او هغوئ

عَلَيْهِ وَرَاٰى بَيْتَ الْمُقَدَّسِ مِنْ مَكَّةَ

بیت المقدس لیدو د مکے نه
کله چه ئے قریشو ته د هغے

حِيْنَ وَصَفَهٗ لِقُرَيْشٍ وَالْكَعْبَةَ

حال بیانولو او بیت الله شریف
ئے لیدو۔ کله چه ئے په مدینه

حِيْنَ بَنٰى مَسْجِدَهٗ فِى الْمَدِيْنَةِ

کښی جماتونه جوړول۔ او هغوئ په
ثریا کښی یوولس ستوری لیدل۔

وَكَانَ يَرٰى فِى الثُّرَيَّا اَحَدَ

**(اشپږم وصل** د هغوئ د بدنی
طاقت په بیان کښی)

عَشَرَ كَوْكَبًا وَصَرَعَ رُكَانَةَ

د هغوئ د بدنی طاقت دا حال وو چه
د خپلے زمانے مشهور پهلوان رکانه

اَشَدَّ اَهْلِ زَمَانِهٖ حِيْنَ

ئے پرزولے وو۔ کله چه ئے د
اسلام دعوت ورکړو (کله چه هغهٔ

دَعَاهُ لِلْاِسْلَامِ وَصَارَعَ

شرط اولګولو که زهٔ دِ اوپرزولم نو
مسلمان به شم) او د اسلام د زمانے نه

اَبَا رُكَانَةَ فِى الْجَاهِلِيَّةِ

مخکښی ئے ابو رکانه پرزولے وو۔

وَعَاوَدَهُ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ كُلُّ ذٰلِكَ
يَصْرَعُهُ وَكَانَ اَسْرَعَ فِي
الْمَشْيِ كَاَنَّمَا الْاَرْضُ تُطْوٰى لَهُ
۲ قَالَ اَبُوْهُرَيْرَةَ اِنَّا لَنَجْهَدُ اَنْفُسَنَا
وَاِنَّهُ غَيْرُ مُكْتَرِثٍ وَكَانَ ضِحْكُهُ
مُتَبَسِّمًا وَاِذَا الْتَفَتَ اِلْتَفَتَ
مَعًا وَ اُوْتِيَ جَوَامِعَ الْكَلِمِ
وَجُعِلَتْ لَهُ كُلُّ الْاَرْضِ
۳ مَسْجِدًا وَطَهُوْرًا وَاُحِلَّتْ لَهُ
الْغَنَائِمُ وَاُعِدَّتْ لَهُ الشَّفَاعَةُ
الْكُبْرٰى وَالْمَقَامُ الْمَحْمُوْدُ

هغهٔ درې ځله مقابله واپس کړې
ده ـ او درې واړه ځله ئې راغورزولے
دو ـ او د هغوئ رفتار ډير تيز
دو ـ گويا که هغوئ دپاره زمکه
رانغښتے شوه ـ
ابوهريرهؓ فرمائي مونږ به ډير په
کوشش هغوئ پسے ځان رسولو ـ
حالانکه هغوئ به په عام رفتار
تلو ـ څهٔ خاص اهتمام به ئے نهٔ کولو ـ
د هغوئ خندا صرف مسکے کيدل
دو ـ او چه يو طرف ته شي ته به
ئے کتل نو ټول په هغے طرف ته
داوريدو ـ (د سترگو په گوټ کښې ته کتل
راوو م وصل د هغوئ د ځنې
خصوصياتو په بيان کښې)
هغوئ ته جوامع الکلم عطا شوي دو او ټوله
زمکه هغوئ دپاره دپاکئ ذريعه وه او مونځ په
جائز وو ـ يعني په تيمم پاکي حاصليده او په زمکه
هر ځائے کښې مونځ جائز وو ـ خاص د جماعت ضرورت
نهٔ وو ـ او حلال کړے شو هغوئ ته مال غنيمت
(په تيرو شريعتونو کښې حلال نهٔ وو) او خاص
درکړے شو شفاعت کبرئ او مقام محمود ـ

وَبُعِثَ إِلَى الْجِنِّ وَالْإِنْسِ وَكَافَّةِ
الْمَخْلُوقَاتِ وَعَلِمَ أَلْسِنَةَ الْعَرَبِ
كُلَّهَا أَقُولُ بَلِ الْأَلْسِنَةَ
كُلَّهَا قَالَتْ أُمُّ مَعْبَدٍ كَانَ حُلْوَ
الْمَنْطِقِ فَصْلًا لَا نَزْرٌ وَلَا هَذْرٌ
كَأَنَّ مَنْطِقَهُ خَرَزَاتٌ نُظِمْنَ وَكَانَ
قَلِيلَ الْأَكْلِ وَالنَّوْمِ وَكَانَ
لَا يَتَّكِئُ فِي الْأَكْلِ وَمَعْنَاهُ عِنْدَ
الْمُحَقِّقِينَ أَنَّهُ لَا يَعْتَمِدُ عَلَى شَيْءٍ مَا
تَحْتَهُ وَلَا مَائِلًا إِلَى شِقٍّ إِنَّمَا كَانَ جُلُوسُهُ
لِلْأَكْلِ جُلُوسَ الْمُسْتَوْفِزِ مُقْعِيًا

هغوئ پیریانو او بنیادمو او ټول
مخلوق دپاره راستولی شوی وو۔
(اتم وصل د هغوئ د خبرو خوب
وخوراک اوکیناستو پاڅیدو په بیان کښ)
هغوئ ته دعربو ټولے ژبے ورتلے۔
(مؤلف وائی) او زهٔ وایم بلکه ټولے
ژبے ورتلے۔ اُمِّ معبد ویلی دی۔
د هغوئ خبرے ډیرے خوږے او
واضح وے۔ نهٔ ډیرے کمے وے نهٔ
ډیرے زیاتے۔ د هغوئ خبرے
ګویا مرغلرے وے پیلی شوی۔ د
هغوئ خوب او خوراک کم وو۔
د خوراک په وخت کښی به ئے تکیه
نهٔ لګوله۔ د دے مطلب د تحقیق
کوونکو په نزد دا دے چه لاندے
څیز لکه ګدئ یا تکیه ته به
ئے ډډه نهٔ وهله او نهٔ به یو
اړخ ته کږیدو بلکه د خوراک
دپاره به د هغوئ کیناستل داسے وو
لکه څوک چه پاڅیدو ته تیار وی
یعنی د بنپو په سرو به کیناستو۔

وَكَانَ يَقُوْلُ اٰكُلُ كَمَا يَأْكُلُ الْعَبْدُ وَاَجْلِسُ كَمَا يَجْلِسُ الْعَبْدُ وَكَانَ نَوْمُهُ عَلٰى شِقِّهِ الْاَيْمَنِ اِسْتِظْهَارًا عَلٰى قِلَّةِ الْمَنَامِ

او حضور به فرمائیل زهٔ د غلام په شان خوراک کوم او د غلام پشان کینم۔ د حضور خوب په ښی اړخ دو۔ چه په کم خوب کښ امداد او کړی۔

(نهم وصل د حضور د مکارم اخلاق بے نفسی۔ شجاعت۔ سخاوت۔ هیبت وجاه او ایثار وغیره په بیان کښ)

قَالَ اَنَسٌ رض اُعْطِىَ قُوَّةَ ثَلٰثِيْنَ رَجُلًا اَخْرَجَهُ النَّسَائِىُّ وَرُوِىَ قُوَّةَ اَرْبَعِيْنَ رَجُلًا فِى الْجِمَاعِ وَرُوِىَ عَنْهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فُضِّلْتُ عَلَى النَّاسِ بِاَرْبَعٍ بِالسَّخَاءِ وَالشَّجَاعَةِ وَكَثْرَةِ الْجِمَاعِ وَقُوَّةِ الْبَطْشِ

انس رض ویلی دی چه حضور صلی الله علیه وسلم ته د دیرشو ځوانانو طاقت ورکړے شوے وو۔ دا روایت د نسائی دے۔ او یو روایت دے۔ د څلویښتو ځوانانو هومره د جماع طاقت ورکړے شوے وو۔ او حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ ماته په نورو خلقو په څلورو څیزونو کښ فضیلت راکړے شوے وو۔ په سخاوت ۱، شجاعت ۲ او د جماع ۳ په طاقت کښ او په ۴ مقابل د غلبے په طاقت کښ۔

وَكَانَ ذَا وَجَاهَةٍ قَبْلَ النُّبُوَّةِ
وَبَعْدَهَا رُوِيَ عَنْ قَيْلَةَ رض اَنَّهَا لَمَّا
رَأَتْهُ اُرْعِدَتْ مِنَ الْفَرَقِ فَقَالَ يَا
مِسْكِيْنَةُ عَلَيْكِ السَّكِيْنَةُ وَعَنْ اِبْنِ
مَسْعُوْدٍ رض اَنَّهُ قَامَ بَيْنَ يَدَيْهِ عُقْبَةُ بْنِ
عَمْرٍو فَاُرْعِدَ فَقَالَ هَوِّنْ عَلَيْكَ
فَاِنِّيْ لَسْتُ بِمَلِكٍ جَبَّارٍ وَلَقَدْ اُوْتِيَ
خَزَائِنُ الْاَرْضِ وَمَفَاتِيْحُ الْبِلَادِ وَ
فُتِحَ عَلَيْهِ فِيْ حَيٰوتِهٖ بِلَادُ الْحِجَازِ وَالْيَمَنِ
وَجَمِيْعِ جَزِيْرَةِ الْعَرَبِ وَحَوَالِي الشَّامِ
وَالْعِرَاقِ وَجُلِبَتْ اِلَيْهِ الْاَخْمَاسُ

او حضور صلی اللہ علیہ وسلم نبوت
نه مخکښ هم د عزت او رعب خاوند
دو - او نبوت نه پس هم - روایت
دے چه قیله رض چه حضورؐ اولیدو
نو د هیبته او رپیده - هغوئ
ورته او وئیل - اے عاجزے په
قلار شه ویریږه مه -
او د حضرت ابن مسعود رض نه روایت
دے چه عقبه بن عمرو چه
حضورؐ ته مخامخ اودریدو - نو
د هیبته او رپیدو - حضورؐ ورته
اوفرمائیل ویریږه مه - زهٔ جابر بادشاه
نهٔ یم - او حضورؐ ته د زمکے ټولے
خزانے ورکړی شوی دی - او د
ټولو ښهرونو کنجیانے ورکړی شوی
دی - نو د هغوئ په ژوند کښ
د حجاز علاقه او یمن او ټول
جزیرة العرب او د شام سرحدی
علاقے او د عراق سرحدی علاقے
فتح شوے او د ټولو فتوحاتو
د مالِ غنیمت خمس .

وَالصَّدَقَاتُ وَالْاَعْشَارُ وَاُهْدِيَتْ مِنَ الْمُلُوْكِ
هَدَايَا فَصُرِفَ كُلُّهَا لِوَجْهِ اللّٰهِ وَاُغْنِيَ بِهِ
الْمُسْلِمِيْنَ وَقَالَ مَا يَسُرُّنِيْ اَنَّ لِيْ اُحُدًا ذَهَبًا
يَبِيْتُ عِنْدِيْ مِنْهُ دِيْنَارٌ اِلَّا دِيْنَارًا اُرْصِدُهٗ
لِدَيْنِيْ وَهٰذَا مِنْ كَمَالِ سَخَائِهٖ وَجُوْدِهٖ وَعَطَائِهٖ
فَاِنَّهٗ مَاتَ وَدِرْعُهٗ مَرْهُوْنَةٌ فِيْ نَفَقَةِ عِيَالِهٖ
وَكَانَ مُقْتَصِرًا فِيْ نَفَقَتِهٖ وَمَلْبَسِهٖ وَمَسْكَنِهٖ
عَلٰى مَا تَدْعُوْهُ الضَّرُوْرَةُ اِلَيْهِ وَكَانَ يَلْبَسُ
فِي الْغَالِبِ الشَّمْلَةَ وَالْكِسَاءَ الْخَشِنَ
وَالْبُرْدَ الْغَلِيْظَ وَيَقْسِمُ عَلٰى اَصْحَابِهٖ
اَقْبِيَةَ الدِّيْبَاجِ الْمَنْسُوْجِ بِالذَّهَبِ

او د ټولې مفتوحه علاقې عشر او زکوٰة
د حضورؐ په خدمت کښې حاضر کړې
شو۔ او بادشاهانو ورته تحفې را
استولې او دا ټول مال ئې د الله د رضا
دپاره صرف کولو او مسلمانان ئې
وربانده غنیان کول۔ او حضورؐ به
فرمايل که ما سره د احد د غر هومره
سره زر وی۔ نو زه به دې خوشال
نه یم چه تر ما بنامه راسره یو دینار
پاتې شی۔ بې د هغې دینار نه چه
قرض ادا کولو دپاره م ساتلی وی۔
دا د حضورؐ د کمال سخاوت او بخشش
وجه ده۔ چه حضورؐ وفات شو
په دې حال کښې چه زغره ئې د عیال
په نفقه کښې ګانړه وه۔ او حضورؐ
په خپل ذاتی خرچ خوراک۔ پوشاک او
رهائش کښې په انتهائی ضروری اکتفا کوله
خپله جامه به ئې اکثر شړۍ او شړله
خټا او غټ څادرونه۔ او په اصحابو به
ئې د سو چه ریښمو قباچه د سرو زرو
تارونه به ورکښې پیلی وو تقسیمولې۔

وَيَرْفَعُ لِمَنْ لَمْ يَحْضُرْهُ عَنْ عَائِشَةَ
كَانَ خُلُقُهُ الْقُرْآنَ يَرْضٰى بِرِضَاهُ
وَيَسْخَطُ بِسُخْطِهٖ حَتّٰى قَالَ اللّٰهُ
تَعَالٰى اِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ
جَبَلَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى فِيْ اَصْلِ
فِطْرَتِهٖ عَلٰى مَكَارِمِ الْاَخْلَاقِ
وَرَزَانَةِ الطَّبْعِ وَاعْتِدَالِ الْمِزَاجِ
وَقَالَتْ اٰمِنَةُ بِنْتُ وَهْبٍ اِنَّ
نَبِيَّنَا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُلِدَ
بَاسِطًا يَدَيْهِ اِلَى الْاَرْضِ
رَافِعًا رَأْسَهٗ اِلَى السَّمَاءِ

او برخه به ئې ساتله هغه چا ته
چه د تقسيم په وخت به حاضر
نه وُ دو - حضرت عائشهؓ نه روايت
نه روايت دے چه د حضورؐ
اخلاق قرآن دو - په کوم کار
چه الله راضی کيدو په هغې
راضی دو - او په کوم کار چه
الله نارامنه کيدو - په هغې
نارامنه دو - هغه کار ئې خوښ نهٔ
دو - تر دے چه خپله الله تعالٰی
اوفرمائيل - بيشکه ته په خُلُقِ
عظيم قائم ئې - الله تعالٰی خپل
حبيب په اصل فطرت کښې په
مکارمِ اخلاقو متانت د طبع
او اعتدال د مزاج باندے پيدا
کړے دو - آمنه بنت وهب وئيلی
دی چه زمونږ نبی صلی الله
عليه وسلم چه څه وخت
پيدا شو - د واړه لاس ئې زمکې
طرف ته خوارهٔ او سر ئې آسمان
طرف ته اوچت دو -

قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
لَمَّا نَشَأْتُ بُغِّضَ إِلَيَّ الْأَوْثَانُ
٢ وَالشِّعْرُ وَلَمْ أَهُمَّ بِشَيْءٍ مِّنْ
أُمُوْرِ الْجَاهِلِيَّةِ إِلَّا مَرَّتَيْنِ فَعَصَمَنِيَ
اللّٰهُ تَعَالٰى مِنْهُمَا ثُمَّ لَمْ أَعُدْ وَكَانَ
أَصْبَرَ النَّاسِ عَلٰى أَذَاهُمْ
وَأَحْلَمَهُمْ يَعْفُوْ عَنْ مُسِيْئِهِمْ
وَيَصِلُ مَنْ قَطَعَهٗ وَيُعْطِيْ
٣ مَنْ حَرَمَهٗ وَيَعْفُوْ عَمَّنْ
ظَلَمَهٗ وَكَانَ يَخْتَارُ أَيْسَرَ
الْأَمْرَيْنِ مَالَمْ يَكُنْ إِثْمًا

**(لسم وصل دهغوئ دعصمت په بیان کښ)**

حضور صلی اللّٰه علیه وسلم فرمائیلی
دی - کله چه زهٔ لوئے شوم
په ښه بد پوهٔ شوم - نو بتانو
او شعر دیلوته م نفرت شو -
او اسلام نه مخکښ چه کوم کارونه
عام کیدل یعنی غیر شرعی کارونه
د داسے کارونو م چرے اراده هم
نهٔ ده کړی - مګر دوه ځله خو د
هغے نه هم اللّٰه تعالیٰ بچ کړم - بیا م
چرے داسے اراده او نهٔ کړه -

**(یولسم وصل د نهم وصل تتمه ده)**

او حضورؐ د خلقو د لاسه تکلیف برداشت
کولو کښ ډیر صابره وو - او ډیر حلیم وو -
چا چه به ورسره بد او کړل هغه به
ئے معاف کولو - او چا چه به ورسره
بد سلوک کوله هغهٔ سره به ئے احسان
کولو - او چا چه به محروم کولو هغهٔ ته
به ئے ورکړه کوله او چا چه به په ظلم او کړو-
هغه به ئے معاف کولو - او په دوو کارونو کښ به
ئے آسان کار خوښولو که ګناه به پکښ نهٔ وه -

Scanned with CamScanner

وَمَا انْتَقَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ لِنَفْسِهٖ حَتّٰى رُوِيَ فِيْ سِيْرَةِ ابْنِ
هِشَامٍ اَنَّ عُتْبَةَ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ اَخَا
سَعْدِ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ رَمٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ اُحُدٍ
فَكَسَرَ رُبَاعِيَّتَهُ الْيُمْنَى السُّفْلٰى
وَشَجَّ وَجْهَهٗ فَقَالُوْا لَوْ دَعَوْتَ
عَلَيْهِمْ فَقَالَ اللّٰهُمَّ اهْدِ قَوْمِيْ
فَاِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ وَمَا ضَرَبَ
بِيَدِهٖ شَيْئًا قَطُّ اِلَّا اَنْ
يُّجَاهِدَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

او رسول الله صلی الله علیه وسلم
خپل ځان دپاره چاته بدل نه
دے اخستے۔ تر دے چه په
سیرت ابن هشام کښې روایت
شوے دے۔ چه عتبه بن
ابی وقاص د سعد بن ابی وقاص
رور د احد د غزا په ورځ حضورؐ
په کانړی اوویشتو۔ نو د حضورؐ
مخامخ څلور غاښونو کښې لاندینے
ښی طرف ته غاښ مات شو۔
او مخ مبارک ئے زخمی شو۔
صحابو عرض اوکړو۔ که ده
ته مو بد دعا اوکړه۔ نو
حضور صلی الله علیه وسلم
دا دعا اوکړه۔ یا الله زما قوم
ته هدایت اوکړے۔ دوئ
ناپوهه دی۔ او هغوئ په
خپل لاس هیڅ شے نه دے
وهلے۔ نه بنده او نه ځاروے۔
مګر د الله تعالیٰ په لار کښې
جهاد ئے کړے دے۔

Scanned with CamScanner

وَمَا ضَرَبَ امْرَأَةً وَلَا خَادِمًا وَ
رُوِيَ عَنْ جَابِرٍؓ مَا سُئِلَ شَيْئًا فَقَالَ
لَا وَلَنِعْمَ مَا قِيْلَ - شعر ٢
مَا قَالَ لَا قَطُّ اِلَّا فِيْ تَشَهُّدِهٖ
لَوْلَا التَّشَهُّدُ كَانَتْ لَاؤُهٗ نَعَمٖ
وَكَانَ يَحْمِلُ الْكَلَّ وَيَكْسِبُ
لِلْمَعْدُوْمِ وَيُقْرِئُ الضَّيْفَ وَ
يُعِيْنُ فِيْ نَوَائِبِ الْحَقِّ كَمَا
فِيْ صَحِيْحِ الْبُخَارِيِّ وَرَوَى ٣
التِّرْمِذِيُّ اَنَّهٗ اُتِيَ اِلَيْهِ
تِسْعُوْنَ اَلْفَ دِرْهَمٍ

او هیڅ چرے ئې خپله بی بی یا خپل
خادم نهٔ دے وهلے - او د جابرؓ
نه روایت دے چه کله چه حضورؐ
نه چا څهٔ شے غوښتے دے - هغوئی
ورته انکار نهٔ دے کړے نشته ئې
نهٔ دی ویلی -
او ښهٔ ویلی شوی دی - شعر -
هغوئی د تشهد نه علاوه چرے
لا نهٔ دی ویلی - که تشهد نهٔ وے
نو د لَا په ځائے به ئې هم نعم
ویلے وو - دا د مشهور شاعر فرزدق
شعر دے - د دے ترجمه فارسئ
کښ دا سے شوی ده -

نرفت لا بزبان مبارکش هرگز
مگر در اشهد ان لا اله الا الله

هغوئی به غریبانانو سره امداد کولو او بے
ماله ته به ئې مال ورکولو - او میلمهٔ میلمستیا
به ئې کوله - او په مصیبت کښی به ئې خلقو
سره امداد کولو - لکه چه بخاری او ترمذی
کښ روایت شوے دے چه حضورؐ ته
نوی زره (٩٠٠٠٠) درهم راوړے شو -

فَوُضِعَتْ عَلَى حَصِيْرٍ فَمَا زَالَ سَائِلًا حَتّٰى فَرَغَ مِنْهَا فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَسَأَلَهُ فَقَالَ لَيْسَ عِنْدِيْ شَيْءٌ وَلٰكِنِ ابْتَعْ عَلَيَّ فَإِذَا جَاءَنَا شَيْءٌ قَضَيْنَا فَقَالَ عُمَرُ رضؓ مَا كَلَّفَكَ اللّٰهُ مَا لَا تَقْدِرُ عَلَيْهِ فَكَرِهَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذٰلِكَ فَقَالَ رَجُلٌ مِّنَ الْأَنْصَارِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَنْفِقْ وَ لَا تَخَفْ مِنْ ذِي الْعَرْشِ إِقْلَالًا فَتَبَسَّمَ وَرُئِيَ الْبِشْرُ فِيْ وَجْهِهٖ

نو دا رقم په اننړیری واچولے شو۔ چا چه څهٔ غوښتو ورکول ئے او یو سائل ئے هم نهٔ واپس کولو۔ تر دے چه ټول رقم ختم شو۔ نو یو سړے راغلو څه رقم ئے اوغوښتو حضورؐ ورته اوفرمائیل اوس خو دا هم ختم شو۔ خوته نما په نوم قرض واخله۔ څهٔ چه دپکار وی۔ کله چه ماته څه رقم راشی نو زهٔ به ئے ادا کړم۔ عمرؓ عرض اوکړو۔ کوم شے چه تاسره نهٔ وی دهغے په ورکړه الله تعالیٰ نه ئے مکلف کړے دا خبره دحضور صلی الله علیه وسلم خوښه نهٔ شوه۔ یو انصاری عرض اوکړو۔ یا رسول الله بیا خرچ کوه۔ او د عرش د مالک نه دکمی ویره مهٔ کوه۔ حضور صلی الله علیه وسلم مسکے شو۔ او دمخ مبارک نه ئے خوشالی ښکاره شوه۔

وَكَانَ لَا يَدَّخِرُ شَيْئًا لِغَدٍ
كَمَا رَوَاهُ اَنَسٌ رض عَنْ اِبْنِ
عَبَّاسٍ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ ۲
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَجْوَدَ بِالْخَيْرِ
مِنَ الرِّيْحِ الْمُرْسَلَةِ قَالَ بْنُ
عُمَرَ رض مَا رَأَيْتُ اَشْجَعَ وَلَا
اَنْجَدَ وَلَا اَجْوَدَ وَلَا اَرْضٰى مِنْ
رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وَكُنَّا يَوْمَ بَدْرٍ نَلُوْذُ بِالنَّبِيِّ ۳
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ
الشُّجَاعُ مَنْ يَقْرُبُ مِنْهُ

او هغوی به صبا دپاره څه شی
نه ساتلو - لکه چه انس رض د ابن
عباس رض نه روایت کړے دے - چه
حضور صلی الله علیه وسلم د خیر
په کارکښ د باران راوستونکی
هواګانو نه زیات سخی وو -
(دو لسم وصل په حُسنِ اخلاقِ
جمیله اوطرز معاشرت کښ)
حضرت ابن عمر رض وئیلی دی چه
ما د رسول الله صلی الله علیه
وسلم نه زیات بهادر، زیات
قوی - او زیات سخی او زیات
د ښو اخلاقو خاوند بل نه
دے لیدلے - او مونږ به د
بدر د غزا په ورځ د حضور
صلی الله علیه وسلم په خوا
کښ پناه اخسته او هغه سړے
به بهادر ګڼلے شو - څوک
چه به میدانِ جنګ
کښ حضور صلی الله علیه وسلم
سره نږدے وو -

إِذْ دَنَى الْعَدُوُّ لِقُرْبِهٖ مِنْهُ
وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ كَانَ
أَشَدَّ حَيَاءً مِّنَ الْعَذْرَاءِ فِيْ
خِدْرِهَا وَكَانَ لَطِيْفَ الْبَشَرَةِ
رَقِيْقَ الظَّاهِرِ لَا يُشَافِهُ أَحَدًا
بِمَا يَكْرَهُهُ وَعَنْ عَائِشَةَ لَمْ
يَكُنْ فَاحِشًا وَلَا مُتَفَحِّشًا وَلَا
سَخَّابًا بِالْأَسْوَاقِ وَلَا يَجْزِيْ
السَّيِّئَةَ بِالسَّيِّئَةِ وَلٰكِنْ يَعْفُوْا وَ
عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو كَانَ مِنْ حَيَائِهٖ
لَا يُثْبِتُ بَصَرَهُ فِيْ وَجْهِ أَحَدٍ وَكَانَ يُكَنِّيْ

ځکه چه د حضورؐ د قرب په وجه
به دشمن ته نږدې شو. (ځکه
چه د دشمن د حملې زور به حضورؐ
طرف ته وو) ابوسعید خدریؓ
نه روایت دے چه حضورؐ به
څادرکښې پټې پیغلې نه زیات حیادار
وو. او د هغوئ څرمن ډیره
نرمه او اندامونه ئې نازک وو.
چا ته به ئې مخامخ سخته خبره
نه کوله. او حضرت عائشهؓ ایئ نه
روایت دے چه نه سختې خبرې
د هغوئ عادت وو. او نه ئې په
تکلف سختې خبرې کولې. او نه ئې په
بازارونو کښې چغې وهلې او نه ئې
د بدئ بدله کښې بدی کوله بلکه
معافی به ئې ورکوله. او د
عبدالله بن عمرو بن العاص نه
روایت دے. چه هغوئ به د حیا
په وجه د چا په مخ نظر نه
ښخولو. (یعنی چا ته به ئې
نیغ نیغ نه کتل)

عَمَّا اضْطُرَّ اِلَيْهِ مِنَ الْمَكْرُوْهَاتِ وَعَنْ
عَلِيٍّ كَانَ اَوْسَعَ النَّاسِ صَدْرًا وَّ
اَصْدَقَهُمْ لَهْجَةً وَّاَلْيَنَهُمْ عَرِيْكَةً
وَّاَكْرَمَهُمْ عَشِيْرَةً وَّكَانَ يُجِيْبُ مَنْ
دَعَاهُ وَيَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ وَلَوْ كَانَتْ
كُرَاعًا وَّيُجِيْبُ دَعْوَةَ الْعَبْدِ وَالْحُرِّ
وَالْاَمَةِ وَالْمِسْكِيْنِ وَيَعُوْدُ الْمَرْضٰى
فِيْ اَقْصَى الْمَدِيْنَةِ وَيَقْبَلُ عُذْرَ
الْمُعْتَذِرِ وَيَبْدَءُ اَصْحَابَهٗ بِالْمُصَافَحَةِ
وَلَمْ يُرَ قَطُّ مَادًّا رِجْلَيْهِ بَيْنَ اَصْحَابِهٖ
حَتّٰى يُضَيِّقَ بِهِمَا عَلٰى اَحَدٍ

او وخته ضرورت په وجه که به ئے د
څه نامناسب څيز نوم اخستو نو
کنايه ئے اوکړه - او حضرت علیؓ نه
روايت دے چه د حضور صلی الله عليه
وسلم سينه ټولو خلقو نه زيات ته
فراخه وه - او ټولو نه زيات رښتونے
وو - او ټولونه زيات نرم طبيعت
وو - او ټولونه زيات د خپل خاندان
عزت کوونکے وو - او چا چه به
ورته دعوت اوکړو - دعوت به
ئے قبلولو - او هديه به ئے قبلوله
اګر چه د چيلی کپڼی به وه د غلام د وينځ
د آزاد او د غريب د هر چا دعوت به
ئے قبلولو - او د مريض تپوس به
ئے کولو - د ښار په آخری سر کښی هم
او چا چه به عذر پيش کړو - عذر
به ئے قبلولو - او په مصافحه کښی
به په خپلو صحابو وړاندے کيدو او کله
نه دے ليدلے شوے چه د صحابو په مجلس
کښی ئے ښپے غزولی وی - او په بل
چا ئے ځائے تنګ کړے وی -

وَيُكْرِمُ مَنْ يَدْخُلُ عَلَيْهِ وَرُبَّمَا
يَبْسُطُ لَهٗ ثَوْبَهٗ وَيُؤْثِرُهٗ بِالْوِسَادَةِ
وَلَا يَقْطَعُ عَلٰى اَحَدٍ حَدِيْثَهٗ
وَكَانَ اَكْثَرَ النَّاسِ تَبَسُّمًا
وَاَطْيَبَهُمْ نَفْسًا مَالَمْ يَنْزِلْ عَلَيْهِ
اَوْ يَعِظْ اَوْ يَخْطُبْ وَكَانَ يَخْدِمُ
الْوُفُوْدَ بِنَفْسِهٖ اَحْيَانًا كَوُفُوْدِ
النَّجَاشِيِّ - وَاَنَّهٗ سَيِّدُ وُلْدِ اٰدَمَ
يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاَوَّلُ مَنْ
تَنْشَقُّ عَنْهُ الْاَرْضُ وَ
اَوَّلُ شَافِعٍ وَّمُشَفَّعٍ

او څوک چه به د هغوئی ملاقات ته
راغلو د هغو عزت به ئے کولو۔ کله کله
به ئے ورته خپل څادر اوغوړولو او خپله
تکیه به ئے ورکړه۔ او د هیچا خبره ئے
نه پریکوله۔ او هغوئی ټولو نه زیات
مسکی کیدو۔ او زیات خوش مزاجه
وو۔ که د وحی نازلیدو وخت به
نهٔ وو۔ یا د وعظ یا خطبے حالت
نه نهٔ وو۔ (ځکه چه دے وختونو
کښ به هغوئی په جوش کښ وو
نو خوش مزاجی به ئے نهٔ څرګندیدهٔ)
او کله کله به ئے د وفدونو خدمت
خپله اوکړو۔ لکه د نجاشی د
وفد و نو خدمت ئے خپله کړے
وو۔ او هغه به د ټولو بنیادمو
سردار وی د قیامت په ورځ۔
او ټولو نه اول به خپل تیر
نه پاڅی او ټول نه اول به
شفاعت کوی۔ او شفاعت
به ئے قبلیږی۔

وَكَانَ يَرْكَبُ الْحِمَارَ وَيُرْدِفُ
خَلْفَهٗ وَيَعُوْدُ الْمَسَاكِيْنَ
وَيُجَالِسُ الْفُقَرَاءَ وَيُفَلِّيْ
ثَوْبَهٗ وَيَحْلِبُ شَاتَهٗ وَ
يُرَقِّعُ ثَوْبَهٗ وَيَخْصِفُ
نَعْلَهٗ وَيَخْدِمُ لِنَفْسِهٖ وَ
اَهْلِهٖ وَيَقُمُّ الْبَيْتَ وَيَأْكُلُ مَعَ
الْخَادِمِ وَيَعْجِنُ مَعَهٗ وَيَحْمِلُ
بِضَاعَتَهٗ مِنَ السُّوْقِ وَكَانَ
مِنْ اٰمَنِ النَّاسِ وَاَعْدَلِ النَّاسِ
وَاَعَفَّ النَّاسِ وَاَشَدَّ فِيْهِمْ قَوْلًا

او کله کله په خر هم سور شوے
دے۔ او کله کله به ئے په اوښه
ځان پسے بل څوک هم سور دلو۔
او د غریب بیمارپښتنه به ئے
کوله۔ او د غریبانو په ټولی کښ
به کیناستو۔ او په جامو کښ
به ئے سپږے خپله لټولے۔
(چه چرته چا نه راختی نه وی)
او خپله زبه به ئے خپله لوشله او خپلو
جامو ته به ئے ټوټے ګنډلے او خپلے څپلئ به
ئے خپله مرمت کولے۔ او خپل کار به ئے خپله
کولو۔ او د کور دالو کار به ئے هم کولو۔ او
کله کله به ئے کور جارو کولو هم۔ او خپل خادم
به ئے خوراک خوړو او ورسره اوړه اغږلو کښ
امداد کولو۔ او د بازار نه به ئے
د خپل ضرورت سامان
خپله راوړو۔ او ټولو خلقو نه
زیات احسان کوونکے او
انصاف کوونکے او ټولو نه
زیات پاکباز او رښتونے
دو۔

حَتّٰى اَنَّ اَبَا جَهْلِ ابْنِ هِشَامٍ
لَعَنَهُ اللّٰهُ مَعَ كَمَالِ عَدَاوَتِهٖ لَمَّا سَأَلَهُ
اَخْنَسُ بْنُ شُرَيْقٍ يَوْمَ بَدْرٍ فَقَالَ
اَبَا الْحَكَمِ لَيْسَ هٰهُنَا غَيْرِيْ وَغَيْرُكَ
يَسْمَعُ كَلَامَنَا تُخْبِرُنِيْ عَنْ
مُحَمَّدٍ ﷺ صَادِقٌ اَمْ كَاذِبٌ فَقَالَ اَبُوْجَهْلٍ
وَاللّٰهِ اِنَّ مُحَمَّدًا الصَّادِقُ وَمَا كَذَبَ
مُحَمَّدٌ قَطُّ وَعَنْ خَارِجَةَ ابْنِ زَيْدٍ كَانَ
النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوْقَرَ النَّاسِ فِيْ مَجْلِسِهٖ
وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ اِذَا جَلَسَ فِيْ مَجْلِسٍ اِحْتَبٰى
بِيَدِهٖ، كَانَ اَكْثَرُ جُلُوْسِهٖ مُحْتَبِيًا

تر دے پورے چه ابوجهل بن هشام د
الله لعنت دې په ـ سره د هغه د ډېرې
دشمنۍ کله چه اخنس بن شریق ورته د
بدر د جنګ په موقعه ووئیل اے ابو الحکم
په دے ځائے بے زمانه او بے د تانه بل
څوک نشته چه زمونږ خبرے واوری ـ ته
ماته ووایه چه محمد ﷺ رښتونے دے که
درو غجن ـ ابو جهل ووئیل بے شک
محمد ﷺ رښتونے دے. هیڅ ئے دروغ
نه دی ویلی ـ

## (دیار لسم وصل دامام د مسلم تتمه دے)

د خارجه بن زید رضی الله عنه نه روایت دے ـ
چه حضور صلی الله علیه وسلم په خپل
مجلس کښی ټولو خلقو نه زیات باوقار وو ـ
دابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے چه
حضور ﷺ چه به مجلس کښی کیناستو
احتباء به ئے اوکړه او مجلس کښی زیات وخت
به ئے په دے حالت کښی وو ـ
احتباء دے ته وائی چه بنده کیني د واړه ګوډے
او دروی دواړه لاسونه پنډونه چاپیره کړی
او په څلو لاسونو د ه داچوی دا د تواضع
او انکسارۍ کیفیت دے ـ

وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ اَنَّهٗ تَرَبَّعَ
وَرُبَّمَا جَلَسَ الْقُرْفُصَاءَ وَكَانَ اِذَا مَشٰى
٢ مَشٰى مُجْتَمِعًا يُعْرَفُ فِيْ مَشْيِهٖ اَنَّهٗ غَيْرُ
غَرِضٍ وَلَا وَكِلٍ اَیْ غَيْرُ ضَجِرٍ وَلَا
كَسْلَانٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رض
كَانَ فِيْ كَلَامِهٖ تَرْتِيْلٌ اَوْ تَرْسِيْلٌ
وَعَنْ عَائِشَةَ رض كَانَ يُحَدِّثُ حَدِيْثًا
لَوْ عَدَّهُ الْعَادُّ لَاَحْصَاهُ
٣ وَيُحِبُّ الطِّيْبَ وَالرَّائِحَةَ
الْحَسَنَةَ وَيَسْتَعْمِلُهَا
كَثِيْرًا وَيَحُضُّ عَلَيْهَا

د جابر بن سمرة رض نه روایت دے
چه حضور صلی الله علیه وسلم کله کله
پلت هم وهلے دو۔ او کله کله
دبیپوپه سرهم ناست دے چه
لاسونه ئے ترخ کښ ورکړی دو۔
او حضورؐ چه به کله روان دو۔
په اطمینان به تلو۔ نه به تیز
تلو او نه سست۔ د هغوئی د
رفتار نه به معلومیده چه نه
ئے زړه تنګ دے۔ او نه سست دے۔
د جابر بن عبد الله نه روایت
دے چه د حضورؐ په کلام کښ
ترتیل دو۔ یعنی خبره به ئے
واضحه وه۔ او د عائشه رض ابئی نه
روایت دے چه هغوئی به داسے
خبرے کولے۔ که چا شمارلے نو
ټولے به ئے شمارلے وے۔ او د
هغوئی عطر او خوشبوئی
خوښه وه۔ خپله ئے هم
ډیره استعمالوله او نورو
ته به ئے هم ویل۔

وَلَا يَنْفُخُ فِيْ طَعَامٍ وَلَا فِيْ شَرَابٍ
وَيُحِبُّ اِنْقَاءَ الْبَرَاجِمِ وَالرَّوَاجِبِ

عَنْ عَائِشَةَ رضی اللہ عنہا مَا شَبِعَ رَسُوْلُ اللهِ
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ تِبَاعًا
مِنْ خُبْزٍ حَتّٰى مَضٰى لِسَبِيْلِهٖ وَعَنْ
حَفْصَةَ رضی اللہ عنہا كَانَ فِرَاشُهٗ مِسْحًا وَكَانَ
يَنَامُ اَحْيَانًا عَلٰى سَرِيْرٍ مَرْمُوْلٍ بِشَرِيْطٍ
حَتّٰى يُؤَثِّرَ فِيْ جَنْبِهٖ عَنْ عَائِشَةَ رضی اللہ عنہا لَمْ
يَمْتَلِئْ جَوْفُ النَّبِيِّ شِبَعًا قَطُّ وَلَمْ
يَبُثَّ الشَّكْوٰى اِلٰى اَحَدٍ وَكَانَتِ
الْفَاقَةُ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنَ الْغِنٰى

هغوی به د خوړلو څکلو څیزونه پوکے نهٔ ورکولو۔ هغوی به د ګوتو بند ونه او د انډ امونو جوړونه صفا ساتل خوښول۔

**رخوار لسم وصل** حضور صلی الله علیه وسلم تنګ ژوندن خوښ کړے دو)

عائشه رض نه روایت دے چه حضور صلی الله علیه وسلم مسلسل درے ورځے د اوربشو په روټئ ځان نهٔ دے موړ کړے۔ تر دے چه د آخرت په سفر روان شو۔ حفصه رض نه روایت دے چه د حضورؐ بستره یو ټاټ دو۔ کله کله به په تش کټ اوده شو۔ کوم چه به د کجورو د پوټکی په بوټو پیرلے دو۔ بوټو به ئے په بدن مبارک کښ نښے اوکړے۔ عائشه رض ابې نه روایت دے چه حضور صلی الله علیه وسلم هیڅرے په مړه خیټه روټئ نهٔ ده خوړلی او نهٔ ئے چرے چاته درے څه شکایت کړے دے۔ او د هغوی لوږه د مالدارئ نه زیاته خوښه وه۔

وَكَانَ يَظَلُّ جَائِعًا يَلْتَوِيْ طُوْلَ
لَيْلَتِهٖ مِنَ الْجُوْعِ وَلَوْ شَاءَ سَأَلَ
رَبَّهٗ جَمِيْعَ كُنُوْزِ الْاَرْضِ وَثِمَارِهَا
وَرَغَدَ عَيْشِهَا وَلٰكِنَّهٗ يَقُوْلُ مَالِيْ وَ
لِلدُّنْيَا اِخْوَانِيْ مِنْ اُولِي الْعَزْمِ مِنَ
الرُّسُلِ صَبَرُوْا عَلٰى مَا هُوَ
اَشَدُّ مِنْ هٰذَا فَمَضَوْا عَلٰى
حَالِهِمْ وَكَانَ شَرِيْدًا

ټوله ورځ به اوږے وو۔ اوږے به
اوده شو۔ نو ټوله شپه به د
لوږے نه اوړیده وړا اوړیده او که
حضورؐ غوښتے نو خپل رب نه
به ئے د ټولے زمکے د خزانو کنجیانے
او میوے او فراخه ژوند غوښتے
وو۔ لیکن حضورؐ به ویئل
زما د دنیا سره څه دی۔
زما رونړو اولوالعزم رسولانو
صبر کړے دے۔ د دے نه زیاتے
سختے ئے تیرے کړی دی۔ او
په داسے حال کښی وفات
شوی دی۔

## پنځلسم وصل د حضورؐ دخشیت او مجاهدو په بیان کښی)

الرَّهْبَةِ فِيْ ذَاتِ اللّٰهِ تَعَالٰى
حَتّٰى قَالَ لَوَدِدْتُّ
اَنِّيْ لَشَجَرَةٌ تُعْضَدُ

حضورؐ الله تعالیٰ نه ډیر
ویریدل۔ تردے چه ویئل
به ئے که زهٔ یو ونه وے چه
پریکړے شوے وے۔

وَكَانَ يُصَلِّيْ حَتّٰى يَرِمَ قَدَمَاهُ
فَقَالَ رَبُّهٗ تَعَالٰى وَتَقَدَّسَ
رَحْمَةً لَّهٗ طٰهٰ مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ
لِتَشْقٰى اَىْ لِتُتْعِبَ نَفْسَكَ وَكَانَ
يُصَلِّيْ وَلِجَوْفِهٖ اَزِيْزٌ كَاَزِيْزِ
الْمِرْجَلِ كَذَا رَوَاهُ عَبْدُ اللّٰهِ
ابْنِ الشِّخِّيْرِ وَكَانَ مُتَوَاصِلَ
الْاَحْزَانِ لَيْسَ لَهٗ رَاحَةٌ وَيَسْتَغْفِرُ
اللّٰهَ تَعَالٰى فِى الْيَوْمِ سَبْعِيْنَ مَرَّةً اَوْ
مِائَةَ مَرَّةٍ اَقُوْلُ كَانَ تَعْلِيْمًا لِاُمَّتِهٖ اَوْ
لِطَلَبِ مَغْفِرَةٍ لِاُمَّتِهٖ اَوْ لِاَنَّهٗ كَانَ خَائِفًا

او هغوئ به دومره ډیر لمونځ کول چه
پښې به ئې اوپړسیدے۔ نو په هغوئ
باندے د رحمت په وجه الله تعالیٰ
دا آیت مبارک نازل کړو۔ چه مونږ
تا باندے قرآن دے د پاره ته
دے نازل کړے چه ته ځان په
تکلیف کړے۔ او حضور صلی الله
علیه وسلم به چه مونځ کولو۔
د سینے نه به ئې داسے آواز
را تلو لکه کټوئ چه خوټکیږی۔
(چه پټ پټ به ئې ژړل) دا
روایت عبدالله بن الشخیر کړے
دے۔ او حضورؐ به همیشه غمګین
وو۔ آرام ئې نه وو۔ او په ورځ
کښې به ئې اویا ځله یا سل ځله
استغفار ویئل۔

(مؤلف وائی) زهٔ وایم دائې
امت ته تعلیم د پاره یا امت
ته مغفرت غوښتو د پاره ویئل۔
(ورنه هغوئ خو ګناه نه پاک وو) یائې
په دے وجه ویئل چه هغوئ خود

بِعَيْنِ الْقُرْبِ وَالْعِرْفَانِ وَكَانَ يَتَرَقّٰى سَاعَةً
فَسَاعَةً لِأَنَّهُ لَا تَكْرَارَ لِلتَّجَلِّيْ وَالتَّجَلِّيْ عَلٰى
حَسْبِ اِسْتِعْدَادِ الْمُتَجَلّٰى لَهُ وَاِسْتِعْدَادُهُ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ مُتَزَائِدًا اٰنًا فَاٰنًا
فَاِذَا رَاٰى الْمَرْتَبَةَ اللَّاحِقَةَ عَالِيًا يَعُدُّ
نَفْسَهُ فِي التَّقْصِيْرِ فِي الْمَرْتَبَةِ السَّابِقَةِ
اَلَمْ تَسْمَعْ اَنَّ حَسَنَاتِ الْاَبْرَارِ سَيِّاٰتُ الْمُقَرَّبِيْنَ
وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ عَنْ قَتَادَةَ رض عَنْ اَنَسٍ رض اَنَّ
اللّٰهَ تَعَالٰى مَا بَعَثَ نَبِيًّا اِلَّا حَسَنَ
الصَّوْتِ حَسَنَ الْوَجْهِ وَكَانَ نَبِيُّكُمْ
اَحْسَنَهُمْ وَجْهًا وَاَحْسَنَهُمْ صَوْتًا

قرب او عرفان په سمندر کښې ډوب
دو۔ او ساعت په ساعت به ئې قرب
کښې ترقي کوله۔ ځکه چه یو تجلي بیا بیا
نهٔ راځي بلکه نوی نوی راځي او په چا
چه تجلي کیږي۔ د هغهٔ د استعداد د
موافق کیږي۔ او د حضور صلی الله علیه
وسلم استعداد ساعت په ساعت زیاتیدو
نو ورستی مرتبه چه به ئې د
مخکښې نه عالي اولیده نو ځان به
ئې په مخکښې مرتبه کښې ګنهګار
او ګڼړلو۔ آیا تا نهٔ دي اوریدلي
چه د نیکانو نیکئ د مقربانو بدئ
ګڼړلے شي۔

## (شپاړسم وصل د حضورؐ د حسن وجمال په باره کښې)

امام ترمذي د قتادةؓ نه روایت کړیدے
او هغهٔ د انسؓ نه روایت کړے دے۔
چه الله تعالیٰ یو نبي هم داسے نهٔ
دے راستولے۔ چه خوش آوازه او خوبصورته
نهٔ دي او ستاسو نبي ټولو نه زیات خوبصورته
او خوش آواز وو۔

اَقُولُ وَاَمَّا عَدَمُ تَعَشُّقِ الْعَوَامِ
عَلَيْهِ كَمَا كَانَ عَلٰى يُوْسُفَ
عَلَيْهِ السَّلَامُ فَلِغَيْرَةِ اللّٰهِ
تَعَالٰى حَتّٰى لَمْ يُظْهِرْ جَمَالَهٗ كَمَا هُوَ
عَلٰى غَيْرِهٖ كَمَا اَنَّهٗ لَمْ يُظْهِرْ جَمَالَ
يُوْسُفَ ع كَمَا هُوَ اِلَّا عَلٰى يَعْقُوْبَ ع
اَوْ زُلَيْخَا وَكَانَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ حَلِيْمًا وَلَمْ يَكُنْ سَابًّا
وَلَا فَحَّاشًا وَلَا لَعَّانًا وَ
كَانَ يَرْكَبُ الْحِمَارَ فِيْ سَيْرٍ قَرِيْبٍ
وَالرَّاحِلَةَ فِيْ بَعِيْدٍ

(مؤلف وائی) زهٔ وایم (سره دددومره
ښائسته) د عوامو په هغوئی نهٔ
عاشق کیدل چه په یوسف علیه السلام
عاشقان وو - د الله تعالیٰ د غیرت په
وجه دی - چه د خپل حبیب
جمال ئے نورو خلقو ته دومره
نهٔ دے ظاهر کړے څومره چه وو -
لکه څنګه چه ئے د یوسف علیه السلام
جمال څومره چه یعقوب ع او زلیخا
ته ظاهر کړے وو - دومره ئے نور
چا ته نهٔ وو ظاهر کړے)

(اولسم وصل د هغوئی د نرمئی تواضع
او پاک طبیعت په بیان کښی)

او حضور صلی الله علیه وسلم
حلیم وو - نهٔ ئے کنځل کول نه ئے سخې
خبرے کولے - او نهٔ ئے په چا لعنت
وے - یعنی نهٔ ئے ښیرے کولے -
نژدے ځائے ته چه تلو په خر
به سوریدو - لرے ځائے ته
به په اوښه تلو.

| | |
|---|---|
| وَالْبُطُولَةِ فِي مَعَارِكِ الْحَرْبِ وَالْقِتَالِ | او د جګړې په معرکو کښې به په ځان سور وو - او د امداد او غوښتو |
| لِرَجَاحَةِ الْعَقْلِ وَكَانَ يَبْسُطُ | منو د څه په په آس ورتلو - او د مخلوق دوړ شدت یې ساتلی او |
| وَحُجَّتَهُ لِلْكَافِرِ وَالْعَدُوِّ بِجَامِ إِسْلَامِهِمْ | د ښمن د دار د دیاره وو - په دې خیال چه که دیې ځه نوم شي - |
| وَيُشِيرُ بِالْجَاهِلِ وَيَكُونُ فِي | اسلام قبول کړي - او د ناپوهه به یې تیزۍ به یې صبر کولو - او |
| مَنْزِلِهِ مَهْنَةَ أَهْلِهِ وَيَتَسَمَّتُ فِي | په کور کښې به یې کور واله ورسره د کور په انتظام کښې امداد کولو - |
| مَلَازِمِهِ حَتَّى لَا يَبْدُوَ مِنْهُ | او په ځاد کښې پټیدو کښې به یې ډیر احتیاط کولو - چه څه ځای |
| شَيْءٌ مِنْ أَطْرَافِهِ وَكَانَ وَسِيعَ | ښکاره نه شي - او د مخلوق خوش اخلاقي او انصاف عام |
| النَّاسَ بِشْرُهُ وَعَدْلُهُ وَلَا | وو - پټو لو خلقو د پاره او غصې به قابو کولے نه شو - |
| يَسْتَفِزُّهُ الْغَضَبُ وَلَا يُبْطِنُ | او ملګرو نه یې څه خبره نه پټوله - او د سترګو خیانت |
| عَلَى جُلَسَائِهِ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ صَلَّى اللهُ | یعني پټ کتل په کښې نه وو - |
| عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَائِنَةُ الْأَعْيُنِ | |

فَكَيْفَ بِخَائِنَةِ الْقَلْبِ وَكَانَ حَبِيْبُنَا
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعْصُوْمًا فِيْ أَحْوَالِهِ
وَأَقْوَالِهِ وَأَفْعَالِهِ عَنِ الْكَبَائِرِ وَالصَّغَائِرِ
عِنْدَ الْمُحَقِّقِيْنَ وَلَا يَصِحُّ مِنْهُ
خُلْفٌ وَاضْطِرَابٌ لَا فِيْ عَمَدٍ وَلَا فِيْ
سَهْوٍ وَلَا صِحَّةٍ وَلَا مَرَضٍ وَلَا
جِدٍّ وَلَا مَزْحٍ وَلَا رِضًى وَلَا غَضَبٍ
وَكَانَ لِحَبِيْبِنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
يَوْمَ قَدِمَ مَكَّةَ أَرْبَعُ غَدَائِرَ رَوَاهُ
أُمُّ هَانِئٍ فَكَانَ يَسْدُلُ شَعْرَهُ أَوَّلًا
ثُمَّ فَرَقَ رَأْسَهُ وَفِيْ رِوَايَةٍ

نو د زړهٔ خیانت پکښې چرته کیدے
شو۔ او زمونږ حبیب صلی الله علیه وسلم
په ټولو حالاتو کښې او کارونو کښې او خبرو
کښې د غټو او وړو ټولو ګناهونو
نه پاک دو۔ د حضورؐ نه هیڅ قسم
وعده خلافي یا د حق خلاف ممکن
نهٔ دو۔ نهٔ قصداً نهٔ په هیره
نهٔ په صحت کښې او نهٔ په مرض
کښې نهٔ په واقعي خبره کښې نهٔ
په ټوقه کښې۔ نهٔ د غصې په حالت
کښې او نهٔ په خوښه۔

## (اتلسم وصل د فتح مکې ورځ)

او د مکې د فتح په ورځ د حضورؐ
د سر ویښته څلور برخ شوی دو۔
اُمِّ هانی دا روایت کړے دے او
حضور صلی الله علیه وسلم
به اول په سر کښې لیکه نهٔ ویسته
ټول ویښتهٔ به ئې آوار اړول
بیا روستو ئې لیکه ویسته۔
ویښتهٔ ئې دوه حصې کول شاته
ئې اړول۔

كَانَ يَتَرَجَّلُ غِبًّا وَسُئِلَ اَنَسٌ عَنْ
خِضَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَمْ
يَبْلُغْ ذٰلِكَ اِنَّمَا كَانَ شَيْبًا فِيْ صُدْغَيْهِ
وَلٰكِنَّ اَبَابَكْرٍ خَضَبَ بِالْحِنَّاءِ وَالْكَتَمِ
وَفِيْ رِوَايَةٍ كَانَ شَيْبُهُ اَحْمَرَ
وَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَقِيْلٍ
رَأَيْتُ شَعْرَ رَسُوْلِ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ اَنَسٍ
۳ بْنِ مَالِكٍ مَخْضُوْبًا عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ
كَانَ يَكْتَحِلُ قَبْلَ اَنْ يَنَامَ ثَلَاثًا
فِيْ كُلِّ عَيْنٍ وَكَانَ يُحِبُّ

په يو روايت کښې دی چه حضور به سر
او بيره يو ورځ منځ کول يو ورځ نه.
او انس رض نه د حضور د خضاب تپوس او شو
نو هغهٔ او ويل چه حضور د خضاب
حد ته نهٔ وو رسيدلی يعنی د ږيرې
ئې دومره نهٔ وو سپين شوی چه
د خضاب ضرورت ئې شوے وے. د
حضور خو صرف لږ شان د کښې لږ
ږيره سپين وو. البته ابو بکر رض
خضاب لګولی دی. په نکريزه او د شمه
ئې رنګ کړی وو. تور کړی ئې نهٔ وو. په
روايت کښې دی چه د حضور ږيره سپين شوی
نهٔ وو. آخر عمر کښې سرهٔ شوی وو. د
عبدالله بن عقيل نه روايت دے چه ما انس بن
مالک رض سره د حضور د يو ويښته زيارت کړے
وو. نو هغه خضاب شوے وو. (د تحقيق
کوونکو عالمانو په نزد دا روايات داسې جمع کيږي
شي. چه آخر عمر کښې د حضور ويښتهٔ د سپين
کيدو په ځا سرهٔ شوی وو. ليکن حضور خضا
نهٔ وو لګولی. او حضور به په ښه ونو نکريزه لګوله
کيدے شي چه هغې نه څهٔ ويښتو رنګ اخستے وی.

الثَّوْبَ الْاَبْيَضَ وَالْقَمِيْصَ وَكُمُّهٗ
اِلَى الرُّسْغِ وَكَانَ يُحِبُّ الْحِبَرَ وَكَانَ
يَلْبَسُ مِرْطَ شَعْرٍ اَسْوَدَ وَقَدْ لَبِسَ
جُبَّةً رُوْمِيَّةً ضَيِّقَةَ الْكُمَّيْنِ
وَلَبِسَ خُفَّيْنِ اَسْوَدَيْنِ سَاذَجَيْنِ
وَمَسَحَ عَلَيْهِمَا وَكَانَ فِيْ نَعْلَيْهِ
قِبَالَانِ مُثَنًّى شِرَاكُهُمَا وَكَانَ
يَلْبَسُ النِّعَالَ السِّبْتِيَّةَ الَّتِيْ لَيْسَ فِيْهَا
شَعْرٌ وَيَتَوَضَّأُ فِيْهَا رَوَاهُ ابْنُ عُمَرَ
وَكَانَ يُصَلِّيْ فِيْ نَعْلَيْنِ مَخْصُوْفَتَيْنِ
وَاتَّخَذَ خَاتَمًا مِّنْ فِضَّةٍ

ابن عباسؓ نه روایت دے چه حضورؐ به اوږدهٔ
کمیدونه ځکښې راښکهٔ اچول په هره ستر که کښې
درے درے سلایان او د صفوتی سپینے جامے او
قمیص خوښ وو - او د قمیص لستوڼے به ئے
مړوند پورے وو - او یمنی څادرئے هم خوښ
وو او کله کله به ئے توره شړئ هم په سر وله او
رومی جبه ئے هم اغوستی وه لستوڼی ئے تنګ
وو - (دے نه ناجائز تشبیهه نهٔ ثابتیږی ځکه
چه دا د رومیانو خاصه جامه نهٔ وه) بلکه د روم
جوړه وه په دے معنٰی ورته رومی ویلے شوه.
او حضورؐ ساده تورے موزے اغوستے او مسح ئے
په کوله - او د حضورؐ په څپلو کښی دوه دوه تسمے
وے - یو تسمه د ګټه ګوتے او درمه ګوتے ترمینځه
او بله د دے نه د قدم د پاڅه او صفوتی به سَبْتِیْ
چپلے به بغیر کولے - دا به د ویښتو نه پاکے وے
او اودس د پاره بغیر د ویستلو نه پس به ئے هم
څپلے به بغیر کولے - ځکه چه دا به پاکے وے
او د ویښتو نه پاکو چپلو کښی به ئے مونځ هم کولو -
او صفوتی د چاندئ ګوته جوړه کړی وه په دے
به ئے د خط په آخر کښی مهر لګولو - او مستقله
اچوله ئے نه - لکه چه د ابن عمرؓ نه روایت دے.

Scanned with CamScanner

وَكَانَ يَخْتِمُ بِهٖ وَلَا يَلْبَسُهٗ كَمَا رَوَاهُ
ابْنُ عُمَرَ وَقَالَ اَنَسٌ كَانَ فَصُّهٗ حَبْشِيًّا
وَقَدْ ذُكِرَ فِيْ شُرُوْحِ الْبُخَارِيِّ اَنَّهٗ كَانَ
حَجَرًا مِنْ بِلَادِ الْحَبْشَةِ وَكَانَ جَزْعًا اَوْ
عَقِيْقًا وَرُوِيَ عَنْهُ اَيْضًا اَنَّ خَاتَمَ رَسُوْلِ
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ مِنْ فِضَّةٍ
وَفَصُّهٗ مِنْهُ وَفِيْ رِوَايَةٍ مِنْهُ كَاَنِّيْ
اَنْظُرُ اِلٰى بَيَاضِهٖ فِيْ كَفِّهٖ اَقُوْلُ
اِخْتِلَافُ الرِّوَايَاتِ بِحَسَبِ
اِخْتِلَافِ الْحَالَاتِ فَتَدَبَّرْ
وَدَعِ الْخِلَافَ

په دے گوته به ئے مهر لګولو او مستقله
ئے نهٔ اچوله لکه چه ابن عمرؓ نه
روایت دے۔ او انسؓ ویلی دی چه
د دے ګوتے غمے حبشی وو۔ او د
بخاری په شروحو کښ لیکلی دی۔
چه دا غمے د حبشی کانړی وو۔ یعنی
یمانی غمے یا عقیق وو۔ او انسؓ
نه دا روایت هم دے چه د حضور صلی
الله علیه وسلم ګوته د چاندئ
وه۔ او غمے ئے هم د چاندئ وو۔
او په یو روایت کښ دی ګویا نه
اوس هم زهٔ د هغے سپین والے
د حضور صلی الله علیه وسلم په
لاس کښ وینم (یعنی داسے راته
یاد ده۔ (غمے ئے هم د چاندئ
وو۔ مطلب دا دے چه د غمی کوټئ
ئے هم د سپینو وه۔ د سرو یا ید
څهٔ نهٔ وه) (مؤلف وائی) دا د
روایاتو اختلاف د حالاتو د اختلاف
په وجه دے نو ښه سوچ او کړه
او اختلاف پریږده۔

وَكَانَ نَقْشُهٗ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ
مُحَمَّدٌ سَطْرٌ وَّرَسُوْلٌ سَطْرٌ وَّاللّٰهِ
سَطْرٌ رَوَاهُ اَنَسٌؓ وَاِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ
نَزَعَ خَاتَمَهٗ وَكَانَ يَلْبَسُهٗ فِيْ يَمِيْنِهٖ
صَحَّحَهُ الْبُخَارِيُّ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍؓ
وَقَالَ اَنَسٌؓ وَجَابِرٌؓ وَابْنُ عَبَّاسٍؓ كَانَ
يَتَخَتَّمُ فِيْ يَمِيْنِهٖ وَكَانَ سَيْفُ رَسُوْلِ
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَنَفِيًّا وَ
قَبِيْعَتُهٗ فِضَّةٌ وَلَبِسَ دِرْعَيْنِ يَوْمَ اُحُدٍ
وَمِغْفَرًا يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَكَانَ اِذَا اعْتَمَّ
سَدَلَ عِمَامَتَهٗ بَيْنَ كَتِفَيْهِ وَثَبَتَ

(اومهر دپاره) په دے ګوته کښې لیکلے
شوے دو (الله رسول محمد) محمد رسول الله په دریے
کرښوکښې - یوه کرښه محمد بله رسول بله
الله - دا روایت د انسؓ دے او کله چه
به بیت الخلا ته تلو تو نو ګوته به ئے
اوویسته - او ګوته به ئے په ښي
لاس کښې اچوله - دا روایت بخاری کړے
دے - د عبد الله بن جعفرؓ نه - او انسؓ
او جابرؓ او ابن عباسؓ نه هم روایت
دے چه حضورؐ به ګوته په ښي لاس
کښې اچوله - او د حضورؐ توره حنفی
یعنی د بنی حنفیه قبیلے جوړه وه - او
د هغے د موټي غوټه د چاندۍ وه -
(دا غوټه د موټي نه پس پلتے کیږی
ځکه د دغې د چاندۍ استعمال جائز
دو) او حضورؐ د احد د غزا په ورځ دوه
زغرے اغوستے دے - او د فتح مکے په ورځ ئے
مغفر یعنی د اوسپنے ټوپۍ هم په سر
کړی وه - او حضورؐ چه به پټکے په
سر ولو نو شمله به ئے شانته د اوږو
تر مینځه پریښوه -

فِيْ كُتُبِ السِّيَرِ بِرِوَايَاتٍ صَحِيْحَةٍ اَنَّهٗ
كَانَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرْخِيْ عِلَاقَتَهٗ
اَحْيَانًا بَيْنَ كَتِفَيْهِ وَاَحْيَانًا يَلْبَسُ الْعِمَامَةَ
بِغَيْرِ عِلَاقَةٍ وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ
اَنَّهٗ كَانَ يَلْبَسُ الْقَلَانِسَ تَحْتَ
الْعِمَامَةِ وَيَلْبَسُ الْعِمَامَةَ بِغَيْرِ
الْقَلَانِسِ وَكَانَ لَهٗ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ وَ
كَانَ يَأْتَزِرُ اِلٰى اَنْصَافِ سَاقَيْهِ
وَرَخَّصَ اِلٰى اَسْفَلَ وَلٰكِنْ
قَالَ لَاحَقَّ بِالْاِزَارِ فِي الْكَعْبَيْنِ
وَاِذَا جَلَسَ اِحْتَبٰى بِيَدَيْهِ

او د سیرت په کتابونو کښې صحیح
احادیثو نه ثابته ده۔ چې
حضور صلی الله علیه وسلم به کله
کله شمله د اوږدو په مینځ پرېښوده او
کله به ئې پټکے بې شملے وهلے
وو - او ابن عباس رض نه روایت دے
چې حضور ﷺ به پټکی د لاندې
ټوپئ پسې وله او کله به ئې
پټکے بې ټوپئ وو - او د حضور
صلی الله علیه وسلم پټکے تور وو۔
او د هغوی لنګ به د پنډو تر
نیمے وو - ورته لاندې ئې
هم اجازت ورکړے دے۔ لیکن
هغوی به وئیل چې د لنګ
تر ګیټو څه حق نشته - او
حضور صلی الله علیه وسلم
چې به کیناستو احتباء
به ئې کوله۔

د احتباء معنی مخکښې په ص ۱۲۰
کښې بیان شوې ده۔

وَاسْتَلْقىٰ فِي الْمَسْجِدِ وَاضِعًا اِحْدٰى
رِجْلَيْهِ عَلَى الْاُخْرٰى عَنْ جَابِرِ بْنِ
سَمُرَةَ رَأَيْتُهُ مُتَّكِئًا عَلٰى وِسَادَةٍ
عَلٰى يَسَارِهٖ رَوَاهُ اَنَسٌ وَعَلَيْهِ
ثَوْبٌ قَطَرِيٌّ قَدْ تَوَشَّحَ بِهٖ
فَصَلّٰى بِهِمْ وَعَنْهُ اِذَا
اَكَلَ طَعَامًا لَعِقَ اَصَابِعَهُ
الثَّلٰثَ عَنْ اَبِيْ جُحَيْفَةَ اَنَّهٗ قَالَ اَمَّا
اَنَا فَلَا اٰكُلُ مُتَّكِئًا وَكَانَ يَأْكُلُ
بِاَصَابِعِهِ الثَّلٰثِ وَيَلْعَقُهُنَّ وَكَانَ
اَكْثَرُ خُبْزِهٖ خُبْزُ الشَّعِيْرِ

او هغوی په جمات کښې ایغ نیغ
هم او ده شوی دی - یوه پښه ئې
په بله اچولې ده - د جابر بن
سمره رض نه روایت دے چه ما
حضور صلی الله علیه وسلم لیدلے
دے چه په بالښت ئې تکیه وهلې
ده په کس اړخ -

**(نولسم وصل د اتلسم تتمه ده)**

او انس رض نه روایت دے - چه ما
حضور صلی الله علیه وسلم لیدلے دے
چه د قطری جوړ څادر ئې داسې په اوږو
اچولے وو - چه د ترخ لاندے ئې
راوستے وو - او په دے حالت کښې
ئې مونځ ته امامتی اوکړه - او
انس رض نه روایت دے چه حضور
چه به خوراک اوکړو - نو خپلے
درے واړه گوتے به ئې اوڅټلے او ابو
جحیفه نه روایت دے چه حضور فرمائیلی دی چه
زۀ د خوراک په وخت کښې تکیه نۀ لګوم - او حضور
به خوراک په درې ګوتو کولو - او هغه به ئې بیا څټلې
او د هغوئی روټئ به اکثر د اوربشو وه -

وَمَا اَكَلَ عَلٰى خِوَانٍ قَطُّ وَلَا
سُكُرُّجَةٍ بَلْ عَلَى السُّفَرِ وَلَا خُبِزَلَهٗ
مُرَقَّقٌ وَعَنْ عَائِشَةَ كَانَ يُحِبُّ
الْخَلَّ وَالزَّيْتَ وَالْحَلْوَاءَ وَ
الْعَسَلَ وَالدُّبَّاءَ وَاَكَلَ لَحْمَ
الدَّجَاجِ وَالْحُبَارٰى وَالشَّاةِ
وَالْاِبِلِ وَالْبَقَرِ وَ يُحِبُّ
الثَّرِيْدَ وَيَاْكُلُ الْفِلْفِلَ وَالتَّوَابِلَ
وَاَكَلَ الْبُسْرَ وَالرُّطَبَ وَالتَّمْرَ
وَالسِّلْقَ وَالْحَيْسَ وَكَانَ يُعْجِبُهُ
الثُّفْلَ يَعْنِيْ مَابَقِيَ مِنَ الطَّعَامِ

او حضور صلی الله علیه وسلم هیڅ‌ رے
په میز خوراک نه دے کړے او نه ئے
په خوانچه کښې کړے دے. بلکه په
دسترخوان ئے کړے دے. (یعنی
په زمکه ئے خوراک کولو) او هغو ته
دپاره چرے چپاتی نه دی پاخه شوی
د حضرت عائشه رضی نه روایت
دے چه د حضور صلی الله علیه وسلم
سرکه او د زیتون تیل او خوږ څیز
ګبین او کدو خوښ وو. او هغوی
د چرګ غوښه د سرخاب غوښه
او د چیلئ غوښه د اوښ غوښه
د غوا غوښه خوړلی ده. او د هغوی
ترید (یعنی په ښوروا کښې ماته
روټئ) خوښه وه. او مرچې او
مصالحه ئے هم خوړه. او هغوی
نیم پخته کجورے او تازه پخے کجورے
او اوچے کجورے یعنی چوارے او
چقندر او حیس یعنی د کجورو خوږه
او پیپر نه سوړه حلوا ئے هم
خوړلی ده.

وَقَالَ بَرَكَتُ الطَّعَامِ الْوُضُوْءُ قَبْلَهٗ
وَبَعْدَهٗ اَیْ غَسْلُ الْاَیْدِیْ اِطْلَاقًا
لِلْكُلِّ عَلَى الْجُزْءِ كَذَا قَالُوْا وَكَانَ
يَأْكُلُ الْقِثَّاءَ بِالرُّطَبِ كَمَا رَوَاهُ عَبْدُ اللّٰهِ
بْنِ جَعْفَرٍ وَرَوَتْ عَائِشَةُ رضـ اَنَّهٗ كَانَ
يَأْكُلُ الْبِطِّيْخَ بِالرُّطَبِ يَقُوْلُ
يُكْسَرُ حَرُّ هٰذَا بِبَرْدِ هٰذَا وَكَانَ
اَحَبُّ الشَّرَابِ اِلَيْهِ الْحُلْوُ
الْبَارِدُ وَيَشْرَبُ النَّبِيْذَ وَ
اللَّبَنَ وَالْمَاءَ فِیْ قَدَحٍ كَانَ لَهٗ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ خَشَبٍ غَلِيْظًا مُضَبَّبًا بِحَدِيْدٍ

او فرمايلی ئے دی د خوراک برکت
په دے کښی دے چه وړاندے روستو
تر لاسونه او دوینځلے شی۔ (لاس
وینځلو ته وضو ویل اطلاق د کل
دے۔ په خبر باندے عالمانو
داسے ویلی دی) او حضور صلی الله
علیه وسلم به تره د تازه کجورے
سره خوړه۔ لکه چه عبد الله بن
جعفر رضـ روایت کړے دے۔ او د
حضرت عائشه رضـ نه روایت دے چه
حضور صلی الله علیه وسلم هندوانه
د تازه کجورو سره خوړه۔ او وے
فرمایل د دے د یخنئی علاج
د دے په ګرمئی کیږی۔ او د
هغوئی به خوږے یخ او به خوښ
وے۔ او نبیذ او پئی او او به
به ئے په خپله پیاله کښی څکلے
کومه چه د لرګی نه جوړه ده۔
شړله غونډے ده۔ او د
او سپنے پترې په لګیدلی
دو۔

وَقَالَ لَيْسَ شَيْءٌ يُجْزِئُ مَكَانَ
الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ غَيْرَ اللَّبَنِ
وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍؓ شَرِبَ مَاءَ زَمْزَمَ
قَائِمًا وَرَوَى عَمْرُو بْنُ شُعَيْبٍ عَنْ
اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدًا وَقَائِمًا وَاِذَا
شَرِبَ تَنَفَّسَ مَرَّتَيْنِ وَزَادَ الْبُخَارِيُّ
اَوْ ثَلَاثًا وَكَانَ اِذَا اَخَذَ مَضْجَعَهٗ
وَضَعَ كَفَّهُ الْيُمْنٰى تَحْتَ خَدِّهٖ
الْاَيْمَنِ وَرَوَاهُ بَرَاءُ بْنُ عَازِبٍؓ
وَاِذَا نَامَ نَفَخَ رَوَاهُ ابْنُ عَبَّاسٍؓ

او حضور صلی اللہ علیه وسلم فرمائیلی
دی بل هیځ شے داسے نشته چه د
خوراک او اوبو دواړو کار اوکړی - بے
د پیو نه - ابن عباسؓ نه روایت
دے چه حضور صلی اللہ علیه وسلم
زمزم په ولاړه څکلی دی - او عمرو
بن شعیب د پلار نه او هغه ئے د
نیکهٔ نه روایت کړے دے - چه ما
حضور صلی الله علیه وسلم په ولاړه
او په ناستی دواړه حالته کښې په
اوبو څکلو لیدلے دے - او حضورؐ به
اوبو څکلو کښې دوه ځله ساه اخسته
او بخاری زیات کړے دے - دوه یا
درے ځله او کله چه به ئے د
اوده کیدو اراده اوکړه نو (په ښی
طرف به اوده کیدو) - د ښی
لاس درغوے به ئے د ښی طرف مخ
لاندے کینو - براء بن عازب دا روایت
کړے دے - او ابن عباس نه روایت
دے - چه حضور صلی الله علیه وسلم
چه به اوده شو - خریدو به -

وَعَنْ عَائِشَةَ رضـ كَانَ فِرَاشُ رَسُوْلِ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِيْ يَنَامُ عَلَيْهِ مِنْ اَدَمٍ
حَشْوُهٗ لِيْفٌ وَقَالَتْ حَفْصَةُ رضـ كَانَ
فِرَاشُهٗ مِسْحًا نُثْنِيْهِ ثِنْيَتَيْنِ فَيَنَامُ
عَلَيْهِ وَعَنْ اَنَسٍ رضـ كَانَ يَعُوْدُ الْمَرِيْضَ
وَيَشْهَدُ الْجَنَازَةَ وَيَرْكَبُ الْحِمَارَ
وَيُجِيْبُ دَعْوَةَ الْعَبْدِ وَكَانَ يَوْمَ
بَنِيْ قُرَيْظَةَ عَلٰى حِمَارٍ مَخْطُوْمٍ
بِحَبْلٍ مِّنْ لِيْفٍ عَلَيْهِ اِكَافٌ مِنْ
لِيْفٍ وَفِيْ رِوَايَةٍ عَنْهُ كَانَ يَقْعُدُ
عَلَى الْاَرْضِ وَيَحْلِبُ شَاتَهٗ

عائشه رضـ نه روایت دے چه د حضورؐ
بستره د څرمنے وه - او د کجورے د
ریشو نه ډکه وه - او حفصه رضـ نه
روایت دے چه د حضورؐ بستره د
ټاټ وه - مونږ به ورته برغده
کړه دوه تهې نو په هغې به اوده
شو - او انس رضـ نه روایت دے چه
حضور صلی الله علیه وسلم به د
مریض پوښتنه کوله - او جنازے
ته به تلو - او په خره سوریدو
او د غلام دعوت به ئے هم
قبلولو - او د بنی قریظه د غزا
په ورځ په خر سور وو - چه
واګے ئے د کجورو د ریشے پړے وو -
او ورباندے کته هم د کجورو
د ریشو نه ډکه وه - او د
انس رضـ نه روایت دے - چه
حضور صلی الله علیه وسلم
به په زمکه کیناستو - او
خپله زبه به ئے خپله
لوشله -

وَيَقُوْلُ لَوْ دُعِيْتُ اِلٰى ذِرَاعٍ لَاَجَبْتُ
وَحَجَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
عَلٰى رَحْلٍ رَثٍّ وَعَلَيْهِ قَطِيْفَةٌ لَا
تُسَاوِيْ اَرْبَعَةَ دَرَاهِمَ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ
اجْعَلْهُ حَجًّا لَا رِيَاءَ فِيْهِ وَلَا سُمْعَةَ
عَنْ عَائِشَةَ رض كَانَ يَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ
وَيُثِيْبُ عَلَيْهَا قَالَ النَّبِيُّ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ اَتَتْ
عَلَيَّ ثَلٰثُوْنَ مِنْ بَيْنِ لَيْلَةٍ وَّيَوْمٍ
وَمَالِيْ طَعَامٌ يَّاْكُلُهُ ذُوْكَبِدٍ اِلَّا شَيْئٌ
يُّوَارِيْهِ اِبْطُ بِلَالٍ رض رَوَاهُ اَنَسٌ رض

او حضور صلی الله علیه وسلم به
فرمايل که ما څوک د چيلۍ ديو
ليچي غوښې ته اوغواړی - هم
دعوت به ئې قبلومه او حضور
صلی الله علیه وسلم په يو
زړه کټه حج اوکړو - په هغې
د شړۍ يو ټوټه اچولی شوی
وه - چې قيمت ئې څلور درهمه
هم نه وو - بيا ئې هم دا دعا
غوښته يا الله دا حج مقبول
حج کړې چې نه ورکښې نمائش
وی او نه د شهرت نيت - او
عائشه رض نه روايت دے چې
حضور به هديه قبلوله - او
د هغې عوض به ئې ورکولو - او حضور
فرمائيلی دی - په ما داسې ديرش
ورځې شپې تيرې شوی دی چې د
خوراک د ومره څیز راسره نه وو -
چې يو ځاندار په موړيشی بس دومره لږ
څیز به وو چې د بلال په ترخ کښې
راتلو - دا روايت د انس رض دے -

وَقَالَ لَمْ يَجْتَمِعْ عِنْدَهٗ غَدَاءٌ وَلَا
عِشَاءٌ مِنْ خُبْزٍ وَلَحْمٍ اِلَّا عَلٰى ضَفَفٍ

وَعَنْهُ قَالَ اٰخِرُ نَظْرَةٍ نَظَرْتُهَا
اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
قَالَ كَشْفُ السِّتَارَةِ يَوْمَ الْاِثْنَيْنِ
فَنَظَرْتُ اِلٰى وَجْهِهٖ كَاَنَّهٗ وَرَقَةُ
مُصْحَفٍ وَاَنَّ اَبَابَكْرٍ قَبَّلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ مَامَاتَ فَوَضَعَ فَمَهٗ
بَيْنَ عَيْنَيْهِ وَوَضَعَ يَدَيْهِ
عَلٰى سَاعِدَيْهِ وَقَالَ
وَانَبِيَّاهُ وَاصَفِيَّاهُ وَاخَلِيْلَاهُ

او انس رض وئیلی دی چه حضور صلی الله
علیه وسلم سحر او ماښام د واړه وخته
غوښه او دوډئ نه دی خوړلی۔
مګر په داسے حال کښ چه خوراکیان
به د خوراک نه زیات وو یعنی ټول
به ماړهٔ نشو)

## (شلم وصل د حضور د وفات شریف په بیان کښ)

انس رض فرمائی چه ما د حضور آخری
زیارت هغه وخت کړے دے۔ چه
هغوئی په مرض وفات کښ د ګل
په ورځ (پرده پورته کړه او جمات
کښ خلق وته ئے اوکتل) په هغه
وخت ما د هغوئی مخ مبارک اولیدو
چه لکه د قرآن شریف د پاڼے
(صفا وو) او حضرت ابوبکر رض د وفات
نه پس نبی کریم ص ښکل کړو۔ خوله ئے د
هغوئی د سترګو مینځ کښ په تندی کیښوه
او لاسونه ئے ورته په دواړو څنګلو کیښو
او وے ویل هائے زمونږ نبی هائے
زمونږ صفی هائے زمونږ خلیل۔

وَرَوٰى سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ
جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ اَبِيْهِ
قُبِضَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
يَوْمَ الْاِثْنَيْنِ فَمَكَثَ ذٰلِكَ الْيَوْمَ
وَلَيْلَةَ الثُّلٰثَاءِ وَيَوْمَ الثُّلٰثَاءِ
وَ دُفِنَ مِنَ اللَّيْلِ يَسْمَعُ
صَوْتُ الْمَسَاحِيْ مِنْ اٰخِرِ
اللَّيْلِ وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ
بْنِ عَوْفٍ قُبِضَ يَوْمَ الْاِ
ثْنَيْنِ وَ دُفِنَ يَوْمَ الثُّلٰثَاءِ قَالَ
اَبُوْ عِيْسٰى التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ

او سفیان بن عیینه د جعفر بن
محمد نه او هغهٔ د خپل پلار
نه روایت کړے دے۔ چه حضور
صلی الله علیه وسلم د ګل
په ورځ وفات شو۔ نو دا
ورځ او د نهے شپه او ورځ ئے
په کور تیره کړه۔ او د شپې
دفن کړے شو۔ د شپې په آخرکښ
د کودالو آوازونه اوریدے
شو۔ (چه قبر کنستے شو) (دا
تاخیر د ډیره غمه د حیرانتیا
او د حکمی ضروری کارونو لکه د
خلیفه انتخاب په وجه (وشو)
عبد الرحمٰن بن عوف نه
روایت دے۔ چه حضور صلی الله
علیه وسلم د ګل په ورځ وفات
شو۔ او د نهے په ورځ دفن
کړے شو۔ ابو عیسٰی ترمذی
وئیلی دی۔ دا حدیث غریب
دے۔ (یعنی متصل دے بلکه چا
دا سے نهٔ دی وئیلی)

اَقُوْلُ الصَّحِيْحُ اَنَّهٗ دُفِنَ
لَيْلَةَ الْاَرْبَعَاءِ وَقَالَ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَنَامُ عَيْنِيْ وَلَا يَنَامُ
قَلْبِيْ وَاِنِّيْ اَبِيْتُ يُطْعِمُنِيْ رَبِّيْ
وَيَسْقِيْنِيْ وَاِنِّيْ لَا اَنْسٰى وَلٰكِنْ
اُنَسّٰى وَاِنِّيْ اَرٰى مِنْ خَلْفِيْ كَمَا
اَرٰى مِنْ اَمَامِيْ وَاَنَّهٗ كَانَ
يَقْظَانَ الْقَلْبِ دَائِمًا وَفَوْتُ
الْفَجْرِ لَيْلَةَ التَّعْرِيْسِ لِحِكْمَةٍ
اِلٰهِيَّةٍ اِقْتَضَتْ اِظْهَارَ
حُكْمِ الْقَضَاءِ عَلٰى اُمَّتِهٖ

(مؤلف وائی) زهٔ وایم صحیح داده
چه د نبی درح تیره شوه د شروع
په شپه تدفین شوید ے.

(یوویشتم وصل د اُوم وصل
تتمه ده)

او حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی
دی زما سترګے اودے دی خو زړهٔ م
نهٔ اودهٔ کیږی - او زهٔ شپه په داسے
حالت کښ تیره کړم چه خپل رب
راته خوراک څښاک راکړی - او ما
نه څهٔ خبره هیریږی نه - خو رانه
هیروله شی - او زهٔ شاته هم
داسے وینم لکه مخامخ او د
هغوی زړهٔ به بیدار وو
همیشه (او سره د بیدارئ چه
هغوی نه د تعریس په شپه
دسحر مونځ قضا شوے وو - دا په
دے وجه چه حکمت الهی
دا غوښته چه امت محمدی
ته د قضا مونځ جار ویستلو
طریقه معلومه شی)

قَالَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنِّيْ لَاَمْزَحُ وَلَا اَقُوْلُ

اِلَّا حَقًّا وَكَانَ يُمَازِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ اَحْيَانًا

لِتَطِيْبَ قُلُوْبُهُمْ كَقَوْلِهٖ لَاَحْمِلَنَّكَ عَلٰى

اِبْنِ النَّاقَةِ لِاَعْرَابِيٍّ وَلَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ

عَجُوْزٌ لِامْرَاَةٍ وَكَانَ حَبِيْبُنَا .

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَفْضَلَ الْاَنْبِيَاءِ

وَخَتْمَ الْمُرْسَلِيْنَ وَ مُنْتَهَى

النَّبِيِّيْنَ وَعِيْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ

يَقْتَدِىْ بِهٖ فِى الْاَحْكَامِ - وَ اَنَّهٗ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاسٰى مِنَ الشَّدَائِدِ

مَا يُقَاسِيْهِ الْاِنْسَانُ لِيَتَضَاعَفَ ثَوَابُهٗ

**(دوویشتم وصل** د صفوڼ د مزاج یعنې خوش طبعۍ ټوقې ټکاله کولو په بیان کښ)

حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي۔ زهٔ ټوقه کوم خو په ټوقه کښ خبره هم حقه کوم۔ (فضول او دروغ خبره نهٔ وي) نو صفوڼ به کله کله د مؤمنانو د زړهٔ خوشالولو د پاره ټوقه کوله۔ لکه چه یو بانډیسي ته ئې فرمائیلي وو۔ (چا چه ورته سفر د پاره اوښ غوښتې وو) چه د اوښ بچي به سفر د پاره درکړم۔ (هغه خفه شو چه بچي به څنګه او دومره سفر او کړې شي۔ صفوڼ تسلي ورکړه چه هر اوښ د یو اوښ بچې دي۔ بنه قوي اوښ به درکړم)

یو بوډۍ ته ئې فرمائیلي وو۔ بوډۍ به جنت ته نهٔ ځي۔ (هغه ډېره خفه شوه۔ بیا ورته حضورؐ تسلي ورکړه چه الله تعالیٰ به ټول جنتیان ځوانان کړي۔ که بوډا دي۔ هغه به ځوانان شي د بوډا والي په حالت کښ به جنت ته نهٔ ځي۔ او بیا به همیشه ځوان دي بوډا کیږي به نه)

**درویشتم وصل** د اوم د مل او دوویشتم وصل تتمه ده)

او زمونږ رسول صلی الله علیه وسلم په ټولو نبیانو کښ افضل وو او آخري رسول وو۔ نبي وو عیسیٰ علیه السلام چه بیا دنیا ته راشي نو د حضورؐ په شریعت به عمل کوي۔

**(څلیریشتم وصل)**

او په حضورؐ تکلیفونه هم راغلي دي څومره چه یو بنده برداشت کولې شي چه د صفوڼ ثواب زیات شي ـ

وَتَصَاعُدِ دَرَجَاتِهٖ فَمَرِضَ وَاشْتَكٰى
وَاَصَابَهُ الْحَرُّ وَالْقَرُّ وَاَدْرَكَهُ الْجُوْعُ
وَالْعَطَشُ وَلَحِقَهُ الْغَضَبُ وَالضَّجَرُ
وَنَالَهُ الْاِعْيَاءُ وَالتَّعَبُ وَالضَّعْفُ
وَالْكِبَرُ وَسَقَطَ فَجُحِشَ وَشَجَّهُ
اَلْكُفَّارُ يَوْمَ اُحُدٍ وَاَدْمَوْا قَدَمَيْهِ
فِى الطَّائِفِ وَسُقِيَ السَّمَّ وَسُحِرَ
وَتَدَاوٰى وَاحْتَجَمَ وَتَنَشَّرَ وَتَعَوَّذَ
وَقَضٰى نَحْبَهُ وَلَحِقَ بِالرَّفِيْقِ الْاَ
عْلٰى وَتَخَلَّصَ مِنْ دَارِ الْاِمْتِحَانِ
وَالْبَلْوٰى وَلَقَدْ عَصَمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى

او درجے ئے بلندے شی - نو هغوئ
بیمار شو - او د دردونو شکایت ورته
اوشو - او د گرمئ یخنئ اثر په اوشو.
او لوږه تنده په راغله - او غصه
او د زړه تنګسیا هم په راغله - او
کمزوری او ستومانی او بوډاوالے
هم په راغلو - او د سورلئ نه
پریوتو - زخمی هم شو - او د
احد په غزا کښې کافرانو زخمی
کړو - او پښے مبارکے ئے په
طائف کښې د کافرانو په کاڼرو
ویشتو وینے وینے شوے او
زهر ورکړے شو او جادو په
اثر اوکړو - هغوئ دارو هم
کړی دی - او ښکرئے هم لګولی
دی - او دم تعویذ ئے هم
کړے دے - او خپل کار ئے
پوره کړو - بیا خپل رب ته
اورسیدو - او مصیبتونو او
ازمینښتونو نه خلاص
شو -

Scanned with CamScanner

عَنِ الْاَعْدَاءِ فِيْ مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ
حَتّٰى عَنْ بَدْرِ بْنِ قَمَّةَ يَوْمَ اُحُدٍ
حِيْنَ رَمٰى بِحَجَرٍ فَشَجَّ وَجْنَتَهٗ وَدَخَلَتْ
حَلْقَتَانِ مِنَ الْمِغْفَرِ فِيْهَا اُخَذَ
عَلٰى اَبْصَارِ قُرَيْشٍ عِنْدَ خُرُوْجِهٖ
اِلَى الثَّوْرِ وَاَمْسَكَ عَنْهُ سَيْفَ
غُوْرِثٍ وَحَجَرَ اَبِيْ جَهْلٍ وَ
فَرَسَ سُرَاقَةَ بْنِ مَالِكٍ وَسِحْرَ
لَبِيْدِ بْنِ اَعْصَمَ وَ سَمَّ
يَهُوْدِيَّةٍ وَفِي الْعِصْمَةِ وَالْاَذِيَّةِ
اِظْهَارُ لِشَرَفِهٖ وَاِيْصَالُ ثَوَابِهٖ

اوپه ډیرو ځایونو کښې الله تعالیٰ
د دشمنانو نه بچ کړے دے تر دے
د احد په غزا کښې ئې د بدر
بن قمه د کاڼړي د ګوزار نه
بچ کړو- صرف تندے ئې لږ زخمي
شو- چه د خول د دوه کړئ پکښې
ننخ شوے- او د قریشو په سترګو
ئې پردے واچولے کله چه د هجرت
په شپه حضورؐ جبل ثور طرف ته
تلو- د قریش ورته چاپیره وو
خو ګټې ئې کوله- حضورؐ او نه لیده
او حضورؐ د کور نه اووتو- او د
غورث د توره نه او د ابوجهل
د کاڼړي نه ئې بچ کړو- او د سراقه
بن مالک د آس نه او د لبید
بن عاصم د سحر نه ئې بچ
کړو- او د یو یهودئې د زهرو نه
ئې بچ کړو- او په دے بچ کولو
کښې د حضورؐ د عزت اظهار دو-
او په تکلیف کښې ئې ثواب
ورکول غرض دو-

وَكَيْلَا يَضِلَّ فِيْهِ النَّاسُ بِاِظْهَارِ
الْعَجَائِبِ وَالْمُعْجِزَاتِ كَمَا ضَلُّوْا فِيْ
عِيْسٰى وَعُزَيْرٍ عَلَيْهِمَا السَّلَامُ وَلِيَكُوْنَ
تَسْلِيَةً لِاُمَّتِهٖ فِي الْمَصَائِبِ
وَهٰذِهِ الطَّوَارِئُ اِنَّمَا كَانَتْ عَلٰى
جَسَدِهِ الْمُطَهَّرِ الْبَشَرِيِّ لِمُشَاكَلَةِ
النَّوْعِ وَاَمَّا قَلْبُهٗ فَمُنَزَّهٌ مُقَدَّسٌ
عَنِ التَّعَلُّقِ بِالْخَلْقِ مَشْغُوْلٌ
بِمُشَاهَدَةِ الْحَقِّ فَاِنَّهٗ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ بِاللّٰهِ وَلِلّٰهِ وَفِي
اللّٰهِ وَمَعَ اللّٰهِ فِيْ كُلِّ لَحْظَةٍ وَّاٰنٍ

او په تکلیف کښې ئې بله دا فائده وه
چه د ډیرو کمالاتو او معجزاتو په وجه
د ده نه به خلق ګمراه نشی لکه په عیسیٰ
او عزیر علیهما السلام چه ګمراه شو
(د خدائی ګومان ئې په او کړو) که
حضورؐ ته جسمانی تکلیف نه وے
رسیدلے نو په دوئ به هم خلقو
غلط خیال کړے وو۔ ګمراه شوی به وو۔
او په تکلیف کښې بله فائده دا ده
چه امت پاندے که څه تکلیف
راځی نو په دے به ئې تسلی
کیږی۔ چه تکلیفونه خو په حضورؐ
هم راغلی وو۔

## پنځه ویشتم وصل

او دا تکلیفونه صرف د هغوئ په جسم
عنصری باندے وو۔ د نورو بندیانو سره د
ظاهری شراکت په وجه لیکن د هغوئ زړه
مبارک د مخلوق سره تعلق نه پاک وو د هغوئ
خوږ وخت په مشاهده د حق کښې مشغول
او مستغرق وو لنو د دے جسمانی تکلیف د هغوئ
په زړه هیڅ اثر نه کیدو

حَتّٰى اَنَّ اَكْلَهٗ وَشُرْبَهٗ وَلُبْسَهٗ
وَحَرَكَتَهٗ وَسُكُوْنَهٗ وَقَوْلَهٗ
وَسُكُوْتَهٗ كُلَّهٗ لِوَجْهِ اللّٰهِ وَ
بِاَمْرِ اللّٰهِ وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى
اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ
اَجْمَعِيْنَ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ هٰذَا
مُجْمَلُ مَا فِي الْمُطَوَّلَاتِ فَا
حْفَظْهُ فَاِنَّهٗ لَا يَطَّلِعُ عَلَيْهِ
اِلَّا الْعُلَمَاءُ الْمُحَقِّقُوْنَ بَعْدَ تَتَبُّعِ
الْكُتُبِ وَالدَّفَاتِرِ الْكَثِيْرَةِ

دهغوی خوراک څښاک جامے حرکت
او سکون خبرے او خاموشی هم
څه د الله د رضا دپاره او د الله
په حکم او د الله په امداد وو۔
لکه ارشاد دے۔ دے په خپل
خواهش خبرے نه کوی څه
چه وائی د الله په حکم وائی۔
دهغه ورته وحی شوی وی۔
و صلی الله علیه و علی
آله واصحابه اجمعین الی
یوم الدین۔
دا یو مختصر کتاب د غټو
غټو کتابونو نه راچونړ
شوے دے۔ نو دا یاد کړه ځکه
چه دے کښ داسے خبرے
دی چه غټ غټ عالمان
په ډیرو لائبریرو کښ
په ډیرو کتابونو کښ
تلاش نه پس په
مشکله حاصلوی۔

وَ اِنَّا قَدْ اَعْطَيْنٰكَ عُجَالَةً
نَافِعَةً وَعُلَالَةً رَائِقَةً
تَسْتَوْعِبُهَا فِي الْمُدَّةِ
الْيَسِيْرَةِ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ
لِقَارِئِهَا وَكَاتِبِهَا وَ سَامِعِهَا
وَحَافِظِهَا وَرَاوِيْهَا وَ
مُؤَلِّفِهَا اٰمِيْن وَلْنَخْتِمْ
بِعِدَّةِ اَبْيَاتٍ هِيَ
تُحْفَةٌ مُّرْسَلَةٌ اِلٰى
جَنَابِهٖ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

ما تاسو ته داسے مفیده او
مختصره مجموعه درکړه چه د
شوق تنده په ماتیږی۔
او اطمینان په حاصلیږی۔
او په لږ وخت کښ یادیدے
شی۔ یا الله د دے لوستونکی
او د دے لیکونکی او اوریدونکی
او یادوونکی او څوک چه
ئې بل ته اوروی۔ او د دے
راجمع کوونکی (او ترجمه
کوونکی) ټولو ته ګناهونه
معاف کړے۔ آمین۔
او په آخرکښ یو څو
ابیات لیکم دا د حضور
صلی الله علیه وسلم
په دربار کښ تحفه
ده۔ چه د درود د
سلام ویونکو په
ذریعه استولے شی۔

# لِمُؤَلِّفِهٖ

دا نعتیه اشعار د رساله شمیم الحبیب د مؤلف دی

يَا شَفِيْعَ الْعِبَادِ خُذْ بِيَدِیْ     اَنْتَ فِی الْاِضْطِرَابِ مُعْتَمَدِیْ

اے د بندہ یانو شفاعت کوونکیه ۔ زما امداد اوکړه ۔ په تکلیف کښی زما اعتماد په تا دے ۔

لَيْسَ لِیْ مَلْجَأٌ سِوَاكَ اَغِثْ     مَسَّنِی الضُّرُّ سَيِّدِیْ سَنَدِیْ

تا نه بغیر م بل پناه ګاه نشته امداد اوکړه ۔ اے زما سرداره او مددګاره ډیر په تکلیف کښی یم ۔

غَشَّنِی الدَّهْرُ يَا ابْنَ عَبْدِ اللّٰهِ     كُنْ مُغِيْثًا فَاَنْتَ لِیْ مَدَدِیْ

اے ابن عبد الله زمانه زما مخالفه شوه ۔ ته م فریاد داوره او ته م مددګار شه ۔

لَيْسَ لِیْ طَاعَةٌ وَّلَا عَمَلٌ     بَيْدَ حُبِّيْكَ فَهُوَ لِیْ عَتَدِیْ

د نیک عمل او عبادت نور څه توښه را سره نشته ۔ بے د ستا د مینې نه بس په دے م تکیه ده ۔

يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ بَابُكَ لِیْ     مِنْ غَمَامِ الْغُمُوْمِ مُلْتَحَدِیْ

یا رسول الله ستا دَر ما د پاره ۔ د غمونو د ګورد وریځو نه پناه ګاه دے

جُدْ بِلُقْيَاكَ فِی الْمَنَامِ وَكُنْ     سَاتِرًا لِلذُّنُوْبِ وَالْفَنَدِ

په خوب کښی د زیارت احسان را باندے اوکړه ۔ او زما په عیبونو او غلطو پرده واچوه ۔

Scanned with CamScanner

أَنْتَ عَافٍ أَبَرُّ خَلْقِ اللّٰهِ وَمُقِيلُ الْعِثَارِ وَالنَّدَمِ

تهٔ معاف کوونکے او ټول مخلوق ته زیات احسان کوونکے۔ او گناهونه او غلطئ معاف کوونکے ئې۔

رَحْمَةٌ لِلْعِبَادِ قَاطِبَةً بَلْ خُصُوصًا لِكُلِّ ذِي أَوَدٍ

ته د ټول مخلوق دپاره رحمت ئې خصوصًا دهر گنهگار دپاره۔

لَيْتَنِي كُنْتُ تُرْبَ طَيْبَتِكُمْ فَأَلْتَثِمْتُ النِّعَالَ ذَاكَ قَدِي

کاش زهٔ د مدینې خاوره وے۔ چه ستا پیزار مې ښکل کړے دا مې ارمان دے۔

فَأُصَلِّي عَلَيْكَ بِالتَّسْلِيمِ مُتْحِفًا عِنْدَ حَضْرَةِ الصَّمَدِ

نو صلوٰة وسلام دوی په تا باندے۔ د اللّٰه تعالیٰ د طرف نه همیشه همیشه۔

بِعِدِّ الرِّمَالِ وَالْأَنْفَاسِ وَالنَّبَاتِ الْكَثِيرِ مُنْتَضِدِ

په شمار د دنیا د ټولو شګو او د مخلوق د ساه کانو۔ او په شمار د ټولے دنیا د ونو او شنکو د پاڼو۔

وَعَلَى الْآلِ كُلِّهِمْ أَبَدًا بَالِغًا عِنْدَ مُنْتَهَى الْأَمَدِ

او د ستا په ټول آل همیشه دپاره۔ ترڅو پورے چه دارِ آخرت باقی وی۔

# من الروض

## دا یو څو اشعار د الروض النظیف دي

فَانْظُرْ لِاَوْصَافِ خَيْرِ الْخَلْقِ فِيْ مَدَحِيْ        كَاَنَّهَا الْوَشْيُ اِذْ تَزْهُوْ بِهِ الْحِبَرُ

نو ته زما په اشعارو کښې د خیر الخلق (علیٰ) اوصافو ته اوګوره - دا داسې نقش و نګار دے - چه جامه په فخر کوي.

بَرٌّ رَؤُوْفٌ رَحِيْمٌ زَانَهٗ خُلُقٌ        مِثْلُ النَّسِيْمِ فَلَا فَظٌّ وَلَا فَجَرُ

احسان کوونکے شفیق او مهربانه دے د داسې (اعلیٰ) اخلاقو مالک دے. چه د نسیم سحر په شان زړه خوشالوي سخت خویه او تنګ زړے نه دے.

يُلْفٰى اَشَدَّ حَيَاءً مِنْ مُخَدَّرَةٍ        عَذْرَاءَ فِيْ خِدْرِهَا قَدْ زَانَهَا الْخَفَرُ

په حیا کښې د ستر منځ ځوانے جینۍ نه هم زیات دے چه د شرمه په پردې کښې پټه وي -

فَاقَ النَّبِيِّيْنَ اَخْلَاقًا وَّمُعْجِزَةً        وَرُتْبَةً فَلَهُ التَّقْدِيْمُ اِنْ حَضَرُوْا

د ټولو نبیانو نه زیات دے په ښو اخلاقو او په معجزو کښې - او په مرتبه کښې نو دے به ئے امام وي که ټول موجود وي.

مُكَمَّلُ الْخَلْقِ لَا خَلْقٌ يُشَابِهُهٗ        لَهُ اعْتِدَالٌ فَلَا طُوْلٌ وَلَا قِصَرُ

په جسماني صورت کښې هم داسې کامل دے چه بل مخلوق د هغه په شان نشته - د هغه قد درمیانه دے نه ډېر ټیټ دے او نه ډېر لوړ دے -

مُشَرَّبٌ لَوْنُهُ الْمُبْيَضُّ مَنْظَرُهُ    بِحُمْرَةٍ وَمُحَيَّاهُ هُوَ الْقَمَرُ

د هغهٔ په صفا سپین رنګ کښې سرخي ځلیږي ۔ مخ ئې لکه د څوارلسمې د سپوږمۍ په شان روښانه دے ۔

صَلْتُ الْجَبِيْنِ اَزَجُّ الْحَاجِبَيْنِ كَحِيْلُ الْعَيْنِ مِنْ حُسْنِهٖ لَا يَشْبَعُ النَّظَرُ

فراخ تندے ۔ نرئ روزے ۔ تورے سترګے ۔ ښائست به ئې په کتو سترګے نهٔ مړیږي ۔

اَسِيْلُ خَدٍّ مَلِيْحُ الثَّغْرِ بَاسِمُهٗ    مُفَلَّجٌ اَبْيَضُ الْاَسْنَانِ مَا الدُّرَرُ

ښائسته اننګی سپین غاښونه ۔ چه مرغلرے به هم داسے نه وے ۔

اَقْنٰى اَشَمُّ طَوِيْلُ الْجِيْدِ مُشْرِقَةٌ    مِثْلَ اللُّجَيْنِ الْمُصَفّٰى مَا بِهٖ عَكَرُ

اوچته نرئ پوزه اوږد سپین څټ ۔ لکه د صفا چاندئ په شان چه څهٔ ګوږ پکښې نهٔ وي ۔

ذُوْ لِحْيَةٍ كَثَّةٍ زَانَتْ مَحَاسِنَهٗ    كَمَا يَزِيْنُ عُيُوْنَ الْغَادَةِ الْحَوَرُ

درنهٔ ږیره چه د مخ ښائست ئې نور هم زیات کړے دے ۔ لکه د سترګو د تورو او سپینو ګړون چه د ښځو ښائست زیات کړي ۔

وَلِمَّةٌ تَبْلُغُ الْاُذُنَيْنِ عَاطِرَةٌ    كَالْمِسْكِ لَوْنًا وَعَرْفًا حِيْنَ يَنْتَشِرُ

او خوشبویه د سر ویښتهٔ تر غوږونو اوږده ۔ د مشکو په شان په رنګ کښې هم او په خوشبوئ کښې هم کله چه ئې خوشبوئ خوره شي ۔

ضَخْمُ الْكَرَادِيْسِ رَحْبُ الصَّدْرِ وَاسِعَةٌ    تُرٰى بِهٖ شَعَرَاتٌ خَطَّهَا الْقَدَرُ

د اندامونو جوړونه ئې مضبوط وي ۔ سینه ئې فراخه وه ۔ په سینه ئې د ویښتو یو نرئ کرښه لیدے شي ۔ چه قدرت راښکلې ده ۔

شَثْنُ الْاَكُفِّ خَمِيْصُ الْبَطْنِ ذُوْعُكَنٍ مَطْوِيَّةٍ طَالَ مَا يَطْوِىْ بِهَا الْحُجَرَ

د رغوی ئے ډک دی ۔ خیټه ئے تنوتی ده ۔ چه د لوږے نه به ئے همیشه

د ربانده کانړے تړلی وو ۔

عَبْلُ الَّذِرَاعَيْنِ وَالسَّاقَيْنِ مُمْتَلِئٌ اِزَارُهٗ لِنِصْفِ السَّاقِ يَتَّزِرُ

دواړه لیچے او دواړه پنړۍ ئے د غوښے نه ډک وے ۔ بدن مبارک ئے د رونند

دولنګ به ئے ترنیمو پنډو تړلو ۔

سَجِيَّةٌ عِنْدَ مَا يَمْشِىْ تَمَايُلُهٗ تَخَالُ عَنْ صَبَبٍ اِنْ سَارَ يَنْحَدِرُ

په رفتارکښ ئے سرنهیت د ړل عادت وو ۔ داسے به ښکاریده لکه چه په

اترائی کوزیږی ۔

يَفُوْحُ مِنْ عَرَقٍ مِثْلَ الْجُمَانِ لَهٗ شَذًى تَظَلُّ الْغَوَانِىْ مِنْهُ تَعْتَطِرُ

د هغوئی خوله لکه د سپینو مرغلرو په شان بهیده ۔ او دومره خوشبویه ده چه

ښځو به د خوشبوئی زیاتو لو د پاره خپلو عطر وکښ ګډوله ۔

قَضٰى وَلَمْ يَكُ يَوْمًا مُدْرِكًا شِبَعًا مِنَ الشَّعِيْرِ وَكَانَتْ فَرْشُهُ الْحُصُرُ

عمر ئے ختم شو او یو ورځ هم د اوربشو په روټئ موړ نشو او بستره ئے پوزے وو ۔

هٰذَا وَقَدْ مُلِّكَ الدُّنْيَا بِاَجْمَعِهَا فَرَدَّهُ الزُّهْدُ عَنْهَا وَهُوَ مُقْتَدِرُ

دا سره د دے چه د ټولے دنیا د خزانو مالک وو ۔ د زهد په وجه

ئے دنیا رد کړه ۔ سره د دے چه د ربانده قادر وو که غوښتے ئے د عیش

د آرام ژوند تیرولے شو ۔

فَالثَّوْبَ يَرْقَعُهٗ وَالشَّاةَ يَحْلِبُهَا وَمَا رُئِىَ لِاَرْخَى الْاِعْدَامِ يَحْتَقِرُ

نو خپلو جامو ته به ئے خپله ټوټے ګنډلے او خپله ځبه به ئے خپله لوشله

او د غریب سړی په حقیر ګنړلو هیڅ یانه د دے لید لے ۔

وَالْبَيْتَ يَكْنُسُهُ وَالنَّعْلَ يَخْصِفُهَا        وَإِنْ دُعِيَ اَسْعَفَ الدَّاعِيَ وَلَا يَذَرُ

او خپل کور به ئے جارو کولو او خپل پیزار به ئے خپله گنډلو۔ که چا به
درته دعوت اوکړو دعوت به ئے قبلولو انکار به ئے نه کولو۔

كَانَ الْبُرَاقُ لَهُ وَالْخَيْلُ يَرْكَبُهَا        وَالْاِبِلُ اَيْضًا كَذَاكَ الْبَغْلُ وَالْحُمُرُ

براق خاص د هغه سورلی ده په آس هم سوریدو۔ په اوښ هم او
دغه شان په قچر او په خر سور شویدے۔

مَا عَابَ قَطُّ طَعَامًا اَحْضَرُوهُ لَهُ        وَلَا لِسَائِلِهِ اللَّحَّاحِ يَنْتَهِرُ

کوم خوراک چه به درته راوړے شو هیچرے ئے درته خراب نه دی ویلی۔
او نه ئے چرے سوالگرے رټلے دے۔

يَعْفُوْ وَيَصْفَحُ عَنْ جَانٍ جَنَى كَرَمًا        وَيَقْبَلُ الْعُذْرَ مِمَّنْ جَاءَ يَعْتَذِرُ

معاف کولو به ئے او درگذر به ئے کولو چا چه به غلطی اوکړه د خپل
کرم په وجه۔ او عذر به ئے قبلولو چا چه به څه عذر ریش کړو۔

وَلَيْسَ يَغْضَبُ اِلَّا اَنْ تُرَى حُرَمٌ        لِلّٰهِ مَنْهُوْكَةً اَوْ هُتِكَتْ سُتُرُ

او غصه کیدو به نه مگر په دوو خبرو۔ چه چا به څه ممنوع
کار اوکړو یا به ئے د چا پرده دری اوکړه۔

مَا اَمَّهُ سَائِلٌ يَرْجُوْا نَدَا يَدِهٖ        اِلَّا انْثَنَى وَهُوَ مُثْرِي الْكَفِّ مُشْتَهِرُ

داسے سوالگرے هغوی سره نه دے راغلے چه د هغوی د سخاوت په
امید راغلے وی۔ او مالدار واپس شوے نه وی۔

یعنی غریب سوالگری ته به ئے دومره مال ورکړو چه مشهور مالدار
به شو۔

# دوویشتم فصل

## د هغوئ د څه معجزاتو په بیان کښ

که صحیح سوچ اوشی نو د هغوئ معجزے دومره دی چه احاطه ئے نشی کیدے۔ د شماره وتی دی۔ ځکه چه د هغوئ هر قول وفعل په دے اعتبار چه ډیر حکمتونه او ډیرے فائدے وی پکښ خارق عادت دی۔ یعنی د عام انسان د وَس نه بهر وی۔ او ظاهره ده چه د ژوند د ټولو اقوالو۔ افعالو او احوالو ټول جزئیات راجمع کول عادةً ممکن نهٔ دی۔ او نهٔ واقع دی۔ او د دے حکمتونو علم تفصیلاً د عارفانو په زړونو کښ اچولے شی۔ او اجمالاً د شریعت د اسرارو په کتابونو کښ موندے شی۔ لکه د امام غزالی او شاه ولی الله او امام شعرانی او حسین جسر رحمهم الله په تصنیفاتو کښ ځائے په ځائے موندے شی۔ نو په حقیقت کښ خود حضورؐ معجزات د شمار د حده وتی دی۔ لیکن عوام چونکه په دے نهٔ پوهیږی۔ لیکن قطع نظر د دے نه که صرف هغه معجزات بیان شی کوم چه ظاهر دی او عام خلق هم په پوهیدے شی نو هغه هم د لسو زرو ۱۰۰۰۰ نه کم نهٔ دی۔ چنانچه اوهٔ زره اوهٔ سوه معجزے خو صرف په قرآن شریف کښ دی چه هر آیت ئے د بلاغت او فصاحت په اعتبار معجزه ده۔ قطع نظر د دے نه چه په دے آیتونو کښ د نالیدلے څیزونو خبر ورکړے شوے دے۔ او

دمستقبل صحیح خبرونه درکړی شوی دی - ددے تفصیلی بیان قاضی عیاض رح دا سے کړیدے - چه قرآن شریف کښ د إِنَّا أَعْطَيْنَكَ الْكَوْثَرَ سورت برابر چه څومره کلام دے - هغه یو معجزه ده - ځکه چه دا سے کلام جوړولو نه ټول بنیادم عاجزه دی - او په دے سورت کښ لس کلمے دی - او په ټول قرآن کښ شپږ دیاشت اووه اویا زره کلمے دی - نو هغه چه په لس تقسیم کښ اوه زره اوه سوه ترجو ریږی نو په کلام الله کښ اوه زره اوه سوه معجزے دی - او که دے سره هغه پیش ګوئی هم شامل شی - کومے چه دیارلس په کلام المبین کښ شمیرلی شوی دی - او اوه زره اوه سوه نه زیاتے کومے کلمے چه دی هغه هم درسره شی نو شمارئے نورهم زیاتیږی - دا خوصرف د قرآن شریف معجزے دی - او د احادیثو او سیرت عالمانو چه دخپل علم موافق څومره معجزے راجمع کړی دی - هغه درے زره دی - په هغے کښ یو زر معجزے امام سیوطی رح په خصائص کبری کښ نقل کړی دی - او درے سوو نه زیاتے په الکلام المبین کښ ذکر دی - نو په دے طریقه شمارلی معجزے دلسو زرو نه زیاتے شوے که خصائص کبری څوک نه موهی - یا په عربئ ښه نه پوهیږی - نو د الکلام المبین مطالعه هم د ایمان دتقویت دپاره کافی ده - په دے کتاب کښ دتمهید په طور اول یو تقریر لیکا دے چه په هغے کښ د حضور صلی الله علیه وسلم معجزات دعالم په ټولو اقسامو کښ بیان کړی دی - چونکه نمونړ دکتاب ډیر مختص دے - ځکه په دے کښ هغه تقریر کوم چه ډیر دلچسپ او ډیر مفید دے نقل کوم او بیا به د

عالم د هر قسم د معجزاتو نه دوه دوه یا زیات ترځلور نقل کړم. د هغې نقل پر ځلا مسه دا ده. الله تعالیٰ فرمائیلی دی وَمَا أَرْسَلْنٰكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ (مونږ ته د ټولو عالمونو دپاره رحمت راستولے ئې) او په صحیح مسلم کښې روایت دے چه حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه قیامت به هله راځي چه په زمکه یو کس هم الله الله ویلو واله پاتے نشي او ظاهره ده چه الله الله کوونکي د حضورؐ امتیان دی. نو د هغوئ رسالت د ټولو عالمونو د امن او بقاء سبب دے. نو نه صرف بنیادمو ته بلکه د عالم ټولو اقسامو دپاره د حضورؐ رسالت مفید دے. په دے وجه هغوئ ته الله تعالیٰ د عالم په ټولو اقسامو کښې معجزات ورکړی دی. او معجزه چونکه د نبوت د ثبوت دلیل دے. نو ثابته شوه چه تمام اقسام عالم د معجزاتو د وجود په وجه د هغوئ په نبوت دلالت کوونکي او ګواهي ورکوونکي دی.

دے نه د هغوئ د شان عظمت معلومیږی. چه څنګه چه ټول عالمونه په توحید ګواه دی. د غه شان د حضورؐ په رسالت هم ګواه دی. د دے تفصیل دا دے چه عالم دوه قسمه دے عالم اعیان او عالم معانی. چه څئ څیزونه خپل ذاتي وجود لری دے ته جوهر هم ویلے شي. او د څئ څیزونو خپل وجود نه دی. بل څیز پورے موجود دی. لکه رنګ او بوئ. دے ته عرض ویلے شي.

بیا د عالم اعیان یا جواهر په دوه قسمه دی د عقل خاوندان لکه بنیادم او پیریان یا بے عقله لکه کانړی بوټی او حیوانات وغیره. د عقل خاوندان په درے قسمه دی. بنیادم. پیریان. فرښتے

نو دا درې عالمه شو - عالم انسان - عالم ملائکه - عالم جنات - او بې عقله دوه قسمه دي - یو علوي دی یعني د زمکې نه اوچت لکه آسمان - ستوري نمر سپوږمۍ - دویم سفلي دی - یعني د آسمان نه لاندې په زمکه دپاسه یا د زمکې دننه - عالم سفلي بیا په دوه قسمه دی - بسائط او مرکبات - عالم بسائط لکه عناصر اربعه - څلور مشهور عناصر - اور [۱]، اوبه [۲]، خاورې [۳]، هوا [۴] - عالم مرکبات درې قسمه دي: جمادات [۱]، نباتات [۲]، حیوانات [۳] - دې ته موالید ثلاثه ویلې شي - نو عالمونه نهه [۹] شو - عالم ملائکه [۱]، عالم انسان [۲]، عالم جنات [۳] عالم علوي [۴]، افلاک [۵]، کواکب [۶] عالم سفلي، نباتات [۷]، جمادات [۸]، حیوانات [۹] (حضرت تهانوي فرمائي) زه د مرکباتو تقسیم داسې کوم - یو هغه چه مزاج ئې داسې وي چه هغه مرکب څۀ موده محفوظ ساتلې شي - لکه موالید ثلاثه - دویم هغه چه محفوظ نشي ساتلې - هغې ته کائنات جو ویلې شي - لکه سحاب دریز وغیره - نو دغه شان عالمونه لس شو - نهه کوم چه مخکښې بیان شوي دي - لسم کائناتِ جو -

او په دې ټولو اقسامو کښې حضور صلی الله علیه وسلم ته معجزې ورکړې شوي دي - په الکلام المبین کښې د معجزاتو نهه بابونه ذکر شوي دي - په هر باب کښې ډیرې معجزې ذکر شوي دي - زمونږ دا کتاب مختصر دے نو په دې کښې به په هر باب کښې دوه نه تر څلورو پورې معجزې ذکر کیږي - کومې به چه د اقسامو په ترتیب بیانیږي - په دې ترتیب کښې به کائنات جو د بسائطو نه واپس راوړې شي -

نوع ۱ عالم معاني - په دې کښې قرآن مجید په اعتبار د فصاحت د

بلاغت او اخبار عن المغیبات۔

ع۲۔ هغه څیزونه چه د واقع کیدو نه مخکښې بیان شوی وو۔ یعنی پیش گوئی۔ په بخاری و مسلم کښې د حضرت حذیفه رض نه روایت دے۔ چه حضور صلی الله علیه وسلم په یو وعظ کښې تر قیامته چه څومره واقعات راتلونکی وو ټول بیان کړل۔ نو یاد او ساتل چا چه یاد کړل۔ او هیر کړل چا چه هیر کړل۔ او زما ملګری اصحاب دے نه خبر دی۔ چه حضور دا واقعات بیان کړی وو۔ او ځنی کارونه مانه هیر شوی دی چه حضور دا هم بیان کړی وو چه هغه کارونه اوشی۔ نو بیا راته رایاد شی چه دا هم حضور ویلی وو چه دا سے به کیږی۔ لکه څنګه چه یو بنده چا لیدلے وی خو بیا ورته یاد نهٔ وی۔ ډیره موده پس چه ئے او وینی ورته رایاد شی۔ چه دے خو ما لیدلے وو۔

ع۳۔ هغه واقعات چه حضور بے لیدو بیان کړی دی۔ لکه بخاری کښې د حضرت انس رض نه روایت دے چه د موته په غزا کښې د قاصد د خبر راوړو نه مخکښې مونږ ته حضور صلی الله علیه وسلم خبر راکړو چه زید نشان واخستو او شهید شو۔ بیا جعفر نشان واخستو او شهید شو۔ بیا ابن رواحه نشان واخستو او شهید شو۔ بیا سیف الله (خالد) نشان واخستو او کامیاب شو۔ فتح ئے اوکړه۔ او دے خبر راکولو سره د حضور د سترګو میارکو نه اوښکے جاری وے۔ بیا دوستو قاصد را اورسیدو او هم دغه شان خبر ئے راوړو۔

ع۴: عالم ملائکه: په صحیح مسلم کښې د ابن عباس رض نه روایت دے۔

چه د بدر په غزا کښې یو مسلمان غازی په یو مشرک پسے منډه وهله ناڅاپه ئے د کوړے وهلو آواز واوریدو - او یو کس او وئیل - اے حیزوم درمخکښې شه - نوڅه ګوری چه هغه مشرک کوم پسے چه دهٔ منډه وهله مړ پروت دے - پوزه ئے ماته ده - او مخ ئے شلیدلے دے - او د کوړے د ګوذار په وجه سوسن شوے دے - هغه مسلمان انصاری دے - هغه راغلو حضورؐ ته ئے دا واقعه بیان کړه - حضورؐ او فرمائیل واقعی هم دا سے ده - دا د دریم آسمان فرښته ده او حیزوم د دے فرښتے د آس نوم دے - الله تعالیٰ د خپل رسول د امداد د پاره ډیرو غټ اکانو کښې فرښتے راستولی دی - په بدر - احد او حنین کښې فرښتو د مسلمانانو امداد کړے دے -

ع۵ : په بیهقی او طبقاتِ ابن سعد کښې د عمار بن یاسر نه روایت دے چه حضرت حمزهؓ عرض او کړو چه ماته جبریلؑ د هغهٔ په اصلی شکل کښې او ښایه - حضورؐ ورته او فرمائیل - ته به ئے او نهٔ لیدے شې - یعنی د لیدو طاقت ئے نهٔ لرے - هغهٔ او وئیل - هر څهٔ چه وی - ته ئے راته او ښایه - حضورؐ ورته او فرمائیل - ښه کینه - هغه کیناستو او جبریلؑ په کعبه راګوزشو - حضورؐ ورته او فرمائیل او س ورته او ګوره - هغهٔ چه او کتو د جبریلؑ بدن د زمرد په شان شین پرقیدو - لیدو سره بے هوشه پریوتو -

ع۶ : په عالم انسانی کښې د هدایت ظهور : په صحیح مسلم کښې د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه زما مور مسلمانه شوی نهٔ وه - ما به ورته ډیر منت کولو خو هغې نهٔ منلو - یوه ورځ م ورته د اسلام

هدایت کولو نو هغې د حضورؐ په شان کښې بې ادبي اوکړه - په ما بده اولګیده - په منډه لاړم د حضورؐ په خدمت کښې م عرض اوکړو - یا رسول الله دعا اوکړئ چه زما مور ته الله تعالیٰ هدایت اوکړي - حضورؐ اوفرمایئل اَللّٰهُمَّ اهْدِ اُمَّ اَبِیْ هُرَیْرَةَ - یا الله د ابوهریره مور ته هدایت اوکړې - زهٔ ډیر خوشال شوم - په منډه کور ته لاړم - در بند وو - مور م زما د پیزار آواز واوریدو - آواز ئې راکړو - لږ صبر اوکړه - ما د اوبو آواز واوریدو - مور م غسل اوکړو جامې ئې بدلې کړې - بیا ئې راته در لرې کړو - او راته ئې اوویئل - اے ابوهریره - اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمداً عبده ورسوله - زهٔ د ډیرې خوشالئ نه په ژړا شوم - په منډه بیا د حضورؐ دربار ته لاړم عرض م اوکړو - یا رسول الله زما مور مسلمانه شوه - حضورؐ الحمد لله اوویئل او خوشال شو -

عـ۷: برکت ظاهریدل - بیهقي کښې روایت دے چه حضورؐ د حَنْظَلَه بن حَذِیم په سر لاس راښکلو او د برکت دعاګانې ورته اوکړه - نو بیا د هغهٔ داحال شو - چه د چا مخ به پړسیدلے وو - یا د زیږ تی به پړسیدلی وو - هغوئ به هغه پړسیدلے ځائے د حنظله د سر هغې ځائے پورې اُمږلو - په کوم ځائے چه حضورؐ لاس ایښے وو - نو هغه پړسوب به ختم شو او هغه ځائے به جوړ شو -

عـ۸: د مریضانو شفا: بیهقي او طبراني او ابن ابي شیبه روایت کړے دے - چه د حبیب بن فدیک په سترګو کښې ګل شوے وو - نظر ئې ختم شوے وو - حضورؐ ورته په سترګو دَم واچولو په هغه ساعت

خوړ شو۔ راوی وائی ما د اتیا کالو په عمر کښې لیدلے دو۔ سترګې ئے تاریچولو۔

عه: بے ادبوته سزا: په صحیح مسلم کښې د سلمه بن اکوع نه روایت دے چه یو سړی د حضورؐ په وړاندے په ګس لاس خوراک کولو۔ حضورؐ ورته اوفرمائیل په ښی لاس خوره هغه ورته اووے په ښی لاس نشم خوړے حالانکه ښئ لاس ئے بنه جوړ وو دروغ ئے ویئل۔ حضورؐ اوفرمائیل۔ په ښی لاس اومه خوړے شے۔ بس بیائے ښئ لاس داسے شو چه خولے ته ئے نشو وړے۔

عنا: عالم جن کښې معجزه: خطیب د جابر بن عبد الله نه روایت کړے دے چه مونږ حضورؐ سره یو سفر کښې وو۔ یو کلی ته اورسیدو۔ هغ خلقو د حضورؐ د راتلو اوریدلی وو۔ د حضورؐ په انتظار کښې د کلی نه بهر ناست وو۔ چه مونږ ور اورسیدو۔ هغوئی حضورؐ ته عرض اوکړو۔ یا رسول الله دلته یو ځوانه جینئ ده په هغې یو پیرے عاشق شوېدے۔ ورباندے ناست دے۔ ډیر تکلیف ورکوی مونږ ته ئے رسولی ده جابرؓ وائی چه ما هغه جینئ لیدلی ده۔ ډیره ښائسته ده۔ حضورؐ هغه جینئ را اوغوښته۔ بیائے هغ پیری ته اوویئل۔ اے جن ته ما پیژنے چه د الله رسول یم۔ دا جینئ پریږده۔ زه لاړ شه۔ دے ویئا سره هغه جینئ په هوش شوه۔ نقاب ئے په مخ راواچولو۔ او سړو نه ئے پرده شروع کړه روغه جوړه شوه۔

عالا: په ترمذی کښې د ابو ایوب انصاریؓ نه روایت دے۔ چه یو

معاف په يو لوښي کښې کجورې ايښې دي. نو يو پيرۍ به راتله هغې
نه به ئې کجورې راخستې. هغه حضورؐ ته فرياد اوکړو. نو حضورؐ
ورته اُوفرمائيل چه بيا راشي نو ورته اووايه بِسْمِ اللهِ اَجِيْبِيْ
رَسُوْلَ اللهِ. (يعنې د الله د نوم په برکت رسول الله دغواړې ورشه)
او هغه ئې اونيوه حضورؐ ته ئې بوتله خو هغې قسم اوخوړو چه بيا به
نۀ راځم نو خلاصه ئې کړه.

ف = دا د حضورؐ معجزه ده چه سره د دې چه هغه پيرۍ مسلمانه
نۀ ده. بيا هم د حضورؐ د پيغام په برکت گرفتاره کړې شوه.

# (په عالمِ علوي کښې معجزات)

۱۲ او ۱۳ = د سپوږمۍ دوه ټکړې کيدل او معراج کښې د حضورؐ آسمانونو ته
ختل د افلاکو او کواکبو متعلق ښکاره عظيم معجزې دي.

د عالم بسائط يعنې عناصرِ اربعه. اور. اوبه. هوا. خاورې متعلق

معجزې.

۱۴ = د زمکې متعلق لکه بخاری او مسلم کښې روايت دې. د هجرت په سفر
کښې چه ابوبکرؓ او حضورؐ غار ثور نه اووتو. او مدينې ته روان شو.
نو قريشو چه د هغوئ په تلاش کښې سړي خواره کړي وو. په
هغو کښې يو سړے سراقه بن مالک په آس سور وو هغوئ ته
نزدے را اورسيدو. هغوئ ئې اوليدو ابوبکرؓ هغه سړے اوليدو د
حضورؐ ته ئې عرض اوکړو. دا سړے خو موږ پسې را اورسيدو (گرفتار
به مو کړي) يا به قريشو ته خبر يوسي. هغوئ اوفرمائيل.
لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا. (مۀ خفه کيږه الله زمونږ ملگرے دے) چې به

موکړی) بیا حضورؐ دعا اوغوښته یا الله ددے سړی د شر نه مونږ
کړے - نو دهغه سړی آس په کلکه تا زیزه زمکه کښې ترخیټه خښ شو.
په ځائے اودریدو - هغه ئې هغوئی ته نزدے نه شو راتلے - سراقه د
آس نه کوز شو - د ابوبکرؓ خواته راغلو - عرض ئې اوکړو - چه دا ستے
ښکاری تاسو ماته بد دعا اوکړه - اوس ماته دعا اوکړئ چه زما آس
راخلاص شی چه کورته واپس لاړ شم - زه قسم خورم چه ستاسو
حال به هیچا ته نه وایم - اوکه د ډیر خوا څوک راځی نو هغه به واپس
کوم - چه دا علاقه ماکتلی ده - هغوئی ډیر خوا نشته - نو حضورؐ دعا
اوغوښته د هغهٔ آس زمکے پریښو - او واپس شو - او د نور خلق به
ئې هم واپس کول -

عـ۱۵ = د اوبو متعلق معجزه = په بخاری او مسلم کښې د جابرؓ نه روایت
دے - چه د صلح حدیبیهٔ په ورځ خلق تږی شو - چه د حدیبیه په
کوهی کښې اوبه خلاصے شوی وے - کوهے اوچ شوے وو - صرف حضورؐ
سره یو لوښی کښې اوبهٔ وے - حضورؐ اودس کولو - مونږ عرض اوکړو -
یا رسول الله کوهے اوچ شوے دے - لښکر کښې نه د څکلو اوبهٔ شته
نه د اودسونو - بس دغه اوبهٔ دی چه ستاسو مخکښې دی - حضورؐ
خپل لاس مبارک په هغه لوښی کښې کیښو - او د هغوئی د ګوتو په مینځ
کښې اوبو جوش وهلو راوتے - ټول لښکر اوبهٔ اوڅکلے اودسونه ئې
هم اوکړو - چا درته تپوس اوکړو - تاسو څومره کسان وئ - هغهٔ
اودیل - مونږ خو ۱۵۰۰ پنځلس سوه کسان وو - خوکه یو لاکھ وے هم درته
هغه اوبهٔ کافی کیدے - کمے پکښې نه راتلو -

ع۱۶: د اور متعلق معجزه = په بخاری او مسلم کښې د جابرؓ نه روایت دے.
چه د خندق د غزا په موقع هغهٔ حضورؐ ته دعوت اوکړو - دیو درکوټي چیلۍ غوښه او یو صاع (تقریباً درے سیره) د اوربشو اوړهٔ وو - عرض ئے اوکړو - چه تاسو یو څو کسانو سره راشئ - حضورؐ اعلان اوکړو چه خندق کنستونکي ټول راځئ - جابرؓ دعوت کړے دے - دا یو زر کسان وو - او جابرؓ ته ئے اووئیل - کټوۍ د اور نه مهٔ کوزوه - او کور واله ته او وایه چه روټۍ پخولو ته یو ملګرې یله هم را اوبلې - هغوئ چه د جابرؓ کور ته اورسیدو - نو حضورؐ خپل لاړے مبارکے په اغږلو اړو کښې هم واچولے - او کټوۍ کښې هم او د برکت دعا ئے اوغوښته - او جابرؓ ته ئے اوفرمائیل - کټوۍ د اوره کوزه مه - دغه شان تورے په څمڅۍ بنو روا را اوباسه - جابرؓ قسم خوړې چه زر کسان ټول ماړه شو - او بنو روا کښې څه کمے رانغلو - کټوۍ هغه شان ډکه وه - او روټۍ پخیدے او خلقو خوړے - او اوړو کښې هیڅ کمے نه وو راغلے.

او هغوئ به په دسترخوان پاتے خوراک ډیر په مینه خوړو - (یعنی په دسترخوان چه به د روټۍ وړے وړے او تالی کښې لږ سالن خوراک بس کولو نه پس پاتے شو نو هغوئ به هغه ټکړے سالن سره او خوړے او تالے به ئے صفا کړو - چه دا نعمت ضائع نشی (د خوراک شے د الله تعالیٰ نعمت دے - او ضائع کول ئے ناشکری ده) هغوئ به د الله تعالیٰ د نعمتونو ډیر قدر کولو - ورکے نعمت به ورکه لوئے)

ف = د اور اثر دا دے چه شے کموی - د حضورؐ د اور متعلق معجزه ده چه کټوۍ په اور پرته ده خو ټکیده او څه کمے پکښې نهٔ راتلو. ع۱۷: د هوا متعلق معجزه = د خندق په غزا کښې چه ټول عرب قبائل قریشو سره ملګری شوی وو - په مدینه ئے حمله کړی وه - د خندق په وجه مخکښې نشو تلے - د خندق په غاړه ئے پړاؤ کړے وو - د مسلمانانو د حفاظت د پاره الله تعالیٰ پخکارو تیزه یخه سیلۍ راوسته دومره تیزه چه د هغوئ د خیمو پړی اوشلیدل - خیمے په را پریوتے - او خوراک د پاره چه دیګو

باندې کړي دو ـ هغه سیلئ د نغري نه نسکور او غورزول ـ او
اسونئ د هیبته پرې او شلول ـ لاړهٔ څنګل ته او تښتېدو ـ دومره
سخته یخنی ده چه چا د کمبل نه لاس نشو وېستے ـ
په دا سے حال کښې حضورؐ حضرت حذیفهؓ ته د کفارو د
حالت د خبر را وړو د پاره حکم درکړو ـ حذیفهؓ وائی ما عرض اوکړو
دعا راته اوکړئ چه الله تعالیٰ مې د یخنئ او د شګو د ګرد د غبار
نه بچ کړي ـ حضورؐ راته دعا اوکړه ـ نو د یخنئ نه خبر هم نشوم ـ
دا سے دوم لکه څوک چه په ګرمه کوټه کښې ناست وي ـ
ف = د دا سے یخ هوا په بدن اثر نهٔ کول یقیناً خلاف عادت کار
دے ـ او څرګنده معجزه ده ـ
ع۱۸۱ = په بخاری او مسلم کښې د حضرت انسؓ نه روایت دے چه
د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې یو ځل خشک سالی
راغله ـ ډېره موده باران اونشو ـ نو یو ورځ حضور صلی الله علیه
وسلم د جمعې خطبے ته ولاړ وو ـ یو یانړیسی راغلو ـ عرض ئې
اوکړو ـ یا رسول الله باران نشته تالابونه اوچ شو ـ څاروی
د تندے نه هلاک شو ـ او فصلونه تباه شو ـ خلق د لوږے
نه مری ـ دعا اوکړئ چه الله تعالیٰ باران اوکړي ـ حضورؐ لاسونه
دعا ته پورته کړو ـ په هغه وخت آسمان کښې وریځ راغله او
حضورؐ لا لاس ښکته کړي نهٔ وو ـ چه باران شروع شو ـ
او تر بله جمعے دریدو ـ بله جمعه ته هغه سړے یا بل سړے
راغلو ـ عرض ئې اوکړو ـ یا رسول الله صلی الله علیه وسلم کوټې

پریوتے او مالونه ډوب شو ـ دعا اوغواړئ چه باران اودریږی حضورؐ دعا اوغوښته چه یا الله په غرونو او دروے ـ او بادئ بچ کړے او په لاس ئے ورتځ ته اشاره اوکړه ـ چه دیخوا غرونو ته لاړه شه ـ نو په ښار باران بند شو ـ او وریځ غرونو طرف ته روانه شوه ـ

ف: دحضورؐ په اشاره په آسمان وریځ راخوریدل او بیا په اشاره یو طرف ته روانیدل د کائنات جو متعلق ښکاره معجزه ده ـ

ع۱۹: په جلالین کښ یو روایت دے چه د هغې په حاشیه کمالین کښ ئے نسائی ابن جریر او بزاز ته نسبت کړیدے ـ روایت دے چه حضورؐ یو سړی ته د اسلام ددعوت دپاره یو صحابی ورواستولو ـ هغه سړی دحضورؐ په شان کښ او د الله په شان کښ ډیره بے ادبی اوکړه ـ او وے ویل چه رسول څوک دے ـ او الله څه وی ـ د څه نه جوړ دے ـ د سرو نه که سپینو نه که تانبے نه ـ سمدستی وریاندے آسمانی تندر راپریوتو او کپری ئے ورته چوری چوری کړه ـ

ف: په دے واقعه کښ ظاهره ده چه دحضورؐ په شان کښ دبے ادبئ دخل دے ـ نو دا هم په کائنات جو کښ معجزه شوه ـ

ع۲۰: په عالم نباتات او عالم جمادات کښ معجزے: په ترمذی کښ حضرت علیؓ نه روایت دے چه زهٔ چه مکه کښ حضور صلی الله علیه وسلم سره ووم ـ نو یو ورځ هغوئ سره یو طرف ته بهر ته اووتم ـ نو کومه ونه یا کمته چه به مخے ته راتله ـ هغې نه به دا آواز راتلو ـ السلام علیک یا رسول الله ـ

ف = ګټه د جماداتو نه ده - او ونه د نباتاتو نه ده - نو د اسلام
کول په دے دواړو عالمو کښې څرګند معجزه ده -

ع۲۱ = د جابرؓ نه په صحیح بخاری کښې روایت دے چه نبی کریم صلی الله
علیه وسلم به د خطبې په وخت جمات کښې د کجورے د تنې نه جوړے
یوے ستنې ته ډډه وهله - کله چه ممبر جوړ شو - حضورؐ په ممبر
باندے خطبې ته اودریدو - نو هغې ستنې داسے په زوره اوژړل
چه مونږ ویښل او به چوی - حضورؐ ممبر نه راکوز شو - هغه ستن
ئې سینې پورے اونیوه - نو ژړا نه غلی شوه - او د سلګو آوازئې
راتلو - لکه ماشوم چه ژړا ته غلے شی - بیا سلګئ وهی - بیا روږو
غلے شوه - حضرت جابرؓ فرمائی دے همیشه ذکر اوریدو - اوس
چه ئې د دانه ورید و نو په ژړا شوه -

ف = دا ستنه د خپل اصلی حالت په اعتبار نباتاتو نه ده
چه ونه ده - او اوس په دے حالت کښې چه اوچه شوی ده -
او ستنه تړجوړه شوی ده - د جماداتو نه ده - نو په دواړو
عالمو کښې د معجزے سره تعلق لری -

ف = دا ژړا ځکه چه د ذکرنه اوریدو په وجه ده - د غه
شان ئې د حضورؐ د ذات سره هم تعلق وو - ورنه د هغوی په غیر
کښې نیو د باندے به نه غلی کیده -

ع۲۲ = په ترمذی کښې د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه ما حضورؐ
ته یو څو چوارے راوړے - چه په دے چوارو د برکت دعا اوداني -
حضورؐ هغه چوارے راشو سره کړے - د برکت دعائے په اودیلا

او ماته ئې او فرمائيل - دا چوارې په خپل توشه دان کښې واچوه - کله چه د پکار دی - توشه دان کښې لاس ننه باسه او چوارې رااوباسه - خو توشه دان څنډه مه - ابو هريرهؓ وائي په دې چوارو کښې دومره برکت اوشو چه ما د دې توشه دان نه څو وسقه چوارې رااويستې (يو وسق شپيته صاعه دی - او يو صاع درې نيم سيره دی - په دې حساب وسق پنځه منه او لس سيره شو) د الله په لار کښې م خرچ کړې - يعنی خيرات م کړې - او هميشه م تر خورې او خيرات کولې - او ما به دا توشه دان هميشه ملا پورې تړلې دو - تر دې چه د حضرت عثمانؓ د شهادت په ورځ پريکړې شو - زما د ملا نه پريوتو ضائع شو - (دا تقريباً ديرش کاله زمانه وه) يعنی ديرش کاله ئې د دې توشه دان نه چوارې خوړې او خيرات کولې او خلاصيدې نه -

ف = دا معجزه په دا سې څيز کښې شوه - چه اصل نه د نبات ميوه ده - فی الحال چه اوچه ده نو جماد دې - نو د دواړو عالمو سره تعلق لری -

ع۲۳ = په عالم حيوانات کښې معجزه = په مسند احمد او دارمی کښې د حضرت جابرؓ نه روايت دې - چه حضورؐ يو باغ ته تشريف يوړو - هلته يو مست اوښ وو - چه څوک به باغ ته ننوتو - هغهٔ به په حمله کوله - حضورؐ هغه ځان ته په اشاره رااوبللو - هغه راغلو د حضورؐ په ښپو کښې ئې سر کيښو - حضورؐ ورته پوزه کښې مهار واچولو - او وې فرمائيل په زمکه او آسمان کښې څومره

Scanned with CamScanner

خیژدنه چه دی۔ ما پیژنې چه د الله رسول یم۔ بیا د ناقرمانه پیریانو او بنیادمو نه۔

ع۲۴= بیهقی د حضرت سفینهؓ نه روایت کړے دے۔ چه ما به سمندر کښې سفر کولو۔ جهاز مات شو۔ زۀ په یو تخته کیناستم تخته بهیده یو ځنګل ته اورسیده۔ هلته یو زمرے ماته را روان شو۔ ما ورته اووئیل زۀ د رسول الله آزاد کړده غلام یم۔ هغه زمرے ماته رانزدے شو۔ اوږه ئې راپورے مزله راسره روان شو۔ زۀ ئې لارے ته اورسولم۔ لږ ساعت اودریده۔ لګئ ئې نما لاس سره اولګوله۔ زۀ پوه شوم چه ادس رخصت اخلی۔

ف = دروميئ معجزه په حلال خاروی کښې ده۔ دويمه په ځنګلي خوږونکی ځناور کښې ده۔ او هغه د حضورؐ په حيات کښې ده۔ دا د وفات نه پس ده۔ نو په دے کښې اعجاز قوی دے۔ ځکه چه وفات نه پس د نور طاقت د استعمال څۀ احتمال نشته۔

ع۲۵= بخاری شریف کښې د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے۔ چه د حضورؐ په کور کښې د پیو نه ډکه یو پیاله وه۔ ماته ئې حکم راکړو چه اصحاب صفه ټول را اوغواړه۔ زۀ اوږے ووم زړۀ ته م دا خیال راغلو که یو اڅ ماته ئې راکړے وے۔ نو موړ شوے به ووم۔ د دومره ګنړو کسانو به په څۀ اوشی۔ یو به هم موړ نۀ شی۔ بهر حال حکم وو۔ ټول م راوستۀ۔ حکم اوشو۔ ادس په دوئ څکول شروع کړه۔ ما پیاله کرځوله۔

ټول ماړهٔ شو- (پیاله هغه شان ډکه ده) بیائے ما ته اوفرمائیل اوس اوڅکه- ما څان موړ کړو- هغوئ اوفرمائیل نور اوڅکه- ما نور اوڅکل- بیا م قسم اوخوړو چه اوس په خیټه کښې نور ځائے نشته- په آخر کښې حضورؐ خپله اوڅکل-

ف: دا د حیوان په اجزاؤ کښې معجزه شوه- تردے پورے الکلام المبین احادیث بیان کړی دی- بیائے په نهو داړو اقسامو کښې معجزے قرآن شریف نه ثابتې کړی دی- که دچا شوق وی الکلام المبین دِ اوګوری- فقط-

# مِنَ الرَّوْضِ

## دا د اَلرَّوْضِ النظیف اشعار دی

یَدُ بِهَا النَّفْعُ وَالضَّرُّ لِمُعْتَرِفٍ     وَجَاحِدٍ فَهِیَ الْاَدْوَاءُ وَالْوَطَنُ

د هغوئ داسے لاس دے چه پکښې نفع هم ده او نقصان هم- نفع د اقرار کوونکی دپاره او نقصان د منکر دپاره- نو هغه دبیمارئ سبب هم دے او د حاجت روائ سبب هم دے-

کَمْ اَبْرَأَتْ اَلَمًا کَمْ اَذْهَبَتْ لَمَمًا     کَمْ اَظْهَرَتْ لِمَمًا یَمُوْ اِلَهَا شَعَرُ

دے لاس ډیر درد و نه ښه کړی دی- او ډیر تکلیفونه ئے لرے کړی دی- ډیرو ګنجی سرونو باندے ئے ویښتهٔ راټو کولے دی- (یعنی ډیرے لاعلاجه بیمارئ ئے ورکے کړی دی-)

وَكَمْ شَفَتْ سَقَمًا اَظْهَرَتْ مَدَدًا / كَمْ فَرَّجَتْ كَمَدًا عَمَّتْ بِهِ عَوَرُ

ډیرو بیمارانو ته ئې شفا ورکړې ده ۔ او د ډیرو خلقو امداد ئې کړې دے۔ د ډیرو غمونه ئې ختم کړی په چا چه څۀ غم وو۔

وَدَرَّتِ الشَّاةُ مِنْهَا وَالْحَصَا نَطَقَتْ / فِيْهَا وَاَوْرَقَتِ الْاَغْصَانُ وَالشَّجَرُ

په دے لاس اوچے بیزے پئ ورکړی دی۔ او شګو خبرے کړی دی۔ په دے لاس کښې د اوونو څانګې او ونو پاڼړے راویستی دی (یعنی اوچے ونے شنے شوی دی)

وَالْقَوْمُ مِنْ رَمْيِهَا يَوْمَ اللِّقَاءِ عَمُوْا / وَمِنْ اَصَابِعِهَا الْاَمْوَاهُ تَنْفَجِرُ

او د کافرانو لښکر د دے لاس په خاورو ویشتو ړاندۀ شو۔ او د دے لاس د ګوتو نه اوبۀ روانے شوے (د حدیبیۀ په مقام)

وَالْمَاءُ مِنْ رِيْقِهِ زَادَتْ حَلَاوَتُهُ / وَالنَّخْلُ مِنْ عَامِهِ اَضْحٰى لَهُ ثَمَرُ

د هغوئ د لاړو په برکت تروے اوبۀ خوږے شوے۔ او د کجورو تازه نال کړی بوټی هم په هغه کال میوه اونیوه۔

وَالْجِذْعُ حَنَّ اِلَيْهِ حِيْنَ فَارَقَهُ / حَتّٰى عَلَا مِنْهُ مَا بَيْنَ الْمَلَا خُوَرُ

او د کجورے اوچے تنے او ژړل کله چه هغوئ ترے جدا شوه۔ تر دے چه په مجمع کښې ئې د ژړا آواز اوچت شو۔

وَالذِّئْبُ وَالضَّبُّ كُلٌّ مِنْهُمَا شَهِدَا / شَهَادَةَ الْحَقِّ يَرْوِيْهَا لَكَ الْخَبَرُ

او پړانګ او غاروے دواړو د هغوئ د رسالت ګواهي ورکړه۔ په احادیثو کښې دا روایت شوے دے۔

وَرَاحَ يَشْكُوْ اِلَيْهِ جَوْرَ صَاحِبِهِ / اَلْبَعِيْرُ وَالدَّمْعُ مِنْ عَيْنَيْهِ مُنْحَدِرُ

او اوښ ورته د خپل مالک د ظلم نه شکایت اوکړو۔ او د سترګو نه

ئې اوښکې روانې دي.

وَاَطْعَمَ الْجَيْشَ مِنْ صَاعٍ فَاَشْبَعَهٗ وَمِنْهُ اَرْوَاهُ لَمَّا مَسَّهُ الْعَسَرُ

او په يو صاع اوړو ئې ټول لښکر موړ کړو. او د هغوئ تکليف ئې ختم کړو. چه د لوږې نه په تکليف وو.

فَلَا تَرُمْ حَصْرَ اٰيَاتٍ لَّهٗ ظَهَرَتْ اِلَّا اِذَا كَانَ يُحْصَى الرَّمْلُ وَالْمَدَرُ

نو ته د هغوئ د معجزاتو د شمار اراده مه کوه. مګر هله که د صحرا شګې او کيڼې شميرلې شي.

كَفٰى بِمُعْجِزَةِ الْقُرْاٰنِ مُعْجِزَةً طُوْلَ الزَّمَانِ غَدَا يُتْلٰى وَيُسْتَطَرُ

د قرآن شريف معجزه کافي معجزه ده. چه تر ډيرې زمانې به ئې تلاوت کيږي او ليکلې به شي.

فِيْهِ تَجَمَّعَتِ الْاَشْيَا فَلَا صُحُفٌ اِلَّا وَحَازَ مَعَانِيْهَا وَلَا زُبُرُ

په دې کښې ټول مضامين راجمع شوي دي. نو يو صحيفه او يو آسماني کتاب داسې نشته چه د هغې مضامين په دې کښې نه وي.

فَهُوَ الشِّفَاءُ الَّذِيْ تَحْيَى النُّفُوْسُ بِهٖ قَدْ فَازَ مُتَّعِظٌ مِنْهُ وَمُدَّكِرُ

نو دا قرآن هغه شفا ده چه زړونه ورباندې ژوندي کيږي. د دې نه وعظ ونصيحت تبلونکې کامياب دې.

يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا عَلٰى حَبِيْبِكَ مَنْ زَانَتْ بِهِ الْعُصُرُ

يا الله خپل خاص رحمت نازل کړې هميشه هميشه د پاره. په خپل هغه حبيب چه زمانې ورباندې ښائسته شوي دي.

# دروېشتم فصل

## د حضورؐ ښه نومونه او د هغې تفسير

ع۱ = محمد د هغوئ ﷺ يعنې خاص نوم دے - احمد = عيسیٰ عليه السلام
ئې په دے نوم بشارت ورکړے دے۔

ع۲ = ماحي = ختموونکے ورکوونکے = د حضورؐ په برکت الله تعالیٰ د کفر
تيرے ورکے کړے۔

ع۳ = حَاشِرْ = راپورته کوونکے - د قيامت په ورځ به ټولونه اول
حضورؐ قبر نه پاځي - بيا به نور ټول مخلوق پاځي - ګويا که حضورؐ
د دوئ د حشر سبب شو۔

ع۴ = عَاقِبْ = يعنې ټولو پيغمبرانو نه روستو په آخرکښ تشريف
راوړونکے۔

ع۵ = مُقَفِيْ = د دے او د عاقب يو معنیٰ ده - يعنې په آخرکښ راتلونکے

ع۶ = نبي التوبه = يعنې د هغوئ په شريعت کښ د ګناهونو د معافئ
د پاره صرف توبه د خپلو شرائطو سره کافي ده - په مخکنی امتونو
کښ ورسره قتلِ نفس هم شرط وو۔

ع۷ = نبي الملحمة = يعنې قتال واله نبي د هغوئ په شريعت کښ
جهاد فرض شو۔

ع۸ = نبي الرحمه = رحمت واله نبي - د هغوئ رحمت عالم کيدل

ظاهر دی - مسلمانانو دپاره خو په دنیا او آخرت دواړو کښې - او
کافرانو دپاره صرف په دنیا کښې - چه د ځینو قومونو غوندے عام
عذاب نه محفوظ دی - او د دنیا د نورو اجزاؤ دپاره هم رحمت دے
چه د عالم بقاء د حضورؐ د دین په بقا موقوفه ده - چه د حضورؐ
د دین څه اثر باقی پاتے نشی یعنی دنیا کښې د الله نوم اخستونکے
پاتے نشی - نو دا دنیا به ورانه شی قیامت به راشی - ۲

ع۹ = فاتح = پرانستونکے = د حضورؐ په برکت د صداقت دروازے
پرانستے شوے - د کافرانو ملکونه او ښارونه فتح شو - او مؤمنانو
ته د جنت دروازے پرانستے شوے -

ع۱۰ = امین = امانتدار = معنیٰ ئے څرګنده ده - نبوت نه مخکښې
دشمنانو هم په دے نوم یادولو -

ع۱۱ = شاهد = ګواهی ورکوونکے - ګواه - د قیامت په ورځ به په
خپل امت ګواهی کوی - چه ما دوئ ته د الله احکام رسولی دی -

ع۱۲، ع۱۳ = مبشر او بشیر = مؤمنانو ته د جنت زیرے ورکوونکے -

ع۱۴ = نذیر = کافران د دوزخ د عذاب نه ویروونکے -

ع۱۵ = قاسم = یعنی فیوض او د غنیمت مال تقسیموونکے -

ع۱۶، ع۱۷ = ضحوک و قتال = یعنی مسلمانانو سره په خندا خبرے کوونکے - ۳
او کافرانو سره جنګ کوونکے -

ع۱۸ = عبدالله = د الله خاص بنده -

ع۱۹ = سراج منیر = یعنی د هدایت بل چراغ -

ع۲۰ = سید ولد آدم = یعنی د ټولو بنی آدمو سردار -

ع۲۱= صاحب لواء الحمد = د قیامت په ورځ به د حضورﷺ په لاس کښې د حمد بیرغ وی۔ او ټول مخلوق به د هغې لاندې ولاړ وی۔

ع۲۲= صاحب المقام = یعنې د شفاعت د مقام خاوند۔

ع۲۳، ع۲۴= صادق و مصدوق = د بښتو نی خبرونه ورکوونکې او چا ته چه د وحی په ذریعه د بښتونی خبرونه ورکولې شی۔

ع۲۵= رؤف و رحیم = یعنې مهربانه او ډیر مهربانه۔

په دې اسمائے صفاتو کښې څه داسې دی چه حضورﷺ پورې خاص دی۔ او حتی نورو پیغمبرانو کښې هم موندې شی۔ په دې نومونو کښې اکثر داسې دی۔ چه په یو خاص صفت یا وصف غالب پاندې دلالت کوی۔ او په عرف کښې لقب هم داسې نوم نه ویا شی۔ په دې اعتبار دا پنځویشت ۲۵ نوم نه شمارلې شوی دی۔ او که د حضورﷺ د هر وصف نه نوم جوړکړې شی نو د دو سوو ۳۰۰ نه زیات دی۔ بلکه حتی عالمانو خو یو زر ۱۰۰۰ پورې رسولی دی۔

(زاد المعاد)

# من الروض

## دا اشعار د الروض النظیف دی

مُحَمَّدٌ اَحْمَدُ الْمَنْسُوْبُ مَادِحُهٗ اِلَیْهِ فَهُوَ ابِهٰذَا الْفَخْرِ یَفْتَخِرُ

محمد دې احمد دې د هغهٔ د صفت کوونکی چه هغه ته نسبت اوشی نو هغه په فخر کوی۔

اَلْفَاتِحُ الْخَاتِمُ الْهَادِیْ بِدَعْوَتِهٖ     اِلَی الْهُدٰی وَلِدِیْنِ اللّٰهِ یَنْتَصِرُ

هغه فاتح دے۔ د هغه په نور د تخلیق افتتاح اوشوه۔ هغه خاتم دے۔ نبوت په ختم شو۔ هغه هادی دے۔ د هغهٔ په دعوت راهٔ حق ته هدایت بیا مونځ شو۔ او د دینِ حق نصرت اوشو۔

اَلْحَاشِرُ الْعَاقِبُ الْمَاحِیْ بِبِعْثَتِهٖ     عَنَّا الظَّلَامَ وَلَیْلُ الشِّرْكِ مُنْدَمِرُ

هغه حاشر دے د قیامت په ورځ به ټولونه اول هغه را پاځی۔ ګویا د حشر شروع کوونکے دے۔ عاقب دے د ټولو نبیانو نه آخر کښ راغلے دے۔ او ماحی دے۔ د هغه د راتلو په برکت مونږ نه تیرے لرے شوے او د کفر شپه ختم شوه صبا شو۔

یَارَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا     عَلٰی حَبِیْبِكَ مَنْ زَانَتْ بِهِ الْعُصُرُ

یا الله خپل خاص رحمت نازل کړے همیشه همیشه د پاره په خپل هغه حبیب چه زمانے په بنائسته شوی دی۔

# څلیریشتم فصل

## د حضورؐ د ځنې خصوصیاتو په بیان کښ

یعنی د هغے کارونو په بیان کښ کوم چه الله تعالیٰ په ټولو پیغمبرانو کښ خاص حضور صلی الله علیه وسلم ته ورکړی دی۔ او هغه څو قسمه دی۔ یو هغه دی چه د هغوی دنیا ته

تشریف راوړو نه مخکښې د حضوړ پاک ذات ته ورکړې شوی دی۔

ع۱: لکه ټولو نه اول د حضوړ نور مبارک پیدا کیدل۔

ع۲: ټولو نه اول حضوړ ته نبوت ورکول۔

ع۳: د میثاق په ورځ د الست بربکم په جواب کښې ټولو نه اول د حضوړ بلی ویل۔

ع۴: د حضوړ پاک نوم په عرش لیکلے کیدل۔

ع۵: دا دنیا د حضوړ د مخه پیدا کیدل۔

ع۶: په ټولو وړومبنی آسمانی کتابونو کښې د حضوړ د راتلو خوشخبری ورکول۔

ع۷: حضرت آدم علیه السلام، حضرت نوح علیه السلام او حضرت ابراهیم علیه السلام ته د حضوړ په برکت کامیابی حاصلیدل۔ ددے روایات په اول او دویم فصل کښې بیان شوی دی۔

دویم قسم صفه کاروته دی۔ چه د حضوړ دنیا ته تشریف راوړو په وخت نبوت نه مخکښې ظاهر شوی دی۔ لکه د ډلو په مینځ کښې مهر نبوت؛ ددے روایت په شپږم فصل کښې تیر شوید ے۔

دریم قسم صفه کاروته دی چه نبوت نه پس ظاهر شویدی او حضوړ پورے خاص دی۔

ع۱: مثلاً معراج؛ او په معراج کښې عجائبات ملکوت لیدل۔ لکه دوزخ او جنت لیدل۔

ع۲: د خپل رب دیدار کول۔

ع۳: د حضوړ په راتلو کهانت ختمیدل۔

ع۴: په اذان او اقامت کښې د الله د نوم سره د حضوړ نوم راتلل۔

ع۵ = د الله کتاب ورکول چې په هر قسم معجز دے ـ لفظاً او معناً د تحریف نه محفوظ دے ـ

ع۶ = په محمد ﷺ صدقه حرامیدل ـ

ع۷ = په خوب د محمد ﷺ اودس نه ماتیدل ـ

ع۸ = د محمد ﷺ د ازواج مطهراتو سره د محمد ﷺ د وفات نه پس د نکاح حرمت ـ

ع۹ = د محمد ﷺ نسب د لور نه ثابتیدل ـ

ع۱۰ = د ښانه د روستو یوشان لیدل ـ

ع۱۱ = ترلرے لرے د محمد ﷺ رعب رسیدل ـ

ع۱۲ = محمد ﷺ ته جوامع الکلم ورکیدل ـ

ع۱۳ = د ټول مخلوق د پاره رسول کیدل ـ

ع۱۴ = نبوت په محمد ﷺ ختمیدل ـ

ع۱۵ = د محمد ﷺ امت د ټولو پیغمبرانو د امتونو نه زیاتیدل ـ

ع۱۶ = محمد ﷺ د ټول مخلوق نه افضل کیدل ـ

څلورم قسم هغه کارونه دی چې د محمد ﷺ په برکت په ټولو امتونو کښې خاص د محمد ﷺ امت ته ورکړی شوی دی ـ

ع۱ = د مال غنیمت حلال کیدل ـ (نورو امتونو ته مال غنیمت حلال نهٔ وو)

ع۲ = په ټوله زمکه هر ځائے کښې مونځ جائز کیدل ـ (نورو امتونو ته خپلو جماتونو کښې مونځ کول ضروری وو)

ع۳ = د تیمم حکم ـ

ع۴ = اذان او اقامت مقرر کیدل ـ

ع۵: په ما نځه کښې د مسلمانانو صفونه د فرښتو د صفونو په شان کيدل.

ع۶: خاص د جمعې موځ.

ع۷: د جمعې په ورځ د دعا قبليدو يو خاص وخت.

ع۸: په رمضان کښې د سحرۍ د پېشمنۍ اجازت.

ع۹: په رمضان کښې د شبِ قدر مبارکه شپه.

ع۱۰: په يو نيکۍ کم نه کم لس چنده ثواب او د دې نه زيات هم.

ع۱۱: وسوسه او نسيان ګناه نه کيدل. (معاف کيدل) (ښايد چه په نورو امتونو دا واجبه وه چه دا سې اسباب پيدا کړې شي. چه وسوسې او نسيان نه راځي) په دې اعتبار دا د امت محمدي خصوصيت شو.

ع۱۲: دين اسانيدل او سخت احکام ختميدل.

ع۱۳، ع۱۴: تصويرونه او د نشې څيزونه ناجائز کيدل (چه دا د مفاسدو دروازه بندول دي) او مفاسدو نه بچ کيدل رحمت دې.

ع۱۵: د امت اجماع حجت کيدل. او په دې کښې د ګمراهۍ احتمال نهٔ کيدل.

ع۱۶: فروعي اختلاف رحمت کيدل.

ع۱۷: د تيرو قومونو په شان عام عذاب نهٔ راتلل.

ع۱۸: د امت د عالمانو نه د دين هغه کار اخستل کوم چه نورو قومونو کښې پيغمبرانو کولو.

ع۱۹: د طاعون په مرض مرګ شهادت کيدل۔

ع۲۰: تر قيامته د اهلِ حق يو ډله په حق پاتے کيدل او د الله د طرف نه ئے امداد کيدل (وغيره)

پنځم قسم هغه کارونه دی چه د حضورؐ د وفات نه پس په عالم برزخ کښې يا قيامت کښې به ظاهريږی۔ د دے بيان به د وفات نه پس درے فصلونو کښې راځی۔

(شمامه ومشکوة)

# من القصيده

## دا يو څو اشعار د قصيده بردے دی

فَهُوَ الَّذِيْ تَمَّ مَعْنَاهُ وَصُوْرَتُهُ ثُمَّ اصْطَفَاهُ حَبِيْبًا بَارِئُ النَّسَمِ

نو هغوئ په خپل ظاهری او باطنی فضائلو کښې کمال ته اورسيدو۔ بيا الله تعالیٰ چه د ټول مخلوق خالق دے هغه خپل حبيب کړو۔

مُنَزَّهٌ عَنْ شَرِيْكٍ فِيْ مَحَاسِنِهٖ فَجَوْهَرُ الْحُسْنِ فِيْهِ غَيْرُ مُنْقَسِمِ

هغه په خپلو خوبيو کښې د شرکت نه پاک دے نو د حسن کوم جوهر چه هغوئ کښې دے هغه تقسيم کيدونکے نهٔ دے۔ مونږ هغوئ پورے خاص دے۔

يا رب صل وسلم دائما ابدًا على حبيبك خير الخلق كلهم

يا الله خپل خاص رحمت او سلامتيا نازل کړه هميشه هميشه په خپل هغه حبيب چه ټول مخلوق کښې ټولو نه بهتر دے۔

# پنځویشتم فصل

## کوم څیزونه چه حضورؐ خوړلی ځکلی دی او په کومو څیزونو چه سور شوے دے

دَدے څیزونو حضورؐ سره دوه تعلقه دی - یو تشریعی - یعنی دهغې دجائز کیدل یا نهٔ جائز کیدل - ددے متعلق روایات جمع کول او هغې نه احکام معلومول د فقهاؤ کار دے۔

دویم دهغې استعمال دے - دضرورت او فائدے دپاره - دے نه بحث کول دسیرت کار دے - دلته دا په دے اعتبار سره د نادالمعادنه مختص طور سره نقل کولے شی۔

دخوړلو څکلو څیزونه دخوراک یا دارو په غرض - دے کښې ځنې خو هغه څیزونه دی - چه حضورؐ خپله استعمال کړی دی۔ او ځنې هغه دی چه دهغې صفت ئې کړے دے - او صحابو ته ئې دهغې داستعمال ترغیب ورکړے دے - لکه -

**اثمد** = تور اصفهانی رانجهٔ - حضورؐ فرمائیلی دی - تاسو رانجهٔ استعمالوئ - دا یانړهٔ مضبوطوی او نظر تیز وی (دا د ابن ماجه روایت دے)

او د حضورؐ عادت مبارک هم دا وو - چه د شپے او دهٔ کیدو نه مخکښې به ئې دوا ړو سترګو مبارکو کښې درے درے سلایان رانجهٔ

اچول - دا روایت د ابن ماجه دے - او د ترمذی په روایت کښ
دی، چه بنسټ ستړګه کښې به ئے درے سلایان اچول او ګسه
سترګه کښې دوه -

**اترج**[۲] یعنی نارنج = حضورؐ فرمائیلی دی - کوم مؤمن چه قرآن لولی
دهغه مثال د نارنج دے (چه خوند ئے هم ښهٔ دے) او خوشبوئی
ئے هم ښه ده - دا د بخاری او مسلم روایت دے -

**بطیخ**[۳] یعنی هندوانه = هغوئی د تازه خرما سره خوړلی ده -
او ارشاد دے - د خرما ګرمی د هندوانے یخنی کموی - معتدل شی -
(دا روایت د ابو داؤد او ترمذی دے)

**بلح**[۴] = یعنی شنه او کچه خرما = حضورؐ فرمائیلی دی - کچه خرما
او اوچه خرما یعنی چواره ملګری کوئی خورئی ئے - شیطان چه
دا او وینی نو وائی افسوس دے دا انسان دومره ژوندے پاتے
شو - چه تازه میوه او زړه سره ملګری کوی - دا د نسائی او ابن
ماجه روایت دے -

**بسر**[۵] = یعنی نیم پخته خرما = صحیح حدیث شریف دے - چه
یوه ورځ حضورؐ او حضرت ابوبکرؓ او حضرت عمرؓ د ابو الهیثم انصاریؓ
میلمانهٔ شو - نو هغهٔ د کجورو یو ګسنګوچے راوړو - حضورؐ او فرمائیل
پخے پخے به دِ راشوکولی دے - هغهٔ عرض اوکړو - چه زما زړهٔ غوښته
چه تاسو په خپله خوښه پخے یا نیم پخته خُنګه چه موخوښے
وی اوخورئی - (ګسنګوچی کښی - کچه - نیم پخته هر څنګه کړے دے
وی دو رو پخیږی)

س۶
**بصل** = پیاز - حضرت عائشہ رض نہ چا د پیازو متعلق تپوس اوکړو۔ نو هغې او فرمائیل - د ژوند په آخري خوراک چې کوم حضور ص کړے دے هغې کښې پیاز وو - دا د ابو داؤد روایت دے - او په بخاری او مسلم کښې روایت دے - چې حضور ص فرمائیلی دی - چا چې پیاز خوړلے وی جمات ته دې نۀ راځي - یو بل روایت دے - پیاز او اوږه چې څوک خوری نو پوخ د خوری - چې بوئې ئې ختم شوے دی - (یعنی حضور ص هغه کسان منع کړی دی - چا چې اوم پیاز یا اوږه خوړلی وی چې د هغې تیز خراب بوئی وی - جمات کښې نورو کسانو او فرشتو ته تکلیف رسی - په سالن کښې استعمال ئې منع نۀ دے - تسنیم)

س۷
**تمر** = چواره یعنی اوچه کجوره - حضور ص ئې صفت کړے دے - ارشاد دے - څوک چې سحر وختی اووۀ چوارے اوخوری په دے ورځ به د جادو د اثر نه او هر تکلیف نه محفوظ وی - او ارشاد دے په کوم کور کښې چې چوارے نۀ وی - هغه نهر دی - حضور ص خپله هم خوړلی دی د کوچو سره هم تازه کجورو سره هم او روټئ سره هم۔

س۸
**ثلج** = برف = د حدیث شریف یو دعا ده - یا الله زما ګناهونه اووینځې په اوبو - په واوره په ژلئ دے نه د واورے تعریف معلومیږی

س۹
**ثوم** = اوږه = د دے بیان د پیازو سره اوشو۔

س۱۰
**ثرید** = په ښوروا کښې ماته کړی روټئ - چوری - د بخاری او مسلم روایت دے حضور ص فرمائیلی دی د عائشہ رض فضیلت په نورو ښځو داسے دے لکه د ثرید فضیلت په نورو خوراکونو - د دے نه د ثرید فضیلت ثابتیږی -

۱۱ **جبن** = پنیر = د تبوک په سفر کښې حضوږ ته چا پنیر راوړو۔ حضوږ بسم الله اووئیل او په چاقوئې ورنه یو ټوټه پریکړه۔ دابو داؤد روایت دے۔

۱۲ **حنا** = نکریزه = په حضوږ چه به چرته دانه راوخته یا به ئې اغزے مات شو۔ نکریزه به ئې پرې لګوله۔ د ترمذی روایت دے۔

۱۳ **حبة سوداء** = توروا نجو - کلونجی - شونیز = حضور فرمائیلی دی۔ د دے استعمال کوئی دا د مرګ نه علاوه د هرے بیمارئ علاج دے۔ داد بخاری او مسلم روایت دے۔

۱۴ **حرف** = شړشم = په احادیثو کښې د دے یو نوم ثفاء هم راغلی دے۔ او عام نوم ئې حب الرشاد ۱۵ هم دے۔ حضوږ فرمائیلی دی۔ دوو څیزونو کښې ډیره شفا ده۔ ثفاء او ایلوه۔ داد ابو عبیده وغیره او ابو داؤد روایت دے۔

۱۶ **حلبه** = ملخوزے - ساګ که تخم؟ = عبدالرحمن بن قاسم نه روایت دے چه حضوږ فرمائیلی دی۔ په ملخوزو شفا حاصله کړئ۔

۱۷ **خبز** = روټئ - د حضوږ په بنوروالکښې ماته کړی روټئ ډیره خوښه وه۔ داد ابو داؤد روایت دے۔ یو ځل حضوږ په غوړو غوړه شوی د غنمو روټئ خواهش ښکاره کړو۔ نو یو صحابی حاضره کړه۔ حضوږ د غوړو د لوښی تحقیق اوکړو۔ نو معلومه شوه چه د سوسمار (غاروی) د څرمنې نه جوړه کوپئ ده۔ حضوږ او فرمائیل وړه ئې۔ داهم د ابو داؤد روایت دے۔

۱۸ **خل** = سرکه = حضوږ سرکه خوړلی هم ده او د سرکے سفتئې

هم کړے دے۔ ارشاد دے نِعْمَ الْاِدَامُ الْخَلُّ۔ (سرکه ښه سالن دے)
دا مسلم روایت کړے دے۔

۱۹
دهن = تیل = حضورؐ سرمبارک کښې تیل لګولی دی۔ ترمذی روایت کړے دے۔ او د حضورؐ ارشاد دے۔ د زیتون تیل خورئ هم او په بدن لګوئ هم۔ دا هم د ترمذی روایت دے۔

۲۰
ذریره = یو قسم عطر دی۔ حضرت عائشهؓ نه روایت دے۔ چه ما په حج وداع کښې حضورؐ ته احرام تړلو نه مخکښې او احرام پرانستو نه پس ذریره عطر لګولی دی۔ دا د بخاری او مسلم روایت دے

۲۱
رطب = تازه پخه کجوره۔ حضرت عبدالله بن جعفر نه روایت دے چه ما حضورؐ لیدلے دے چه خټکی سره ئے تازه پخه کجوره ملګری کوله خوړه ئے۔ دا د بخاری او مسلم روایت دے۔
او د ابی داؤد روایت دے۔ چه حضورؐ په رمضان کښې د ماښام د مونځ نه مخکښې په تازه پخه کجوره افطار کولو۔ که تازه کجوره به نهٔ وه په چواره او که چواره به هم نهٔ وه نو په اوبو به ئے روژه ماتوله۔

۲۲
ریحان = کشمالو۔ یو خوشبو یه ګل۔ حضورؐ فرمائیلی دی۔ چا ته چه خوشبو یه ګل ورکړے شی۔ انکار د نهٔ کوی۔ ځکه چه دے کښې احسان ډیر نشته۔ او خوشبوئی ئے پاکه ده۔ یعنی بل ته په کښې څهٔ تکلیف نشته۔ او خپله فائده پکښې شته۔ دا د مسلم روایت دے۔ او دغه د خوشبوئی دا حکم دے چه انکار تر نهٔ دے پکار)

**زیت** ۲۳ = د زیتون یعنی بنوانهٔ تیل = د دے ذکر په دهن کښې راغلے دے۔

**زنجبیل** = سونډ = د روم بادشاه یو لوښے د زنجبیل نه ډک حضورؐ ته هدیه را ستولے وو۔ حضورؐ یو یو ټکړه مجلس کښې حاضر کسانو ته خوراک د پاره ورکړه۔ ابو نعیم په طب نبوی کښې دا روایت کړے دے۔

**سنا** ۲۵ = مشهور مسهل یعنی دست راوستونکے بوټے دے۔ حضورؐ یو صحابیؓ ته د جلاب د پاره د سنا د استعمال او فرمائیل۔ نو بیا ئے او فرمائیل که څه شی بانده د مرګ علاج کیدے نو په سنا به کیدو۔ ترمذی او ابن ماجه دا روایت کړے دے۔

**سنوت** ۲۶ = د دے په معنیٰ کښې اختلاف دے۔ ځنی طبیبانو ئے دا معنیٰ بیان کړی ده۔ هغه ګبین چه د غوړو په لوښی کښې ساتلے شوے وی۔ حضورؐ فرمائیلی دی۔ سنا او سنوت استعمالوئی۔ دا دواړه د مرګ نه علاوه د هر مرض علاج دے۔ طبیبان وائی چه ګبین او غوړی د سنا اصلاح کوی۔ او په دستونو راوستو کښې ورسره امداد کوی۔

**سفرجل** ۲۷ = سیب او بهی = حضورؐ ابو ذر ته یو سیب ورکړو۔ او وے فرمائیل دا زړهٔ ته طاقت ورکوی۔ او طبیعت خوشالوی۔ او د سینے درد لرے کوی۔ نسائی روایت کړے دے۔

**سمن** ۲۸ = غوړی۔ د خیر په بیان کښې تیر شوی دی چه حضورؐ د غوړے روټئی خواهش کړے وو۔

۲۹ سمک = مچھ - حضورؐ د عنبر مھی یو تو ته اصحابو ته اخستی
او خوړلی وه - زادالمعاد د سریه خبط په واقعه کښ د صحیحینو نه
نقل کړے دے -

۳۰ سلق = چقندر - حضرت علیؓ بیمارئ کښ کمزورے شوے وو.
نو حضورؐ ورته د اوربشو د اوړو او چقندر نه جوړے حلوا
خوړو هدایت اوکړو -

(ترمذی او ابو داؤد)

۳۱ شونیز - توروا نجو ددے ذکر په حبة السوداء کښ شوے.

۳۲ شعیر = اوربشے = حضورؐ اکثر د اوربشو روټئ خوړلی ده - او
کور خلقو ته به ئے په تبه کښ آش جو ورکول - (آش جو یعنی
اوربشے چه اوبشولے شی او چاڼ کړے شی هغه اوبهٔ) او حضورؐ
فرمائیلی دی - دا زړهٔ ته طاقت ورکوی او د زړهٔ خفکان ختموی

(ابن ماجه)

۳۳ شوی = دریته غوښه = د حضورؐ وریته غوښه خوړل د
ترمذی په ګڼړ روایاتو کښ ذکر ده -

۳۴ شحم = چربی - یو یهودی حضورؐ ته دعوت کړے وو - نو د
اوربشو روټئ او چربئ ورته پیش کړی وه - خو د هغے چربئ
خوند خراب شوے وو - (شاید د زوړ والی په وجه)

۳۵ صبر = ایلوه = ددے ذکر په مخکښ د حرف په بیان کښ تیر
شوے دے -

۳۶ طیب = خوشبو - د حضورؐ ارشاد دے - د دنیا په څیزونو کښ

نما خوشبوئی او نکاح کړی بیبیانے ډیرے خوښے دی۔

٣٧ **عسل** = گبین۔ شهد = حضورؐ فرمایلی دی۔ څوک چه هر ه
میاشت درے ورځے سحر وختی گبین اوڅټی۔ هغه بانده به یو
غټ مرض هم حمله نه کوی۔ (ابن ماجه)

٣٨ **عجوه** = د مدینے په کجورو کښی یو خاص قسم کجوره ده۔ د
حضورؐ ارشاد دے دا د جنت میوه ده۔ او په دے کښی د زهرو نه
شفا ده۔ (نسائی او ابن ماجه)

٣٩ **عود هندی** = د دے دوه قسمه دی۔ یو په دارو کښی استعمالیږی
دے ته قسط هم وئیلے شی۔ دویم قسم خوشبوئی د پاره لوګے کولے
شی۔ حضورؐ فرمایلی دی۔ عود هندی دارو د پاره استعمالوئی۔
په دے کښی اووه شفا دی یعنی دا د اوو مرضونو علاج دے۔

٤٠ **قثا** = ککړی۔ تره = حضورؐ تره د تازه خرما سره خوړلی ده (ترمذی)

٤١ **کماة** = ډهونے = حضورؐ فرمایلی دی۔ دا د من په شان دے۔
کوم چه بنی اسرائیلو ته د آسمان نه راپریوتو (کله چه د
تیهه په صحرا کښی گیر وو) یعنی مفت شے دے۔ چه خپله په
ځنګل کښی پیدا کیږی۔ کرل او محنت نه غواړی۔ مفت هم دے
او مفید هم دے۔ د دے اوبه د سترګو ډیرو مرضونو علاج دے

٤٢ **کباث** = د کیکر د ونے میوه = یو ځل اصحابو په ځنګل کښی د
کیکر دا میوه راجمع کوله۔ نو حضورؐ او فرمایل۔ تورے دانے
جمع کوئی۔ دا ښے دی (بخاری ومسلم)

٤٣ **لحم** = غوښه = حضورؐ فرمایلی دی د دنیا او آخرت د ټولو

خوراکونو سرداره غوښه ده - (ابن ماجه) د حضورؐ د لېچې غوښه خوښه وه - (بخاری ومسلم) او حضورؐ فرمایلي دي د پښت غوښه ښه دي - (ابن ماجه) حضورؐ د سوئ غوښه هم قبوله کړی ده - (بخاری ومسلم) - او د کورخر د غوښې خوړلو اجازت ئې صحابو ته ورکړے دے (بخاری ومسلم) - او حضورؐ په نهر او چه کړی غوښه هم خوړلې ده - (سنن) - او د چرګ غوښه ئې هم خوړلې ده. (بخاری ومسلم) او د سنن روایت دے چه هغوئی د سرخاب غوښه هم خوړلې ده - او د اصحابو سره ئې قحطي ملخان هم خوړلي دي - (بخاری ومسلم)

**لبن ۴۴** = پئ = هغوئی پئ څکلی هم دی - او د پیو صفت ئې هم کړے دے - حضورؐ فرمایلي دي - دا شے چه د اوبو او خوراک دواړو کار اوکړی - پیو نه بغیر بل شے ما ته نهٔ دے معلوم (سنن) حضورؐ پئ او څکل بیائې او بهٔ اوغوښتے او خولهٔ ئې کنګاله کړه (بخاری ومسلم)

**ماء ۴۵** = اوبهٔ - حضورؐ د ځنې خاصو اوبو فضیلت بیان کړے دے لکه سیحان او جیحان او نیل و فرات د جنت نهرونه دی (بخاری ومسلم) ځنې عالمانو د دے دا توجیهه کړی ده چه دے اوبو کښ د اوبو د ښهٔ والی ټول صفات جمع دی - ځکه د جنت د اوبو سره تشبیهه ورکړی شوی ده -

د زمزم متعلق ارشاد دے - زمزم چه په کوم نیت او څکلی شی هغې د پاره دی - (ابن ماجه)

۴۶ **مسک** = مشک - ارشاد دے په ټولو خوشبویو کښې پاکیزه خوشبوئي
د مشکو ده - (مسلم) - او هغوئي په حج وداع کښې احرام تړلو نه
مخکښې او احرام پرانستو نه پس مشک لګولی دی (بخاری ومسلم)

۴۷ **ملح** = مالګه = حضورؐ فرمایلی دی - د خوراک د څیزونو سرداره
مالګه ده - (ابن ماجه)

۴۸ **نوره** = چونه = حضورؐ کله د پردے د ځایونو وېښتو لرے
کولو د پاره چونه استعمال کړی ده - (ابن ماجه)

۴۹ **نبق** = بیره - حضورؐ فرمایلی دی - آدم علیه السلام چه
زمکے ته راکوز شو - نو ټولو نه اول ئے بیره خوړلی ده (ابونعیم
په طب نبوی کښې روایت کړے دے)

۵۰ **ورس** = یو خاص قسم زیړ وابښهٔ دے - چه کپړے په رنګولے
شی - حضورؐ د ذات الجنب په بیمارئ کښې د ورس او زیتون تیل
استعمالولو صفت کړے دے (ترمذی)

۵۱ **یقطین** = کدو - په لوښی کښې د کدو پوټی تلاش کول او
خوړل په بخاری او مسلم کښې روایت دے - او حضرت عائشهؓ نه
روایت دے - چه حضورؐ فرمایلی دی - په کټوئی کښې کدو ډیر
اچوئی - دا زړهٔ ته طاقت ورکوی - او د حضورؐ د خوراک کولو
د حالت د وه عادتونه روایت شوی دی - یو ښپو په سر کیناستل
او بل داسے کیناستل چه د کیڼے ښپے ټا د ښئ ښپے د پیڅ په
شا لګیدلے وی - او هغوئي به خوراک په درے ګوتو کولو - او
خوراک بس کولو نه پس به ئے ګوتے څټلے - او بیا ئے اوخوږے او به

ئې خوښ دے - ابو الهیثم نه ئې بیګانئ اوبهٔ غوښتې وې. (چه یخې به نهٔ وې) هغوئ د پاره به د بېرسقیانو خوړے اوبهٔ راوړے شوے - او بهٔ به ئې په درے ساه څکلے - او په ناستې به ئې څکلے - هغوئ سره د اوبو څکلو د پاره د لرګی یو پیاله وه. او یو پیاله د شیشے هم وه -

## ملبوسات (د هغوئ جامے)

د هغوئ جامے - څادر - لنګ - قمیص او پټکے وو - سپینه کپړه ئې خوښه وه - لکیردار څادرې هم خوښ وو - د پټکی د لاندے به ئې ټوپئ په سرولو. کله کله ئې بې ټوپئ پټکے هم په سر کړے دے - د پټکی شمله به ئې کله وه - او کله به نهٔ وه. قبا ئې هم اغوستې ده - د هغوئ د څادر اوږد والے شپږ[٦] لاسه (تقریباً درے ګزه) او پلنوالے ئې درے[٣] لاسه او یو لیشت وو - (تقریباً پاؤکم دوه ګزه) او د لنګ اوږد والے ئې څلور[٤] لاسه او دوه لیشتے وو (تقریباً دوه نیم ګزه) او پلنوالے ئې دوه لاسه او یو لیشت وو - (تقریباً پنځه پاوه) څادرې ګلدار او ساده دواړه استعمال کړے دے - توره کپړه ئې هم استعمال کړی ده - شاه روم ورته یو پوستین راستولے وو - چه د ریښمو سنجاف ورته لګیدلے وو. هغه ئې هم اغوستے وو - پرتوګ ئې اخستے دے - (خو عام استعمال ئې ثابت نهٔ دے) خُنی روایاتو کښې اغوستل هم راغلی دی - (شاید چه کله کله ئې اغوستے وی - عام استعمال ئې لنګ وو - نو لنګ مسنون دے او پرتوګ جائز دے - تسنیم)

هغوئ سره دوه څادرونه وو - شنو لیکو واله (او یو یمنی څادر سرو لیکو واله هم وو - تسنیم)

او یو غټ څادر تور او یو غټ څادر سرو لیکو واله - او یو غټ څادر د وړئ یعنی کمبل هم وو - (شاید چه دا کمبل تور وو - تسنیم)

د قمیص کپړه ئې د مالوچو وه - لمن او لستوڼی ئې اوږده نهٔ وو - او هغوئ کتان او وړئ هم استعمال کړی ده - او قیمتی کپړه ئې هم استعمال کړی ده - د هغوئ بالښت د څرمن وو - د کجورے د ریشو نه ئې ډک کړے وو - هغوئ به کله په بستره اوده کیدل بسترے د پاره به ورته کله د ټاټ ټکړه دوه برخه کولے شوه کله به څرمن وه - کله به په پوزی اودهٔ شو - کله به په کټ کښ - کله په زمکه - د هغوئ یو بستره د څرمن وه - د کجورے د ریشو نه ډکه شوی ده - کله به په شړئ کښ پټ شو - کله په څادر کښ (د موسم د حالت مناسب) د هغوئ څپلئ او ماسئ هم وے -

**مرکوبات** (یعنی په کومو څیزونو چه ئې سورلی کړی وه -)

د هغوئ اوهٔ اسونه وو - نومونه ئې دا دی - سکب[1]، مرتجز[2]، طیف[3]، لزاز[4]، ظرب[5]، سبحه[6]، ورد[7] - پنځه ئې قچرے وے - د یو[1] نوم دُلدل دٔو چه مقوقس شاه مصر ورته راستولی وه - یو[2] فضه وه - چه د جذام قبیلے سردار ورته راستولی وه - یو[3] سپینه قچره ورته د ایله حاکم راستولی وه - څلورمه ورته د دومة الجندل حاکم راستولی وه -

پنځمه ورته شاه حبشه نجاشی راستولی ده۔
او درے خرونه دو۔ دیو نوم عضیر دو۔ شاه مصر ورته راستولے دو۔
دویم ورته دجذام قبیلے سردار راستولے دو۔
دریم ورته حضرت سعد بن عبادهؓ پیش کړے دو۔
دوه یا درے اوښے وے۔ دیوے نوم قصوٰی دو۔ دبلے عضباء او
د دریمے جدعاء۔ د ځنی عالمانو دا خیال دے چه دا دواړه نومونه
دیوے اوښے دو۔ اوښے دوه وے۔ دے نه علاوه پنځه [س۴۵] څلویښت
اوښے د پیو وے۔ او سل [۱۰۱] بیزے وے۔ دے نه به ئے زیاتولے نه
چه بچی به ئے لوئے شو۔ نو هغه هومره بیزے به ئے ذبح
کړے (دا ټول د زادالمعاد نه نقل شوی دی۔)

**تنبیه** = دے فصل کښې چه څه لیکلی شوی دی۔ دا څیزونه
ځنی مستقل دو۔ ځنی به د حالاتو ما تحت په خاصو خاصو
حالاتو کښې دو۔ نور تفصیل د احادیثو د کتابونه معلومیدے
شی۔

# من الروض

## دا د الروض النظیف اشعار دی

قَضٰی وَلَمْ یَکُ یَوْمًامُدْرِکًاشِبْعًا　　مِنَ الشَّعِیْرِ وَ کَانَتْ فُرْشُهُ الْحُصُرُ

وفات شو۔ او یو ورځ هم۔ داوربشو په روټئی موړ نه شو۔
او د هغوی بستره پوزے دو۔

Scanned with CamScanner

هٰذَا وَقَدْ مُلِّكَ الدُّنْيَا بِأَجْمَعِهَا　　　فَرَدَّهُ الزُّهْدُ عَنْهَا وَهُوَ مُقْتَدِرُ

دا حالت ئې سره ددے دوچه د دنیا د ټولو نعمتونو مالک وو لیکن زهد د دنیا د نعمتونو نه منع کړو۔ حالانکه هغه د دیاندے قادر وو۔ یعنی دا حالت ئې د غریبئ په وجه نهٔ وو۔ که هغوئ غوښتې نو د دنیا هر نعمت ورته حاصلیدے شو۔ په آرام ژوند تیرولے شو۔

فَالثَّوْبُ يَرْقَعُهُ وَالشَّاةَ يَحْلِبُهَا　　　وَمَا رُأِيَ لِأَخِ الْإِعْدَامِ يَحْتَقِرُ

نو جامو کښې ئې په خپله پیوند لګولو۔ او خپله زیه به ئې خپله لوشله او چا نهٔ دے لیدلے چه غریب ته ئې سپک کتلی وی۔

وَالْبَيْتُ يَكْنِسُهُ وَالنَّعْلَ يَخْصِفُهَا　　　وَإِنْ دُعِيَ أَسْعَفَ الدَّاعِيْ وَلَا يَذَرُ

خپل کور به ئې جارو کولو۔ او خپل پیزار به ئې خپله ګنډلو۔ او چا چه به ورته دعوت اوکړو۔ د هغه مراد به ئې پوره کولو۔ یعنی دعوت به ئې قبلولو۔ انکار ئې نهٔ کولو۔

كَانَ الْبُرَاقُ لَهُ وَالْخَيْلُ يَرْكَبُهَا　　　وَالْإِبِلُ أَيْضًا كَذَاكَ الْبَغْلُ وَالْحُمُرُ

براق د هغه خاصه سورلی ده۔ په اس هم سوریدو۔ په اوښ هم او په قچرٔ او خر هم۔

يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا أَبَدًا　　　عَلٰى حَبِيْبِكَ مَنْ زَانَتْ بِهِ الْعُصُرُ

# شپږ ویشتم فصل

## دحضورؐ د اهل وعیال او خادمانو په بیان کښ

### ازواج مطهرات (دهغوئ پاکے بیبیانے)

۱: حضرت خدیجهؓ: ټولونه اول ئې حضرت خدیجے سره نکاح کړی وه. په دے وخت کښ دهغوئ عمر پنځویشت [۲۵] کاله او دحضرت خدیجے څلوینت کاله وو. دحضرت ابراهیم نه علاوه چه هغه د ماریه قبطیه ځوئے وو. نور ټول اولاد ئې د حضرت خدیجے نه دے. د هجرت نه درے کاله مخکښ حضرت خدیجه وفات شوه. نو لږ ورځے پس ئې حضرت [۲] سوده بنت زمعه قرشیه سره نکاح اوکړه. بیا لږه موده پس ئې حضرت [۳] عائشه په نکاح کړه. په دے وخت کښ دهغے عمر شپږ کاله وو. دهجرت په دوهمې کال چه د هغے عمر نهه کاله شو رخصتی ئې اوشوه. یعنې حضورؐ خپل کور ته راوسته. دحضورؐ په بیبیانو کښ جینئ دا یوه وه. نورے ټولے کونډے وے. بیا ئې [۴] حفصه بنت حضرت عمر فاروقؓ سره نکاح اوکړه. بیا ئې [۵] زینب بنت خزیمه قیسیه په نکاح کړه. هغه دوه میاشتے پس وفات شوه. نو بیا ئې حضرت [۶] ام سلمه په نکاح کړه. دا دحضورؐ په بیبیانو کښ ټولونه پس وفات شوه. بیا ئې حضرت [۷] زینب بنت جحش په نکاح کړه. دا ئې د ترور لوروه. او د

حضورؐ د وفات نه پس ټولونه اول هغه وفات شوه - د بنی مصطلق د غزا نه پس ئې حضرت [۸] جویریه په نکاح کړه - دا د سردار لور وه - په قیدیانو کښې راغلې وه - حضورؐ آزاده کړه - بیائې په نکاح کړه - بیا حضرت [۹] ام حبیبه په نکاح کړه - دے خپل خاوند سره حبشے ته هجرت کړے وو - خاوند ئې هلته وفات شو - نو بیا حضورؐ د وکیل په ذریعه په حبشه کښې هم هلته په نکاح کړه - مهر ئې نجاشی د خپل طرف نه څلور سوه دیناره ادا کړو - دے نه یو زر [۱۰۰۰] روپۍ یا زیاتے جوړیږی - د خیبر د غزا په وخت حضرت [۱۰] صفیه په قیدیانو کښې راغله - د یو سردار لور وه - حضورؐ آزاده کړه بیائې ورسره نکاح اوکړه - بیائې د عمرة القضا [۱۱] په سفر کښې حضرت [۱۱] میمونه په نکاح کړه - دا ټولے یولس بیبیانې دی - په دے کښې دوه د حضورؐ په ژوند وفات شوی دی - او نورے د حضورؐ د وفات نه پس وفات شوی دی - دے نه علاوه یو څو نور نومونه هم په منکوحاتو کښې یادیږی خو په هغې اتفاق نشته - (دا ټول د زادالمعاد نه نقل شویدی)

## سرارۍ

یعنی هغه وینځې چې هم بستری ورسره کیدے شی - ماریه [۱] قبطیه د هغې نه حضرت ابراهیم پیدا شویدے - حضرت ریحانه [۲] حضرت جمیله [۳] او یو بله چې حضرت زینب ورکړی وه (نوم ئې نهٔ دے معلوم)

**اولاد : ۱: حضرت قاسم : د هغهٔ په وجه د حضورؐ کنیت**

ابو القاسم دے ۔ کم عمرئی کښې وفات شو۔ بیا دوے جینکئ ۔
حضرت رقیهؓ ۔ حضرت ام کلثومؓ او حضرت فاطمهؓ پیدا شوی
دی۔ په دے اختلاف دے چه دوئی کښې مشره څوک ده ۔ بیا
حضرت[۲] عبد الله پیدا شو۔ طیب او طاهر دهغهٔ لقب دے۔
صحیح دا ده چه دے نبوت نه پس پیدا شوے وو۔ او دړوکوالی
کښې وفات شو۔ حضرت[۳] ابراهیم په ۸ھ کښې دماریه قبطیه
نه پیدا شو۔ او دړوکوالی کښې وفات شو۔ نور ټول اولادئې د
حضرت خدیجه نه دے۔ صرف حضرت فاطمهؓ د حضورؐ د وفات په
وخت ژوندئ وه۔ شپږ میاشتے پس وفات شوه۔ نور ټول
اولاد دهغوئی په ژوند وفات شوی دے۔

# اعمام

د حضورؐ تره ـ لس یا دولس وو۔

حضرت[۱] حمزهؓ ، حضرت[۲] عباسؓ ، ابو طالب[۳] ، ابو لهب[۴] ، زبیر[۵]
عبد الکعبه[۶]، حارث[۷]، مقوم[۸] ۔ چا ویلی دی چه دا دواړه نومونه
دیو کس دی۔ ضرار[۹] ، قثم[۱۰] ، مغیره[۱۱] ، عیداق[۱۲] ۔ چا ویلی دی چه
دا دواړه نومونه دیو کس دی۔ نو دغه شان لس[۱۰] یا دولس[۱۲] دی
خو اسلام صرف دوو قبول کړے دے۔ حضرت حمزه او حضرت عباس

# عمات

دهغوئی تره ریانے شپږ وے۔ حضرت[۱] صفیه ۔ مسلمانه وه۔
عاتکه[۲] ، اروی[۳] ، د دے دوو په اسلام کښې اختلاف دے۔ برّه[۴]
امیمه[۵] ، ام حکیم[۶] ۔

# موالی

## (وینځې او غلامان)

حضرت زید بن حارثه رض [۱]، اسلم [۲]، ابو رافع [۳]، ثوبان [۴]، ابوکبشه [۵]
سلیم [۶]، شقران [۷]، رباح [۸]، یسار [۹]، مدعم [۱۰]، کرکره [۱۱]، رنجشه [۱۲]، سفینه [۱۳]
افلح [۱۴]، انیسه [۱۵]، عبیده [۱۶]، طهمان [۱۷]، کسان [۱۸]، ذکوان [۱۹]، مهران [۲۰]، مروان [۲۱]

چا ویلی دی چه دا پنځه دا‌ړه نومونه دیو کس دی۔ حنین [۲۲]
سندر [۲۳]، فضاله [۲۴]، مابور [۲۵]، واقد [۲۶]، ابو واقد [۲۷]، قسام [۲۸]، ابو عسیب [۲۹]
ابو مویهب [۳۰] - دا دیرش نومونه دی۔ دے کښې چه بره پنځه په
یو حساب شی نو شپږ ویشت به پاتې شی۔ وینځې دا دی۔ سلمی [۱]
ام رافع [۲]، میمونه بنت سعد [۳]، خضیره [۴]، رضوی [۵]، ریشمه [۶]
ام ضمیر [۷]، میمونه بنت عسیب [۸]، ماریه [۹]، ریحانه [۱۰]۔

# خادمان

دکور د کار یا نورو خاصو کارونو کولو واله خادمان

حضرت انس رض = دکور اکثر کارونه دده په ذمه وو۔

حضرت عبدالله ابن مسعود رض = د پیزار او مسواک خدمت دده په ذمه وو۔

حضرت عقبه بن عامر جهنی رض = په سفر کښې د قچرې سنبالولو خدمت دده په ذمه وو۔

اسلع بن شریک رض = په سفر کښې د اوښ سنبالولو خدمت دده په ذمه وو۔

حضرت بلال رض = مؤذن او خزانچی وو۔ آمد و خرچ دده په تحویل کښې وو۔

سعد - حضرت ابوذر غفاری رض، ایمن بن عبید رض اودس د پاره د اوبو خدمت د دوئ په ذمه وو۔

حضرت معیقیب رض مهر لګولو د پاره د ګوتې حفاظت د دهٔ په ذمه وو۔

## مؤذنین

ټول څلور وو۔ دوه مدینه کښې حضرت بلال رض او نابینا حضرت ابن ام مکتوم رض، حضرت سعد القرظ رض په قبا کښې وو۔ او حضرت ابو محذوره مکه کښې وو۔

## حارسین

(محافظ، باډی ګارډ)

حضرت سعد بن معاذ رض د بدر په غزا کښې او حضرت محمد بن مسلمه د احد په غزا کښې او حضرت زبیر بن عوام د خندق په غزا کښې د هغوئ محافظین وو۔ حضرت عباد بن بشر رض هم کله کله د محافظ کار کړے دے۔ بیا کله چه دا آیت مبارک نازل شو۔ وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ (الله د خلقو نه ستا حفاظت کوی) نو هغوئ محافظ رخصت کړل۔

## کاتبین

(لیکونکی - منشیان)

حضرت ابوبکر رض، حضرت عمر رض، حضرت عثمان رض، حضرت علی رض حضرت زبیر رض، حضرت عامر بن فهیر رض، حضرت عمرو ابن العاص رض حضرت ابی بن کعب رض، حضرت عبدالله بن ارقم، حضرت ثابت بن قیس بن شماس رض، حضرت حنظله بن ربیع رض، حضرت مغیره بن شعبه

حضرت عبد الله بن رواحه - حضرت خالد بن ولید رض، حضرت خالد بن سعید بن العاص رض، حضرت معاویه بن ابی سفیان رض، حضرت زید بن ثابت رض او اکثر به دا کار دهٔ کولو۔

## ضارب اعناق

یعنی چا چه به د حضور ص په عدالت کښې د واجب قتل مجرمانو څټونه پریکول۔

حضرت علی رض، حضرت زبیر بن عوام رض، حضرت مقداد بن عمرو رض، حضرت محمد بن مسلمه رض، حضرت عاصم رض بن ثابت، حضرت ضحاک بن سفیان رض۔

## شاعران او خطیبان

یعنی چا چه به د اسلام په حمایت کښې نظمونه ویئل - او تقریرونه به ئے کول۔

حضرت کعب بن مالک رض، حضرت عبد الله بن رواحه رض، حضرت حسان بن ثابت رض - دا درے واړه شاعران وو - او حضرت ثابت بن قیس بن شماس خطیب یعنی مقرر وو۔ (من المواهب)

تُوُفِّیَ رَسُوْلُ اللهِ عَنْ تِسْعِ نِسْوَةٍ ‌ ‌ ‌ اِلَیْهِنَّ تُعْزَی الْمَکْرُمَاتُ وَ تُنْسَبُ

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو۔ نهه بیبیانے ورنه پاتے شوے دوئی ته د عزت د کارونو نسبت کیږی۔

فَعَائِشَةُ رض مَیْمُوْنَةُ رض وَ صَفِیَّةُ رض ‌ ‌ ‌ وَحَفْصَةُ رض تَتْلُوْهُنَّ هِنْدٌ وَزَیْنَبُ

نو عائشه، میمونه، صفیه - او حفصه دی - دوئی نه پس هند و زینب دی۔

جُوَیْرِیَّةٌ مَعَ رَمْلَةَ ثُمَّ سَوْدَةٌ ثَلَاثٌ وَّسِتٌّ ذِکْرُهُنَّ مُهَذَّبٌ

جویریه، رمله او سوده - درے دادی او شپږ پوره تنی نهه شوے د دوئ ذکر واضح دے -

فَصَلّٰی عَلَیْهِ اللّٰهُ مَادَامَ شَارِقٌ مِنَ الشَّرْقِ یَشْرُقُ ثُمَّ فِی الْغَرْبِ یَغْرُبُ

نو په رسول الله دِ د الله تعالیٰ رحمت وی - تر څو چه نمر د مشرق نه راخیژی او مغرب کښې ډوبیږی -

# اوویشتم فصل

## په امت محمدی باندے د الله تعالیٰ نعمت او رحمت کامل کیدل او د حضورؐ وفات شریف

هرڅو که دا واقعه طبعًا او فطرتًا دومره ډیره درد ناکه او غمناکه وه - چه نظیرئے نشته - لیکن د حضورؐ د رحمت للعالمین کیدلو شان دومره عام دے - چه په دے درد ناکه واقعه کښې هم دهغوئ دا شان پوره پوره څرګندیږی - یعنی دهغوئ وفات هم امت دپاره رحمت الٰهی مظهر شو - دا وفات خپله هغوئ دپاره هم عظیم نعمت دے - چنانچه د احادیثو د روایاتو نه دا دواړه خبرے شرعًا ثابتے دی - نو عقلاً ئے هم منل پکار دی - نو په دے حیثیت ئے دلته مختصر غوندے بیان کیږی - ورنه په غم کښې د خوشئ څه ذکر -

**ع۱ : دریم روایت** = طبرانی کښې د حضرت جابرؓ نه روایت دے.
کله چه إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰهِ سورت نازل شو - نو حضورؐ جبریل علیه
السلام ته اووئیل - ما ته د مرګ خبر راکړے شو - جبریل علیه السلام
در ته اووئیل - وَلَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى - (یقیناً آخرت تا
دپاره د دنیا نه بهتر دے) په دے کښې تصریح ده - چه هغوئی
دپاره د ملاء اعلیٰ سفر زیات مفید دے - ځکه چه په هغې
کښې د الله تعالیٰ قرب بے حجاب دے - نو د خپل مقام د نعمتونو د
مشاهدے په وجه ئے خوشالی کامله ده -

**ع۲ دویم روایت** = په بخاری او مسلم کښې د ابو سعید خدریؓ
نه روایت دے - چه په مرض وفات کښې حضورؐ په ممبر کیناستو
دے فرمائیل - الله تعالیٰ خپل یو بنده ته د دنیا د زیب و زینت او
خپل ځان سره خیزونو ترمینځه اختیار ورکړو - چه کوم ته ترجیح
ورکوی - نو هغې بنده الله سره خیزونه خوښ کړل - ددے په
اوریدو حضرت ابوبکر په ژړا شو - مونږ خلق بیا دوستو پوهه
شو چه حضورؐ ته اختیار ورکړے شوے وو - او هغوئی آخرت
خوښ کړو - حضرت ابوبکر وریاندے په هغه وخت پوهه شوے
وو - ف = دے نه معلومه شوه - چه هغوئی دپاره سفر آخرت
زیات مفید وو - ځکه هغوئی خپله خوښ کړو -

**ع۳ دریم روایت** = بخاری او مسلم د حضرت عائشہؓ نه روایت
کړے دے - چه حضورؐ فرمائیلی دی - هر نبی ته په مرض کښې اختیار
ورکولے شی چه دنیا کښې پاتے کیږی که آخرت ته ځی - حضورؐ ته

په مرضِ وفات کښې ټوخ درغلو. نو دے فرمائیل۔ مَعَ الَّذِیْنَ اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ مِّنَ النَّبِیّٖنَ وَالصِّدِّیْقِیْنَ وَالصّٰلِحِیْنَ (یعنی د هغه کسانو سره چه تا په انعام کړے دے چه هغه نبیان او صدیقان او نیک بندیان دی) نو زهٔ پوه شوم چه حضورؐ ته اختیار ورکړے شو۔ او هغوئی آخرت خوښ کړو۔ دا هم زمونږ د خبرے دپاره صریح دلیل دے۔

**۴ څلورم روایت** = بخاری ومسلم کښې حضرت عائشهؓ نه روایت دے چه حضورؐ به د صحت په حالت کښې فرمائیل۔ چه هر نبی چه وفات کیږی نو هغهٔ ته په جنت کښې د هغهٔ د اوسیدو مقام اوښیا شی او اختیار ورکړے شی چه دنیا کښې پاتے کیږے او که دے مقام ته ځے۔ حضورؐ باندے چه په مرضِ وفات کښې تکلیف زیات شو۔ نو بره ئے کتل او فرمایئل ئے اَللّٰهُمَّ الرَّفِیْقَ الْاَعْلٰی (یعنی یا الله د عالمِ بالا ملګری م خوښ دی۔) او په صحیح ابن حبان کښې ئے دے سره دا هم زیاته کړی ده۔ مع جبرئیل ومیکائیل واسرافیل یعنی د ملاءِ اعلی دے دوستانو ته درتلهٔ م خوښ دی۔

**ف** = دے کښې د نورو روایاتو په شان تصریح ده چه هغوئی دپاره آخرت زیات بهتر وو۔

**۵ پنځم روایت** = مسند عبد الرزاق کښې د طاؤس نه مرسلاً روایت دے۔ (یعنی د صحابی نوم ئے نهٔ دے اخستے) حضورؐ فرمایئلی دی۔ چه ماته د دوو خبرو کښې د یوے خوښولو اختیار راکړے

شي۔ یو دا چه دنیا کښې دومره پاتې شم چه د خپل امت فتوحات اووینم ۔ بله دا چه آخرت ته تلو کښې جلدی اوکړم ۔ ما آخرت خوښ کړو۔

**۶ شپږم روایت** = بیهقی کښې یو اوږد حدیث دے ۔ حضورؐ فرمائیلی دی چه ما ته ملک الموت راغلو ۔ را ته ئې اووئیل ۔ زهٔ الله تعالیٰ راستولے یم ۔ چه که ستا اجازت وی چه ستا روح قبض کړم ۔ او که ته دُنیا کښې نور پاتې کیدل غواړے نو نهٔ به ئې قبض کوم ۔ ما ته حکم دے ۔ چه ستا اطاعت اوکړم ۔ حضورؐ فرمائی ما جبریل علیه السلام ته اوکتل ۔ نو هغهٔ را ته اووئیل إِنَّ اللّٰهَ اِشْتَاقَ اِلٰی لِقَائِكَ ( الله تعالیٰ ستا ملاقات مشتاق دے ) نو ما ملک الموت ته د روح قبض کولو اجازت ورکړو ۔ بیهقی د اشتاق په تفسیر کښې لیکی مَعْنَاهُ قَدْ اَرَادَ لِقَائَكَ بِاَنْ یَّرُدَّكَ مِنْ دُنْیَاكَ اِلٰی مَعَادِكَ زِیَادَةً فِیْ قُرْبِكَ وَكَرَامَتِكَ ۔ بیهقی د اشتیاق په تفسیر کښې لیکی ۔ یعنی الله تعالیٰ اراده کړی ده ۔ چه تا دنیا نه آخرت ته بوځی ۔ او ستا قرب او عزت نور هم زیات کړی۔

**ف** = نو څنګه چه حضورؐ خپله آخرت خوښ کړے وو ۔ الله تعالیٰ هم ورته آخرت خوښ کړے وو ۔ چه قرب او عزت ئې نور هم زیات شی ۔ ( دا ټول روایات د مواهب او مشکوٰة دی )

**۷ اووم روایت** = په مسلم کښې د حضرت انسؓ نه یو اوږد حدیث دے چه اُمِّ اَیْمَنْ ته حضورؐ یاد شو ۔ نو په ژړا شوه ۔ نو حضرت ابوبکرؓ او حضرت عمرؓ ورته اووئیل ۔ ته ولے ژاړے ۔

آیا تاته نهٔ ده معلومه- چه الله تعالیٰ سره نعمتونه حضورؐ دپاره ددے ځائے نه ډیر بهتر دی- هغه ورته اوویل حضورؐ دپاره خو هغه بهتر دی- لیکن زهٔ په دے ژاړم چه دنیا نه وحی راتلهٔ ختم شو- (مونږ د وحی د برکاتو نه محروم شو) نو هغوئی دواړه هم په ژړا شو-

**ف** = په دے روایت کښې ددرے صحابو په دے اتفاق شو- چه هغوئی دپاره آخرت بهتر وو-

**۸ اتم روایت** = امام مسلم دابو موسٰی اشعری نه روایت کوی چه حضورؐ فرمائیلی دی- چه الله تعالیٰ چه په خپلو بندیانو کښې په یو امت باندے رحم کوی نو دهغه امت پیغمبر دهغه امت نه مخکښې وفات کړی- او هغه پیغمبر دهغه امت دپاره میرِسامان په طور مخکښې واستوی- او چه دکوم امت دتباهئی اراده اوکړی نو دهغه پیغمبر په ژوند کښې سزا ورکړی- چه هغه پیغمبر دهغهٔ دنافرمانئی او تکذیب کوونکو تباهی اووینی او زړهٔ ئے په یخ شی- **ف** = دے حدیث شریف نه ثابته شوه چه حضورؐ سفر آخرت دامت په حق کښې د رحمت علامه ده- لکه څنګه چه ډیرانو روایاتو نه ثابته شوی ده- چه خپله دحضورؐ په حق کښې دهغوئی سفرِ آخرت غټ نعمت دے-

**۹ نهم روایت** = دحضرت ابن عباسؓ په هغه روایت کښې چه درکښې دهغه کسانو ثواب بیان شوے دے- دچا اولاد چه کم عمرئی کښې وفات شی- چه دا بچی به ئے شفاعت کوی- او د

هغوئ شفاعت به قبليږي - روايت دے چه حضرت عائشؓ تپوس اوكړو - د چا چه كم عمره بچى مړهٔ نهٔ وى د هغوئ به څهٔ حال وى - يعنى د هغوئ شفاعت به څوك كوى - حضورؐ اوفرمائيل خپل امت د پاره زهٔ مخكښى څم - ځكه چه د ما د وفات برابر يل يو غم هم نشته - (ترمذى)

ف : دے حديث شريف نه امت د پاره د هغوئ د وفات يو حكمت هم معلوم شو - چه په دے عظيم غم باندے صبر كولو باندے د عظيم اجر حقدار شو -

عـ۱۰ لسم روايت = په ابن ماجه كښى روايت دے - چه حضورؐ فرمائيلى دى - چا باندے چه څه مصيبت راشى - زما د وفات مصيبت د ياد كړى او په دے د ځان له تسلى اوكړى -

ف = په دے كښى د ثواب نه علاوه د تسلئ حكمت هم معلوم شو -

عـ۱۱ يوولسم روايت = قيس بن سعدؓ نه روايت دے - چه په حيره كښى ئے د هغے ځائے حاكم ته خلق په سجده كولو اوليدو - نو دلته ئے حضورؐ ته عرض اوكړو - چه تاسو د دے زيات حقدار يئ چه خلق درته سجده كوى - حضورؐ ورته اوفرمائيل - چه زما قبر ته به هم سجده كوے ؟ هغهٔ عرض اوكړو - نه - پس نو بيا ماته هم سجده مناسب نهٔ ده (ابو داؤد)

ف = د حضورؐ د تپوس مطلب دا معلوميږى - چه ستا د اقرار نه دا ثابته شوه - چه مسجود كيدو د پاره حيات ضرورى دے - نو ظاهره ده - چه حقيقى حيات صرف د الله تعالىٰ دے - چه

هیشه ژوندے دے۔ مرګ ئے نشته۔ نو د سجدے حقدار صرف هغه ذات دے۔

ف = دے حدیث شریف نه د حضورؐ د وفات یو دا حکمت هم معلوم شو۔ چه که هغه همیشه دپاره ژوندے دے۔ نو ډیرو کم عقلو به د ربانئے د الوهیت شک کړے وو۔ نو د هغوئ د ظاهری وفات په وجه دا شک ختم شو۔ دا هم د امت په حق کښ عظیم رحمت دے۔

۱۲ دولسم روایت = حضرت عمرؓ نه روایت دے چه حضورؐ فرمائیلی دی: چه ما د خپل رب نه د ماد وفات نه پس زما د اصحابو په خپلو کښ د اختلاف متعلق تپوس اوکړو۔ نو ارشاد اوشو۔ ستا اصحاب زما په نزد د ستورو په شان دی چه د څنو رڼا زیاته ده۔ خو ټول روښانه دی۔ نو د اصحابو په اختلاف کښ چه چا کوم طرف اختیار کړو۔ زما په نزد په هدایت دے۔

ف = ظاهره ده چه دے نه په فروعو کښ اجتهادی اختلاف مراد دے۔ چه په دے کښ د هر چا مقصد د شرعی دلیل تابعداری ده۔ نو دا فروعی اختلاف د امت د پاره رحمت دے۔ چه په دے کښ سهولت دے۔ ظاهره ده چه دا اختلاف موقوف دے په اجتهاد باندے او د حضورؐ په ژوندکښ خو په هره واقعه نص حاصلیدے شو۔ د اجتهاد ضرورت نهٔ وو۔ نو دا خاص سهولت او د الله تعالیٰ خاص رحمت هم امت ته د حضورؐ د

وفات په ذریعه حاصل شو۔

ف = درمینځ اود روایتونو نه دا ثابته شوه۔ چه خپله د حضورؐ په حق کښې د هغوئی ملاء اعلیٰ ته تلل یو غټ نعمت دے۔ چه قرب خداوندی او زیات اعزاز و اکرام ورته حاصل شو۔ او ورستی پنځو روایاتونه ثابته شوه چه د هغوئی وفات دامت په حق کښې هم عظیم رحمت دے۔ لیکن د دے مطلب دا نه دے چه دا یو عظیم مصیبت نه دے۔ اول خو خپله په دے روایاتو کښې څنې حکمتونه د مصیبت کیدو په وجه حاصلیږی۔

دویم دا چه اصحابِ کرام چه بعد الانبیاء اکمل البشر دی علماً هم او عملاً هم۔ خپله د هغوئی نه په دے عظیم مصیبت کښې قولاً او عملاً اضطراب او پریشانی څرګنده شوی ده۔ او هغوئی خو بیا هم بشر وو۔ د فرشتو ژړا فریاد او افسوس ثابت دے۔ د بیهقی روایت دے۔ چه په آخر وخت کښې جبرئیل علیه السلام اووئیل۔ هٰذَا آخِرُ مَوْطِنِيْ مِنَ الْأَرْضِ (دا زما زمکے ته د وحی راوړو آخری راتلل دی) د دے الفاظونه انتهائی افسوس څرګند دے۔ ابو نعیم د علیؓ نه روایت کړے دے چه کله د حضورؐ روح قبض شو۔ نو ملک الموت په ژړا آسمان ته روان شو۔ ما ئے د ژړا آواز آوریدو۔ وا محمداه۔

ابن ابی الدنیا د حضرت انسؓ نه د حضورؐ د وفات نه پس د خضر علیه السلام راتلل او اصحابو سره تعزیت کول او ژړل

روایت کړے دے - که خضر علیه السلام پیغمبر دی - او د اهل حق په نزد پیغمبر د فرشتو نه افضل دے - نو د هغهٔ ژړا د فرشتو د ژړا نه هم عجیبه ده - او د دے دلیل دے چه د حضورؐ وفات غټ مصیبت دے -

دریم : د حضورؐ وفات غټ مصیبت کیدل روایاتو نه هم ثابت دی - په مسلم کښ د ابو موسیٰ اشعری نه روایت دے - چه حضورؐ فرمائیلی دی - زهٔ د خپلو صحابو دپاره د امن سبب یم - چه زهٔ نهٔ یم نو مقدر مصیبتونه (فتنې او جنګونه) به درباندے راشی - او زما صحاب امت دپاره د امن سبب دی - چه زما صحاب نهٔ وی نو غټ مصیبتونه او فتنې به راپیدا شی -

او په ذکر شوی احادیثو کښ - او م نمبر حدیث کښ بیان شوی دی چه د ام ایمنؓ په ژړا او په دے خبره چه د وحی راتلل ختم شو - حضرت ابوبکرؓ او حضرت عمرؓ هم په ژړا شو - دا خرګند دلیل دے چه د وحی ختمیدل یو عظیم مصیبت دے -

یو واقعه په مختلفو حیثیتونو کښ په مختلفو اوصافو بیانیدل څهٔ نا شنا خبره نهٔ ده - د دے تحقیق نه پس اوس حتمی طور سره واقعه بیانوو -

د حضورؐ د مرض وفات ابتداء د حضرت میمونهؓ په کورکښ شوی ده - او د ځنی عالمانو په خیال د حضرت زینب بنت جحشؓ په کورکښ او د ځنی په خیال د ریحانهؓ په کورکښ دا د حضورؐ خادمه ده - دا د ګل ورځ ده - او د چا په نزد د خالی ورځ ده

او د چا په نزد شروع - او د مرض ټول وخت د چا په نزد دیارلس ورځې او د چا په نزد څوارلس ورځې او د چا په نزد دولس ورځې دی. چا یکبنی لس ورځې هم ویلی دی - د دی اختلاف وجه دا ده. چه د مرض ابتدائی ورځې چه تکلیف ډیرنه وو - چا ورکښې حساب کړی دی - او چا نه دی حساب کړی - مرض د سر درد نه شروع شوی وو - بیا ورکښې تبه زیاته شوه - او حضورؐ ته چه په خیبر کښې زهر یلاعو نبسه ورکړی شوی ده - او هغوئی لږه غوندې خوړلی وه - چه ورته معلومه شوه چه زهر دی پکښې نو نوره ئې او نه خوړه - هغوئی په دې مرض کښې فرمایلی وو - چه د دې لږ د زهرو اثر به همیشه په ما لږ لږ کیدو - خو اوس ئې پوره اثر اوکړو - نو په دې طریقه د حضورؐ د زهرو په وجه شهادت نصیب شو - ابن مسعودؓ او ځنې نور اصحاب د دې قائل دو - (چه د هغوئی دا مرض د زهرو اثر وو) او ځنې کښ وری روایاتو کښې د هغوئی مرض ذات الجنب (                ) راغلے دے - او په ځنې روایاتو کښې هغوئی خپله د ذات الجنب نفی کړی ده - ځنې عالمانو دا دواړه روایات داسې جمع کړی دی - چه ذات الجنب دوه قسمه دے - یو قسم حضورؐ نفی کړی ده - او د دویم قسم نفی ئې نه ده کړی -

د ابن سعد په روایت کښې تصریح ده - چه په حضورؐ به د تښې د درد دوره راتله - د اتکلیف چه ئې زیات شو - نو حضرت ابوبکرؓ ته د امام کیدو حکم اوشو - نو هغهؓ به ...

د اولسو مونځونو امامتی اوکړه - په دے مینځ کښ یو ځل حضورؐ خپله تشریف راوړو - او ډیر په تکلیف ئے مونږ ته په ناستی امامتی اوکړه - بیا یو ورځ ئے د صحابو ډیر رنځ وغم داوریدو نو تشریف ئے راوړو - په ممبر کیناستو - او ډیر نصیحت وصیت ئے اوکړو - واحدی د عبداللّٰه بن مسعودؓ نه روایت کړیدے چه حضورؐ په آخری ورو ځو کښ مونږ د حضرت عائشہؓ په کور کښ راجمع کړو - او د رحلت د وخت رانزدو کیدو خبرئے مونږ ته راکړو - مونږ عرض اوکړو - یارسول اللّٰه تاسو ته به غسل څوک درکوی - وے فرمائیل زما اهل بیت - مونږ عرض اوکړو - ستاسو کفن به د څنګه کپړے وی - وے فرمائیل - زما دا اغوستی جامے - څادر - لنګ او قمیص دو - او که ستاسو خوښه وی - نو د مصر جوړه سپینه کپړه یا دوه یمنی څادرونه - مونږ عرض اوکړو - ستاسو د جنازے مونځ به څوک کوی - هغوئی او فرمائیل چه غسل او کفن اوشی - نو جنازه قبر سره نزدے کیدی او تاسو ډیرے ته شئ اول به فرشتے د جنازے مونځ کوی - بیا به د اهل بیتو سړی اوکړی - بیا زنانه - بیا تاسو ټولی ټولی راځئ او مونځ کوئ - مونږ عرض اوکړو - قبر ته به موڅوک کوز وی - ارشاد اوشو - زما اهل بیت او ورسره فرشتے به وی. طبرانی هم دا روایت کړے دے - خو د سند په لحاظ ډیر ضعیف دے.

او روایت دے چه د بیمارئ ورځو کښ یو ورځ ابوبکر امامتی کوله - چه حضورؐ پرده پورته کړه - صحابو ته ئے اوکتل او مسکے

شو۔ صحابو دا خیال اوکړو۔ چه حضورؐ تشریف راوړی۔ په دے وخت کښی د صحابو دے تابئ څه عجیبه کیفیت وو۔ نزدے وه چه موځ ئے ګډه وډه شوئے دے۔ حضرت ابوبکرؓ د را روستو کیدو اراده اوکړه۔ چه حضورؐ ته خپل مقام خالی کړی۔ حضورؐ ورته په لاس اشاره اوکړه۔ چه موځ جاری اوساته۔ روستو کیږه مه۔ بیائے پرده راواچوله۔ دا د هغوئ آخری ملاقات وو۔ چه صحابو کړے دے۔ وفات ته نزدے څنی واقعات په مختلفو روایاتو کښی تیر شوی دی۔

ف: د هغوئ وفات د ربیع الاول په ابتدائی ورځو کښی شوے دے۔ د صحیح تاریخ تحقیق نهٔ دے شوے۔ دولسم مشهور دے۔ خو دغه حساب صحیح نهٔ جوړیږی۔ ځکه چه په دے کال عرفه د جمعے په ورځ وه۔ او یوم وفات د کل ورځ یقینی ده۔ نو چه په نهم ذی الحجه د جمعے ورځ وی۔ نو دولسم ربیع الاول د کل په ورځ نشی راتلے۔

نسخه د کل په ورځ زوال نه مخکښی یا زوال نه پس وفات شوے دے۔ خو ډیر غم او پریشانئ او حیرانتیا په دجه ډیرو خلقو خو دا منله نه چه حضورؐ به وفات شوے دی۔ څنی کسان بےهوشه شو۔

بعض خاص احکام۔ غسل۔ کفن۔ دفن معلوم نهٔ دو۔ ځکه درکښی تاخیر اوشو۔ په عامو مړو ئے قیاس کولے نشو۔ ځکه چه احتمال د خصوصیت وو۔ او په څنی کارونو کښی خصوصیت ثابت

هم شو۔ خبره نامعلومه ځکه ده چه صحابو لکه د عامو مسائلو
په دے کښې تپوس نهٔ دو کړے۔ او کوله ئې هم نشو۔ د هغوئي په
زړونو دا کله ځائيده چه د حضورؐ د وفات متعلق تپوس نه
ئې کړے دے۔ اګرچه څنې خاص مستقل مزاج صحابو څهٔ معلومات
حاصل کړی هم دو۔ او د څهٔ ورته په هغې وخت الهام اوشو۔
لکه چه مخکښې راغی۔ بهر حال دا قسم معلومات عامو صحابو ته نهٔ وو۔

بیا د اسلام د آئنده حفاظت د انتظام متعلق هم فکر وو۔
او په حقیقت کښې دا فکر د ټولو نه اهم وو۔ او دا په دے موقوف
وو۔ چه د یو کس په حاکم کولو کښې اتفاق اوشی۔ څهٔ وخت په
دے هم اولګیدو۔ بیا د جنازے مونځ ټولو جدا جدا اوکړو۔
په جمع نهٔ وو شوے۔ ظاهره ده چه دے کښې ډیر وخت اولګیدو۔
د دے ټولو خبرو په وجه دفن کښې تاخیر اوشو۔ د پیر د ورځ
تیره شوه۔ د نهٔ ورځ هم تیره شوه۔ د بدهٔ شپے ته تدفین
اوشو۔ په یو روایت کښې دی چه دفن د نهٔ په ورځ شوید ے۔
بل روایت کښې د بدهٔ ورځ ده۔ لیکن تحقیق دا دے۔ چه تدفین
د بدهٔ په شپه شوید ے۔ چونکه عربو کښې تاریخ د ماښام نه
بدلیږی۔ نو په دے وجه د بدهٔ شپے ته د بدهٔ ورځ ویلی شوی
ده۔ او څنی خلق د شپے د شروع وخت یعنی ماښام د هغې ورځ سره
حسابوی۔ ځکه څنی روایاتو کښې د نهٔ ورځ راغلی ده۔ او رښتیا خو
دا ده۔ چه دا واقعه چه څنګه هوش ربا ده۔ هغې ته که اوکتے شی
نو دا تاخیر هیڅ هم نهٔ دے۔ دا صحابو د پریشانئ دا سے حال وو۔

Scanned with CamScanner

که په میاشتو تدفین حصار شوے دے۔ هم عجیبه به نهٔ وه۔ دا صبر د استقلال هم د حضورؐ د صحبت فیض وو۔ یو خشک مزاج، خالی دماغ اعتراض کوونکے د هغوئی د پریشانئ څهٔ اندازه لګولے شی

اے ترا خارے بپا نشکسته کے دانی که چیست
حال شیرانے که شمشیر بلا بر سر خورند

(اے چه ستا په پښه کښ چرے اغزے هم نهٔ دے مات شوے. ته د هغو زمرو د حاله څهٔ خبریدے شے۔ چه د مصیبت د تورے گوزارے په سر خوړلے دی)

بیهقی کښ حضرت عائشهؓ نه روایت دے چه حضورؐ ته چه غسل ورکولے شو۔ نو حیران شو۔ چه جامو سره غسل ورکړو۔ که عامو مړو غوندے جامے ترا وباسو۔ الله تعالیٰ وربانده خوب مسلط کړو۔ په دے کښ د یو کوټ نه آواز اوشو۔ جامو سره غسل ورکړئ۔ پته اونهٔ لګیده۔ چه آواز د چا وو۔ نو قمیص د پاسه اوبهٔ اچولے شوے او قمیص د پاسه مښلے شو۔

د ابن سعد روایت دے چه دے وخت کښ یو تیزه خوشبو داره هوا راغله د هغوئی قمیص ئے نچوړ کړو۔

د هغوئی په کفن کښ ګڼے روایات دی۔ امام ترمذی د حضرت عائشهؓ دے روایت ته تولو نه زیات صحیح ویلے دے۔ چه هغوئی ته درے یمنی څادرونو کښ کفن ورکړے شوے وو۔ په دے کښ قمیص او پټکے نهٔ وو۔ څادرته دا قول نقل کړو۔ چه دوه سپینے کپړے وے۔ او یو لکیر داره وه۔ هغه او دبیل لکیرداره رادړی شوی

ده - خو هغه واپس کړے شوه - او د بخاری او مسلم په روایت کښې داهم دی چه هغه درے واړه کپړے د سَلُولچو دے - (د پښو یا یل څه پکښې نهٔ وو) د حضورؐ په کفن کښې قمیص نهٔ وو - خو احناف قمیص ځکه مسنون گنړی - چه حضورؐ خپله یو مړی ته خپل قمیص کفن دپاره ورکړے وو (بخاری و مسلم) او د حضرت عائشهؓ په روایت کښې چه د قمیص نفی شوی ده - دے نه معلومیږی چه کوم قمیص کښې چه حضورؐ ته غسل ورکړے شوے وو - هغه تر بیا ر دستو ویستے شوے وو - او عقل هم داغواړی ځکه چه هغه سره به باقی کفن هم لوند شوے او خراب شوے وو - او د ابو داؤد یو روایت کښې چه دوه کپړے او یو هغه قمیص کوم کښې چه وفات شوے وو ذکر دے - هغه ته د یزید بن زیاد په وجه ضعیف دیلے شوے دے - ابن ماجه کښې د حضرت ابن عباس نه روایت دے. چه د حضورؐ جنازه چه تیاره شوه - کور ته یو وړے شوه - نو اول سړو ډلے ډلے د جنازے مونځ اوکړو - بیا ښځو بیا ډهو - او په دے کښې څوک امام نهٔ وو - ځان ځان ته مونځ وو - بیا د دفن متعلق خبرے اوشوے - نو حضرت ابوبکرؓ اووئیل ما د حضورؐ نه اوریدلی دی چه الله تعالیٰ چه د نبی روح په کوم ځائے قبض کړی - د هغه دا خوښه وی چه هم په هغه ځائے دفن شی - نو د حضورؐ بستره چه کوم ځائے پرته وه - هم په دغه ځائے قبر اوکنستی - (ترمذی)

دے نه دا نهٔ لازمیږی چه هر نبی دِ هم په هغه ځائے

دفن شوے وی۔ په کوم ځائے چه وفات شوے دے۔ کیدے شی چه دعارض په وجه بل ځائے دفن شوے وی۔ بهرحال دهغهٔ خوښه داوی چه هم په هغه ځائے دفن شی۔

حضرت ابوطلحهٔ رض لحد اوکنستو اوخلورو کسانو حضرت علی رض حضرت عباس رض او دحضرت عباس رض دوو ځامنو قثم او فضل هغوئ قبرته کوز کړو۔ نهه کچه خښتې لحد ته اودرولے شوے۔ دحضور ص آزاد کرده غلام شقران دهغوئ په قبرکښ د نجران جوړهغه څادر کوم کښ چه به هغوئ پټیدو غوړولے وو۔ خو هغه لرے کړے شو۔ حضرت بلال رض په قبرمبارک یو مشک اوبهٔ چهړکاؤ کړے۔ چهړکاؤ ئے دسر د طرف نه شروع کړے وو۔

په بخاری شریف کښ د سفیان تمار نه روایت دے۔ چه ما دحضور ص قبر مبارک داوبن دکوهان په شکل لیدلے دے۔ او دارمی دحضرت انس رض نه روایت کړے دے۔ چه ما دحضور ص مدینے ته دتشریف آوړئ د ورځ نه بهتره او روښانه ورځ بله نهٔ ده لیدلے۔ او دحضور ص دوفات د ورځ نه خرابه اوتاریکه ورځ م نهٔ ده لیدلے۔ او ترمذی دحضرت انس نه روایت کړے دے۔ په کومه ورځ چه حضور ص مدینے ته تشریف داوړو۔ په هغه ورځ هر شے روښانه وو۔ او چه حضور ص وفات شو۔ په هغه ورځ هر شے تور او بے رونقه وو۔ دهغوئ د دفن دخاورے نه لاسونړ لاس نهٔ وو څنډلی چه په خپلو زړونوکښ مو بدلی اولیده۔ ( ددے مطلب دا نهٔ دے چه نعوذ بالله دهغوئ په

عقیده کښې یا عمل کښې څه فرق راغلو - بلکه مطلب ئې دا دے چه د هغوئ د قرب او محبت او د هغوئ د لید د چه کوم خاص انوار وو - هغه پاتې نشو ( او د کامل شیخ په قرب او بعد کښې فرق خو اوس هم مشاهد دے ))

د حضور د قبر شریف زیارت کول - په دارقطنی کښې د ابن عمرؓ نه روایت دے - چه د حضورؐ ارشاد دے - مَنْ زَارَ قَبْرِیْ وَجَبَتْ لَهٗ شَفَاعَتِیْ ( چا چه زما د قبر زیارت اوکړو زما د شفاعت حقدار شو )

او شیخ عبدالحق محدث دهلوی په احکام وسطی او احکام صغری کښې دا روایت کړیدے - او ورنه ئې سکوت کړیدے دا د دے روایت د صحت دلیل دے چه صرف صحیح احادیث په راوړی - او معجم کبیر طبرانی کښې د حضورؐ ارشاد دے - مَنْ جَاءَنِیْ زَائِرًا لَا تَحْمِلُهٗ حَاجَةٌ اِلَّا زِیَارَتِیْ کَانَ حَقًّا عَلَیَّ اَنْ اَکُوْنَ شَفِیْعًا لَهٗ یَوْمَ الْقِیَامَةِ - ( ارشاد دے څوک چه زما زیارت ته راغلو زما د زیارت نه بغیرئې بل څه حاجت نه وی هغه د قیامت په ورځ زما د شفاعت حقدار شو ) ابن سکن دے روایت ته صحیح ویلی دی - او متکلم فیه احادیث خو په دے کښې ډیر دی - چه د تعدد د سندونو او د نورو صحیح احادیثو د تائید په وجه ئې د ضعف کے پوره کیږی - دا خو د استدلال فتوه ده او ذوق دا فتوه نوره هم قوی کوی -

یو شاعر وائی ے

عَلٰی رَبْعِ الْعَامِرِیَّةِ وَقْفَةٌ ‏ ‏ ‏ لِیُمْلِیْ عَلَیَّ الشَّوْقُ وَالدَّمْعُ کَاتِبٌ

د لیلیٰ عامریه په دیره ماته حصار ېدل من ورې دی چه شوق ماته مضمون ادروی او او بنکه ئې لیکي۔

دَمَا حُبُّ الدِّيَارِ شَغَفْنَ قَلْبِيْ وَلٰكِنْ حُبُّ مَنْ سَكَنَ الدِّيَارَا

زما مینه هیڅ د کورونو سره محبت کول د هغې د اوسیدونکو په وجه او د خلقو په خپلو محبوبو څیزونوکښې خپل خپل مینه بیې نه دی۔

او په یو حدیث شریف کښې چه راغلې دی۔ لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ اِلَّا اِلٰی ثَلٰثَةِ مَسَاجِدَ (سفر جائزنه دے مګر دے جماتونو دپاره) د دے حدیث شریف نه د حضورؐ د قبر مبارک زیارت ته د سفر منع نهٔ ثابتیږی۔ ځکه چه دے کښې مستثنیٰ منه مقدره ده او هغه د استثناء سره قریب لفظ یعنی مسجد دے۔ یعنی عبارت داسې دے۔ لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ اِلٰی مَسْجِدٍ اِلَّا اِلٰی ثَلٰثَةِ مَسَاجِدَ (بل جمات ته د زیات ثواب په نیت سفرکول جائزنهٔ دے۔ مګر درے جماتونوته (یعنی مسجد حرام، مسجد نبوی او مسجد اقصیٰ) نو د دے نه د قبر مبارکؐ زیارت په نیت د سفر منع نهٔ ثابتیږی۔ د دے تصریح په هغه حدیث شریف کښې شوی ده۔ کوم چه مولانامفتی صدرالدین خان دهلوی په خپل کتاب منتهی المقال کښې نقل کړے دے۔ مسند احمد کښې د ابو سعید خدریؓ نه روایت دے چه حضورؐ فرمائیلی دی۔ ارشاد دے۔ لَا يَنْبَغِيْ لِلْمَطِيِّ اَنْ يُشَدَّ رِحَالُهٗ اِلٰی مَسْجِدٍ يَنْبَغِيْ فِيْهِ الصَّلٰوةُ غَيْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْمَسْجِدِ الْاَقْصٰی وَمَسْجِدِیْ هٰذَا (هیڅ یو سفر کوونکی ته نهٔ دی پکار چه دمانځه په نیت سفر اوکړی بل جمات ته۔ غیر د دے درے جماتونو نه

علاوه بل جمات کښې د موندځ د زیات ثواب حاصلید و وعده نشته - نو د زیات ثواب حاصلولو په نیت بل جمات ته سفر کول جائز نه دی - البته په خاصو مقبرو کښې (چرته چه اولیاء دفن دی) خاص برکات حاصلیدل ثابت دی - بیا په زُورُوا الْقُبُوْرَ کښې عام اجازت دے - په دے شرط چه څه ناجائز کاردونه په کښې نه کیږی -

# مِنَ الْمَوَاهِبِ الصَّفِيَّةِ

## دا یو څو اشعار د مواهب صفیه ته نقل شوی دی

اَلَا يَا رَسُوْلَ اللهِ كُنْتَ رَجَاءَنَا وَكُنْتَ بِنَا بَرًّا وَّلَمْ تَكُ جَافِيَا

یا رسول الله ته زمونږ امید گاه وے - او ته په مونږ مهربانه وے سخت نه وے -

وَكُنْتَ رَحِيْمًا هَادِيًا وَّمُعَلِّمًا لِيَبْكِ عَلَيْكَ الْيَوْمَ مَنْ كَانَ بَاكِيَا

او ته په مونږ مهربانه هدایت کوونکے او تعلیم راکوونکے وے - نو پکار ده چه نن په تا او ژاړی څوک چه ژاړی -

فِدًى لِرَسُوْلِ اللهِ اُمِّيْ وَخَالَتِيْ وَعَمِّيْ وَخَالِيْ ثُمَّ نَفْسِيْ وَمَالِيَا

قربان دِ وی په رسول الله زما مور او ترور - او زما تره او ماما او زما نفس او زما مال یعنی زما ځان او مال او ټول خاندان دِ په حضور قربان وی -

فَلَوْ اَنَّ رَبَّ النَّاسِ اَبْقٰی نَبِيَّنَا سَعِدْنَا وَلٰكِنْ اَمْرُهٗ كَانَ مَاضِيَا

نوکه الله تعالیٰ زمونږ نبی باقی پریښے دے۔ دا یه زمونږ خوش قسمتی ده۔ لیکن د الله حکم پوره کیدونکے وو۔

عَلَيْكَ مِنَ اللهِ السَّلَامُ تَحِيَّةً وَاُدْخِلْتَ جَنَّاتٍ مِّنَ الْعَدْنِ رَاضِيًا

په تا باندے دِ د الله د طرف نه د سلام هدیه وی۔ او ته په همیشه او سیدو جنتونو کښ داخل کړے شوے۔ الله تا نه راضی دے۔

# ۲۸
# اتویشتم فصل

## په عالم برزخ کښ د حضورؐ حالات او فضائل

**دریم روایت** = ابن مبارک د سعید بن المسیب نه روایت کړے دے۔ چه داسے ورځ نشته چه حضورؐ ته پکښ د خپل امت اعمال او حالات نه پیش کیږی۔ (مواهب)

**دویم روایت** = په مشکوٰة کښ د ابی الدرداء نه روایت دے۔ چه حضورؐ فرمائیلی دی۔ الله تعالیٰ په زمکه باندے د پیغمبرانو بدنونو ته حرام کړی دی۔ نو پیغمبران ژوندی دی۔ هغوی ته رزق ورکولے شی۔ (ابن ماجه)

**ف** = نو په قبر شریف کښ د حضورؐ ژوندون ثابت دے۔ او د هغه عالم مناسب رزق ورکولے شی۔ اګرچه شهیدانو ته هم حیات ثابت دے۔ او رزق ورکولے شی۔ لیکن د پیغمبرانو ژوند د هغوی

نه زیات قوی دے ـ لیکن دے نه دا نهٔ ثابتیږی ـ چه هر ځائے نه هغوی ته آواز ورکول جائز دی ـ ځکه چه مشکوٰة کښ دبیهقی نه د انس رض روایت دے ـ چه حضور م فرمائیلی دی ـ څوک چه زما د قبر سره نزدے په ما درود وائی ـ هغه زهٔ خپله اورم ـ او څوک چه لرے نه وائی هغه ما ته فرشتے رارسوی ـ او په مشکوٰة کښ د نسائی او دارمی نه د ابن مسعود رض روایت دے ـ چه حضور م فرمائیلی دی ـ د الله تعالیٰ څه فرشتے په زمکه کښ ګرځی ـ چرته چه په ما درود ویلے شی ـ هغه ما ته رارسوی ـ

ع۴ :- په مشکوٰة کښ نبیه بن وهب نه روایت دے چه کعب احبار رض عائشے رض ته راغلو ـ او حاضرینو د رسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر اوکړو ـ نو کعب احبار رض اوویل ـ هره ورځ اویا زره فرشتے راځی ـ د حضور م د قبر نه چاپیره کیږی درود شریف وائی ـ چه ماښام شی هغه لاړے شی ـ دومره نورے راشی ـ هغوی ترسحره درود شریف وائی ـ تر قیامته به دا سلسله جاری وی ـ د حشر په ورځ چه هغوی د قبر نه پاڅی ـ نو اویا زره فرشتو سره به د حشر میدان ته راشی ـ (دارمی)

ف : دے نه په برزخ کښ د هغوی عظمت او عزت څرګند شو ـ

پنځم روایت : مشکوٰة کښ د ابو داؤد او بیهقی نه د ابو هریره روایت دے ـ چه حضور م فرمائیلی دی ـ څوک چه په ما باندے سلام وائی ـ الله تعالیٰ ما ته زما روح واپس کړی ـ نو زهٔ جواب ورکړم ـ

ف : د دے نه په حیات کښ شبهه نه ده پکار ـ ځکه چه د دے

مطلب دا دے۔ چه د هغوئی روح چه په ملکوت او جبروت کښی مستغرق وی۔ لکه په دنیا کښی چه به د نزول وحی په وخت د استغراق کیفیت وو۔ روح ته د هغې نه افاقه اوشی۔ او د سلام جواب ته متوجه شی۔ د استغراق نه راوتو ته د روح واپس کیدل ویلی شوی دی۔ (کَذَا فِی اللَّمَعَاتِ لِشَاهْ وَلِیُّ اللّٰهِ دِهْلَوِیْ)

**خلاصه** = د دے ټولو روایاتو نه علاوه د حیات د فضیلت نه او د فرشتو په خدمت کښی حاضریدونه په عالم برزخ کښی د حضورؐ دا کارونه ثابت شو۔

ع۱ = د امت د اعمالو ملاحظه کول۔

ع۲ = مونځ کول۔

ع۳ = د هغې ځائے مناسب خوراک خوړل۔

ع۴ = د نزدے نه خپله سلام اوریدل۔ او د لرے نه ئے ورته فرشتے رسول۔

ع۵ = د سلام جواب ورکول۔ دا کارونه خو مستقل همیشه ثابت دی۔ او کله کله خواصو سره په ویښه خبرے کول او هدایات ورکول هم د آثارو نه ثابت دی۔ او په خوب کښی خواصو سره خبرے کول۔ او ورته هدایات ورکول خو د شمار نه بهر دی۔ دا کارونه په یو وخت کښی راجمع کیدلو نه دا شک نه دے پکار چه دا د طاقت نه بهر دی۔ ځکه په برزخ کښی د روح طاقت او بیا د حضورؐ د روح مبارک طاقت کښی ډیر وسعت دے۔ لیکن په دے وسعت کښی هغه کارونه چه په دلیل ثابت نه دی راوستل یا هغه

Scanned with CamScanner

کاروته چه کله ثابت دی۔ دائمی کنټرول جایز نهٔ دی۔ په دې بنسهٔ پوهه شئ۔

# من الروض

## دا د الروض النظیف اشعار دی

تَاللّٰهِ اُقْسِمُ مَا وَافَاكَ مُنْكَسِرٌ    اِلَّا وَاَصْبَحَ مِنْهُ الْكَسْرُ يَنْجَبِرُ

قسم په الله کوم مصیبت زده چه ستا سو دربارته رسیدلے دے. دهغهٔ مصیبت ختم شویدے ۔ (په دے طریقه چه تاسو په حیات برزخ کښ دهغوئی زاری داوریده۔ دعا دِ ورته اوکړه ۔او الله تعالیٰ دهغهٔ مصیبت ختم کړو)

وَلَا احْتَمٰى بِجَنَابِكَ الْمُحْتَمِىْ فَزَعًا    اِلَّا وَعَادَ بِاَمْنٍ مَالَهٗ خَطَرُ

او چا چه په خطره کښ ستا په دربار کښې پناه غوښتی ده۔ هغه دهرے خطرے نه محفوظ شویدے۔

وَلَا اَتَاكَ فَقِيْرُ الْحَالِ ذُوْ اَمَلٍ    اِلَّا وَفَاضَ مِنَ الْاِفْضَالِ لَهٗ نَهَرٌ

اوخوک بدحاله محتاج چه ستا دربار کښ حاضر شویدے ۔ هغه دا سے کامیاب شوے دے چه د وقت مونو د نښونه ئے د کامیابئ نهرونه جاری شوی دی۔

وَلَا اَتَاكَ امْرَءٌ مِّنْ ذَنْبِهٖ وَجِلٌ    اِلَّا وَعَادَ بِعَفْوٍ وَهُوَ مُغْتَفَرُ

اوخوک چه ستا دربار ته داسے حال کښ راغلے دے۔ چه د خپلو گناهونو د لاسه په ډیره کښ دی۔ هغه واپس شوے دے په داسے حال

کښې چه معاف شوے او بخښلے شوے دی۔

وَلَا دَعَاكَ لَهِيْفٌ عِنْدَ نَازِلَةٍ ‌ ‌ ‌ اِلَّا وَلَبَّاهُ مِنْكَ الْعَوْنُ وَالْيُسْرُ

او څوک غمزده چه د مصیبت په وخت کښې ستا دربار کښې حاضر شوے دے۔ ستا د طرف نه ئے په امداد او فراخئ استقبال شوے دے۔

يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا ‌ ‌ ‌ عَلٰى حَبِيْبِكَ مَنْ زَانَتْ بِهِ الْعُصُرُ

یا الله خپل خاص رحمتونه او سلامتیا نازل کړے همیشه همیشه دپاره۔ ستا په هغه حبیب چه زمانے په ښائسته شویدی۔

# ۲۹ نهه ویشتم فصل

## د هغه خاصو فضیلتونو په بیان کښې کوم چه به په میدان حشر کښې ښکاره کیږی

**دریم روایت** = حضرت ابوهریره رضه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ د قیامت په ورځ به زهٔ ټولونه اول قبر نه پاڅم۔ او په دے ورځ به د ټولو بنی آدمو سردار یم او ټولونه اول به شفاعت کوم۔ او ټولونه اول به زما شفاعت قبلیږی۔ دا روایت د مسلم دے۔ او د بخاری او مسلم یو بل روایت کښې چه دی۔ چه د ټولونه اول به موسیٰ علیه السلام په هوش شی۔ نو هغه دا به هوشی نهٔ ده کوے نه پس چه به خلق

قبرونو نه راپاڅي - په صفح کښې به اول حضورؐ راپاڅي - بلکه دا د
بعث نه پس به هوشي ده - په دے کښې به اول موسٰی علیه السلام
په هوش شي - دے کښې خو دا احتمال هم شته چه دا بے هوشي
دخپهٔ عارض په وجه راغلې وی - او دے طرف ته په حدیث شریف
کښې اشاره هم ده - ارشاد دے - فَلَا اَدْرِیْ اَحُوْسِبَ بِصَعِقَةِ
الطُّوْرِ - (زهٔ نهٔ پوهیږم چه آیا په کوه طور دبے هوشئ په
عوض کښې دلته د بے هوشئ نه بچ شو - که اول په هوش شو)
لکه چه دوستو به په اوم روایت کښې دابراهیم علیه السلام د
لباس په ذکر کښې دد نظیر راشي -

**دویم روایت** = حضرت انسؓ نه روایت دے چه حضورؐ فرمائیلی
دی - زهٔ به د ټولو پیغمبرانو نه په دے کښې زیات یم چه د قیامت
په ورځ به زما امت ټولو نه زیات وی - او زهٔ به ټولو نه اول
د جنت دروازه ټکوم - (مسلم)

**دریم روایت** = په مواهب کښې د ابن زنجویه نه د کثیر بن مره
حضرمی روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی
دی - چه زهٔ به د قیامت په ورځ په براق سور یم - او په ټولو
پیغمبرانو کښې په په دے ورځ دا زما خصوصیت وی -

**څلورم روایت** = حضرت جابرؓ نه په یو روایت کښې کوم کښې چه
د خصائص ذکر دے - د حضورؐ دا ارشاد هم دے چه ماته شفاعت
کبرٰی راکړے شویدے - کوم چه به تمام عالم د پاره حساب شروع
کیدو د پاره وی - دا شفاعت خاص دے حضورؐ د پاره (بخاری ومسلم)

**پنځم روایت** = حضرت ابو سعید خدریؓ نه دحضورؐ په خصائصو کښې دهغوئ دا ارشاد روایت شوے دے ۔چه حضورؐ فرمائیلی دی ۔ د قیامت په ورځ به زما په لاس کښې لِوَاءُ الْحَمْدِ (دحمد بیرغ دی) او ټول پیغمبران او ټول بنی آدم به ددے بیرغ د لاندے وی ۔ دا زهٔ په فخر نهٔ وائیم (بلکه دا دیو حقیقت اظهار دے) دا د ترمذی روایت دے۔

**شپږم روایت** = حضرت جابرؓ نه روایت دے ۔چه حضورؐ فرمائیلی دی ۔ د قیامت په ورځ چه خلق دوباره ژوندی کیږی ۔ زهٔ به ټولو نه اول د قبر نه پاسم ۔ او چه خلق د الله په دربار کښې پیش کیږی ۔ زهٔ به ئے پیش رویم ۔ زهٔ به ئے شفاعت کوم ۔ او زهٔ به دهغوئ د طرف نه خبرے کوم ۔ هغوئ به غلی وی ۔ دقیامت په ورځ حساب شروع کیدو نه مخکښې چه ټول خلق به په تکلیف کښې ولاړ وی ۔ په انتظار به تنګ شی ۔ نو ما ته به دحساب شروع کولو د شفاعت دپاره درخواست اوکړی ۔ زهٔ به ټولو ته دحساب شروع کیدو خوشخبری درکړم ۔ په داسے حال کښې چه خلق به نا امیده شوی وی ۔ د عزت او دهر خیر کنجیانے به په دے ورځ زما په لاس کښې وی ۔ او د حمد بیرغ به زما په لاس کښې وی ۔ او زهٔ به په دے ورځ د الله په دربار کښې هر چا نه زیات د عزت خاوند یم ۔ یو زر خادمان به زما د خدمت او عزت دپاره ما سره ځی راځی ۔ هغه خادمان به ډیر ښائسته وی ۔ د ګرد و غبار نه په داسے صفا دی ۔ لکه پټینه اګئ ۔یا سپینے مرغلرے (ترمذی و دارمی)

**ف** = او دے نه مخکښې فصل کښې په څلورم روایت کښې تیر شوی

دی - چه قبرونه پاځیدونه پس میدان حشرته راتلو په وخت کښې په ادیازره فرښته هغوئی سره روانے دی -

**اووم روایت** = حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے - چه حضورؐ فرمائیلی دی - قبرونه پاځیدونه پس به ماته دجنت نه یو جوړه راوړے شی - او زهٔ به دعرش ښی طرف ته اودریږم - دے ځائے کښې به بل هیڅوک نهٔ وی - (ترمذی)

**ف** = لمعات کښی دی چه غالباً دا هغه مقام محمود دے - دکوم چه حضورؐ سره وعده شوی ده - د مقام محمود په تفسیر کښې ابن مسعودؓ د مجاهدؒ نه د حضورؐ په عرش کیناستل او د ابن عباسؓ په تفسیر کښې په کرسئ کیناستل په مواهب کښې روایت شوے دے - د ابن مسعودؓ نه یو روایت دارمی کړے دے - په هغې کښې د حضورؐ ارشاد دے - چه ماته به ابراهیم علیه السلام نه پس جامے راکړے شی - د دے روایت په الفاظو کښې غور کولو نه دا معلومیږی چه دا د قبرونه راپاځیدو د حالت ذکر نهٔ دے - بلکه د میدانِ حشر د حالت ذکر دے - نو د دواړو روایتونو تطبیق داسے کیدے شی - چه هغوئی ته یو جوړه د قبرونه راوتو نه مخکښې ورکړی شوی ده - نور خلق به ټول د قبرونو نه بربنډ پاځی - او حضورؐ به جامے اغوستی وی - په دے کښې حضورؐ مقدم دے - دا د هغوئی خصوصیت دے -

بله جوړه به میدان حشر کښې ورکړے شی - په دے کښې ابراهیم علیه السلام مقدم دے - د دے وجه به غالباً دا وی -

چه د مؤرخینو په قول۔ نمرود چه ابراهیم علیه السلام اور ته غورزولو نو زیاتی کپړے ئے ویستے وے۔ دا اعزاز دهغه په بدل کښ ورکړے شو۔ بهر حال قبر نه راپاځیدو په وخت کښ به حضورؐ په لباس کښ مقدم وی۔

**اتم روایت** = حضرت ابوهریرهؓ نه په یو اوږد حدیث کښ روایت دے۔ چه حضورؐ فرمایئلی دی چه د دوزخ په مینځ به پل صراط جوړ کړے شی۔ نو زهٔ به د ټولو رسولانو نه مخکښ خپل امت پورے یاسم (بخاری ومسلم)

**نهم روایت** = حضرت سمرهؓ نه روایت دے چه حضورؐ فرمایئلی دی دهر نبی دپاره به یو حوض وی۔ او هغوئی به په دے فخر کوی۔ چه دچا حوض ته ډیر خلق راځی۔ (یعنی د هغوئی امت) او زهٔ امید کوم چه زما په حوض به خلق ډیر وی۔ یعنی زما امت به زیات وی۔ (ترمذی)

**لسم روایت** = حضرت انسؓ نه په اوږد حدیث کښ روایت دے چه حضورؐ د شفاعت د اجازت متعلق اوفرمایئل۔ ما ته به الله تعالیٰ د حمد و ثنا داسے الفاظ په زړهٔ کښ واچوی۔ کوم چه اوس زما په ذهن کښ نشته۔ (بخاری ومسلم)

**ف** = د حضورؐ دا علمی فضیلت به په هغه ورځ څرګند شی۔ د ذات وصفات متعلق داسے وسیع معلومات به صرف هغوئی ته حاصل شی۔ دا به د هغوئی خصوصیت وی۔ دا ټول حدیثونه سوا د دریم نمبر نه د مشکوٰة دی۔

# من القصیده

## دا د قصیده بردے اشعار دی

هُوَ الْحَبِیْبُ الَّذِیْ تُرْجٰی شَفَاعَتُهٗ    لِکُلِّ هَوْلٍ مِّنَ الْاَهْوَالِ مُقْتَحِمٖ

هغه دالله تعالیٰ دا سے محبوب دے چه په هر سخت مصیبت کښې د هغهٔ د شفاعت امید کیدے شی۔

دَعَا اِلَی اللّٰهِ فَالْمُسْتَمْسِکُوْنَ بِهٖ    مُسْتَمْسِکُوْنَ بِحَبْلٍ غَیْرِ مُنْفَصِمٖ

هغه خلق الله طرف ته را اوبلل۔ نو څوک چه د هغهٔ په لار روان شو هغو دا سے رسئ ټینګه کړه کومه چه نه شلیدونکی ده۔

اِنْ لَّمْ یَکُنْ فِیْ مَعَادِیْ اٰخِذًا بِیَدِیْ    فَضْلًا وَّ اِلَّا فَقُلْ یَا زَلَّةَ الْقَدَمٖ

که هغوئ په خپل فضل وکرم د قیامت په ورځ زما دستګیری او نهٔ کړه۔ نو ته اووایه افسوس چه زما قدم ښویدلے دو۔ عمل م نیک نهٔ ور۔

یَا اَکْرَمَ الْخَلْقِ مَالِیْ مَنْ اَلُوْذُ بِهٖ    سِوَاكَ عِنْدَ حُلُوْلِ الْحَادِثِ الْعَمَمٖ

اے په ټول مخلوق کښې ټولو نه زیات د عزت مالکه۔ تا نه علاوه بل څوک دی چه د عام عظیم مصیبت په وخت کښې ما ته پناه راکړی۔

وَلَنْ یَّضِیْقَ رَسُوْلَ اللّٰهِ جَاهُكَ بِیْ    اِذَا الْکَرِیْمُ تَجَلّٰی بِاسْمٍ مُّنْتَقِمٖ

یا رسول الله زما په شفاعت به ستا عزت څهٔ کم نشی۔ په هغه وخت چه رب کریم په خپل منتقم صفت جلوه ګر شی۔

یَا نَفْسُ لَا تَقْنَطِیْ مِنْ زَلَّةٍ عَظُمَتْ    اِنَّ الْکَبَائِرَ فِی الْغُفْرَانِ کَاللَّمَمٖ

اے نفسه د خپلو ډیرو گناهونو په وجه مایوس کیږه مه۔ بے شکه هغه کریم ذات ته د غټو گناهونو معاف کول داسے دی۔ لکه د ډیرو گناهونو۔

لَعَلَّ رَحْمَةَ رَبِّيْ حِيْنَ يَقْسِمُهَا     تَأْتِيْ عَلٰى حَسَبِ الْعِصْيَانِ فِي الْقِسَمِ

امید دے زما رب چه خپل رحمت تقسیموی۔ د رحمت حصه به د گناهونو په اندازه تقسیموی۔ یعنی د غټ گنهګار په حصه کښ به ډیر رحمت راشی۔

يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا أَبَدًا     عَلٰى حَبِيْبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمِ

یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازله کړے همیشه همیشه د پاره په خپل هغه حبیب چه په ټول مخلوق کښ ټولو نه بهتر دے۔

# دیرشم ۳۰ فصل

## د حضورؐ د ځنی هغه فضائلو په بیان کښ کوم چه به جنت کښ څرګندیږی

---

**وړمبۍ روایت** = په مشکوٰة کښ د حضرت انسؓ نه روایت دے۔ چه حضورؐ فرمائیلی دی۔ د قیامت په ورځ به زهٔ د جنت دروازے ته راشم۔ تنبه به او وهم۔ څوکیدار به تپوس او کړی څوک ئے؟ زهٔ به او وایم محمدؐ یم۔ هغه به او وائی۔ ما ته حکم شوید ے چه تا نه مخکښ بل چا ته در لرے نکړم۔ (مسلم)

**دویم روایت** = امام احمد د حضرت انس رضه نه روایت کړے دے۔ چه یو صحابی عرض اوکړو۔ یا رسول الله کوثر څهٔ شے دے۔ حضورﷺ اوفرمائیل په جنت کښ یو نهر دے۔ چه ماته به ئے زما رب راکړی۔ د هغے اوبهٔ د پیٔو نه سپینے او د ګبین نه خوږے دی۔ او په بخاری کښ د حضرت عائشے رضه نه روایت دے۔ د هغے په دواړو غاړو باندے به مرغلرے لګیدلی وی۔ او په هغے به د اوبو څکلو دومره لوښی پراته وی۔ لکه د آسمان ستوری۔

او په نسائی کښ د حضرت عائشے رضه نه روایت دے چه هغه د جنت په مینځ کښ دے۔ او د هغے په دواړو غاړو د مرغلرو او یاقوتو بنګلے دی۔ او د هغے خاوره د مشکو ده۔ او شګے ئے مرغلرے او یاقوت دی۔ او احمد او ابن ماجه او ترمذی کښ روایت دے۔ د ابن عمر رضه نه۔ چه حضورﷺ فرمائیلی دی۔ کوثر په جنت کښ یو نهر دے۔ د دے په دواړو غاړو د سرو زرو نه جوړے بنګلے دی۔ د هغے شګے مرغلرے دی۔ د هغے اوبهٔ په مرغلرو روانے وی۔ او ابن ابی الدنیا د حضرت عباس رضه نه روایت کړے دے۔ چه هغه په جنت کښ یو نهر دے چه د هغے عرق واله اویا زره فرسخه دے۔ او د دے په دواړو غاړو د یاقوتو او زمردو جوړے بنګلے دی۔ الله تعالیٰ دا خاص حضورﷺ د پاره تیار کړے دے۔ او په ترمذی کښ د حضرت انس رضه نه روایت دے۔ چه حضورﷺ فرمائیلی دی۔ کوثر په جنت کښ یو نهر دے۔ په هغے به داسے مرغان ناست وی۔ چه څټونه به ئے د اوښانو په شان وی۔ حضرت عمر رضه عرض اوکړو۔ د هغے

غوښه خو به ډیره لطیفه وی - حضورؐ اوفرمائیل -خوږونکی ځ
هم ډیر لطیفا دی

ف = دا نهر د هغه حوض نه علاوه دے. کوم چه به د قیامت په
میدان کښی وی - د بخاری د دوایت موافق هغه حوض کښی به د دے
نهر اوبه پریوځی - د مسلم د روایت موافق - د دوو ناوو په ذریعه
یوه به دچاندنی وی - بله به د سرو وی -

د دے ټولو روایاتو نه ثابتیږی چه دا نهر د خاص صفاتو حامل
دے - او دا خاص حضورؐ د پاره دے -

دریم روایت = په مسلم کښی د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضی
نه روایت دے چه حضورؐ فرمائیلی دی - تاسو چه د مؤذن اذان واورئ
نو هغه چه کوم الفاظ وائی - تاسو هم هغه الفاظ وائی - بیا په ما
درود اووائی - ځوک چه په ما درود وائی الله تعالیٰ په هغهٔ
لس رحمتونه نازلوی - بیا ما دپاره د وسیلا دعا اوغواړئ - وسیله
د جنت یو درجه ده - چه د الله په ټولو بندیانو کښی به صرف
یو بنده ته ورکولے شی - او زهٔ امید کوم چه هغه بنده به زهٔ
یم - ځوک چه ما ته د وسیلا دعا غواړی - زهٔ به د هغه شفاعت
کوم - په مسند احمد کښی د ابو سعید خدری رض نه روایت دے چه
وسیله د الله تعالیٰ سره خاص مقام دے چه هغه نه اوچت مقام
بل نشته -

ف = د قاعدے موافق خو دا متعینه ده - چه د دے مقام حقدار
صرف حضورؐ دے - ځکه چه دا ثابته ده چه هغه افضل الخلق دے

نو د افضل درجات حقدار هم هغه دے۔ لیکن تر دے وخته به د دے تصریح نهٔ وه شوی۔ ځکه حضورؐ دا ارشاد فرمائیلے دے

**څلورم روایت** = حضرت ابن عباسؓ نه د آیت (وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ) (هیر زر به تاته خپل رب دومره نعمتونه درکړی۔ چه ته به خوشاله شې) په تفسیر کښ روایت دے چه الله تعالیٰ به حضورؐ ته په جنت کښ یو زر محلونه ورکړی۔ په هر محل کښ به د حضورؐ د شان لائق بیبیانے او خادمان وی۔ ابن جریر او ابن ابی حاتم روایت کړے دے۔ او چونکه دا سے خبرے څوک د ځانه نشی کولے۔ ځکه دا موقوف روایت د مرفوع په حکم کښ دے۔

**پنځم روایت** = حضرت ابن عباسؓ نه روایت دے چه نبی کریمؐ فرمائیلی دی۔ چه زهٔ به ټولو نه اول د جنت د دروازے زنځیر او شرنګوم۔ نو ماته به دروازه پرانستے شی۔ زهٔ به جنت ته ننوځم۔ او ما سره به فقراء مومنان وی (ترمذی ع

(فقراء به د حساب نه زر فارغ شی نو اول به جنت ته لاړ شی۔ مالدار مؤمنان به لا په حساب ورکولو مصروف وی)

**ف** = دا هم د حضورؐ خصوصیت دے۔ چه د حضورؐ د امت کسان به ټولو نه اول جنت ته لاړ شی۔

**شپږم روایت** = حضرت انسؓ نه روایت دے۔ چه حضورؐ فرمائیلی دی۔ چه ابوبکرؓ او عمرؓ به د نبیانو او رسولانو نه علاوه د ړومبو وروستو بنیادمو د درمیانه عمر د کسانو سرداران وی۔ په جنت کښ [illegible] اوابن ماجه حضرت علیؓ نه روایت کړیدے۔

ف = دحضورؐ د امت دوه درمیانه عمر کسان دیولو امتونو د درمیانه عمر کسانو سرداران کیدل داهم دحضورؐ خاص فضیلت دے۔

**دوهم روایت** = حضرت حذیفهؓ نه روایت دے چه حضورؐ فرمائیلی دی۔ چه بیګا ماته یو فرښته راغلی وه۔ چه هغه دے نه مخکښ چرے زمکے ته نه وه راکوزه شوی۔ دے فرښتے الله تعالیٰ نه ماسره دملاقات اجازت غو ښتے وو۔ هغے ماته دا خبر راکړو چه حضرت فاطمهؓ به دجنت دټولو زنانه وُ سرداره وی۔ او امام حسن او امام حسین به دجنت دټولو ځوانانو سرداران وی۔ (ترمذی)

ف = دحضورؐ د خاندان کسان دجنت د زنانه وُ او ځوانانو سرداران کیدل۔ داهم دحضورؐ خاص فضیلت دے چه جنت کښ به څرګندیږی۔

اګرچه حضرات حسنینؓ درمیانه عمر ته رسیدلی وو چونکه دهغوئی عمر د حضرت ابو بکرؓ او حضرت عمرؓ نه کم وو۔ ف = په دے وجه هغوئی ته درمیانه عمر او حسنینو ته دهغوئی په مقابله کښ ځوانان او وئیلے شو۔ دا ورستی درے روایتونه او یو وړمبے د مشکوٰة دی۔ نور ټول دمواهب دی۔

## من القصیده

دا یو څو اشعار د قصیده بردة دی

فَحُزْتَ کُلَّ فَخَارٍ غَیْرَ مُشْتَرَکٍ وَجُزْتَ کُلَّ مَقَامٍ غَیْرَ مُزْدَحَمِ

نو تا هر قسم عزت راجمع کړو۔ په کښ د تا څوک شریک نشته۔ او د هر عالی مقام نه بے مقابلے تیر شوے۔

وَجَلَّ مِقْدَارُ مَا أُوْلِيْتَ مِنْ رُتَبٍ    وَعَزَّ إِدْرَاكُ مَا أُوْتِيْتَ مِنْ نِعَمِ

ډیر زیات دے مقدار دهغه مرتبو چه تاته درکړې شوې دي - او خومره نعمتونه چه تاته درکړې شوې دي۔په هغې پوهیدل هم ګران دي۔

يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا أَبَدًا    عَلَىٰ حَبِيْبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمِ

یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازل کړے همیشه دپاره په خپل هغه حبیب چه په ټول مخلوق کښ ټولو نه بهتر دے۔

# یودیرشم فصل

## په دے کښ چه حضورؐ افضل المخلوقات دے

---

د دے تصریح په دے وجه ضروري شوه چه په تیرو فصلونو کښ دحضورؐ فضیلت خو ثابت شو۔ خو افضلیت تر نه ثابت یږي - او د افضلیت د عقیدے نه بغیر صرف د فضیلت عقیده کافي نهٔ ده۔ اګرچه د هغونئ د افضلیت خبره منلي شوي ده - دهیڅ ورکښ اختلاف نشته۔ نو د دلیل ضرورت هم ورته نشته ۔ خو بیا هم برکت دپاره یو څو روایات لیکلے شي۔

**وړمبے روایت**: حضرت ابن عباسؓ نه روایت دے۔چه حضورؐ فرمایلي دي۔ زهٔ الله تعالیٰ سره په وړمبو ورستو ټولو کښ زیات عزت واله یم۔ (ترمذی و دارمی او مشکوٰة)

**دوېم روايت** = حضرت انسؓ نه روايت دے چه حضورؐ ته چه د معراج په شپه جبريل عليه السلام براق راوستو ـ نو چه حضورؐ په سوريدو ـ براق څه شوخي اوکړه ـ جبريلؑ ورته اووئيل ـ آيا ته محمدؐ سره شوخي کوے ـ په تا باندے خو داسے بنده نه دے سور شوے ـ چه الله سره محمدؐ نه زيات مکرم وى ـ نو براق د شرمه خولے خولے شو ـ (ترمذى)

**دريم روايت** = امام احمد د حضرت عباس نه روايت کړے دے ـ چه حضورؐ د معراج په شپه بيت المقدس ته راغلو ـ په مانځه اودريدو نو ټولو نبيانو ورپسے نيت اوتړلو ـ حضورؐ امام شو ـ او نور نبيان مقتديان شو ـ په مسلم کښ د ابن مسعودؓ نه روايت دے چه حضورؐ اوفرمائيل ـ فَاَمَمْتُهُمْ (ما ټولو نبيانو ته امامتى اوکړه) او د ابو سعيدؓ په روايت کښ دى ـ چه فرشتو ورسره مونځ اوکړو ـ يعنى نبيانو سره فرشتے هم مقتديانے دے ـ بيا د نبيانو د ارواحو سره تفصيلى ملاقات اوشو ـ ټولو تقريرونه اوکړل ـ د الله تعالىٰ حمد وثنا ئے اووئيله او خپل فضائل ئے بيان کړل ـ په کښ حضورؐ خطبه اووئيله ـ او خپل رحمة للعالمين کيدل او ټول مخلوق د پاره رسول کيدل او خپل آخرى نبى کيدل او د خپل امت بهترين امت کيدل ئے بيان کړو ـ بيا ابراهيم عليه السلام اووئيل ـ بِهٰذَا اَفْضَلُكُمْ مُحَمَّدٌ ـ په دے وجوهاتو محمدؐ تاسو ټولو نه افضل دے ـ د ابراهيم عليه السلام دا ارشاد بزاز او حاکم هم د ابو هريرهؓ نه روايت کړے دے ـ (مواهب)

**څلورم روایت** = حضرت ابن عباس رض نه روایت دے ۔چه هغهٔ اووئیل ۔ الله تعالیٰ حضرت محمد ﷺ ته په ټولو نبیانو فضیلت ورکړے دے۔ او په ټولو فرشتو هم او په دے باندے ئې قرآن شریف نه دلیل پیش کړو۔ (مشکوٰة)

**پنځم روایت** = حضرت انس رض نه په یو اوږد حدیث شریف کښې روایت دے۔ چه الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام ته په خپل کلام کښې اوفرمائیل۔ بنی اسرائیل خبر کړه ۔ چه څوک چه ما سره په دے حال کښې پیش شی چه د احمد ﷺ منکر وی۔ زهٔ به ئې دوزخ ته واستوم ۔ هغه هر څوک چه وی ۔ موسیٰ ع عرض اوکړو۔ احمد څوک دے۔ ارشاد اوشو ۔ زما دِ په خپل عزت او جلال قسم وی چه په ټول مخلوق کښې هیڅوک ما سره د هغهٔ نه زیات عزت واله نشته۔ ما د آسمان او زمکې او شمس د قمر پیدا کولو نه شل لکه کاله مخکښې د هغهٔ نوم خپل نوم سره عرش باندے لیکلے وو۔ او زما دِ په خپل عزت او جلال قسم وی۔ چه څو پورے محمد او د هغهٔ امت جنت ته نهٔ وی لاړ۔ بل یو مخلوق به جنت ته نهٔ ځی۔ بیائې د امتِ محمدی فضائل بیان کړل۔ نو موسیٰ ع عرض اوکړو۔ یا الله ما د دے امت نبی کړے۔ ارشاد اوشو۔ د دے امت نبی به هم د هغوئی نه وی۔ بیائې عرض اوکړو۔ ما د محمد امتی کړے۔ ارشاد اوشو۔ ته اول راغلے هغه به تا نه روستو راځی ۔ البته تهٔ او هغه به په جنت کښې یو ځائې شئ (جنت کښې به مو ملاقات اوشی) دا روایت په حِلیه کښې دے۔ د دے

ټولو رواياتو نه دهغوئ افضل المخلوقات کيدل ثابت دی - خپله دالله تعالیٰ دکلام نه - دامحابو دارشاداتو نه اودنبيانو اوفرشتو دارشاداتو نه صريحاً ثابته ده - اودنبيانو اوفرشتو دامامتئ نه اودخاتم النبين کيدونه هم په دے استدلال کيدے شی - ددے فصل د ورمبو روايتونو اودکتاب په شروع کښ د دوو فصلونو د ډيرو رواياتونه هم صراحةً ثابتيږی -

# من القصيده

## دقصيده بردے اشعار دی

---

مُحَمَّدٌ سَيِّدُ الْكَوْنَيْنِ وَالثَّقَلَيْنِ وَالْفَرِيْقَيْنِ مِنْ عَرَبٍ وَّمِنْ عَجَمٍ

محمد د دواړو کونو - دنيا اواخرت او بنيادمو او پيريانو اوعربو او عجمو ټولو سردار دے -

فَانْسُبْ اِلٰى ذَاتِهٖ مَاشِئْتَ مِنْ شَرَفٍ وَانْسُبْ اِلٰى قَدْرِهٖ مَاشِئْتَ مِنْ عِظَمٍ

نوته دهغهٔ مبارک ذات ده‌ر قسم لوئی نسبت کولے شی - سوا دخدائی نه - اود هغهٔ قدرعزت ته ده‌ر څومره لوئی نسبت کولے شې -

فَاِنَّ فَضْلَ رَسُوْلِ اللّٰهِ لَيْسَ لَهٗ حَدٌّ فَيُعْرِبَ عَنْهُ نَاطِقٌ بِفَمٍ

ځکه چه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د فضيلت څهٔ حد نشته چه څوک ئے په خوله بيان کړے شی -

فَمَبْلَغُ الْعِلْمِ فِيْهِ اَنَّهٗ بَشَرٌ وَاَنَّهٗ خَيْرُ خَلْقِ اللّٰهِ كُلِّهِمٖ

نو دهغوئ د فضائلو متعلق زمونږ دعلم انتها دا ده - چه هغه

بشر دے۔ خدائے نۀ دے۔ دېر عزت خاوند او د الله په ټول مخلوق کښې ټولو نه بهتر دے۔

يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا    عَلٰى حَبِيْبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمِ

یا الله خپل خاص رحمت او سلامتیا نازل کړے همیشه دپاره په خپل هغه حبیب چه ټول مخلوق کښې ټولو نه بهتر دے۔

# دوه دیرشم فصل

## د بعض هغے آیتونو په مختصر تحقیق کښې

د کومو ظاهری الفاظ چه د حضور[ص] په فضائلو کښې څۀ شک پیدا کوی۔

ورومبۍ روایت = قال الله تعالیٰ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى = د ضال مشهوره معنیٰ په اردو یا فارسۍ کښې د ګمراه کیدی۔ لیکن د عربۍ په محاوره کښې د دے معنیٰ صرف ناواقفه یا بے خبره دے۔ او د ناواقفیت دوه قسمه دے۔ یو[۱] هغه چه د احکامو راتلو نه مخکښې وی۔ او بل[۲] هغه چه احکامو راتلو نه پس د هغے معارض وی۔ د دویم قسم مذموم دے۔ اول قسم مذموم نۀ دے۔ ظاهره ده چه د نبوت نه پس چه د وحی په ذریعه حضور[ص] ته کوم علوم حاصل شو۔ نبوت نه مخکښې د ګنه ناخبره دو۔ نو د آیت هم دا[؟] دے۔ لکه بل ځائے ارشاد دے وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ (الله تعالیٰ تا ته هغه علوم اوښیل کوم چه تا ته نۀ وو معلوم)

**دویم آیت** = قال الله تعالیٰ وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ الَّذِیْ اَنْقَضَ ظَهْرَكَ - دلته د وِزْر معنیٰ گناه نهٔ ده - لکه لَاتَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ اُخْرٰی (هیڅ یو گنهګاریه د بل د گناه بار نهٔ پورته کوی) یعنی هیڅ یو ته به د بل د گناه سزا نشی ورکیدے - په عربی محاوره کښی د وِزْر معنیٰ عامه ده - بار پورته کول دی - د گناه بار دی که د بل څهٔ - پیغمبران د گناه نه پاک دی - نو دلته د وزر معنیٰ د گناه بار نهٔ دے بلکه د وحی په ابتداء کښی په حضورؐ باندے به د وحی راتلو په وخت کښی سخت تکلیف وو - یعنی به په راغله اوتی به او نیوو - بیا د رو څومره چه استعداد زیاتیدو دا بار کمیدو - دلته د وزر نه دا د وحی بار مراد دے - اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ (آیا مونږ ستا سینه فراخه نکړه) یعنی د وحی د دروند بار پورته کولو د پاره ستا سینه فراخه کړه - د دے طاقت مو درکړو - د دے قرینه ده -

**دریم آیت** = لِیَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ = دلته هم د ذَنْب د لفظ نه د گناه شبهه کیدے شی - حالانکه نبیان د گناه نه پاک دی - نو دلته هم د ذَنْب مشهوره معنیٰ مراد نهٔ ده - بلکه هغه اجتهادی احکام مراد دی - کوم چه بیا په نص منسوخ شوی دی - منسوخ کیدو نه پس په هغے عمل کول جائز نهٔ دی - نو د دے نه هغه اجتهادی احکام مراد دی - چه په ځنی حالاتو کښی ذنب کیدے شو - اګرچه اوس ذنب نهٔ دے - نو د هغے بعضے حالاتو په مناسبت سره ورته ذنب او ویلے شو - د حضورؐ د ډیر خشیت په وجه تسلی ورکړے شوه - ورنه په اجتهادی خطا

باندے هم دثواب وعده ده - اجتهادی خطا گناه نهٔ ده -
**څلورم آیت** : قال الله تعالیٰ - يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ (اے نبی الله نه اووېرېږه او د کافرانو او منافقانو خبره مهٔ منه) دلته هم د امر ونهی نه د خلاف واقع کېدو څهٔ احتمال نشته - بلکه ددے مطلب دا دے - چه څنګه ډِ تر اوسه د تقوئ په وجه د کافرانو او منافقانو اطاعت نهٔ کولو آئنده دپاره هم دغه شان کوه - مطلب د کافرانو او منافقانو نا امیده کول دی - هغوئ به کوشش کولو چه په څٔ خبرو کښ حضوؐر د هغوئ ملګرتیا اوکړی - اوس به هغوئ پوهٔ شی - چه حضوؐر د وحی خلاف څو ځای نهٔ کوی - نو ددوئ دا کوشش هیڅ کامیابېدے نشی - لکه چه بل ځائے ارشاد دے -
وَمَآ اَنْتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ (او تهٔ هیڅ کلهٔ د دوئ د قبلے منونکے نهٔ ئے)
**پنځم آیت** : قال الله تعالیٰ فَاِنْ كُنْتَ فِيْ شَكٍّ مِّمَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ فَسْـَٔلِ الَّذِيْنَ يَقْرَءُوْنَ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكَ (که ستا څه شک دی په هغه وحی کښ چه موږ ئے په تا نازلوو نو تهٔ د هغه چانه تپوس اوکړه - چه تا نه مخکښ ئے کتاب لوستو - یعنی په نورو رسولانو چه کومه وحی نازله شوی وه) دلته هم احتمال د شک نشته - بلکه د زیاتی تاکید دپاره دا شے وئیا شی - لکه یو سړے چاته څهٔ خبره اوکړی - او خلق ئے پیژنی چه دے ربنتونے دے - بیا هم هغه ورته اووائی که زما په خوله ډِ یقین

نهٔ کیږی - نو ځکه د خلقو نه تپوس اوکړه - په دے پوهه وی -
چه دهٔ ته د تپوس حاجت نشته - لیکن په خپل صداقت د
کامل اطمینان په وجه ورته اووائی - چه تا ته د تپوس اجازت
دے -

**شپږم آیت** = قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی لَئِنْ اَشْرَکْتَ لَیَحْبَطَنَّ عَمَلُکَ =
(که تا شرک اوکړو - نو ټول نیک عمل به دِ برباد شی) دے نه
مخکښ آیت کښی غور کولو نه معلومیږی چه د دے مخاطب حضورؐ
هم وو دے نه - مخکښی ارشاد دے - وَلَقَدْ اُوْحِیَ اِلَیْكَ وَاِلَی
الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِكَ (د بیشکه تا ته وحی شوی ده - او تا نه مخکښ
نورو رسولانو ته هم دا وحی شوی وه) چه که تا شرک اوکړو نو
ټول عمل به دِ برباد شی) دے نه ثابته شوه چه دا حکم ټولو
پیغمبرانو ته شوے دے - په وحی کښی کله خپله نبی ته خطاب
مقصود وی - او کله ئے امت ته خبر دارے مقصود وی - مطلب دا
چه ټولو پیغمبرانو ته د تبلیغ په غرض دا خطاب شوے دے چه
تاسو خپل امت ته دا خبر اورسوئی چه که چا شرک اوکړو - نو
عمل به ئے برباد شی - نو اصل کښی دا د نبی په واسطه امت ته
خطاب دے - او بالغرض که حضورؐ مخاطب وی هم مقصود ئے
د شرک په مذمت کښی مبالغه ده - لکه چه څوک اووائی - که
زما ځوئے زما نا فرمانی اوکړه هم سزا نه به یې نشی - اگرچه هغه
ځوئے دا سے تابعدار وی - چه د نا فرمانئ هیڅ توقع ترے نه
کیدے -

**اووم آیت** : قال الله تعالیٰ فَلَا تَكُ فِي مِرْيَةٍ مِّنْهُ إِنَّهُ الْحَقُّ (نو ته په دے کښې هيڅ شک مه کوه بیشکه دا حق دے) دے نه هم د نزول د وحی نه پس په وحی کښې شک نه لازميږی - بلکه مطلب دا دے چه کومے خبرے چه د قرآن په ذريعه تاته ښيلے شی - چونکه د وحی د نازليدو نه مخکښې دا تاته معلومے نه وے نو يقينی درته نه وه معلومه - چه دے کښې به څه حکم وی - اوس چه د وحی په ذريعه درته معلومه شوه - نو اوس تردد مه کوه - د قرآن خبره حقه ده - دا شک هم نه دے پکار چه د وحی د نزول نه پس هم د تردد احتمال وو - بلکه د دے مثال داسے دے لکه عامه محاوره ده - په خبرو کښې خلق وائی ته يقين اوکړه دا خبره هم داسے ده - بلکه کله کله ورسره قسم هم اوخوری حالانکه د مخاطب د هغه په صداقت يقين وی - او د هغه په خبره کښې ئے هيڅ شک نه وی - بيا هم زياتی تاکيد د پاره داسے ويلے شی -

**اتم آیت** = قال الله تعالیٰ - وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدَىٰ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْجَاهِلِينَ (که الله تعالیٰ غوښتے نو دوئی به ئے ټول په هدايت راجمع کړی وو - نو ته په د يکښې شک مه کوه) دے نه دا نه لازميږی چه گنی حضور دالله د قدرت نه بے خبره وو - يا ئے په دے کښې څه شک وو (نعوذ بالله) بلکه د دے مطلب دا دے چه څنی کافران داسے وی - چه د هغوئی په تقدير کښې ايمان راوړل نشته هغوئی به هم دغه

شان کافران مرہ کیږی۔ لکه بل آیت چه دے۔ سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنْذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ط (برابره ده که دوئ د الله د عذاب نه اوویروی او که اوئ نه ویروے دوئ ایمان نه راوړی)۔ یعنی د دوئ په قسمت کښی ایمان راوړل نشته۔ دا فیصله شوی ده۔ چه دوئ به دوزخ ته ځی۔ د دے ارشاد دنه مخکښی هغوئ ته یقینی نه وه معلومه چه داکسان دوزخیان دی۔ نو هغوئ کوشش کولو چه ایمان راوړی۔ اوس ورته یقینی علم حاصل شو۔ نو اطمینان ئے اوشو۔ او که دچا شک وی چه آیا اوس هم پکښی د بے یقینئ امکان شته۔ نو د دے جواب په اوُدوم نمبر آیت کښی تیر شوے دے۔

**نهم آیت** = قال الله تعالیٰ وَإِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ۔ (او که شیطان درته په زړه کښی څه وسوسه واچوی۔ نو د الله پناه اوغواړه) د دے نه د شیطان تسلّط نه لازمیږی چه معصیت یا عزم معصیته د ربانده مرتب شی۔ دکوم چه په دے آیت کښی نفی شوی ده۔ ارشاد دے۔ لَيْسَ لَهُ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ط (شیطان غلبه نه شی حاصلولے په ایماندارو اوخوک چه په الله توکل کوی) بلکه دے نه صرف وسوسه قدرے ثابتیږی۔ لکه یو ناکاره بنده چه چا نبی ته یو غلطه رائے ورکړی۔ دغه شان شیطان هم ورته دغلط خیال اچولو کوشش کوی۔ لیکن د دے نه دا نه ثابتیږی۔ چه هغه دِ په عمل هم اوکړی۔ د نبی نه دغلط کارکولو هیڅ احتمال

نشته - پیغمبران د گناه نه پاک دی.
(یعنی شیطان ورته زړهٔ کښی وسوسه واچوی - یا یو بنده غلطه مشوره ورکړی - خو چه نبی په هغې عمل هیڅ نهٔ کوی - نو څهٔ نقصان پکښ نشته)

**لسم آیت:** عَبَسَ وَتَوَلّٰى اَنْ جَآءَهُ الْاَعْمٰى - (تندے ئے تریو کړو او مخ ئے واړولو چه یو ړوندے ورسره راغلو) دلته دوه مصلحتونه دیو بل معارض دو - یو تبلیغ - بنیادی تبلیغ په فروعی تبلیغ مقدم دے - یعنی یو کافر ته د اسلام تبلیغ کول چه مسلمان شی. دا بنیادی تبلیغ دے - او یو مسلمان ته د دین څهٔ مسئلے ښیل دا فروعی تبلیغ دے - نو اصولی تبلیغ په فروعی مقدم دے -

ددے تقاضا دا ده چه کافر ته خطاب ئے په مسلمان مقدم کړے وے مقابله دا خبره ده چه کوم ځائے فائده یقینی ده - او کوم ځائے یقینی نهٔ ده - نو یقینی فائده مقدمه ده - ددے تقاضا دا ده چه مسلم ته خطاب ئے په کافر منکر مقدم کړے دے - نو حضورؑ ته په هغه وخت دا یقینی نهٔ وه معلومه چه په دے کافر به تبلیغ اثر نهٔ کوی - څهٔ فائده به ورته نهٔ رسی - نو هغوئی په خپل اجتهاد کافر ته توجه اوکړه که دے مسلمان شی نو دا فائده زیاته ده - دا بل خو هسے هم مسلمان دے - د مسئلے تپوس بل وخت هم کولے شی - نو ددے عتاب مقصد دا دے - چه د حضورؑ شان د ومره اوچت دے چه هغهٔ ته په اجتهاد کښی ډیر سوچ پکار دو - د کافر تبلیغ ته په مسلمان ترجیح ورکول نهٔ دو پکار

خکه چه هغه منکر دو۔ تبلیغ په هیڅ اثر نهٔ کولو۔

داخو په مقصد کښې د شک جواب شو۔ اوکه دچا دا شک وی۔ چه محبوب ته عتاب ولے شوے دے؟ نو د دے جواب دا دے۔ چه په قریبي تعلق کښې عتاب هم خوند کوی۔ لکه چه یو عارف ویلی دی۔

بدم گفتی و خورسندم عفاک الله نکو گفتی

جوابِ تلخ می زیبد لبِ لعل شکر خارا

(بد دِ راته او وئیل او زهٔ په خوشحال یم الله دِ معاف کړه بنهٔ دِ او کړو۔ د سرو خوږو شونډو سره ترخ خبرے خوند کوی)

په دُرِ منثور کښې روایت دے۔ چه بیا به کله چه هغه صحابی مجلس ته راغلو۔ نو حضورؐ به او فرمائیل مَرْحَبًا بِمَنْ عَاتَبَنِی فِیْهِ رَبِّیْ۔ الفاظو نه معلومیږی چه دے عتاب کښې حضورؐ ته لذت حاصل شوے دو۔ او دے نه دا هم معلومیږی چه دا صحابی د حضورؐ محبوب دو۔ او هغوئی ئے قدر کولو۔ (د دے قسم آیتونو تفسیر د مولانا تهانوی په تفسیر کښې تفصیل سره شوے دے۔ او زیات مفید دے۔ شوقیانو ته ئے کتل پکار دی ت)۔ د دے تفسیر نه چه کوم اصول معلوم شی۔ په هغے به د دے قسم مشکل احادیثو حل هم اسان شی۔

# من القصيده

## دا د قصيده برده اشعار دی

لَمْ يَمْتَحِنَّا بِمَا تَعْيَى الْعُقُولُ بِهٖ      حِرْصًا عَلَيْنَا فَلَمْ نَرْتَبْ وَلَمْ نَهِمِ

موږ ئې په دا سې خبرو ازميښت کښې وانۀ چولو د کومو حل چه زموږ په عقل کښې نۀ راتلو - په موږ باندے د رحم کولو په وجه نو ځکه نۀ موږ په شک کښې پريوتو او نۀ د شريعت په احکامو عمل کولو کښې پريشان شو - عمل کول په ګران نۀ وو - چه پريشان شوے وے -

أَعْيَى الْوَرٰى فَهْمُ مَعْنَاهُ فَلَيْسَ يُرٰى      لِلْقُرْبِ وَالْبُعْدِ فِيْهِ غَيْرُ مُنْفَحِمِ

د هغوئی په ظاهری د باطنی کمالاتو باندے پوهيدو نه خلق عاجزه شو - نو خواص او عوام ټول د هغوئی په کمالاتو پوره پوره پوهيدو نه عاجزه دی - حيران د پريشان دی -

كَالشَّمْسِ تَظْهَرُ لِلْعَيْنَيْنِ مِنْ بُعُدٍ      صَغِيْرَةً وَّتُكِلُّ الطَّرْفَ مِنْ أَمَمِ

لکه د نمر په شان چه د لرے نه درکوتې ښکاری - او د نزدے نه درته څوک د چيرے بريښنا په وجه کتے نشی - نو حقيقی مقدار ئې نشی معلوميدے -

يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا أَبَدًا      عَلٰى حَبِيْبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمِ

# درے دیرشم فصل

## دځنی بشری لوازمو په بیان کښې چه دا هم د هغوئ خصوصیت دے

یاد لرئ د هغوئ د ټولو کمالاتو دار مدار د هغوئ په دوو صفتونو کښې دے.

## عبدیت[۱] او رسالت[۲]

هم دا دوه خاص وصفونه د هغوئ په قرآن شریف او احادیثو کښې بیان شوی دی. په مانځه کښې چه مونږ ته دکوم تشهد تعلیم راکړے شوے دے. په هغے کښې ئے دا دواړه صفتونه جمع کړی دی. څنګه چه د هغوئ د رسالت په کمالاتو کښې کمے کول او هغوئ په عامو خلقو قیاس کول کفر یا بدعت دے. دکوم د رد د پاره چه دا تیر شوی فصلونه لیکلی شوی دی. (په کومو کښې چه د هغوئ د معجزاتو او نورو غیر معمولی طاقتونو او اعلی اخلاقو بیان دے. ت)

دغه شان د هغوئ د عبدیت په اوصافو کښې حد نه زیاتے کول او الٰهی اوصاف ورته ثابتول یا یو داسے صفت چه قرآن کښې د هغے نفی راغلی وی. لکه علم غیب هغوئ ته ثابتول یا شرک دے یا کبیره ګناه ده. دا فصل د دے د اصلاح د پاره لیکلے شوے دے. د نمونے په طور په دے فصل کښې یو څو روایات

بیانیږی۔

**وړمبۍ روایت** : حضرت عمرؓ نه روایت دے چه حضورؐ فرمایلی دی۔ ما دومره مه لویه وئی لکه عیسایانو چه حضرت عیسیٰ علیه السلام خدائی ته رسولے دے۔ زهٔ خو دالله بنده یم۔ دخدائی هیڅ خبره راکښې نشته۔ نو تاسو ماته د الله بنده او رسول دائی۔ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ۔ (بخاری ومسلم)

**دویم روایت** : حضرت عائشهؓ نه روایت دے۔ چه حضورؐ په مرضِ وفات کښې او فرمایل۔ ماته چه په خیبر کښې کومه زهری غوښه راکړی شوی وه ماهیشه د هغې تکلیف محسوس کړے دے۔ خو اوس هغه وخت دے چه هغې زهرو زما د زړهٔ رګ پریکړو۔ (زما په زړهٔ ئے اثر اوکړو) (بخاری)

**دریم روایت** : حضرت عائشهؓ نه روایت دے چه حضورؐ باندے سحر شوے وو۔ د هغې په وجه به کله هغوئی دا خیال اوکړو۔ چه څنې دنیوی کار مثلاً څهٔ شے خوړل خکلما کړے دے۔ او هغوئی به کړے نهٔ وو۔ (بخاری)

**څلورم روایت** : حضرت عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے چه حضورؐ مانځه کښې د غلطئی کیدو متعلق او فرمایل۔ زهٔ بشر یم د غه شان خطا کیږم۔ څنګه چه تاسو خطا کیږئ۔ نو چه کله زهٔ څهٔ غلطی اوکړم ماته یادوئ۔ (بخاری ومسلم)

**پنځم روایت** : حضرت سهل بن سعدؓ نه روایت دے۔ چه حضورؐ په هغې حدیث مبارک کښې کوم کښې چه د څنې کسانو د حوض

کوثر ته د شړلو ذکر دے - او فرمائیل - چه زهٔ به فرشتو ته اووایم چه دا کسان خو زما امتیان دی - دا ولے شړئ - نو حفوئ به اووائی تهٔ خبر نهٔ ئې چه تا نه پس دوئ په دین کښ څهٔ څهٔ خبرے درننویستی دی - زهٔ به اووایم - لرے کړئ لرے کړئ دا سے کسان چه ما نه پس ئې په دین کښ کے زیاتے کړے دے. ( بخاری ومسلم ) په مینځ کښ روایت یعنی دریم خپله د بخاری نه لیکلے شوے دے. باقی د مشکوٰة نه لیکلی شوی دی. ( یعنی مشکوٰة کښ د بخاری ومسلم روایات دی ) په دے کښ د حضورؐ د زص و او سحر نه متأثر کیدل او د هیر او خطا صادریدل ثابت دی. او په آخری روایت کښ د امت د څنی حالاتو نه کوم چه قیامت نه مخکښ شوی دی - د عمر تر آخره نهٔ خبریدل ثابتیږی - د کوم نه چه د کامل علم غیب نفی کیږی. او په دے روایت دا اعتراض هم نشی کیدے. چه دا د صحیح روایت معارض دے. په کوم کښ چه دیلی شوی دی. چه د امت اعمال حضورؐ ته پیش کیږی - ځکه چه په صحیح کښ دا تصریح نشته. چه اعمالِ قلب او اعمالِ ظاهری وارهٔ غټ توله به پیش کیږی. کیدے شی چه څنی دقیق مفاسد د عقائدو او اعمال نهٔ وی پیش شوی - او بالفرض له توله پیش شوی وی. نو بیا دا ضروری نهٔ ده - چه حفوئ ته د توله یاد وی - ورنه بیا د امتی د شناخت د پاره دا اودس د اندامونو د روښانه کولو څهٔ ضرورت وو. ځکه په اعمالو پیش کید و کښ خو مونځ اودس توله داخل دی - نو دے باندے خبریدل او دا یاد پاتے کیدل

پیژندګلوي د پاره کافي دي.
په دې بنه پوهه شوي چه دا خبره چه يَعْلَمُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّ حَادِثٍ مطلقًا يا الى يوم القيامة. ختم شوه. دا سې نور بې شماره روايات او آيات دي. کوم کښې چه د بشريت نور لوازمات لکه لوږه تنده. مرض او غضب يا د حقوق ځني داسې د واقع مطابق نه کيدل وارد دي. په دغه روايت کښې خپله د حضورؐ دا فرمان ذکر دې. چه زما په اوصافو بيانولو کښې د حد نه تجاوز مه کوئ. غرض دا چه کوم اوصاف چه روايات کښې ذکر دي. د هغې نفي کول او کوم چه ذکر نه دي. هغه ثابتول د دايره منع دي. تِلْكَ حُدُودُ اللهِ فَلَا تَعْتَدُوهَا وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ. (دا د الله تعالیٰ حدود دي ددې نه تجاوز مه کوئ. او څوک چه د الله د حدودو نه تجاوز کوي هغه ظالمان دي. (فاسقان دي)

# من القصيده

د تير فصل په تائيد کښې دا د قصيده برده يو څو اشعار دي

---

ظَلَمْتُ سُنَّةَ مَنْ أَحْيَى الظَّلَامَ إِلَى     أَنِ اشْتَكَتْ قَدَمَاهُ الضُّرَّ مِنْ وَرَمٍ

ما په خپل ځان ظلم او کړو. د هغې نبي د سنت په پرېښو چا چه په عبادت شپې ودنږې کړې تر دې چه د دواړه پښو ئې ډير څو ب تکليف برداشت کړو.

وَشَدَّ مِنْ سَغَبٍ اَحْشَاءَهٗ وَطَوٰی     تَحْتَ الْحِجَارَةِ كَشْحًا مُتْرَفَ الْاَدَمِ

اوچاچه دوېرے لوږے نه خپله خېټه مبارکه کلکه اوتړله - او په خپلو نرمو او نازکو تشو باندے ئے کاڼړی اوتړل چه ددے په وجه دلوږے احساس کم شی -

ددے دواړو خبرونه عبدیت او بشریت ثابت شو - یو د لوږے احساس او په لوږه قناعت او بل ټوله شپه عبادت کول او په مانځه کښې دومره اودرد قیام کول چه ښپے ئے اوپړسیدے -

دَعْ مَا ادَّعَتْهُ النَّصَارٰی فِیْ نَبِیِّهِمْ     وَاحْكُمْ بِمَا شِئْتَ مَدْحًا فِیْهِ وَاحْتَكِمِ

هغه دعوے پرېږده کوم چه عیسایانو دخپل نبی متعلق کړی دی - یعنی خدائی اوصاف ورته مهٔ ثابتوه - بنده ئے گڼړه - نور چه کوم اعلی اوصاف ئے بیانولے شی - هغه بیانوه او په دے مضبوط اوسه - یعنی هغه خدائے نهٔ دے بنده دے - خو یو عام بنده نهٔ دے - افضل الخلائق دے -

یَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا     عَلٰی حَبِیْبِكَ خَیْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمِ

# څلوردیرشم فصل

## په امت باندے دحضوؐر درحمت اوشفقت په بیان کښ

تر اوسه خو دحضوؐر ذاتی جمال وکمال بیان شو - اوس دا کتل هم ضروری دی - چه دحضوؐر خپلو غلامانو سره تعلق څنگه وو - بیا غلامان هم هغه چه دحضوؐر ئے هیڅ خدمت نهٔ وو کړے - نهٔ

ئے څهٔ فائده ور رسولې وه -

**دریم روایت** = حضرت عائشهؓ نه روایت دے چه یو ځل ټوله شپه په یو آیت بار بار لوستو تیره کړې وه - په شمائل ترمذی کښې دغه شان یو روایت ابو عبید د حضرت ابو ذر غفاریؓ نه هم کړے دے - خلقو ابو ذرؓ نه تپوس اوکړو - هغه کوم آیت وو - هغه اوویل هغه دا آیت وو - اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَاِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ - (که ته ئے سزا ورکوے نو ستا بندیان دی ته قادر ئے سزا ورکولے شے - او که معاف ئے کړے نو ته غالب ئے د حکمت خاوند)

**ف** = په دے کښې د خپل امت د پاره د مغفرت سوال دے -

**دویم روایت** = عباس بن مرداسؓ نه روایت دے چه حضورؐ خپل امت د پاره دعا ئے په ماښام دعا اوغوښته - نو هغه دا سے قبوله شوه - چه ارشاد اوشو - ټول ګناهونه به درته معاف کړم - خو حقوق العباد نهٔ معاف کوم - د ظالم نه به د مظلوم حق ضرور وصولوم - حضورؐ عرض اوکړو - یا الله که ته اوغواړے مظلوم ته د هغهٔ د حق په بدل کښې د جنت نعمتونه ورکړے چه ظالم ته خپل حق معاف کړی - نو په دے ماښام دا دعا منظوره نشوه - په مزدلفه کښې سحر ئے بیا دا دعا اوغوښته - نو بیا منظوره شوه - نو حضورؐ موسکے شو - ابو بکرؓ و عمرؓ عرض اوکړو - یا رسول الله په تا دِ زمونږ مور پلار قربان وی - الله تعالیٰ دِ تاسو همیشه خوشال لری - په څهٔ پورے مو اوخندل په دے وخت کښې خو څهٔ دا سے

کار نهٔ دے شوے ۔ حضورؐ اوفرمایئل ۔ زمونږ ازلی دشمن ابلیس لعین ته چه معلومه شوه چه الله تعالیٰ زما دعا قبوله کړه۔ او زما دامت گناهونه ئے معاف کړل۔ نو په سر ئے خاورے واچولے او ژړا فریاد ئے اوکړو۔ دهغهٔ په دے پریشانئ پورے خندا راغله (ابن ماجه او بیهقی هم په کتاب البعث والنشور کښې دے ته قریب قریب یو روایت کړے دے ۔ مشکوٰة)

**ف** = شاه ولی الله په لمعات کښې لیکلی دی ۔ چه دے نه مراد هغه حقوق العباد دی ۔ چه بنده د دے حق ادا کولو پخه اراده کړی وی خو په څهٔ وجه ئے پوره نکړے شی ۔ نو الله تعالیٰ به دهغهٔ حقدار خپل طرف نه دجنت په نعمتونو راضی کړی ۔

**دریم روایت** = حضورؐ چه طائف ته تشریف وړے وو ۔ او هلته ورته کافرانو ډیر تکلیف رسولے وو ۔ ددے واقعے په ذکر کښې لمعات کښې روایت دے چه جبریل علیه السلام د غرونو د فرشتے سره دحضورؐ په خدمت کښې حاضر شو ۔ عرض ئے اوکړو ۔ که ستاسو اجازت وی چه داټول کافران هلاک کړم ۔ حضورؐ اوفرمائل ۔ نه ۔ امید دے چه د دوئ په نسل کښې داسے کسان پیدا شی ۔ چه دتوحید اقرار اوکړی ۔

**څلورم روایت** = حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے چه حضورؐ فرمائلی دی ۔ زچه ما سره ډیر محبت کوونکی څنی کسان به ما نه پس وی چه هغو کښې هر یو به دا غواړی چه د اهل او مال په بدل کښې ما اووینی ۔ (مسلم) **ف** = یعنی که هغوئ ته اوو بیا شی ۔

چه که ټول اهل ومال قربانوئ نو د حضورؐ زیارت به مونصیب
شی - نو هغوئ به د ډېرۀ ته دے ته راضی شی-

پنځم روایت = حضرت عائشہؓ نه روایت دے چه حضورؐ فرمائلی
دی - یا الله زۀ بشر یم - نو د نورو بشریانو غوندے غصه راځی.
نو که زۀ چا مؤمن ناریینه یا زنانه ته په غصه کښی بنیرے اوکړم -
نو یا الله ته دا بنیرے د هغهٔ د پاره د پاکئ ، د گناهونو د معافئ
ذریعه کړے .(مسند احمد) از رحمة المهداة )

شپږم روایت = حضرت ابوهریره نه روایت دے - چه حضورؐ
فرمائلی دی - کاش چه ما هغه رونړه لیدلے دے - اصحابو عرض
اوکړو - یا رسول اللهؐ ستا خو رونړه نهٔ وو - هغوئ اوفرمائیل تاسو
خو زما دوستان یئ - زما رونړه هغه خلق دی یعنی هغه مؤمنان
دی - کوم چه لا پیدا شوی نهٔ دی - (مسلم)

ف = فائده - دوست سره مینه لیدلو او ملگرتیانه پس کیږی.
او ورور سره مینه نظری ده - هغې ته د ملاقات ضرورت نشته -
ځکه ئے اصحابو ته دوستان او ورستو مؤمنانو ته ئے ورونړه
اوفرمائل - نو هغوئ ته ورور ویل په اعتبار د وقوع د حالت د
محبت سره دی - چه هغې امت سره مینه بے لیدو ده - د ورور په
شان - او اصحابو سره مینه په لیدو او مجلس کښی کیناستو پیدا
شوی ده - د دوستانو په شان - نو د دے قول په وجه د غیر
صحابی په صحابی فضیلت نهٔ لازمیږی - ځکه چه دا صحابو استعداد
داسے وو - که هغوئ د حضورؐ زیارت نهٔ وے کړے هم د سره به ئے

مونږ نه زیاته مینه ده۔

**ادوم روایت**: ابو جمعه نه روایت دے۔ چه یو ځل حضرت ابو عبیده بن الجراح عرض اوکړو۔ یا رسول اللهؐ مونږ نه بهتر هم څوک شته۔ مونږ ایمان راوړو او جهاد مو اوکړو۔ حضورؐ اوفرمائل اویو قوم به تاسو نه پس راشی دی۔ چه په ما به ایمان راوړی اوزهٔ به ئے لیدلے نه یم۔ هغه تاسو نه بهتر دی۔ (احمد و دارمی)

**ف**: دابهتری هم دیو خاص عارض په وجه ده۔ څهٔ د حقیقی صفت په وجه نهٔ ده۔ بیا دا هم د اصحابو په برکت حاصله شوی ده۔ چه هغوئ مونږ ته د دین احکام او د حضورؐ د ژوند حالات دومره تفصیل سره را اورسول۔ او د دین د اشاعت دپاره ئے هر قسم سختئ برداشت کړی او ډیرے قربانئ ئے ورکړی دی۔ نو په هغوئ زمونږ فضیلت نهٔ لازمیږی۔

**ف**: د دے فصل دځنی روایاتو نه د ټول امت اجابت چه مؤمنان دی۔ او دځنو نه د ټول امت دعوت چه کافران هم پکښی شامل دی۔ د حضورؐ شفقت او محبت ثابتیږی۔ او د ځنی روایاتو نه راتلونکی امت سره شفقت او محبت ثابتیږی۔ لکه څلورم روایت او ځنو نه د دوستو راتلونکی امت مدح او د هغوئ محبوبیت څرګندیږی۔ لکه شپږم او ادوم روایت او په قیامت کښی د امت شفاعت کول او امت دپاره دعاګانے غوښتل خو بے شماره احادیث دی۔ څهٔ په یوکم دیرشم[۲۹] او دیرشم[۳۰] فصل کښی بیان شوی دی۔ د دے فصل غرض به د راتلونکی فصل په تمهید

کېږي بیان شي۔

# مِنَ الْقَصِیْدَة

## د قصیده برده ځینو اشعار دي

بشری لنا معشر الإسلام إن لنا … من العنایة رکنا غیر منهدم

اے د مسلمانانو ډلے موږ دپاره خو شخبري ده۔ چه موږ دپاره د الله تعالیٰ د خاص رحمت یو ځکمه ستنه ده۔ چه چېرې پرېوتونکي نه ده۔ تر قیامته به قائمه وي۔ یعنی زموږ دین منسوخ کېدونکی نه دے۔ لکه د نورو ادیانو۔

لما دعی الله داعینا بطاعته … بأکرم الرسل کنا أکرم الأمم

هر کله چه الله تعالیٰ زموږ رسول ﷺ څوک چه موږ د الله اطاعت ته بلي د اکرم الرسل خطاب ورکړو۔ نو موږ هم اکرم الامم شو۔

إن آت ذنبا فما عهدي بمنتقض … من النبي ولا حبلي بمنصرم

که ما نه څه ګناه اوشي نو په دے زما د خپل نبي سره تعلق نه ختمیږي او د امید رسۍ مې نه شلیږي۔ یعنی د حضور د شفاعت نه محروم کېږم نه۔ دا د الله تعالیٰ خاص عنایت دے چه زموږ نبي به د ګنهګارو شفاعت کوي۔

حاشاه أن یحرم الراجي مکارمه … أو یرجع الجار منه غیر محترم

الله تعالیٰ خپل محبوب د دے عیب نه پاک کړے دے۔ چه د هغهٔ نه امید لرونکے د هغهٔ د عنایاتو نه محروم پاتے شي۔

یا د هغه پناه غواړي سبتو ته په عزت ته واپس شي ۔

یَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا عَلٰی حَبِیْبِکَ خَیْرِ الْخَلْقِ کُلِّهِمِ

# پنځه دیرشم فصل

## په دې کښې چې د امت په ذمه د حضور ﷺ څه حقونه دي

ټولونه غټ حق حضور ﷺ سره مینه او د حضور ﷺ د سنت تابعداري ده په اصولو او فروعو ټولو کښې یا د لوئي ۔ د چا سره د محبت تقاضا دا ده چه د هغه تابعداري اوشي ۔ او د چا سره محبت په درې وجې کیږي ۔ کمال[۱] جمال[۲] نوال[۳] ۔ یعنې یا په هغه محبوب کښې څه داسې کمال وي ۔ چه د هغې په وجه محبوب شوې وي ۔ لکه یو ډیر بهادر بنده چه د هغې چا خوښ وي ۔ یا ډیر لوئې عالم ۔ یا په یو خاص فن کښې ډیر ماهر ۔

دویم[۲] جمال دې ۔ یعنې ډیر ښائست ۔

دریم[۳] نوال یعنې سخاوت او د چا سره احسان او ښیګړه کول ۔ چه بنده همیشه د خپل محسن سره مینه کوي ۔ نو په رسول الله ﷺ کښې دا درې واړه صفتونه انتهائي کامل درجه کښې موجود دي ۔

۱ ۔ د نبي کریم ﷺ د اعلیٰ کمالاتو او اعلیٰ اخلاقو د ذکر نه خو دا ټول کتاب ډک دې ۔

۲ ۔ د حضور ﷺ د حسن ذکر په یو ویشتم فصل کښې بیان شوې دې ۔

۳ ۔ په دې پنځه دیرشم فصل کښې خاص دا دریم وصف بیانول مقصود دي ۔ نو ځکه چه دا درې واړه اوصاف د حضور ﷺ په ذات کښې

په کامله درجه کښې موجود دی۔ نو صحابو سره محبت فطری دے
د سلیم فطرت تقاضه ده۔ نو ټول امت ته صحابو سره مینه پکار
ده۔ (کوم ته عشق ویلے شی) (هر امتی ته پکار دی چه عاشق رسول
دی) یعنی که د الله حکم نه دے۔ هم د طبیعت تقاضه داده۔ چه
هر امتی عاشقِ رسول دے۔ او دې خو قطعی نص موجود دے۔ او
د طبیعت او عقل تقاضه هم داده۔ نو او دې خو ئے د محبت ضروری
کیدل نور هم مؤکد شو۔

او د دے کتاب د لیکلو اصل غرض هم دا دے۔ چه مؤمنان
دے طرف متوجه شی۔ د عشقِ رسول حاصل کړی او د عشق
تقاضے پوره کړی۔ د عشق نه پس اتباع اسانه شی۔ بلکه اتباع
نه کول ناممکن شی۔ په کومه درجه کښې چه محبت وی۔ په هغې
درجه کښې به اتباع او نافرمانئ نه بچ کیدل وی۔ ظاهره ده
چه محبت علی سبیل الکمال (یعنی کامل محبت ضروری دے)۔ د غه
شان کامله اتباع هم ضروری ده۔ په دے کښې د هیڅ اختلاف
نشته۔ صرف یاد دهانئ د پاره د (مختصره تنبیهه ورکړے شوه۔
او دې د دے د نور تقویت د پاره یو څو روایات راوړے شی۔

**دریمه روایت**: د حضرت انس رض نه روایت دے چه حضور ﷺ فرمائلی
دی۔ په تاسو کښې هیڅوک مؤمن کیدے نشی۔ ترڅو چه ورته زۀ
د خپل ځان نه خپل اولاد نه او خپل مور پلار نه او ټول مخلوق نه
زیات محبوب نشم۔ (بخاری و مسلم)

**ف**: دا محبت د مقابلے په وخت کښې معلومیږی۔ یعنی که دا سے

موقع راشی۔ چه د حضورؐ د رضا او د دوی نورو د رضا مقابله راشی۔ نو چه کوم ته ترجیح ورکړے شی۔ هغه به زیات محبوب وی۔

**دویم روایت:** امام بخاری په کتاب الایمان والنذور کښې (یعنی قسم خوړل او منتونه منل) د عبدالله بن هشامؓ نه روایت دے چه حضرت عمرؓ عرض اوکړو۔ یارسول الله ته ماته د خپل ځان نه علاوه هر چا نه زیات محبوب ئې۔ یعنی خپل ځوان راته ډیر ګران دے۔ نور هر څه نه راته ته زیات محبوب ئې۔ حضورؐ اوفرمائیل۔ په تاسو کښې هیڅوک مؤمن کیدے نشی۔ ترڅو چه ورته زه د خپل ځان نه او هر څه نه زیات محبوب نشم۔ حضرت عمرؓ عرض اوکړو۔ زما دِ په هغه ذات قسم وی۔ چه په تا ئې کتاب نازل کړے دے۔ چه اوس راته ته د خپل ځان او هر څه نه زیات محبوب ئې۔ حضورؐ اوفرمائیل۔ بس اوس خبره سمه شوه۔

**ف:** حضرت عمرؓ اول طبعی محبت (یعنی محبت بلا سبب) د عقلی محبت یعنی محبت بالاسباب نه قوی ګڼړلے وو۔ ځکه ئې خپل ځان سره محبت نه زیات اوویئیل۔ بیا د حضورؐ په ارشاد چه ئې غور اوکړو۔ نو پوهه ئې شو۔ چه د قوی کیدو مدار په بله خبره دے۔ چه د هغې په وجه یو شے د ځان نه هم محبوب کیدے شی۔ هغه دا چه د مخلوق رضا په خپله رضا مقدمه کړی۔ دے ته چه ئې اوکتل۔ نو دا حقیقت ورته واضح شو۔ چه د حضورؐ په یو اشاره خو راته سر قربانول اسان دی۔ نو معلومه شوه چه د حضورؐ رضا راته د خپل نفس نه زیاته محبوبه ده۔ نو عرض ئې اوکړو۔ چه ته راته د خپل ځان

نه زیات محبوب ئے ۔ دمواهب په اوم باب کښې دنورو اصحابو
دعشق و محبت عجیبه عجیبه روایات نقل شوېدی۔

**دریم روایت** = حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے ۔ چه حضورؐ فرمائلی
دی ۔ زما ټول امت به جنت ته ځي ۔ مګرچاچه انکار اوکړو ۔ اصحابو
عرض اوکړو ۔ جنت ته تلو نه به څوک انکار اوکړي ؟ حضورؐ اوفرمائل
چاچه زما تابعداری اوکړه ۔ هغوئی به جنت ته لاړشي ۔ اوچاچه
زما د تابعدارئ نه انکار اوکړو ۔ هغه د جنت نه انکار اوکړو ۔ (بخاری)

**ف** = حضورؐ چه د سنت اتباع نه ګولو ته د جنت نه انکار اووئیل
نو دے نه ثابته شوه چه د سنت اتباع واجب ده ۔

**څلورم روایت** = حضرت انسؓ نه روایت دے ۔ چه حضورؐ فرمائلی
دی ۔ چاچه زما سنت سره مینه اوکړه ۔ هغه ما سره مینه اوکړه ۔
اوچاچه ما سره مینه اوکړه ۔ هغه به په جنت کښې وی ۔ (ترمذی)

**ف** = دے نه معلومه شوه ۔ چه د حضورؐ سره د مینې علامه د هغوئی
سنت سره مینه یعنی اتباع ده ۔ او دے نه د حضورؐ د محبت فضیلت
هم معلوم شو ۔ چه د جنت کنجی ده ۔ او په جنت کښې د حضورؐ سره
د قرب ذریعه هم ده ۔

**پنځم روایت** = حضرت عمرؓ نه روایت دے چه یو سړی ته حضورؐ
د شرابو څکلو په جرم کښې سزا ورکړه ۔ هغه بیله ورځ بیا په دے
جرم کښې حاضر کړے شو ۔ نو هغوئی بیا د سزا ورکولو حکم اوکړو ۔ په
حاضرینو کښې یو کس اووئیل ۔ په ده دې لعنت وی ۔ څومره ځله په
دے جرم کښې راوستے شو ۔ حضورؐ اوفرمائل په ده لعنت مه وائی

مانه معلوم دے چه الله او رسول سره مینه لری ۔ (بخاری)

**ف** : دے حدیث شریف نه څو خبرے ثابتے شوے ۔

۱ ۔ گنهګارو ته دا خوشخبری چه په ګناه د الله د رسول د محبت نه خارجیږی نه ۔

۲ ۔ دویم دا چه مینه او رحم وکرم څوک د سزا نه بچ کولے نهٔ شی ۔ نو څوک دِ دا خیال نهٔ کوی ۔ چه د اطاعت نه خالی تش محبت په برکت به څوک د دوزخ نه بچ شی ۔ البته د خلود فی النار نه بچ کیدے شی ۔ ځکه چه د دیانه دے لعنت ویلو ته ئے منع شوی ده ۔ یعنی د ملعون کید و چه کومه سزا ده ۔ همیشه دوزخ ۔ د خالی محبت په برکت به د خلود فی النار نه بچ شی ۔ د ګناه په اندازه سزا خوړلو نه پس به معاف کړے شی ۔

۳ ۔ دے نه د محبت فضیلت ثابت شو ۔ چه کمه درجه کښې محبت هم مفید دے ۔

۴ ۔ دا معلومه شوه چه د محبت په مراتبو کښې فرق شته ۔ چه یو ګنهګار ته هم او دیے شو ۔ چه دے الله د رسول سره محبت لری ۔ دے نه معلومه شوه چه که کامله تابعداری نهٔ وی ۔ نو اګرچه کامل محبت به نهٔ وی ۔ لیکن کامله نفی هم نهٔ ده ۔ کوم چه کفر دے ۔ بلکه کمه درجه کښې اطاعت سره ۔ کمه درجه کښې محبت باقی پاتے کیدے شی ۔

**پنځم روایت** : مسلمان که هر څو مره ډیر ګنهګار وی ۔ خو لعنت ویل په جائز نهٔ دی ۔ دے نه د الله د رسول د محبت عظمت ثابت شو ۔

چه لږ غوندې محبت کوم چه د ګناه نه پس باقي دې. هغه هم دومره
مفيد شو چه د لعنت نه (يعنې د الله د رحمت نه محرومېدو) نه
ئې بچ کړو.

جرعۀ خاک آميز چوں مجنوں کند
صاف گر باشد ندانم چوں کند

په خاورو لړلې يو ګوټ چه ئې بنده ليونې کوي
که صفا وي نۀ پوهېږم چه څنګه به وي

# لغت

د شاه عبدالعزيز محدث دهلوي

يَا سَائِرًا نَحْوَ الْحِمٰى بِاللّٰهِ قِفْ فِيْ بَانِهٖ — وَاقْرَأْ الطَّوَامِيْرَ الْجَوٰى مِنِّيْ عَلٰى سُكَّانِهٖ

اې سبزه زار ته تلونکيه ستا دِ په الله قسم وي د هغۀ په بڼو کښې حصار شه. او زما د طرفه د هغې او سېدونکو ته زما د غم حالات داورو ه.

اِنْ يَّسْئَلُوْا عَنْ حَالَتِيْ فِي السُّقْمِ مُنْذُ فَقَدْتُّهُمْ — فَالْقَلْبُ فِيْ خَفَقَانِهٖ وَالرَّأْسُ فِيْ دَوَرَانِهٖ

که د ما د بيمارئ ئې د ر ته تپوس او کړو. نو کله نه چه هغوئ نه جدا شوې يم. په زړۀ مې تيارۀ ده. او سر را باندې ګرځي.

اِنْ تَتَّشُوْا عَنْ دَمْعِ عَيْنِيْ بَعْدَهُمْ قُلْ حَاكِيًا — كَالْغَيْثِ فِيْ تَهْتَانِهٖ وَالْبَحْرِ فِيْ هَيَجَانِهٖ

که د ما د سترګو نه د او ښکو تپوس د ر نه او کړي نو ور ته او وايه. لکه د باران ورېدې او لکه د سمندر په چپو دي.

لَا يَنْتَهِيْ مَا جَرٰى مِنْ شَوْقِ حُبِّ الْمُصْطَفٰى     حَالَاتُهٗ فِيْ قَلْبِهٖ وَحَدِيْثُهٗ بِلِسَانِهٖ

لیکن سره د دے حالت د مصطفیٰ ﷺ په عشق کښې ډوب دے. د هغه خیال ئې په زړه کښې دے. او د هغه احادیث ئې په ژبه وی. (سره د بیمارئ او پریشانئ د احادیثو د درس نه غافل شوے نه دے)

وَلَطَالَمَا يَدْعُوْ مُلِحًّا فِي الدُّعَاءِ مُبَالِغًا     لِيَطُوْفَ فِيْ بُسْتَانِهٖ وَيَشُمَّ مِنْ رَيْحَانِهٖ

او ډیر موده راسې په ډیره عاجزئ او زارئ دا دعا غواړی. چه ستا د باغ طواف او ستا د ګلونو خوشبوئ ئې نصیب شی.

يَا مَنْ تَفَوَّقَ أَمْرُهٗ فَوْقَ الْخَلَائِقِ فِي الْعُلَا     حَتّٰى لَقَدْ أَثْنٰى عَلَيْكَ اللّٰهُ فِيْ قُرْاٰنِهٖ

اے هغه پاک ذاته چه اوچته شوه د هغه مرتبه د ټول مخلوق نه پورته په اعلیٰ اخلاقو کښې تر دے چه خپله الله تعالیٰ په خپل قرآن کښې د هغه صفت اوکړو.

صَلّٰى عَلَيْكَ اللّٰهُ اٰخِرَ دَهْرِهٖ مُتَفَضِّلًا     مُتَرَحِّمًا وَحَبَاكَ أَنْعُمَ عَوْدِهٖ مِنْ إِحْسَانِهٖ

الله تعالیٰ دِ په تا باندے خپل خاص رحمت نازل کړی د زمانے تر آخره پورے. او د څومره نعمتونو چه تا سره وعده کړی هغه ټول دِ درکړی.

# شپږ دیرشم فصل

## چه د حضور ﷺ عزت و احترام او ادب واجب دے

دا فصل هم د مخکینی فصل سره پیوست دے. په امت باندے چه د حضور ﷺ کوم حقوق دی د حضور ﷺ تعظیم او ادب هم په هغې حقونو کښې یو مزدی حق دے.

په دې باب کښې يو څو آيتونه او يو څو روايات نقل کول کافي دي۔

**اول آيت** = د سورت توبه آيت دے۔

مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ وَلَا يَرْغَبُوا بِأَنْفُسِهِمْ عَنْ نَفْسِهِ ط

(د مدينې او سيدونکو او ورته چاپيره بانډو او سيدونکو ته جائز نهٔ دي چه جهاد کښې حضورؐ نه پاتے شي۔ او خپل ځانونه ورته د حضورؐ نه زيات خوارهٔ شي)۔

**دوېم آيت** = په سورتِ نور کښې ارشاد دے۔

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَىٰ أَمْرٍ جَامِعٍ لَمْ يَذْهَبُوا حَتَّىٰ يَسْتَأْذِنُوهُ ۔ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ فَأْذَنْ لِمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللَّهَ ط إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ۝ لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا ط

**درېم آيت** = سورت احزاب کښې ارشاد دے۔

وَمَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا أَنْ تَنْكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِنْ بَعْدِهِ أَبَدًا ط إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمًا ۝

الى قوله تعالىٰ = إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُهِينًا ۝

**څلورم آيت** = سورتِ فتح کښې ارشاد دے۔

إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ
وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُ ۚ وَتُسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ۝

**پنځم آیت** = په سورت حجرات کښې ارشاد دے.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ۖ وَاتَّقُوا
اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ۝ الی قوله تعالیٰ - وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا
حَتَّىٰ تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝

ددے آیتونو خلاصه دا ده. ۱ چه په مدینه کښې اوسیدونکو خلقو ته اوکوم بانډے چه ورسره نژدے دی - دهغې اوسیدونکو ته جائز نهٔ دی - (چه دجهاد په سفر کښې) رسول الله ته دوستو پاتې شی - او نهٔ ورته دا جائز دی چه خپل ځان دحضور ته خوږ شی - ۲ بس مسلمانان خو هم هغه دی - چه په الله او په رسول الله ایمان راوړی - او چه رسول الله ﷺ دځهٔ دکار دپاره راغونډ کړی - نو که د تلو ضرورت ورته پیښ شی چه حضور ته اجازت اوغواړی - او څو پورے چه اجازت نهٔ دی ورکړے شوے. مجلس نه نهٔ پاسی - نو چه مؤمنان ځهٔ کار دپاره اجازت اوغواړی نو ته چه چا ته مناسب ګڼړے اجازت ورکړه - او په اجازت تلو نه پس هم هغوئ دپاره الله تعالیٰ نه معافی غواړه - بیشکه الله تعالیٰ معافی ورکوونکے مهربان دے - رسول الله چه تاسو دځهٔ اسلامی ضرورت دپاره راجمع کوی - نو دا دحضور بلنه د راتے معمولی بلنه مهٔ ګڼړئ - لکه تاسو چه خپلو کښې یو بل ځهٔ کار دپاره رابلئ. چه که څوک راغلو او که رانغلو - یا که راغلو هم نو چه کله ئې

زړهٔ او غواړی بې اجازته مجلس نه پاسی لاړشی.

۵۳ = تاسو ته جائز نهٔ دی چه رسول الله ته تکلیف اورسوئ.
(دا تکلیف یواځ په یې ض درته کیناستو پورے نهٔ دے). (لکه چه دد شان نزول دے) بلکه عام دے. یعنی په هیڅ کارکښی حضورؐ ته تکلیف رسول جائز نهٔ دی. او نهٔ دا جائز دی چه د هغوئ د وفات نه پس د هغی د کوښو د بیبیانو سره څوک نکاح اوکړی. دا د الله په نزد ډیره د ګناه خبره ده. (او څنګه چه دا نکاح جائز نهٔ ده. د غه شان د دوی سره د نکاح خبره کول یا په زړهٔ کښی دا اراده کول هم ګناه ده) نو که تاسو دد متعلق په خوله څهٔ اووائ. خپله اراده ظاهره کړئ. یا ئې په زړهٔ کښی پټه اوساتئ نو الله تعالیٰ په دے دواړو خبر دے. هغه په پټ اوڅرګند دواړو یو شان خبر دے.
تاسو ته به سزا درکړی.

او مخکښی آیتونو کښی چه د حجاب کوم حکم نازل شوے دے.
د هغې نه څنی مستثنیٰ هم دی. یعنی د خپلو پلارانو او ځامنو او رونړو او وریرونو او خوریونو نه حجاب نشته. د هغوئ مخ ته بې پردے راتلے شی. او د مسلمانانو ښځو نه او د خپلو وینځو نه هم حجاب نشته. او اے د پیغمبر بیبیانو د شریعت د احکامو په تعمیل کښی الله نه ویریږئ. چه څهٔ نافرمانی درته اونشی. بیشکه الله تعالیٰ حاضر ناظر دے. ستاسو په هر کار خبر دے. الله تعالیٰ او د هغهٔ فرشتے په رسول الله صلوٰة وسلام وائی. نو اے مؤمنانو تاسو هم په خپل رسول صلوٰة وسلام ډیر ډیر دائ. او د هغهٔ د

عظمت حق ادا کوئ۔

۳۔ بیشکه څوک چه الله و رسول الله ته تکلیف رسوی الله تعالیٰ په دنیا او آخرت کښ خپل رحمت نه محروم کوی۔ او هغوئ د پاره ذلیل کوونکے عذاب تیار دے۔

۴۔ اے محمدؐ مونږ ته د قیامت په ورځ د امت په اعمالو گواه کړے ئے عموماً۔ او خصوصاً په دنیا کښ مسلمانانو ته په نیکو اعمالو د جنت زیرے ورکوونکے او نافرمانو ته د الله د عذاب نه ویروونکے استولے ئے۔ او اے مسلمانانو مونږ تاسو ته خپل رسول دے د پاره رالیږلے دے۔ چه تاسو په الله او د هغهٔ په رسول ایمان راوړئ۔ او د الله د دین امداد اوکړئ۔ او د الله تعظیم اوکړئ۔ عقیدةً هم چه موصوف په صفات کمالیه ئے اوګڼړئ او هر قسم نقص نه ئے پاک اوګڼړئ۔ او عملاً هم۔ چه د هغه اطاعت اوکړئ۔ او سحر او ماښام د هغهٔ حمد وائ او پاکی ئے بیانوئ۔

۵۔ اے ایماندارو په څهٔ کار یا خبره کښ د الله و رسول د قول نه مخکښ کیږئ مه۔ یعنی څو پورے چه درته اجازت نهٔ وی شوے۔ څهٔ کار یا خبره مهٔ کوئ۔ او الله نه ویریږئ هغه د تاسو ټولے خبرے اوری۔ او د تاسو ټول کارونه وینی۔

اے ایماندارو تاسو خپل آوازونه د پیغمبر د آواز نه مهٔ اوچتوئ۔ او مهٔ ورسره د اسے بے تکلیفه خبرے کوئ۔ څنګه چه یو بل سره کوئ هسے نه چه ستاسو اعمال برباد شی۔ او تاسو خبر هم نهٔ شئ یعنی

دهغوئ مخکښې خپلو کښې هم په اوچت آواز خبرې مه کوئ - او حضورؐ سره هم په اوچت آواز خبرې مه کوئ - بلکه په ادب او احترام خبرې کوئ -) د رسول الله ؐ مخکښې په اوچت آواز خبرې کول بے ادبي او ګستاخي ده. په دے طبعاً تکلیف رسي - او حضورؐ ته تکلیف رسولو باندے اعمال بربادیږي - اګرچه په نورو ګناهونو نیک اعمال نهٔ بربادیږي - لیکن حضورؐ ته تکلیف رسول دے نه مستثنیٰ دي - دا یو داسے ګناه ده - چه په دے باندے نیک اعمال بربادیږي - البته کله کله چه طبیعت آزادوي نو په داسے خبره تکلیف او نهٔ رسي - نو داسے وخت کښې به اعمال هم نه بربادیږي - لیکن بلچا ته خو د دے پته نهٔ لګي چه هغوئ ته تکلیف اورسید و که نه - نو دے نه به هم خبر نشي چه اعمال ئے برباد شو که نه - ځکه د مطلق اوچت آواز نه منع اوکړے شوه. دا خو ترهیب شو - یعني په اوچت آواز خبرو ته ویرول - مخکښې ترغیب دے - یعني په ادب خبرو کولو صفت دے - بیشکه خوک چه رسول الله مخکښې خپل آوازونه ټیټ ساتي - بیشکه دا هغه خلق دے - چه الله تعالیٰ د دوئ زړونه تقویٰ دپاره خاص کړي دي - یعني د دوئ زړونه د الله و د رسول د خوف نه ډک دي - یعني دوئ کامل متقیان دي - لکه حدیث شریف دے - لَا يَبْلُغُ الْعَبْدُ اَنْ يَّكُوْنَ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ حَتّٰى يَدَعَ مَالَا بَأْسَ بِهٖ حَذَرًا لِمَا بِهٖ بَأْسٌ - (بنده متقي کیدے نشي تردے چه پریږدي هغه څیزونه چه څهٔ حرج پکښې نهٔ وي. د هغې څیزونو نه بچ کیدو دپاره کوموکښې چه حرج وي - نو د رفع صوت یو فرد في نفسه غیر ذی بأس وو - کوم کښې چه ایذا نهٔ دی - او

یو فردئے ذی باس دو۔ کوم کښی چه ایذا دی۔ نو چا چه مطلق رفع صوت ترک کړو۔ هغه د ذی باس د ویرے هغه هم ترک کړو۔ کوم چه ذی باس نه دو۔ نو کامل متقی شو۔ دریم دهغوئ دپاره اخروی اجر ذکر دے۔ چه دے خلقو دپاره مغفرت او اجرِعظیم دے۔ څوک چه حجی ونه بهر حضورؐ ته آوازونه ورکوی۔ دوئ کښی عقل نشته۔ چه ادب ئے کړے وے۔ که دوئ دومره انتظار کړے وے۔ چه حضورؐ خپله بهرته راوتے وے۔ نو دا دوئ دپاره بهتره وه۔ ځکه چه داد ادب خبره ده۔ او که دوئ اوس هم توبه اوباسی۔ (چه بیا به داسے نه کوو) نو الله تعالیٰ معاف کوونکے مهربانه دے۔

## روایات

**دریم روایت** = سنن ابوداؤد په کتاب الحدود کښی د ابن عباسؓ روایت دے۔ چه دیو نابینا صحابی یوه وینځه وه۔ غیرمسلمه۔ هغه به دحضورؐ په شان کښی گستاخی کوله۔ هغه صحابی به منع کوله خو هغه نه منع کیدله۔ یوه شپه هغه څه ډیره گستاخی اوکړه۔ هغه صحابی ته غصه ورغله۔ چاړه ئے دهغه په خیټه کیښوه۔ زور ئے ورکړو۔ مړه ئے کړه۔ سحر هغه دربار کښی حاضر شو۔ اقرار ئے اوکړو۔ چه ما قتل کړی ده۔ او ټوله واقعه بیان کړه۔ حضورؐ اوفرمائیل ددے خون برباد دے۔ ددے قصاص یا دیت نشته۔

**ف** = دے نه ددے صحابی دمحبت جوش او ادب ثابتیږی۔ او دا قتل منائع کول۔ سیاستهً او زجراً دو۔ چه په چهرداسے گستاخی کول چه دهغه په مذهب کښی هم جائز نه ده۔ او بار بار کول

د هغې د سرکشۍ او د اسلام د توهین کولو دلیل دے۔ په دے وجه دا
واجب القتل وه۔ نو قصاص یا دیت ئې څکه نهٔ وو۔

**دویم روایت** : امام بخاری د صلح حدیبیهٔ په یو طویل حدیث کښې روایت کړے دے۔ چه د مکے معظمې یو سردار عروه بن مسعود (د چا په نګرانۍ کښې چه د معاهده لیکل شوه) چه مکے ته واپس لاړو نو قریشو ته ئې اوویل۔ اے زما قومه ما ډیر دربارونه لیدلے دی۔ د قیصر د کسرٰی او نجاشی درباورنو ته لاړیم۔ د بادشاهانو دربارونه م لیدلی دی۔ والله دیو بادشاه مصاحبان یعنی دربار کښې ناست وزیران او امیران یو هم د خپل بادشاه دومره عزت او احترام نهٔ کوی۔ څومره چه د محمدؐ اصحاب د هغهٔ کوی۔ که هغه تو کاڼړی توکی نو د هغهٔ اصحاب ئې زمکے ته نهٔ پریږدی۔ په لاس کښې ئې نیسی۔ او په خپلو مخونو او بدن ئې مږی۔ که هغه څهٔ حکم اوکړی۔ نو د هغې په تعمیل کښې یو بل ته مخکښې کیږی۔ چه هغه اودس کوی۔ نو اصحاب ئې هغه اوبهٔ زمکے ته نهٔ پریږدی۔ د هغې اوبو په لاس کښې رانیولو ته دیو بل نه مخکښې کیږی۔ داسے ښکاری چه یو بل سره به په جنګ اوکړی۔ چه هغه خبرے کوی نو هغې اوریدو ته ټولو غوږ ایښے وی۔ او داسے خاموشی وی لکه چه د ټولو په سرونو مرغۍ ناستے وی۔ چه که حرکت کوی دا به والوزی۔ او چه هغوئ سره څوک خبره کوی نو په رو رو او غلی آواز کوی۔ هغهٔ طرف ته څوک نیغ نیغ ګوری هم نه۔ **ف** : دے نه معلومیږی چه اصحابو د حضورؐ څومره ادب او احترام کولو۔

**دریم روایت** = امام احمدؒ د براء بن عازبؓ نه روایت کوي چه موږ حضورؐ سره د یو انصاري په جنازه کښې شریک شو. قبرته اورسیدو. مګر لا قبرته کوز کړے شوے نه ؤ. لحد تیاریدو کښې ئې انتظار وو. حضورؐ کیناستو موږ ورته چارچاپیره داسې غلي په آرام کیناستو لکه زموږ په سرونو چه مرغۍ ناسته وي. (یعنی ډیر غلي خاموش)

**ف** = اصحاب به د حضورؐ په مجلس کښې همیشه داسې خاموش ناست وو. د ډیر ادب او احترام په وجه. په دے باب کښې بے شماره احادیث موجود دي. عالمانو تصریح کړې ده. چه دا ادب بعد الوفات هم باقي دے. په مواهب کښې لیکلي دي چه هر کله حضورؐ مخکښې په اوچت آواز خبرے جائز نه دي. د اعمالو د بربادیدو موجب دي نو خپل خیالات او خواهشات د هغوئ په سنت زیاتولو متعلق مو څه خیال دے. او چه د هغوئ د مجلس نه بے اجازته پاسیدل جائز نه دي. نو د هغوئ د شریعت د حدودو نه وتل او د سنت خلاف کول څنګه جائز کیدے شي. او عالمانو لیکلي دي. چه څنګه د حضورؐ مخکښې رفع صوت جائز نه دے. دغه شان د هغوئ د کلام احادیثو په درس کښې هم په اوچت آواز خبرے کول جائز نه دي. دغه شان د قبر مبارک سره نزدے هم په زوره خبرے کول منع دي.

مواهب کښې یو واقعه نقل شوې ده. چه امیر المؤمنین ابو جعفر په مسجد نبوي کښې د امام مالکؒ سره په څه خبره بحث شروع کړو. آوازے اوچت شو. نو امام مالکؒ ورته اوویل امیر المؤمنین په تا څه اوشو. چه مسجد نبوي کښې دومره په

اوچت آواز خبرې کوے. د حضورؐ احترام د وفات نه پس هم باقی دے. نو هغه غلے شو. د دے تائید د حضرت عمرؓ د یو ارشاد نه هم کیږی. چه یو ځل د طائف یو دوو کسانو خپلو کښې په اوچت آواز خبرې کولے نو هغه منع کړل. او ورته ئے اوویل که ستاسو د میلمستیا لحاظ نه وے نو اوس به مې د کوړړو سزا درکړې وه) (بخاری باب المساجد)

نو د نبی کریمؐ د نوم مبارک، د قبر مبارک او د کلام مبارک او د احکامو ټولو احترام واجب دے. او د دے احترام د احکامو نه یو حکم دا هم دے چه د هغوئ په ظاهری تعظیم کښې د حد نه زیاتے اونشی. مثلاً د هغوئ په احترام کښې د بل نبی یا د الله تعالیٰ بے ادبی اونشی. لکه چه د څلورم او پنځم روایت نه ثابته ده.

**څلورم روایت** = حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے. چه د یو یهودی او مسلمان جګړه وه. مسلمان اوویل زما د قسم وی په هغه ذات چه حضرت محمدؐ ئے اکرام الخلائق کړے دے. یهودی اوویل زما قسم وی په هغه ذات چه موسیٰ علیه السلام ئے په ټول عالم مکرم کړے دے. په دے خبره هغه مسلمان دے یهودی ته په مخ څپړ ورکړو. هغه لاړو د حضورؐ دربار کښې ئے شکایت اوکړو. هغوئ تحقیق نه پس اوفرمائل. ما ته په موسیٰ علیه السلام د اسے ترجیح مه راکوئ. چه د هغه بے ادبی ورکښې کیږی. لکه چه اکثر د بحث په وخت کښې خبره بے ادبئ ته رسی. (بخاری)

**پنځم روایت** = حضرت جبیر بن مطعمؓ نه روایت دے. چه یو بانډیې راغلو. عرض ئے اوکړو. یا رسول الله مونږ سخت مصیبت کښې ګیر

یو۔ بال بچ مو د لوږے مړی ۔ مالونه د لوږے تندے نه هلاک شو۔ (یعنی د قحط په وجه) تاسو الله ته د باران سوال اوکړئ ۔ مونږ الله تعالیٰ ته تا شفیع کوو۔ او تا ته الله تعالیٰ شفیع کوو۔ نو حضورؐ په دے خبره ډیر پریشان شو۔ څو ځله ئې سبحان الله سبحان الله اوویل ۔ صحابو د حضورؐ د مخ مبارک رنګ تغیر اولیدو نو هغوی هم پریشان شو۔ حضورؐ اوفرمائیل کم بخته د الله تعالیٰ شان ډیر عظیم دے۔ هغه چا ته سفارش نهٔ کوی ۔ (ابو داؤد)

ف : اګرچه کله کله سفارش کوونکے چا ته چه سفارش کوی هغهٔ نه عظیم هم وی ۔ لکه د بریرهٔ په حدیث کښې چه حضورؐ د مغیث متعلق اوفرمائیل چه دا حکم نهٔ دے۔ زهٔ درته د مغیث سفارش کوم ۔

لیکن د شفاعت د لوازمو نه دا دهٔ چه شفیع خپله د هغه کار پوره کولو نه عاجزه وی ۔ او چا ته چه سفارش کوی ۔ هغهٔ ته محتاج وی ۔ او د عجز و احتیاج احتمال هم د الله تعالیٰ په شان کښې محال دے۔ نو په دے عنوان کښې اګرچه د حضورؐ ډیر تعظیم وو ۔ لیکن د الله تعالیٰ په شان کښې بے ادبی وهٔ۔ ځکه د حضورؐ رنګ بدل شو۔ د ډیر خفګان نه او هغهٔ ئې په ډیر اهتمام سره منع کړو ۔

# من القصیده

د حضورؐ په مدح کښې دا د قصیده بردے اشعار دی

---

اَكْرِمْ بِخَلْقِ نَبِيٍّ زَانَهُ خُلُقٌ ۔۔۔ بِالْحُسْنِ مُشْتَمِلٍ بِالْبِشْرِ مُتَّسِمِ

د نبی کریمؐ څهٔ ښائسته بدن دے چه اعلیٰ اخلاقو نور هم ښائسته کړیدے۔

په ظاهري حسن هم ښائسته دے - او په خندا روښ نور هم روښانه دے

كَالزَّهْرِ فِيْ تَرَفٍ وَالْبَدْرِ فِيْ شَرَفٍ   وَالْبَحْرِ فِيْ كَرَمٍ وَالدَّهْرِ فِيْ هِمَمِ

په ښو اخلاقو کښې لکه د ګل د تازه غوټۍ دے په شرافت کښې لکه څوارلسم سپوږمۍ دے - په سخاوت او فیض رسانۍ کښې سمندر دے - او د ارادے مضبوطيا کښې د زمانے په شان دے.

كَأَنَّهُ وَهُوَ فَرْدٌ فِيْ جَلَالَتِهِ   فِيْ عَسْكَرٍ حِيْنَ تَلْقَاهُ وَفِيْ حَشَمِ

هغه د دومره رعب و جلال خاوند دے چه که یواځې وی هم داسے ښکاری - لکه چه درونه لښکر او بے شماره خادمان ورسره وی.

كَأَنَّمَا اللُّؤْلُؤُ الْمَكْنُوْنُ فِيْ صَدَفٍ   مِنْ مَّعْدِنَيْ مَنْطِقٍ مِّنْهُ وَمُبْتَسَمِ

د هغوئ غاښ مبارک چه کله د خبرو په وخت یا په خندا کښې ښکاره شی داسے صفا چمکدار وی لکه په صدف کښې بنده مرغلره چه ګرد په هم نه وی لګیدلے.

يَارَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا أَبَدًا   عَلٰى حَبِيْبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمِ

# اوه ديرشم فصل

## په حضورؐ باندے درود شریف ویلو په فضیلت کښې

دا هم د ډیرو دوه اهم فصلونو سره ملګرے دے - ځکه چه درود ویل هم د هغوئ په حقونو او آدابو کښې دے - په دے باب کښې بے شماره احادیث دی - یو څو د تبرک د پاره ذکر کولے شی.

**وړمبۍ روایت** = حضرت انسؓ نه روایت دے - چه حضورؐ فرمائلی دی.

څوک چه په ما یوځل درود اووائی۔ الله تعالیٰ دِ باندے لس رحمتونه نازلوی۔ او لس ګناهونه ورته معاف کوی۔ او لس درجے پورته کوی۔ (نسائی)

**دویم روایت**: حضرت ابن مسعودؓ نه روایت دے چه حضورؐ فرمائلی دی۔ د قیامت په ورځ به ماسره په ټولو خلقو کښې زیات نزدے هغه څوک وی چه په ما ډیر ډیر درود وائی۔ (ترمذی)

**دریم روایت**: حضرت ابن مسعودؓ نه روایت دے چه حضورؐ فرمائلی دی۔ الله تعالیٰ د طرف نه ډیرے فرشتے په زمکه ګرځی او زما د امت سلام ماته رارسوی۔ (نسائی و دارمی)

**څلورم روایت**: حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے۔ حضورؐ فرمائلی دی هغه سړے د ذلیل وخوار شی د چا مخکښې چه زما نوم واخستے شی او هغه په ما درود اونه وائی (ترمذی)

**ف**: عالمانو ویلی دی۔ کوم مجلس کښې چه دِ یو ځل د حضورؐ نوم واخستے شی۔ په هغوئی درود ویل واجب دی۔ او که بیا بیا اخستے شی نو بیا بیا درود ویل مستحب دی۔

**پنځم روایت**: حضرت ابیؓ بن کعبؓ نه روایت دے۔ چه ما عرض اوکړو یا رسول الله زهٔ په تاکثرت سره درود ویل غواړم۔ نو ماته اووائی چه څومره تعداد باندے درود خپله وظیفه کړم۔ هغوئی اوفرمائل څومره چه دِ خوښه وی۔ ما عرض اوکړو څومره وخت چه زهٔ ذکر کوم د هغے څلورمه برخه درود ته ورکړم۔ (مثلاً که دوه ګهنټے د ذکر وخت وی۔ نو نیمه ګهنټه صرف درود او باقی وخت کښې نور وظائف)

هغوئی اوفرمائل چه څومره دِ خوښه وی ـ خوکه زیات کړے نو تا دپاره ښهٔ دے ـ ما عرض اوکړو ـ که دریمه برخه ئے کړم حضورؐ اوفرمائل څنګه چه دِ خوښه وی ـ خوکه زیات ئے کړے تا دپاره بهتر دے ـ ما عرض اوکړو نیم وخت به درود دپاره کافی وی ـ هغوئی اوفرمائل څنګه چه دِ خوښه وی ـ خوکه نور ئے زیات کړے نو تا دپاره بهتر دے ـ ما عرض اوکړو ـ دوه برخ به درود کړم او دریمه برخه نور وظائف ـ هغوئی اوفرمائل څنګه چه دِ خوښه وی ـ خوکه زیات ئے کړے نو ښهٔ دے ـ ما عرض اوکړو بس نو رخه به نهٔ وایم خپل ټول وخت به درود ته درکړم ـ هغوئی اوفرمائل دنورو اذکارو په ځائے درته دا کافی دے ـ ټول ګناهونه به دِ معاف شی ـ (ترمذی)

ف : دے نه ثابته شوه چه درود شریف افضل الاوراد دے ـ

**شپږم روایت** : حضرت ابوطلحهؓ نه روایت دے ـ چه حضورؐ فرمائلی دی ـ چه جبریلؑ راغلو ماته ئے اوویل ستا درب ارشاد دے څوک چه په تا درود وائی زهٔ دریا ندے لس رحمتونه نازلوم ـ او څوک چه په تا سلام وائی ـ زهٔ وربانده لس سلامونه استوم ـ (نسائی و دارمی)

ف : دے نه معلومه شوه چه د درود شریف په کومو الفاظو کښی چه صلوٰة وسلام دواړه وی ـ دهغے په یو ځل ویلو به درته د الله تعالیٰ شل رحمتونه حاصل شی ـ لکه دا درود شریف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّبَارِكْ وَسَلِّمْ ـ

**اوم روایت** = امیرالمؤمنین حضرت عمر بن الخطاب نه روایت دے۔ چه هغهٔ اوویل۔ دعا د زمکے او آسمان ترمینځه حصاره وی۔ قبلیږی نه ترڅو چه درسره درود ملګرے نشی۔ (ترمذی)

**ف** = دا روایت موقوف دے۔ خو داسے خبرے خپله چاته نهٔ معلومیږی۔ ځکه د مرفوع په حکم دے۔ یعنی دا خبره به ئے حضورؐ نه اوریدلی وی۔

دا ټول احادیث د مشکوٰة دی۔ (حضرت فرمائی) او په دے باب کښی زما کتاب زادالسعید مختصر او جامع دے۔ حضرت فرمائی۔ د درود د فضائلو لیکلو نه پس په مقتضٰی د وارد قلبی ئے یو څو حکمتونه لیکل هم مناسب ګڼړم۔

**اول حکمت** = د رسول کریمؐ په امت باندے احسانونه بے شماره دی۔ هغوئی صرف مامور به تبلیغ کافی نهٔ دے ګڼړلے۔ بلکه د امت د اصلاح د پاره ئے ډیر تدبیرونه کړی دی۔ او هغوئی د پاره ئے ټوله ټوله شپه دعاګانے غوښتی دی۔ او د هغوئی په واسطه مونږ ته د اسلام غوندے عظیم نعمت را رسیدلے دے۔ نو هغه زمونږ محسن هم دے او د عظیم نعمت واسطه هم دے۔ نو د سلیم فطرت تقاضا داده۔ چه داسے ذات د پاره ئے بے اختیاره د زړهٔ نه دعاګانے اوځی۔ خصوصاً په داسے حال کښی چه د هغې احسانونو مکافات بالمثل۔ یعنی هم هغه شان احسان کولو نه عاجز وی۔ او زمونږ دا عجز څرګند دے ځکه چه د غیر نبی نه داسے قسم نعمتونه نبی ته رسیدل ناممکن دی۔ او د رحمت د دعا نه زیاته بله دعا نشته۔ بیا خاص د

رحمتِ کامله دعا کوم چه د درود شریف مفهوم دے ۔ ځکه شریعت
د نظرتِ سلیم د دے خواهش د تسکین دپاره د درود شریف حکم
کړے دے ۔ کله وجوبًا او کله استحبابًا ۔

**دویم حکمت**: چونکه نبی کریمؐ د الله تعالیٰ محبوب دے ۔ او محبوب دپاره
څه بهتری غوښتل اگرچه هغه به ئے خپله هم بے ددے غوښتے
درکوی ۔ د غوښتو ضرورت ورته نهٔ وی ۔ بیا هم دے غوښتونکی
دپاره سبب د تَقَرُّب گرځی ۔ او درود شریف چونکه د الله تعالیٰ د
محبوب دپاره د رحمت غوښتنه ده ۔ نو دا غوښتونکی دپاره د
الله تعالیٰ د رضا او قرب ذریعه گرځی ۔ او دے غوښتونکی ته ورباندے
د الله رضا او قرب حاصلیږی ۔

**دریم حکمت**: او په دے درود شریف کښں د هغوئ د خاص شرف
یعنی کامل عبدیت اظهار هم دے ۔ چه هغوئ ته هم د الله د رحمت
ضرورت دے ۔

**څلورم حکمت**: چونکه حضورؐ په بشریت او نورو مادی ضروریاتو
کښں امت سره شریک دے ۔ او په ځنی غیر ضروری څیزونو کښں لکه
کثرتِ مال وغیره د ځنی افرادو سره مساوی هم نهٔ دے ۔ نو دا اشتراک
او عدم مساوات د هغوئ د عظمت د اقرار او د هغوئ د تابعدارئ کولو
نه مانع کیږی ۔ لکه چه د نورو گمراه امتونو ځنی کسانو ویلی دی ۔
اَنُؤْمِنُ لِبَشَرَیْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَابِدُوْنَ (آیا مونږ زمونږ
په شان دوو کسانو باندے ایمان راوړو ۔ حالانکه د هغوئ قوم
زمونږ تابعدار دے) دا د موسیٰ علیه السلام د امت دعوت یعنی

د فرعون د قوم وینا ده)

او چا ویلی دی- اَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا نَّتَّبِعُهٗۤ اِنَّآ اِذًا لَّفِیْ ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ

(آیا مونږ د خپل قوم د یو بنده تابعداری اوکړو- بیشکه دا به زمونږ غټه غلطی وی)

او چا او دا ویل- لَوْ لَا نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ عَلٰی رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْیَتَیْنِ عَظِیْمٍ

(دا قرآن د مکې او طائف په یو لوئې سردار ولې نازل نشو)- چه په یو سردار نازل شوې وې - نو مونږ ته به د هغهٔ په تابعدارئ کښې څه اشکال نهٔ وو - دا په یو بې اسرې یتیم نازل شو- نو مونږ غټ غټ سرداران او مالدار کسان د هغهٔ په تابعدارئ شرمیږو- نو په درود شریف کښې د دې پوره پوره علاج دې- چه په دې کښې د خاص رحمت دعا غوښتې شوې ده - نو دې کښې د دې اظهار دې- چه دا بنده د الله تعالیٰ په خاص رحمت تاسو نه ممتاز دې- او دا یو دا سې امتیاز دې - چه د تاسو مال دولت د دې په مقابله کښې هیڅ هم نهٔ دې- او په دې کښې دا اظهار هم دې چه مونږ د تاسو د احسانونو منونکو - او د تاسو د عظمت اقرار کوو- خاص کر چه د حضورؐ مبارک نوم سره د سَیِّدِنا د مولانا الفاظ زیات کړې شی نو په دې کښې د هغوئ د عظمت او احسان منئ او خپل خاکسارئ او عاجزئ واضح اقرار دې - او سردار د انبیاؑ په دربار کښې د خپل محتاجئ او عاجزئ اظهار او د هغوئ د عظمت او احسان منلو اقرار د الله تعالیٰ د رضا حاصلولو ذریعه ده - په امت باندې د هغوئ د احسانونو اظهار الله تعالیٰ دا سې فرمائی -

هُوَ الَّذِیْ بَعَثَ فِی الْاُمِّیّٖنَ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ یَتْلُوْا عَلَیْهِمْ اٰیٰتِهٖ وَیُزَکِّیْهِمْ وَیُعَلِّمُهُمُ الْکِتٰبَ وَالْحِکْمَةَ وَاِنْ کَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ط (الله تعالیٰ هغه ذات دے چه راواځ ستولو په بے علمه قوم کښې یو رسول هم د دوئی نه چه اوروی دوئ ته د الله تعالیٰ آیتونه او د دوئی تزکیه کوی (ښه اخلاق ورته ښئی) او د کتاب الله او د حکمت تعلیم ورکوی اګرچه دوئی وو دے نه مخکښې ښکاره ګمراهئ کښې)

او ارشاد دے۔ لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَی الْمُؤْمِنِیْنَ اِذْ بَعَثَ فِیْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ یَتْلُوْا عَلَیْهِمْ اٰیٰتِهٖ وَیُزَکِّیْهِمْ وَیُعَلِّمُهُمُ الْکِتٰبَ وَالْحِکْمَةَ وَاِنْ کَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ط

(بیشکه احسان کړے دے الله په مؤمنانو چه راواځ ستی لو په دوئی کښې یو رسول هم د دوئی د ځانونو نه چه تلاوت کوی دوئی ته د الله د آیتونو او د دوئی تزکیه کوی او د کتاب الله او حکمت تعلیم ورکوی۔ اګرچه دوئی دے نه مخکښې وو په ښکاره ګمراهئ کښې)

**پنځم حکمت** = په ځنې طبیعتونو یاندے د تو حید د غلبے په وجه د هغوئی په زړونو کښې د وسائطو زیات قدر نهٔ وی۔ اګرچه د ضروری عقیدے او ضروری اطاعت نه پس د زیاتی قدر او محبت کے څیر نقصان نهٔ دے۔ لکه د مواهب په اوم باب کښې امام قشیری د ابو سعید خراز نه یو واقعه نقل کړی ده۔ چه هغهٔ په خوب کښې د نبی کریمؐ زیارت اوکړو۔ نو عرض ئے اوکړو۔ یا رسول الله ما معاف کړئی۔ زهٔ مجبور یم۔ د الله تعالیٰ محبت م ستا په محبت کښې مصروفیت

ته نهٔ پرېږدي - حضور اوفرمائيل - اے مبارکه څوک چه د الله په محبت کښې ډوب دي - هغه دِ ما سره مينه لري - ځکه چه د دومره خو ورته معلومه ده - چه د الله تعالیٰ مينه ئې زما په واسطه حاصله کړې ده - د دے علم نه پس ممکنه نهٔ ده - چه دے د واسطے سره ئې مينه نهٔ دي - دا بيله خبره ده که دے ته ئې توجه نهٔ وي - محبت ضروري دے - د محبت التفاتِ دائم ضروري نهٔ دے - او چا ديلي دي - چه در واقعه يو عيسائي زنانه ته د حضورؐ په دربار کښې په ديبسه پيښه شوې ده - بهرحال کمالِ حال دا دے چه کوم د واسطے طرف ته التفات چه الله تعالیٰ خپله د خپلې رضا ذريعه ګرځولې ده - چه هغې ته التفات ذوقاً هم د توحيد خلاف او نهٔ ګڼړلے شي - بلکه مکمل توحيد اوګڼړلے شي - لکه څوک چه د خپل محبوب ملاقات ته تلهٔ غواړي - او هغې محبوب ئې خپل يو خاص بنده د هغه د رهنمائۍ د پاره راستولے وي - نو د عقل تقاضا دا ده - چه څومره چه د دهٔ په زړهٔ کښې د محبوب د ملاقات شوق وي - دومره به ئې د دے موصل الی المقصود هر هر قدم او هر هر حرکت ته توجه وي - او په ژبه هم هر وخت د هغهٔ شکريه ادا کوي - ځکه چه په دے قدردانئ کښې د کمۍ په وجه به د محبوب سره ملاقات مشکوک شي - او د دے رهنما بے قدري به د محبوب د ناراضګۍ سبب شي - او که دے عاشق ته دا معلومه شي چه څومره د دے وسيلا قدر د عزت اوکړم - دومره به راته محبوب خوشاله شي - نو بيا خو به د دے رهنما په قدر عزت کښې ډير کوشش اوکړي او د هغهٔ رضا به عين د محبوب رضا اوګڼړي - نو په دے مثال کښې څومره د عاشق په زړهٔ کښې

د محبوب ډیر قدر عزت دی۔ د ومره بمځ د واسطے هم ډیر قدر عزت کوی۔ چه محبوب را نه ناراضه نشی۔

د غه شان دلته د حضورؐ سره مینه او ډیر التفات عین توحید او د الله تعالیٰ محبت او الله ته التفات دے۔ نو په دے دواړو التفاتونو کښې تزاحم نشته۔ بلکه تلازم دے۔ نو دے ذوقی نقص رفع کولو د پاره درود شریف مشروع شوے دے۔ ګویا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا۔ کښې حکم دے۔ چه دے واسطے ته توجه او د دے احترام باندے زهٔ خوشالیږم۔ نو څوک چه زما د رضا طلبګار دی۔ هغوئ دِ د دے واسطے احترام کوی۔ د اد توجه الی الغیر نهٔ ګنړی۔ ځکه چه د توحید منافی هغه توجه الی الغیر ده۔ کومه چه مقصود ته رسیدو نه مانع دی۔ او کومه چه موصل الی المقصود وی۔ هغې ته توجه خو ضروری ده۔ ځکه چه بې د دے توجه نه مقصود نشی حاصلیدے۔

## فائدهٔ فقهیه د درود شریف متعلق

په رد المحتار کښې د فتاوئ هندیه نه نقل دے۔ چه یو دکاندار که خریدار ته د څیز ښیلو په وخت کښې درود شریف وائی یا ذکر کوی۔ په دے غرض چه خریدار ته د څیز خوبی څرګنده کړی۔ یا یو څوکیدار په زوره کلمه وائی د خپل بیدارئ د اظهار د پاره یا د یو لوئ سړی د راتلو په وخت کښې په زوره درود شریف یا کلمه په دے غرض اووائی چه خلق د مشر د راتلو نه خبر شی او استقبال ته ئې راووځی۔ دا ټول مکروه دی۔ درمختار درته

حرام دیلی دی ۔ رد المختار د حرام تفسیر په مکروه تحریمی کړے دے۔ حاصل دا چه درود شریف عبادت دے ۔ او عبادت د شریعت د حکم موافق خالص د الله د رضا د پاره پکار دے ۔ دیو دنیاوی غرض د پاره لوستل ئے د شریعت خلاف دی ۔ او د ادب خلاف هم دی ۔ ځکه دا ئے مکروه تحریمی ویلی شوی دی۔

# لبعض العشاق

## دیو نامعلوم صوفی شاعر اشعار دی

صَلِّ یَا رَبِّ عَلیٰ رَأْسِ فَرِیْقِ النَّاسِ ۔ مِنْهُ لِلْخَلْقِ اَمَانٌ بِزَمَانِ الْبَأْسِ

یا الله خپل خاص رحمت نازل کړے د ټولو بنیادمو په سردار ۔ د چا په برکت چه خلقو ته امن دے د مصیبت په وخت کښی.

صَلِّ یَا رَبِّ عَلیٰ مَنْ هُوَ فِیْ حَرِّ غَدٍ ۔ کُلَّ مَنْ یَظْمَأُ یُسْقِیْهِ رَحِیْقَ الْکَاْسِ

یا الله خپل خاص رحمت نازل کړے په هغه ذات چه د قیامت په سخته ګرمئ کښی به په هر تږی دیځو خوږو او بو جامونه څکوی.

صَلِّ یَا رَبِّ عَلیٰ مَنْ بِرَجَاءِ الْکَرَمِ ۔ خَصَّ مَنْ جَاءَ اِلَیْهِ لِعُمُوْمِ النَّاسِ

یا الله خپل خاص رحمت نازل کړے په هغه ذات. چه د عامو خلقو نه څوک د کرم په طمع ورغلے دے هغهٔ په خاص کرم کړے دے ۔

صَلِّ یَا رَبِّ عَلیٰ مُؤْنِسِ کُلِّ الْبَشَرِ ۔ مُبْدِلِ الْوَحْشَةِ فِی الْقَبْرِ بِاِسْتِیْنَاسِ

یا الله خپل خاص رحمت نازل کړے په هغه ذات چه د هر بشر همدرد دے ۔ د چا په برکت چه د قبر وحشت په اُنس بدلیږی.

صَلِّ یَا رَبِّ عَلٰی رُوْحِ رَئِیْسِ الرُّسُلِ    نَقْتَدِیْ نَحْنُ عَلٰی اَرْجُلِہٖ بِالرَّأْسِ

یا اللہ خپل خاص رحمت نازل کړے د رسولانو د سردار په روح باندے

د چا احکام چه مونږ سر په سترګو منلی دی۔

# اته دیرشم فصل

## د حضورؐ په وسیله دعا غوښتل

اګرچه دا توسل د درود شریف په شان عبادت نهٔ دے مګر په یو خاصیت کښ د درود شریف په شان دے۔ یعنی د دواړو په ذریعه د دعا قبلیدو زیات امید کیدے شی۔ ځکه راته درود شریف نه پس د توسل ذکر ښهٔ ښکاره شو۔ اګرچه ځنی کسانو په دے مسئله کښ اختلاف کړے دے۔ لیکن د جمهورو مسلک دا دے چه که د شرعی حدودو خیال پکښ ساتلے شوے وی نو توسل جائز دے۔

**وړمبے روایت** = په سنن ابن ماجه کښ د صلوٰة حاجت په باب کښ د عثمان بن حنیف نه روایت دے چه یو نابینا سړے د حضورؐ په دربار کښ حاضر شو۔ عرض ئے اوکړو چه ماته دعا اوکړئ چه اللہ تعالیٰ صحت راکړی۔ حضورؐ اوفرمائل که ستا خوښه وی دعا به ملتوی کړم۔ (یعنی دنیا کښ د صحت په ځائے به اللہ تعالیٰ آخرت کښ د دے اجر درکړی) هغهٔ عرض اوکړو که دعا راته اوکړئ نو ښه به وی۔ حضورؐ ورته حکم ورکړو۔ ښهٔ په صحیح طریقه اودس اوکړه۔ بیا دوه رکعته نفل اوکړه۔ بیا دا دعا اوغواړه۔ یا اللہ زهٔ تا نه د نبی رحمت حضرت محمدؐ

په وسیله سوال کوم - او اے نبیؐ زهٔ ستا په وسیله الله تعالیٰ نه سوال کوم چه زما حاجت پوره کړی - یا الله ته زما په حق کښې د نبیؐ شفاعت قبول کړے -

ف : د دے روایت نه توسل صراحةً ثابت شو - بیا دا چرته نشته چه حضورؐ هغهٔ ته دعا اوکړه - د دے نه دا ثابته شوه - چه څنګه په دعا توسل جائز دے - یعنی چه څوک مقرب بنده چا د پاره دعا اوغواړی - دغه شان د چا د ذات په وسیله دعا غوښتل هم جائز دی -

د توسل حاصل دا دے چه یا الله دا فلانے ستا مقبول بنده دے - ستا محبوب دے - او د مقبول بنده سره محبت او عقیدت ساتل هم د رحمت حاصلولو ذریعه ده - مونږ ورسره محبت او عقیدت لرو - نو په مونږ هم رحم اوکړے - او دا سوال مو قبول کړے تقریباً په دے طریقه د نیکو اعمالو په وسیله هم سوال کیدے شی - چه یا الله دا نیک اعمال ستا د رحمت مُوجِبُ دی - او دا اعمال کوونکی باندے ته رحم کوے - او مونږ دا نیک عمل کړے دے - نو په مونږ رحم اوکړے - او دا حاجت مو پوره کړے -

ف : په دے روایت کښې یا محمد چه راغلے دے - د دے نه د ندا غائب ثبوت نهٔ کیږی - ځکه چه هغه سړے خو د حضورؐ په خدمت کښې حاضر وو -

انجاح الحاجة نوم کتاب کښې دی چه دا حدیث شریف نسائی او ترمذی په کتاب الدعوات کښې راوړے دے - او ترمذی ورته حسن

صحیح ویلې دې۔ او بیهقي دې روایت ته صحیح ویلې دې۔ او ورسره ئې دومره نور هم زیاته کړې ده۔ چه دا سې دعا غوښتو نه پس هغه سړې بینا شو۔

**دویم روایت:** انجاح الحاجة کښې ددې روایت د تصحیح نه پس لیکلي دي۔ چه طبراني په مُعْجَم کبیر کښې هم ددې عثمان بن حنیف نه روایت کړې دې۔ چه یو سړې به امیر المؤمنین حضرت عثمان بن عفان رض ته څهٔ کار پسې ورتلو خو هغهٔ به ورته توجه نهٔ کوله۔ هغهٔ عثمان بن حنیف ته دا خبره اوکړه۔ چه امیر المؤمنین سره مې څهٔ کار نښتې دې۔ هغه را ته توجه نهٔ کوي۔ څهٔ اوکړم۔ هغهٔ ورته اوویل جمات ته لاړ شه اودس اوکړه بیا په دې طریقه دعا اوغواړه۔ کومه چه مخکښې روایت کښې ذکر ده۔ هغهٔ دغه شان دعا اوغوښته او بیا چه حضرت عثمان ته ورغلو۔ نو هغهٔ ئې ډېر قدر د عزت اوکړو۔ او هغه کار ئې ورته اوکړو۔ بیهقي دا روایت په دوو سندونو ذکر کړې دې۔ او طبراني په کبیر او اوسط کښې په دا سې سند راوړې دې چه په کښې روح بن صلاح هم دې۔ اګر چه ابن حبان او حاکم روح بن صلاح ته ثقه ویلې دې خو په دې سند کښې لږه کمزوري شته۔ کومه چه په دا سې خبرو کښې برداشت کیدې شي۔

**ف:** ددې روایت نه توسل بعد الوفات هم ثابت شو۔ او علاوه ددې روایت نه عقلاً هم ثابت دې۔ ځکه په اول روایت کښې چه موږ د توسل کوم حاصل بیان کړې دې۔ هغه په ژوند کښې او بعد الوفات دواړو حالتو کښې یو شان دې۔ او ندا ءِ غائب د جواز ثبوت دې

نه هم نهٔ کیږی۔ ځکه چه روایت کښې چه جمات کښې د دعا ذکر دے۔ نو هغه نه مسجد نبوی مراد دے۔ او هلته حضورؐ نزدے موجود دے۔ نو ندائِ غائب نشته۔ او سلف صالحین د صحیح عقیدے خاوندان دو۔ هغوئی نداء په دے عقیده کوله۔ چه زمونږ خبره به درته فرشتے ادرسوی۔ هغوئی دنن زمانے د عوامو په شان جاهلان او د غلطو عقیدو خاوندان نهٔ وو۔ نن صبا عوام ډیر زیاتے کوی۔ ځکه عوام د ندائِ غائب نه منع کولے شی۔ او د هغوئی د حفاظت دپاره خواص هم منع کولے شی۔ په دے غرض ما دفصل په شروع کښې لیکلی دی چه که د شرعی حد دوو خیال ساتلے شی نو توسل جائز دے۔

**دریم روایت**: په مشکوٰة کښې حضرت انسؓ نه روایت دے۔ چه د خشک سالئ په موقع به حضرت عمرؓ د حضرت عباس بن عبد المطلب په وسیله د باران سوال کولو۔ او ویئل به ئے یا الله مونږ به ستا په دربار کښې د خپل نبیؐ په وسیله سوال کولو۔ نو تا به باران اوکړو۔ او س مونږ د خپل نبیؐ د ترهٔ په وسیله تانه د باران سوال کوو۔ نو باران به اوشو۔ (بخاری)

**ف**: دے روایت نه د غیر نبی په وسیله سوال هم جائز ثابت شو۔ (چه د دے غیر نبی د نبی سره څهٔ تعلق وی نسبی یا روحانی۔ دا هم د نبی په وسیله د سوال یو شکل دے) عالمانو لیکلی دی۔ چه هم د دے خبرے د اظهار دپاره حضرت عمرؓ د حضرت عباسؓ په وسیله سوال کولو۔ دا نه چه ګنی وفات نه پس د حضورؐ په وسیله سوال جائز نه دو۔ یعنی خلقو ته ئے دا ښیله چه د حضورؐ د متعلقینو په

واسطه هم سوال جائز دے۔ چونکه په دے موقع ډیر اصحاب موجود وو۔ او په دے خبره چا نکیر نهٔ دے کړے۔ نو دا په اجماع ثابت شوه

**څلورم روایت** = ابو الجوزاء نه روایت دے۔ چه یو ځل مدینه منوره کښې سخت قحط شو۔ خلق حضرت عائشہؓ ته ورغلهٔ۔ هغې ورته اووئیل د نبیؐ قبر مبارک ته مخامخ د حجرے مبارکے په چهت کښې سورے اوکړئ چه آسمان ورکښې ښکاری۔ خلقو دغه شان اوکړهٔ۔ نو ډیر تیز باران اوشو۔ (دارمی باب الکرامات)

**ف** = مخکښې روایاتو نه توسل بالقول ثابت شوے وو۔ دے روایت نه توسل بالفعل ثابت شو۔ د دے مطلب په زبانِ حال دا دے۔ یا الله دا ستا د نبیؐ قبر دے۔ چه د نبیؐ بدن مبارک پکښې پروت دے۔ په دے وجه دا هم متبرک دے۔ ځکه چه د نبی کریمؐ د بدن مبارک سره چه څهٔ شے اولګی هغه مبارک شی۔ او دا شے مبارک ګنړل علامه ده۔ د نبیؐ سره د عظمت د عقیدت په دے وجه موجب د رحمت دے۔ نو یا الله ستا د محبوب د قبر مبارک په برکت په موږ رحم اوکړے۔

**پنځم روایت** = په مواهب کښې د امام ابو المنصور صَبَّاغ په سند ابن النجار او ابن عساکر او ابن الجوزی د محمد بن حرب ہلالی نه روایت کړے دے۔ چه ما د قبر مبارک زیارت اوکړو۔ مخامخ ناست وم۔ چه یو بانډیسی راغلو۔ زیارت ئے اوکړو۔ نو عرض ئے اوکړو۔ یا رسول الله الله تعالی په تا باندے ریښتونے کتاب نازل کړے دے۔ پکښې

ارشاد دے۔ وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ۔ (داخلق چه په ځانونو ئے ظلم کړے دے۔ یعنی ګناهونه ئے کړی دی که تاته راغلو الله نه معافی غواړی او رسول هم ورته معافی اوغوښته نو الله به توبه قبلوونکے مهربانه بیا موی۔ یعنی الله به ورته ګناهونه معاف کړی)۔ ادس زهٔ تاته راغلے یم۔ د تا په وسیله الله نه دخپلو ګناهونو معافی غواړم۔ او تا نه شفاعت غواړم۔ بیائے دوه شعرونه اووئیل۔ دا محمد بن حرب په ۲۲۸ھ کښی دفات شوے دے۔ زمانه د خیرالقرون ده۔ او ددهٔ په دے عمل په هغه وخت چا نکیر نهٔ دے کړے نو حجت شو۔

## من الروض

داد الروض النظیف اشعار دی

---

وَمَنْ تَكُنْ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ نُصْرَتُهٗ ۔۔۔ فَالْفَتْحُ مِنْ جُنْدِهٖ وَالنَّصْرُ وَالظَّفَرُ

د رسول اللهؐ په وسیله چه دحضورؐ امداد دچا سره وی۔ نو فتح او کامیابی به دهغهٔ لښکر وی (یعنی هغه به همیشه کامیاب وی)

وَعَالَمٌ مُّسْتَغِيْثًا رَاجِيًا اَمَلًا ۔۔۔ فَهَلْ لَّهٗ مِنْ سِوٰى لُطْفِكُمْ نَظَرٌ

یا رسول الله دا بنده تاته فریادی راغلے دے۔ دخپلو امیدونو دحاصلیدو په طمع۔ نو آیا دهٔ دپاره ستا دلطف او مهربانئ دنظر نه سوا بل څهٔ شته؟ یعنی ضرور به ستا دلطف وکرم په وجه کامیاب وی۔ امید دنه به ئے حاصل شی۔

---

فَاعْطِفِ اللّٰهُمَّ عَلَيْنَا قَلْبَ سَيِّدِنَا      خَيْرِ الْاَنَامِ فَمِنْهُ الْعَطْفُ مُنْتَظَرٌ

یا اللّٰه په موږ باندے دخپل خیرالانام سردار زړهٔ مهربانه کړے.
چه دهغهٔ نه دمهربانئ طمع کیږی.

يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا      عَلٰى حَبِيْبِكَ مَنْ زَانَتْ بِهِ الْعُصُرُ

# یوکم څلویښتم فصل

## دنبی کریم ﷺ حالات او اخلاق وعادات کثرت سره بیانول

دا فصل هم دنبی کریم ﷺ دمحبت وجوب متعلق دے. کوم چه پنځه ویشتم فصل کښ بیان شوے دے. خو دا په ترتیب کښ دتوسل دفصل سره اولګولے شو. ځکه چه په دے کښ هم دتوسل په شان حُسنِ خلق دحد نه زیاتے کړے دے. یعنی په ذکر شریف کښ حُسنِ خلقو افراط کړے دے. چا تفریط کړے دے. او څوک په اشتباه کښ پراتهٔ دی. د دے مختصر بیان به په دے فصل کښ کیږی. لیکن اول دا بیانوو چه ذکر شریف طبعًا او شرعًا مطلوب دے.

### لِاِبْنِ اَبِی الْمَجْدِ

د ابو المجد دځوئے اشعار دی

اَلَا يَا مُحِبَّ الْمُصْطَفٰى زِدْ صَبَابَةً      وَضَمِّخْ لِسَانَ الذِّكْرِ مِنْكَ بِطِيْبِهٖ

اے دمصطفٰی عاشقه په خپل عشق کښ ترقی اوکړه. او دهغهٔ

په ذکر خپله ژبه خوشبویه کړه۔

وَلَا تَعْبَأُنْ بِالْمُبْطِلِيْنَ فَاِنَّمَا عَلَامَةُ حُبِّ اللهِ حُبُّ حَبِيْبِهِ

او دے نه چه څوک انکار کوی د هغوئی پروا مه کوه۔ ځکه چه د الله د حبیب سره محبت د الله د محبت علامه ده۔

د حضورؐ ذکر شریف مطلوب او مشروع دے۔ ځکه چه ارشاد ربی دے۔ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ۔ (مونږ ستا ذکر اوچت کړو)

**دریم روایت** = حضرت عباسؓ نه روایت دے چه نبی کریمؐ په ممبر اودریدو۔ دے فرمائیل۔ زهٔ څوک یم۔ اصحابو عرض اوکړو۔ ته د الله رسول ئے۔ حضورؐ او فرمائیل۔ د الله رسول خو یم۔ لیکن نور حسبی نسبی فضائل مې هم شته۔ زهٔ محمد بن عبد الله بن عبد المطلب یم۔ الله تعالیٰ چه مخلوق پیدا کړو۔ جن او انس دواړه۔ نو زهٔ ئے په بهترین مخلوق یعنی انس کښ پیدا کړم۔ بیا د بنیادمو دوه ډلے وے۔ عرب او عجم۔ زهٔ ئے په بهترینه ډله یعنی عربو کښ پیدا کړم۔ بیا د عربو ډیرے قبیلے وے۔ زهٔ ئے په بهترینه قبیله یعنی قریشو کښ پیدا کړم۔ بیا په قریشو کښ ډیر شاخونه دی۔ زهٔ ئے د قریشو په بهترین شاخ بنی هاشم کښ پیدا کړم۔ نو زهٔ د خپل ذات په لحاظ یعنی ذاتی اعلیٰ صفاتو په لحاظ هم ټولو نه افضل یم۔ او د خپل خاندان په لحاظ هم ټولو نه افضل یم۔ (ترمذی)

**ف** = دے روایت نه ثابته شوه چه حضورؐ خپل فضائل په ممبر بیان کړی دی۔

**دویم روایت** = ابو اللیث په تَنْبِيْهُ الْغَافِلِيْنَ کښ په خپل

متصل سند حضرت علیؓ نه روایت کړے دے . چه د حضورؐ د بیمارئ په دړځو کښې چه اذا جاء نصر الله سورت نازل شو . نو هغوئ فوراً حضرت بلالؓ را اوغوښتو . ورته ئے اووئیل . اعلان اوکړه . چه د رسول اللهؐ وصیت اوریدو ته ټول راجمع شئ . مسلمانان دا ږه لوئے ټول مسجد نبوی کښې راجمع شو . حضورؐ په ممبر اودریدو . حمد وثنا او په انبیاؤ درود نه پس ئے اوفرمائیل . زهٔ محمد بن عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم عربي حرمي مکي یم . ما نه پس بل نبي نشته .
(فتاوئ مولوی عبد الحئ جلد اول)

**ف** = دے نه هم د اول روایت په شان ثابته شوه . چه د حضورؐ فضائل به سرِ ممبر بیانول پکار دی . بلکه حضورؐ چه خپله خپل فضائل بیان کړی دی .

په دے روایت کښې د درسره زیاتی داخبره هم معلومه شوه . چه دے د پاره په غرض د علم عام کولو خلق راجمع کول هم مشروع دی . (یعنی د سیرت جلسے کول جائز دی)

**دریم روایت** = حضرت عائشهؓ نه روایت دے . چه رسول اللهؐ حضرت حسانؓ د پاره په مسجد نبوی کښې ممبر ایښے وو . په هغے به اودریدو . او د حضورؐ فضائل به ئے په اشعارو کښې بیانول . او د کافرانو د بدګوئ جواب به ئے ورکولو . او حضورؐ به فرمائیل . چه الله تعالیٰ به د روح القدس په ذریعه د حسان تائید کوی . ترڅو چه دے د رسول الله فضائل بیانوی یا د هغوئ د طرف نه کفار و ته جواب ورکوی . (بخاری) **ف** = دے نه ثابته شوه چه حضورؐ په اشعارو

کښې د خپلو فضائلو بیانولو (یعنې نعت ویلو) اجازت ورکړے دے۔
هله چه د شرعی حدونو دننه وی۔

**څلورم روایت** = حضرت امام حسنؓ نه روایت دے۔ چه ما د خپل ماما هند بن ابو هاله نه د رسول اللهؐ د اخلاقو او عاداتو متعلق تپوس اوکړو۔ او هغهٔ به د حضورؐ حلیه مبارکه او اخلاق و عادات ډیر ډیر بیانول۔ او زما ډیر شوق وو۔ چه ما څخکښې د نبی کریمؐ اخلاق و عادات بیان کړی۔ نو زهٔ به ئے یاد اوساتم (شمائل ترمذی)

**ف** = دے روایت نه دوه خبرے ثابتے شوے۔ یو د حضرت حسنؓ د حضورؐ د شمائلو مبارکو او دید و شوق او بل د حضرت هندؓ د شمائلو بیانولو ذوق چه کثرت سره به ئے بیانول۔ په شمائل ترمذی کښې د حضرت امام حسینؓ د حضرت علیؓ نه د حضورؐ د مجلس حال تپوس کولو هم ذکر دے۔

**ف** = هند بن ابو هاله د امام حسنؓ ناڅکه ماما وو۔ ابو هاله د حضرت خدیجےؓ د مخکینی خاوند نوم وو۔ او هند ئے د هغهٔ نه ځوئے وو۔ نو د حضرت فاطمےؓ ناڅکه رور او د امام حسنؓ او امام حسینؓ ماما وو۔

**پنځم روایت** = د حضرت خارجه بن زید بن ثابتؓ نه روایت دے چه یو ځله حضرت زید بن ثابتؓ ته راغله چه موږ ته د رسول اللهؐ څه خبرے اوکړه۔ هغهٔ ورته اوویل زهٔ به تاسو ته څهٔ څهٔ اووایم هغه خو د شمار نه بهر دی۔ بیائے ورته څهٔ حالات بیان کړل۔ (شمائل ترمذی)

**ف** = دے روایت نه د تابعینو د حضورؐ د حالاتو او دید و شوق معلوم

شو۔ غرض داچه د الله تعالیٰ د کلام نه د حضورؐ د ارشاد او فعل نه او د اصحابو او تابعینو د شوق نه ثابته شوه ۔چه د رسول اللهؐ ذکر شریف او ریدل مستحب او محبوب دی۔

**تنبیه** = په اوۀ دیرشم فصل کښی هغه موقع بیان شوی ۔ چه درود شریف ورکښی ویل خلافِ ادب دی ۔ ددے نه پوهیدل پکار دی که ذکر شریف کښی د شریعت د قانون خلاف څه کارکیږی ۔ لکه خنګه چه تن صباحُنی بے احتیاطو خلقو ورسره منکرات ملګری کړی دی ۔ نو داسے ذکر شریف بے ادبی او ناجائز کار دے۔

خلاصه دا سے

طُرُقُ الْعِشْقِ كُلُّهَا آدَابٌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ أَدِّبُوا النَّفْسَ أَيُّهَا الْأَصْحَابُ

د عشق طریقے ټولے خالص ادب دے ۔ اے ملګرو ادب زده کړئ خپل ځانونه په ادب کړئ۔

# من القصیده

## دا د قصیده بردے اشعار دی

---

خَدَمْتُهُ بِمَدِيحٍ اسْتَقِيلُ بِهِ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ذُنُوبَ عُمْرٍ مَضَى فِي الشِّعْرِ وَالْخِدَمِ

ما مدحیه اشعارو په ذریعه د رسول اللهؐ خدمت اوکړو ۔ ددے په ذریعه د هغې ګناهونو معافی غواړم کوم چه م تیر عمر کښی د دنیا دارو په ثنا صفت کښی اشعارو ویلو باندے کړی دی۔

وَمُنْذُ أَلْزَمْتُ أَفْكَارِي مَدَائِحَهُ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ وَجَدْتُهُ لِخَلَاصِي خَيْرَ مُلْتَزِمِ

او کله نه چه م خپل فکر وته د رسول الله ؐ تعریف کولو ته خالص کړی دی۔ نو دا م د خپل خلاصی د پاره بهترین ضمانت مونځ دے۔

وَلَنْ یَّفُوْتَ الْغِنٰی مِنْهُ یَدًا تَرِبَتْ    اِنَّ الْحَیَا یُنْبِتُ الْاَزْهَارَ فِی الْاَکَمِ

او هغه مالداری کومه چه د حضورؐ د مدح په ذریعه حاصله شی۔ هغه هرګز هیڅوک خالی لاس او محتاج نهٔ پریږدی۔ بلکه ټول به مالامال کړی ځکه چه د هغوئی فیض د باران په شان عام دے۔ هره د ذرغونے قابله زمکه آبادوی۔

**ف** : دے کښ دے طرف ته اشاره ده چه د حضورؐ د مدح په ذریعه اخروی نجات حاصلول پکار دی۔ دنیاوی فائده تر اخستل نهٔ دی پکار۔

یَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَآئِمًا اَبَدًا    عَلٰی حَبِیْبِکَ خَیْرِ الْخَلْقِ کُلِّهِمِ

# شلویښتم فصل

## په خوب کښ د حضورؐ د زیارت په بیان کښ

یاد لرئ چاته چه په بیداری کښ د حضورؐ د لیدو عزت نهٔ دے حاصل شوے هغوئی د پاره ئے په خوب کښ لیدل د تسلئ سبب او عظیم نعمت دے۔ او دے سعادت حاصلولو کښ د اکتساب دخل قطعاً نشته (یعنی په خپل محنت ئے څوک نشی حاصلولے۔ خالص د الله تعالیٰ په رحم کیږی)

این سعادت بزورِ بازو نیست    تا نه بخشد خدائے بخشنده

د نیک بختی په طاقت نشی حاصلیدے۔ چه مهربانه بادشاه ئے ورنکړی

د زړګونو خلقو عمر په دے ارمان کښې ختم شی - البته اکثر داسے کیږی چه د ډیر ډیر درود شریف دیلو او د اتباعِ سنت او د ډیر محبت په برکت د اعظیم نعمت حاصلیږی - لیکن لازمی نهٔ دے او نهٔ عام دے که چا ته حاصل نشی نو خفه کیدل نهٔ دی پکار - په دے کښې د الله تعالیٰ حکمت او رحمت وی - عاشق د پاره د محبوب رضا پکار ده هغه په وصل راضی وی - که په فراق د هغهٔ په رضا راضی کیدل پکار دی -

اُرِیۡدُ وِصَالَهٗ وَ یُرِیۡدُ هَجۡرِیۡ ۞ فَاَتۡرُکُ مَا اُرِیۡدُ لِمَا یُرِیۡدُ

زهٔ د هغهٔ وصال غواړم او هغه جدائی غواړی - نو زهٔ خپل خواهش د هغهٔ د خواهش د پاره پریږدم - په هجر راضی یم د وصال نهٔ غواړم - عارف شیرازی وائی :-

فراق و وصل چه باشد رضائے دوست طلب
که حیف باشد از و غیر او تمنائے

(فراق و وصل څهٔ وی د دوست رضا غواړه - چه هغهٔ نه د هغهٔ د رضا نه بغیر بل څهٔ غوښتل قابلِ افسوس دی)

په دے هم پوهیدل پکار دی - که خوب کښې زیارت اوشی - خو چه په اتباعِ سنت ئے د هغهٔ رضا نهٔ وی حاصله کړی نو دا زیارت نجات د پاره کافی نهٔ دے - خپله د هغوئی د ژوند په زمانه کښې ډیر کسان په ظاهره د هغوئی زیارت کوونکی او حقیقت کښې محروم وو - (لکه حضرت ابو طالب صاحب چه ایمان ئے نهٔ وو راوړے) - او څو کسان په ظاهره زیارت نه محروم وو - او چه عاشقان وو - نو

حقیقت کښې ورته قرب او رضا حاصل ده - لکه حضرت اویس قرنیؒ

او س دمشکوٰۃ شریف نه د زیارت د فضیلت متعلق څو روایات

لیکل شی -

**دریم روایت** = حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه حضورؐ فرمائیلی

دی - چاچه زهٔ په خوب کښې اولیدم - نو زهٔ ئے اولیدم - ځکه چه

شیطان زما په شکل کښې نشی راتلے (بخاری)

**دوئم روایت** = حضرت ابو قتادهؓ نه روایت دے - چه حضورؐ فرمائیلی دی -

چاچه زهٔ په خوب کښې اولیدم نو واقعی زهٔ ئے اولیدم - (بخاری ومسلم)

**ف** = د دے دواړو روایتو نو مطلب یو دے . دمشکوٰۃ په حاشیه کښې

سید رحمة الله علیه لیکلی دی - که چا رسول الله په خوب کښې اولیدو -

خو حلیه مبارکه ئے هغه شان نهٔ ده - ځنګه چه احادیثو کښې بیان

شوی ده - لیکن د هغهٔ په زړهٔ کښې یقین وو - چه ما حضورؐ لیدلے دے

نو آیا دا روایت معتبر دے که نه - په دے کښې دوه قوله دی . چا ورته

صحیح ویلے دے او چا ویلی چه صحیح نهٔ دے - چاچه ورته صحیح

ویلے دے - نو د اختلاف د صورت وجه ئے دا بیان کړی ده - چه یا په

دے لیدونکی کښې څه کمے دے - لکه آئینه چه خړه وی - هرڅه ورکښې

خړ ښکاری - یا لکه ځنی آئینه کښې څه نقصان وی - هرڅه ورکښې کوږ

ښکاری - نو هغه صورت خو واقعی د هغې لیدونکی وی - خو د آئینې د

نقص د وجه نه کوږ ښکاری - او چا ئے وجه دا بیان کړی ده - چه

دا په حقیقت کښې د روح صورت مثالی دے - او مثال د پاره ضروری

نهٔ ده - چه بالکل د اصل په شان وی - امام مازنیؒ او امام نوویؒ

دے قول ته ترجیح ورکړی ده۔

**دریم روایت**: حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے۔ چه حضورؐ فرمائیلی دی۔ څوک چه ماپه خوب کښې اووینی هغه به ما په ویښه هم اووینی او شیطان زما په شکل کښې نشی راتلے۔ (بخاری ومسلم)

**ف**: په دے کښې خوب لیدونکی ته دحسنِ خاتمې خوشخبری ده۔ او بزرګانو هم د دے خوب داتعبیر کړے دے۔ چه خاتمه به ئے په خیر وی۔ او د حضورؐ د دے ارشاد چه ما به په ویښه هم اووینی۔ دامطلب دے۔ چه آخرت کښې به ورته زما قرب حاصل وی۔ او ظاهره ده چه څنګه چه اعمال مبشره سره د ایمان او تقویٰ قید لازمی دے۔ دغه شان احوالِ مبشره هم دی۔ پاتے شوه داخبره چه بیاد احوالو په دے کښې څۀ دخل پاتے شو۔ حقیقت دادے چه احوالِ مبشره علامه ده۔ د نیکو اعمالو او تقویٰ۔ او ظاهره ده چه اعمالِ مبشره ته په دے کښې دخل شته۔ نو دا احوال علامه ده۔ د بشارت علت نۀ دے۔

یاد لرئ۔ که په خوب کښې حضورؐ چاته دڅۀ کار حکم ورکړی۔ نو که هغه کار مشروع وی۔ یعنی د شریعت په قانون جائز دی نو د هغې تعمیل ضروری دے۔ او که غیر مشروع وی نو هغه کول نۀ دی پکار۔ دلته به ګنړلے شی چه دے سړی به اوریدو یا پوهیدو کښې غلطی کړی ده۔ (ځکه چه دا ممکنه نۀ ده۔ چه حضورؐ چاته د شریعت خلاف حکم ورکړی۔) پاتے شوه داخبره چه که هغه مشروع وی۔ خو خوب لیدونه مخکښې ئے ورته هم کول پکار وو۔ د خوب څۀ فائده شوه۔

خبره دا ده چه د خوب په وجه ئے دے خوب لیدونکی ته د کولو تاکید اوشو۔ والله اعلم۔

# من القصیده

خوب کښې زیارت متعلق د قصیده برده اشعار دی

نَعَمْ سَرٰی طَیْفُ مَنْ اَهْوٰی فَاَرَّقَنِیْ ۔۔۔ وَالْحُبُّ یَعْتَرِضُ اللَّذَّاتِ بِالْاَلَمِ

او بیګاه په خوب کښې زما محبوب اولیدو۔ نو را ویښ ئے کړم۔ خوبه را نه اوتښتیدو۔ مینه خوندونو باندے د غم اثر اچوی۔

وَکَیْفَ یُدْرِکُ فِی الدُّنْیَا حَقِیْقَتَهٗ ۔۔۔ قَوْمٌ نِیَامٌ تَسَلَّوْا عَنْهُ بِالْحُلُمِ

څنګه به حاصله کړی په دنیا کښې رښا د حضور۔ هغه قوم چه غافل دے۔ په خوب د خیال خپله تسلی کوی۔ (یعنی هرګز ئے نشی حاصولے)

(په وړمبی شعر کښې په خوب کښې زیارت باندے د خوشالئی اظهار کوی۔ په دویم شعر کښې دے ته اشاره ده چه اتباعِ سنت نه بغیر نش په خوب لیدو نجات نهٔ حاصلیږی۔

یَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا

عَلٰی حَبِیْبِكَ خَیْرِ الْخَلْقِ کُلِّهِمِ

Scanned with CamScanner

# یوشلویښتم فصل

## او دا آخری فصل دے د اصحابِ کرامو، اهل بیتو او عالمانو د عظمت او محبت په بیان کښ

ظاهره ده چه د محبوب متعلقین طبعًا محبوب وی - خاص هغه متعلقین چه د محبوب او ممدوح هم وی - بیا خاص هغه کسان چه محبوب مخلوق سره د محبت ساتلو حکم هم کړے وی - نو دا سے کسان به شرعًا هم محبوب وی - بیا دا سے وخت کښ چه محبوب ته د رسیدو هیڅ توقع نه وی پاتے نو ضرور به د محبوب محبوبان د هغه قائم مقام ګڼړلے شی۔

په قول د مولانا رومی -

چونکه شد خورشید و مارا کرد داغ | چاره نبود در مقامش جز چراغ
چونکه گل رفت و گلستان شد خراب | بوئے گل را از که جوئیم از گلاب

(چه نمر پټ شو - او موږ ته ئے د جدائی غم راکړو - نو اوس موږ د نمر په ځائے په ډیوه بلولو مجبوریو - چه ګل لاړو او باغ وران شو - نو اوس به د ګل د بوئے د پاره د ګلاب تلاش کوو)

دے مجبوریو ته چه اوکتے شی نو دا حکم به یقینًا صحیح وی - چه د اصحابو اهل بیتو او عالمانو سره د محبت تعلق نه ساتی - د هغوی د نبی کریمؐ سره د محبت دعوه غلطه ده -

# دَ اصحابو فضائل

**وړومبۍ روایت** = حضرت عمر رضؓ نه روایت دے چه حضورؐ فرمائیلی دی.
چه زما د اصحابو عزت کوئ - د دوئ په ټول امت کښې بهترین دی (نسائی)

**دویم روایت** = حضرت عبدالله بن مغفل رضؓ نه روایت دے چه حضورؐ فرمائیلی دی- الله نه ویره اوکړئ - الله نه ویره اوکړئ - ما نه پس زما په اصحابو اعتراضونه مهٔ کوئ - څوک چه اصحابو سره محبت کوی زما د محبت په وجه ئے ورسره کوی او څوک چه د دوئ سره بغض ساتی هغوئ ما سره د بغض په وجه د دوئ سره بغض ساتی- او څوک چه اصحابو ته تکلیف رسوی- هغوئ ما ته تکلیف رسوی- او څوک چه ما ته تکلیف رسوی- هغوئ الله ناراضه کوی- او چا چه الله ناراضه کړو- هغهٔ ته به ډیره زر سزا ورکړی (ترمذی)

**ف** : څوک چه اصحابو سره محبت ساتی هغه ئے زما په وجه ساتی- د دے جملے مطلب دا دے چه ما سره د چا مینه وی نو ضرور به هغه چا سره هم مینه لری څوک چه زما خوښ دی- دغه شان زما چه څوک خوښ نه دی- هغوئ سره بغض ساتل د دے علامه ده- چه د هغوئ ما سره هم بغض دے- مینه ئے دا سره نشته- ځکه چه که ما سره ئے مینه دے- نو څوک چه زما خوښ دی- هغوئ به ئے هم خوښ وو- نا خوښه به ئے نهٔ وو-

**دریم روایت**= حضرت ابو سعید خدری رضؓ نه روایت دے چه حضورؐ فرمائیلی دی- چه زما اصحابو ته بد مهٔ وائی - ځکه چه که تاسو کښې څوک د غر هومره سرهٔ زر د الله په لار کښې خرچ کړی - نو زما د اصحابو

د یو سیر یا نیم سیر او ربشو برابر هم نه دی۔ دومره ثواب هم نشی حاصلولے۔ (بخاری ومسلم)

## د اهل بیتو فضائل

**دړیمه روایت** = حضرت ابن عباسؓ نه روایت دے چه حضورؐ فرمائلی دی۔ الله تعالیٰ سره محبت ساتئ۔ ځکه چه تاسو ته بے شماره نعمتونه درکوی۔ او ما سره محبت ساتئ د الله تعالیٰ د محبت په وجه۔ ځکه چه الله د تاسو محبوب دے۔ او زهٔ د الله محبوب یم۔ نو تاسو هم ما سره محبت ساتئ۔ او زما اهل بیتو سره هم محبت ساتئ۔ زما د محبت په وجه۔ یعنی چه زهٔ ستاسو محبوب یم۔ او اهل بیت ماته محبوب دی۔ نو تاسو هم ورسره زما د محبت په وجه محبت ساتئ (چه د محبوب محبوب هم محبوب وی)۔ (ترمذی)

**دویم روایت** = حضرت ابو ذر غفارؓ نه روایت دے چه حضور فرمائلی دی۔ چه زما اهل بیت په تاسو کښې داسے دی لکه د نوح علیه السلام کشتئ چه څوک پکښې سور شو۔ هغه طوفان نه بچ شو۔ او څوک چه تر پاتے شو هغه هلاک شو (سنن احمد)

**ف** = یعنی اهل بیتو سره محبت او د هغوئ اتباع د نجات ذریعه ده۔ او بغض او مخالفت ئے د هلاکت ذریعه ده۔

**دریم روایت** = حضرت زید بن ارقمؓ نه روایت دے چه حضور فرمائلی دی۔ زهٔ په تاسو کښې دوه داسے څیزونه پریږدم۔ که دا مو ټینګ کړو نو بیخی به ګمراه نشئ۔ په هغې کښې یو شے د بل نه غټ دے۔ (څو

د دواړو تپینګول مې ورې دي)

یو[1] کتاب الله چه د اهغه مضبوطه رسۍ ده - چه زمکې نه آسمانونو پورې رسیدلې ده -

دویم[2] زما اهل بیت - چه دوئی دواړه به یو بل نه هیچرې نه جدا کیږي ترڅو چې دواړه به په حوض کوثر ماته را اورسي - نو ښه خیال اوساتئ چه ماته پس به تاسو دې دواړو سره څنګه سلوک کوئ - (ترمذی)

ف = کتاب الله نه مراد د شریعت هغه احکام دي - کوم چه د شریعت په څلورو دلیلونو کښې په یو دلیل ثابت وي - د کوم وماخذ کښې چه صحابه، اهل بیت، فقهاء او محدثین ټول شامل دي - څنګه چه ارشاد نبوی دے - ماته پس د ابوبکر او عمر اتباع کوئ - دا حدیث شریف ترمذی د حضرت حذیفه رض نه روایت کړے دے -

او څنګه چه ارشاد نبوی دے - زما اصحاب د ستورو په شان دي - په دوئی کښې د هر یو اقتداء چه اوکړئ هدایت به بیا مومئ - دا حدیث مبارک د حضرت عمر رض نه رزین روایت کړے دے - او څنګه چه د الله تعالیٰ حکم دے - فَاسْئَلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ٥
کومه خبره چه درته نه وي معلومه عالمانو نه ئې تپوس کوئ -

او د کتاب الله اطلاق په مطلق شرعي حکم باندې خپله احادیثو کښې موجود دے - په یو مقدمه کښې حضور ص فرمائلي دي - زه به په تاسو کښې د کتاب الله موافق فیصله کوم - بیائې رشوت واپس کړو - او یو سړي ته ئې د سلو کوړو او یو کال جلاوطنۍ سزا ورکړه - او یوې ښځې ته ئې چه د زنا اقرار ئې کړے وو - رجم تجویز کړو - (دا روایت د

بخاری ومسلم دے) - حالانکه په دے احکامو کښی څڼ په کلام الله کښی نشته - سره ددے ورته دکتاب الله موافق فیصله ویلی شوی ده - نو دغه شان دلته هم تمسک بکتاب الله نه مراد شرعی احکام دی - او د تمسک د اهل بیتو نه مراد د اهل بیتو محبت او اتباع ده - چه دا هم د ایمان دحض دریاتو نه ده - لکه حضرت عباسؓ ته چه حضورؐ فرمایلی دی - هیڅوک مسلمان کیدے نشی ترڅو چه ئے تاسو سره چه زما اهل بیت ئی د الله د رسول د محبت په واسطه محبت نهٔ وی - ( د احدیث مبارک ترمذی دعبد المطلب بن ربیعه نه روایت کړے دے ) نو حاصل دحدیث مبارک دا شو - چه په شرعی احکامو عمل کوئ او د اهل بیتو سره محبت ساتئ -

# ازواج مطهرات اهلِ بیت دی

په قرآن شریف کښی ازواج مطهراتو ته دخطاب په موقع ارشاد دے - اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ - ( اے اهلِ بیتو الله دا غواړی چه ستاسو تزکیه اوکړی ) نو قرآن شریف کښی ازواجِ مطهراتو ته اهلِ بیت ویلی شوی دی - او په حدیثِ افک کښی حضورؐ خپله فرمائی - وَاللّٰهِ مَا عَلِمْتُ عَلٰى اَهْلِيْ مِنْ سُوْءٍ قَطُّ ( والله ما په خپل اهل کښی څهٔ خرابی هرګز نهٔ ده لیدلی ) نو حضوری خپله حضرت عائشہؓ ته خپل اهل اوویل - په عامه محاوره کښی هم خپلے بی بی ته کوروالہ ( اهل بیت ) ویلے شی - نو اوس په دے کښی هیڅ شک نشته - چه ازواج مطهرات اهل بیت دی - او حضوریؐ سره

محبت ساتل ضروری دی۔ اوس هم که په دے کښې څوک خبرے کوی۔ نو هغه بے ځایه دی۔ دے نه علاوه په نورو دلیلونو هم دهغوئی فضائل او هغوئی سره دمحبت وجوب ثابت دے۔ قرآن شریف کښې ورته دمؤمنانو میانندے ویلی شوی دی۔ ظاهره دا چه مور سره مینه او دمور عزت کول فرض دی۔

حضرت ام سلمهؓ نه روایت دے چه نبی کریمؐ خپلو بیبیانو ته او فرمائل ما نه پس چه څوک تاسو سره ښه سلوک کوی۔ هغه به نیک او سوچه مسلمان دی۔ (احمد)

## دعالمانو فضائل چه عالمان دنبیانو وارثان دی

یعنی کوم باعمله عالمان چه ددین اشاعت او ددین خدمت کوی۔ او دمسلمانانو روحانی تربیت کوی هغه دنبیانو وارثان دی۔ ځکه چه دا کار دنبیانو دے۔ ورته دبے عمله عالمانو سخت مذمت هم راغلے دے. لکه چه ارشاد دے۔ څوک چه په دے غرض علم حاصلوی چه بیا به عالمانو سره مناظره کوی۔ یا به په جاهلانو اثر اچوی او څه دنیاوی فائده به ترا خلی۔ الله تعالیٰ به ئے دوزخ کښې واچوی۔ او ارشاد دے څوک چه دینی علم ددنیا حاصلولو په غرض کوی۔ په هغه د جنت بوئی حرام دے۔ او ارشاد دے۔ په دوزخ کښې یو کنده ده۔ چه جهنم هم دهغې نه هره ورځ څلور سوه ځله پناه غواړی۔ په دے کنده کښې به ریا کار عالمان غورزولے شی۔

دباعمله عالمانو متعلق ارشاد دے۔ کثیر بن قیس دحضرت ابو الدرداءؓ

نه په یو اوږد حدیث کښې روایت کوی. چه ما د حضور نه اوریدلی دی فرمائیلی چه عالم دپاره د زمکې او آسمان ټول مخلوق او په اوبو کښې مهیان استغفار کوی. او د عالم فضیلت په عابد باندې داسې دے لکه دڅوارلسمې سپوږمئ په نورو ستورو. او عالمان د نبیانو وارثان دی. نبیان په میراث کښې درهم او دینار نه پریږدی. دهغوئ میراث صرف علم دے. نو چا چه علم حاصل کړو. هغوئ د نبیانو د میراث غټه حصه حاصله کړه. دا حدیث شریف احمد، ترمذی، ابو داؤد او ابن ماجه او دارمی روایت کړے دے.

**دویم روایت** = حضرت عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه حضورؐ په مسجد نبوی کښې د دوو مجلسونو باندې تیر شو. یو د عالمانو مجلس وو. بل د عابدانو. حضورؐ او فرمائیل. دواړه ښه دی. خو یوه ډله د بلې نه افضله ده. دا یو ډله یعنی د عابدانو ډله خو الله نه سوالونه کوی. که هغه اوغواړی ورته به کړی یا که اوغواړی ورته نه ئے کړی. او دا بله ډله د دین خبرے زده کوی او بیائے ناپوهو ته ښائی. نو دا زیات افضل دی. زهٔ هم د دین تعلیم ورکولو دپاره رالیږلے شوے یم. بیا هغوئ د عالمانو مجلس کښې کیناستو چه معلوم شی چه دا ډله بهتره ده. (دارمی)

**دریم روایت** = حضرت حسن بصریؒ نه روایت دے. چه حضورؐ نه د بنی اسرائیلو د دوو کسانو متعلق تپوس اوشو. یو عالم وو چه ضروری فرض عبادت به ئے ضروری متعلقاتو سره اوکړو. بیا به درس ورکولو ته کیناستو. دویم عابد وو. چه ټول عمر به ئے

د درځ روژه وه - او د شپې به ئې ټوله شپه عبادت کولو. په دے دواړو کښې افضل څوک دے - حضورؐ اوفرمائل - د دے عالم فضیلت په دے عابد دومره دے - لکه زما فضیلت په تاسو کښې په یو عام سړی. (دارمی) ف : دے دوا یاتو نه معلومه شوه چه عالمان د پیغمبرانو وارثان دی - په اول روایت کښې خو صراحةً دالفظ راغلے دے په دویم روایت کښې د حضورؐ د عالمانو په مجلس کښې کیناستو - نو د هغوئی سره خصوصی تعلق ثابتیږی - او دریم روایت کښې د عالم فضیلت ته خپل فضیلت سره تشبیهه ورکولو نه هم عالمانو سره خصوصی تعلق ثابتیږی - نو اصحابو آلِ نبی او ازواجو مطهراتو سره د هغوئی خاص تعلق خو ظاهر دے - نو د دوئ سره محبت ساتل د حضورؐ د محبت تکمیل کوی.

هُمْ جَمَاعَةُ خَيْرِ الْخَلْقِ اَيَّدَهُمْ رَبُّ السَّمَآءِ بِتَوْفِيْقٍ وَّ اِيْثَارِ

دا اصحاب په مخلوقاتو کښې بهترین مخلوق دے - د آسمانونو رب د نیکئ او قربانئ توفیق ورکړے دے - (چه اسلام د پاره ئې سرونه او مالونه قربان کړی دی)

حُبُّهُمْ وَاجِبٌ يَّشْفِی السَّقِيْمُ بِهٖ فَمَنْ اَحَبَّهُمْ يَنْجُوْ مِنَ النَّارِ

نو د دوئ سره محبت واجب دے - چه مریض په شفا مومی نو څوک چه د دوئ سره مینه لری د دوزخ نه به نجات مومی.

يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا عَلٰى حَبِيْبِكَ مَوْلَانَا بِاِكْثَارِ

یا الله خپل خاص رحمت نازل کړے همیشه همیشه د پاره په خپل حبیب باندے ډیر ډیر.

Scanned with CamScanner

# خاتمه

په دے کښې هم د مقدمے په شان درے مضامین دی۔ اول مضمون اوۀ دیرشم فصل سره تعلق لری۔ کوم کښې چه د درود شریف فضائل بیان شوی دی۔ نو مناسب راته ښکاره شوه چه د خپل کتاب زاد السعید نه د درود شریف چهل حدیث ورسره ملګرے کړم۔ چه د دے کتاب لوستونکی د دے په آخر کښې کم از کم یو څلوېښت د درود شریف ټولے صیغے اولولی۔ چه ورسره ورسره په اوۀ دیرشم فصل عمل هم اوشی۔

## چهل حدیث

چه صلوٰة دسلام په خوږه طریقه چه په احادیثو کښې ذکر دی هغه ټولے یکښې جمع دی

(۱) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ۔ (۲) اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ الْقَآئِمَةِ وَالصَّلٰوةِ النَّافِعَةِ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّارْضَ عَنِّیْ رِضًا لَّا تَسْخَطُ بَعْدَهٗ اَبَدًا۔ (۳) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُوْلِكَ وَصَلِّ عَلَی الْمُؤْمِنِیْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِیْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ۔ (۴) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ وَّبَارِكْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ وَّارْحَمْ مُحَمَّدًا وَّاٰلَ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّیْتَ وَ بَارَكْتَ وَرَحِمْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ

(۵) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اٰلِ
اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ
كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ (۶) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى
مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ
وَّبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ
حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ (۷) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ
عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ
مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ (۸) اَللّٰهُمَّ صَلِّ
عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ
اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ وَّبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى
اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ (۹) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ
مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِ
مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ (۱۰) اَللّٰهُمَّ
صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ
حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ
عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ (۱۱) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ
وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى
اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ فِى الْعٰلَمِيْنَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ
(۱۲) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَزْوَاجِهٖ وَذُرِّيَّتِهٖ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى
اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ اَزْوَاجِهٖ وَذُرِّيَّتِهٖ كَمَا بَارَكْتَ
عَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ (۱۳) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى

Scanned with CamScanner

مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اَزْوَاجِهٖ وَذُرِّيَّتِهٖ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَبَارِكْ
عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اَزْوَاجِهٖ وَذُرِّيَّتِهٖ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ
اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ (١٤) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ وَاَزْوَاجِهٖ
وَاُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَذُرِّيَّتِهٖ وَاَهْلِ بَيْتِهٖ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ
اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ (١٥) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا
صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى
اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَتَرَحَّمْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ
مُحَمَّدٍ كَمَا تَرَحَّمْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ
(١٦) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ
وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ
مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ
اَللّٰهُمَّ تَرَحَّمْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا تَرَحَّمْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَ
عَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ اَللّٰهُمَّ تَحَنَّنْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ
مُحَمَّدٍ كَمَا تَحَنَّنْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ
اَللّٰهُمَّ سَلِّمْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا سَلَّمْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى
اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ (١٧) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى
اٰلِ مُحَمَّدٍ وَّبَارِكْ وَسَلِّمْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ وَّارْحَمْ مُحَمَّدًا وَّعَلٰى
اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ وَبَارَكْتَ وَتَرَحَّمْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ
فِى الْعٰلَمِيْنَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ (١٨) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى
اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ
اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى

Scanned with CamScanner

اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ (١٩) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ
وَرَسُوْلِكَ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ
مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ (٢٠) اَللّٰهُمَّ
صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ
وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ
حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ (٢١) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُوْلِكَ
النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ
مُحَمَّدٍ صَلٰوةً تَكُوْنُ لَكَ رِضًا وَّلَهٗ جَزَآءً وَّلِحَقِّهٖ اَدَاءً وَّاَعْطِهِ
الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَالْمَقَامَ الْمَحْمُوْدَ الَّذِيْ وَعَدْتَّهٗ وَاَجْزِهٖ عَنَّا
مَا هُوَ اَهْلُهٗ وَاَجْزِهٖ اَفْضَلَ مَا جَازَيْتَ نَبِيًّا عَنْ قَوْمِهٖ وَرَسُوْلًا
عَنْ اُمَّتِهٖ وَصَلِّ عَلٰى جَمِيْعِ اِخْوَانِهٖ مِنَ النَّبِيِّيْنَ وَالصّٰلِحِيْنَ
يَا اَرْحَمَ الرّٰحِمِيْنَ (٢٢) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ وَبَارِكْ عَلٰى
مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَ
عَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ (٢٣) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى
مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اَهْلِ بَيْتِهٖ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ
مَّجِيْدٌ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَيْنَا مَعَهُمْ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى
اَهْلِ بَيْتِهٖ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ
اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَيْنَا مَعَهُمْ صَلَوَاتُ اللّٰهِ وَصَلَوَاتُ الْمُؤْمِنِيْنَ
عَلٰى مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ (٢٤) اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ صَلَوَاتِكَ وَ
رَحْمَتَكَ وَبَرَكَاتِكَ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا جَعَلْتَهَا عَلٰى اٰلِ

Scanned with CamScanner

إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ وَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ (۲۵) وَصَلَّى اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ

## صِيَغُ السَّلَامِ

(۲۶) اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ (۲۷) اَلتَّحِيَّاتُ الطَّيِّبَاتُ الصَّلَوَاتُ لِلّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ (۲۸) اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ الطَّيِّبَاتُ الصَّلَوَاتُ لِلّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ (۲۹) اَلتَّحِيَّاتُ الْمُبَارَكَاتُ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ لِلّٰهِ سَلَامٌ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ سَلَامٌ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ (۳۰) بِسْمِ اللّٰهِ وَبِاللّٰهِ اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَ الصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ اَسْئَلُ

Scanned with CamScanner

اللّٰهَ الْجَنَّةَ وَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ النَّارِ . (۳۱) اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ الزَّاكِيَاتُ
لِلّٰهِ الطَّيِّبَاتُ الصَّلَوَاتُ لِلّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ
اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيْنَ اَشْهَدُ
اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ (۳۲) بِسْمِ
اللّٰهِ وَبِاللّٰهِ خَيْرِ الْاَسْمَآءِ اَلتَّحِيَّاتُ الطَّيِّبَاتُ الصَّلَوَاتُ لِلّٰهِ
اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ
مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ اَرْسَلَهٗ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا وَّ اَنَّ
السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيْهَا اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ
اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيْنَ اَللّٰهُمَّ
اغْفِرْلِيْ وَاهْدِنِيْ (۳۳) اَلتَّحِيَّاتُ الطَّيِّبَاتُ وَالصَّلَوَاتُ وَالْمُلْكُ
لِلّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ (۳۴) بِسْمِ
اللّٰهِ اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ اَلصَّلَوَاتُ لِلّٰهِ اَلزَّاكِيَاتُ لِلّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَى النَّبِيِّ
وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيْنَ
شَهِدْتُّ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ شَهِدْتُّ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ ۔
(۳۵) اَلتَّحِيَّاتُ الطَّيِّبَاتُ الصَّلَوَاتُ الزَّاكِيَاتُ لِلّٰهِ اَشْهَدُ اَنْ لَّآ
اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ
اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا
وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيْنَ (۳۶) اَلتَّحِيَّاتُ الطَّيِّبَاتُ الصَّلَوَاتُ
الزَّاكِيَاتُ لِلّٰهِ اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ
اللّٰهِ وَرَسُوْلُهٗ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ
اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيْنَ (۳۷) اَلتَّحِيَّاتُ الصَّلَوَاتُ

Scanned with CamScanner

لِلّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ (۳۸) اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ (۳۹) اَلتَّحِيَّاتُ الْمُبَارَكَاتُ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ لِلّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ (۴۰) بِسْمِ اللّٰهِ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ

# دویم مضمون

دا مضمون دَاتهٔ دیرشم فصل متعلق دے۔ په کوم کښې چه د حضورؐ د توسل په ذریعه برکات حاصلولو ذکر دے۔ په عطر الورده د قصیده برده شرح کښې د دے قصیدے په برکاتو کښې لیکلی دی۔ چه د دے قصیدے صاحب یعنی امام ابو عبدالله شرف الدین محمد بن سعید بن حماد بوصیری قدس سره فالج وهلے وو۔ نیم بدن ئے بے کاره شوے وو۔ هغهٔ په الهام ربانی دا قصیده جوړه کړه۔ په خوب کښې ئے د حضورؐ زیارت نصیب شو۔ هغوئی ئے په بدن خپل لاس مبارک اووهلو۔ فوراً جوړ شو۔ بیا د کور نه بهر د تو نو یو درویش ئے اولیدو۔ هغهٔ ورته اووئیل۔ تا چه د حضورؐ په صفت کښې کومه قصیده جوړه کړې ده۔ هغه ماته واوروه۔ دهٔ ورته اووئیل۔ کومه

قصیده- هغهٔ ورته اوویل هغه ددے شعر نه چه شروع کیږی۔

۔ اَمِنْ تَذَکُّرِ جِیْرَانٍ بِذِیْ سَلَمٖ

بوصیری صاحب حیران شو- ځکه چه هغهٔ ددے قصیدے نه هیڅوک نهٔ وو خبر کړی- هغه درویش ورته اوویل- واللّٰه ما هغه وخت اوریدلی ده- کله چه تا خپله نبی کریمؐ ته اورولہ- او هغوئ ئے په اوریدو خوشالیدهٔ- بوصیریؒ صاحب قصیده راوړه هغه درویش ته ئے ورکړه- دا خبره دو دومشهوره شوه- دخلیفه ظاهر وزیر بهاء الدین خبر شو- د درویش نه ئے قصیده نقل کړه- او دهغے په برکت ئے دینی او دنیوی فائدے حاصلولے- ددے وزیر دمنشی سعد الدین خارقی سترگے خوږ شوے په هیڅ نهٔ جوړیدے- د ړندیدو خطره ئے پیدا شوه- په خوب کښ ورته چا اوویل- وزیر صاحب سره یو قصیده ده- که هغه دِ په سترگو کیښوده جوړ به شی- هغهٔ وزیر نه قصیده داخسته- په سترگو ئے کیښوده په هغه وخت ئے سترگے جوړے شوے هغه قصیده ئے په اولوسته۔

(حضرت تهانوی فرمائی) ما په خپل کتاب نیل الشفاء کښ د نبی کریمؐ د خپلئ مبارکے دنقش برکات او خواص لیکلی دی۔ ص کله چه تش الفاظ په کوموچه دحضورؐ صفت بیان شوے وی د هغے په نقش کښ دومره برکات دی- او د هغوئ پیزار چه د هغوئ د بدن مبارک سره لگیدلے دے- د هغے په نقش کښ دومره برکات دی نو د هغوئ ذات چه جامع د کاملو صفاتو دے- او د هغوئ نوم مبارک چه جامع د برکاتو دے- د هغے په وسیله چه کومه دعا اوغوښتے

Scanned with CamScanner

شی۔ دهغې په قبلیدو کښې څهٔ شک کیدے نشی۔

نام احمد چوں چنیں یاری کند    تاکه نورش چوں مددگاری کند
نام احمد چوں حصارے شد حصین    تا چه باشد ذات آں روح الامین

(د احمدؐ نوم چه دومره امداد کوی۔ نو دهغوئی نور مبارک به څومره مددګاروی)۔ (د احمدؐ نوم چه مضبوطه قلعه ده۔ نو دهغوئی روح الامین ذات مبارک نه څومره مددګار وی)

# دریم مضمون

## دیوکم څلویښتم[۳۹] او څلویښتم[۴۰] فصل متعلق دے

په دے کښې د درود شریف د څنو داسے الفاظو ذکر دے۔ د کومو په برکت چه د بزرګانو د تجربے مطابق په خوب کښې د حضورؐ د زیارت مبارک توقع کیدے شی۔ او څنې نیکانو چه په خوب کښې د ذکر شریف د آدابو متعلق خپله حضورؐ نه څهٔ ارشادات اوریدلی دی۔ دهغې ذکرهم دے۔ نو د دے مضمون دوه حصے شوے۔ چه د دواړو فصلونو متعلق دی۔

اوله حصه۔ شیخ عبدالحق دهلویؒ په خپل کتاب ترغیب اهل السعادت کښې لیکلی دی۔ چه څوک د جمعے په شپه دوه رکعته نفل اوکړی۔ په هر رکعت کښې یوولس[۱۱] ځله آیت کرسی او یوولس[۱۱] ځله قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ سورت اووائی۔ او سلام ګرځولو نه پس سل[۱۰۰] ځله دا درود شریف اووائی: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدِنِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَسَلِّمْ۔ انشاء الله درے جمعے به نهٔ وی تیرے چه

خوب کښې به ئې زیارت نصیب شي.

دوېم = او شیخ عبدالحق دهلوی دا هم لیکلي دي - چه څوک دوه رکعته نفل اوکړي - په هر رکعت کښې الحمد نه پس پنځویشت ځله قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ سورت اووائي - او بیا زر ځله دا درود شریف اووائي صَلَّ اللهُ عَلَى النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ په خوب کښې زیارت به ئې نصیب شي.

درېم = او هغوئي دا هم لیکلي دي چه څوک اوده کیدو نه مخکښې اویا ځله دا درود شریف اووائي خوب کښې به ئې زیارت نصیب شي.

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ بَحْرِ اَنْوَارِكَ وَمَعْدَنِ اَسْرَارِكَ وَلِسَانِ حُجَّتِكَ وَعَرُوْسِ مَمْلَكَتِكَ وَاِمَامِ حَضْرَتِكَ وَطِرَازِ مُلْكِكَ وَخَزَائِنِ رَحْمَتِكَ وَطَرِيْقِ شَرِيْعَتِكَ اَلْمُتَلَذِّذِ بِتَوْحِيْدِكَ اِنْسَانِ عَيْنِ الْوُجُوْدِ وَالسَّبَبِ فِيْ كُلِّ مَوْجُوْدٍ عَيْنِ اَعْيَانِ خَلْقِكَ اَلْمُتَقَدِّمِ مِنْ نُوْرِ ضِيَآئِكَ صَلٰوةً تَدُوْمُ بِدَوَامِكَ وَتَبْقٰى بِبَقَآئِكَ لَا مُنْتَهٰى لَهَا دُوْنَ عِلْمِكَ صَلٰوةً تُرْضِيْكَ وَتُرْضِيْهِ وَتَرْضٰى بِهَا عَنَّا يَا رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ

څلورم = اوده کیدو نه مخکښې دا درود شریف څو ځله ویل هم مفید دي - اَللّٰهُمَّ رَبَّ الْحِلِّ وَالْحَرَمِ وَرَبَّ الْبَيْتِ الْحَرَامِ وَرَبَّ الرُّكْنِ وَالْمَقَامِ اَبْلِغْ لِرُوْحِ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ مِنَّا السَّلَامَ - لیکن دے دولت حاصلولو کښې غټ شرط د زړه شوق او محبت او د ظاهري او باطني ګناهونو نه بچ کیدل دي -

دویمه حصه = په دے کښې دوه خوبونه دي - وړومبے خوب د منشي شرافت الله صاحب دے - چه یو نیک دیندار او رښتونے انسان

دے۔ (حضرت تھانوی فرمائی) زما پہ کانپور کښی د اوسیدو پہ زمانہ
کښی چہ ما خپل کتاب اصلاح الرسوم کښی د مولود شریف د آدابو
متعلق کوم مضمون لیکلے دے۔ او پہ ھغے پہ کانپور کښی کومہ غوغا جوړہ
شوی وہ۔ پہ ھغے ورځو کښی منشی صاحب دا خوب لیدلے وو۔ او ما تہ
ئے پہ خط کښی پہ رجب ۱۳۱۹ھ مطابق د اکتوبر ۱۹۰۱ء اطلاع دا کړہ۔
اگرچہ د شرعی دلیلونو پہ موجودګئ کښی د دے خوب د ذکر
څہ ضرورت نہ وو۔ خو فطری د نیکانو پہ رؤیائے صالحہ یو خاص
سکون حاصلیږی۔ ھغہ لیکی چہ ما د سحر پہ وخت دا خوب اولیدو
چہ زہ پہ یو نامعلوم ځائے کښی پہ یو مکان کښی ناست یم۔ بھیر یو
اَش ولاړ دے۔ خلق دائی داد اشرف علی د سورلئی اَش دے۔ څہ
ساعت پس نبی کریم پہ براق سور ھلتہ تشریف راوړو۔ ما سرہ
نزدے کیناستو۔ پہ مخ مبارک ئے نقاب اچولے وو۔ پہ دے وخت
کښی زہ دا محسوسوم چہ زہ اودہ نہ یم ویښ یم۔ او زما او د حضور
ترمینځہ یو پردہ دہ۔ چہ زہ ھغوئی وینم نہ خو د ھغوئی خبرے اورم۔
او س راتہ یاد نہ دی چہ ما تپوس اوکړو کہ پہ حاضرینو کښی چا
تپوس اوکړو۔ چہ کانپور کښی چہ د اشرف علی خلاف کومہ غوغا جوړہ
دہ۔ دے کښی څوک پہ حقہ دی۔ حضور د دے پہ جواب کښی ټول
حاضرین مخاطب کړل دے فرمائیل۔ اشرف علی چہ څہ لیکلی دی۔ دا
صحیح دی۔ بیا حضور صرف ما تہ مخاطب شو۔ دے فرمائیل۔ اشرف علی
تہ او وایہ تا چہ څہ لیکلی دی۔ دا بالکل صحیح دی۔ لیکن دا وخت د دے
خبرو د لیکلو نہ دے۔ دا جملہ ئے دا سے رو غوتدے او ویئیل چہ ما

داوریده - غالباً بل چا به نهٔ وی اوریدلی -

دے نه پس بیدار شوم - دسحر د ماخته وخت وو - دشروع درځ درجب دویم تاریخ وو - څومره چه راته یاد وو - حرف به حرف مې درته اولیکلو - فقط

**تنبیه** = دحضور دا ارشاد چه دا وخت د دے خبرو دلیکلو نهٔ دے - دشفقت به طور دَ و رخصت دے - حکم نهُ دے - د نورو شرعی دلیلونو نه علاوه خپله په دے خوب کښ په دے قرینه موجوده ده - چه دا خبره ئے رو اوکړه - دحکم تقاضا خو دا وه چه په زوره ئے ویلے وئے چه ټولو حاضرینو اوریدلے وے - (حضرت فرمائی) زما د دے خیال تائید یو کامل محقق د ظاهر و باطن جامع شیخ هم کړے دے -

**دویم خوب** = د دے خوب نه څهٔ وخت پس حافظ اشتیاق رسول تهانویؒ چه رؤیائے صادقه سره خاص مناسبت لری خوب اولیدو او دے دمولود شریف د ذکر ډیر شوقین دے - نو ځکه په دے خوب کښ دخیال دتصرف هیڅ احتمال نشته - هغه لیکی چه نبی کریمؐ ناست وو - ښپے مبارکے ئے غزولے وے - ښپو نه ترڅنګه په سپین څادر کښ پټے وو - ملا ئے تړلی ده - او سپینه چوغه ئے اغوستی ده - زهٔ مخامخ ورغلم سلام مې اوکړو - راته ئے اوفرمائل - څوک چه زما په صفتونو زما شفاعت حاصلول غواړی - زهٔ د هغهٔ شفاعت نهٔ کوم. زهٔ خو به د هغه چا شفاعت کوم - څوک چه زما په احادیثو عمل کوی - دے خوب نه زما د مدعا تائید کیږی - لږ زیاتی سره - هغه

زیاتے دا چه که په مدح کښې د حلوض ورځ شرطونو خیال ساتلے شوے دی۔ بیا هم دهغه درجه دا تباعِ سنت نه کمه ده۔ او س دا خاتمه ختمیږی۔ او دے سره دا ترغیب درکوم۔ چه رساله القاسم کښې یو مضمون چه جمادی الاول او جمادی الثانی ۱۳۲۹ھ په پرچو کښې شائع شوے دے۔ عنوان ئې دے۔ حضورؐ سره دخپلې معاملې اصلاح کول۔ دا مضمون ضرور اوګورئې ډیر مفید دے۔ په دے باندے دا کتاب نشرالطیب ختم شو۔

(حضرت تهانویؒ فرمائی) عجیبه خبره ده۔ نن د نهم ورځ د ربیع الاول د میاشتې دویمه عشره ده۔ د دے کتاب شروع د کل په ورځ د ربیع الاول په درمیانۍ عشره کښې شوی وه۔ او اختتام ئې د نهم په ورځ د ربیع الاول په دویمه عشره کښې اوشو۔ نو د دے کتاب ابتداء او انتهاء د حضورؐ د جسمانی ظهور د ابتداء او انتهاء سره موافق شوه۔ د حضورؐ وفات اګرچه د کل په ورځ شوے وو۔ خو دفن ئې د نهی په ورځ شوے وو۔ او د دے کتاب اختتام د نهی په ورځ اوشو۔

## مِنْ خَاتِمَةِ الرَّوْضِ

دا د الروض النظیف آخری اشعار دی

صَلّٰی وَسَلَّمَ مَنْ اَوْلَاهُ کُلَّ عُلاً عَلَیْهِ مَا جَنَّ لَیْلٌ اَوْ بَدَا سَحَرٌ

په هغه پاک ذات (چه الله تعالیٰ هر قسم اوچتې مرتبې ورکړی دی) دِ درود د سلام وی ترڅو چه د شپې تیاره او د سحر رڼا خوریږی۔

وَآلِهِ الْغُرِّ وَالْاَصْحَابِ اَجْمَعِهِمْ    اَلْعَابِدِيْنَ بِالْاِخْلَاصِ كَمَا اُمِرُوْا

او درود سلام د دی د هغهٔ په آل چه پُرْ انوار دی - او د هغهٔ په ټولو اصحابو څوک چه په اخلاص عبادت کوونکی وو څنګه چه ورته حکم شوے وو -

وَالتَّابِعِيْنَ بِاِحْسَانٍ لَهُمْ وَكَذَا    يَعُمُّ فَضْلُكَ اِلٰهِيْ كُلَّ مَنْ حَضَرُوْا

او درود وسلام د دی په هغه چا چه په اخلاص ئې د اصحابو اتباع اوکړه - او یا الله په خپل فضل دا درود و سلام ټولو حاضرینو ته عام کړے -

وَاْذَنْ لِسُحْبِ صَلٰوةٍ مِّنْكَ دَائِمَةً    عَلَى النَّبِيِّ بِمُنْهَلٍّ وَّ مُنْسَجِمِ

او د خپلو رحمتونو وریځو ته اجازت ورکړه - چه په نبی کریم ﷺ همیشه دپاره په شیبو شیبو وریږی -

وَالْاٰلِ وَالصَّحْبِ ثُمَّ التَّابِعِيْنَ هُمْ    اَهْلُ التُّقٰى وَالنُّقٰى وَالْحِلْمِ وَالْكَرَمِ

او چه د هغوئ په آل او په ټولو اصحابو او تابعینو هم دغه شان همیشه دپاره وریږی - څوک چه د تقوی او پاکیزګئ او حلم وکرم خاوندان دی -

ثُمَّ الرِّضٰى عَنْ اَبِيْ بَكْرٍ وَّعَنْ عُمَرَ    وَعَنْ عَلِيٍّ وَّعَنْ عُثْمَانَ ذِي الْكَرَمِ

او بیا دِ الله راضی شی ابو بکر وعمر وعلی او عثمان نه چه د عزت خاوندان دی - (دلته د عثمان نوم د علی نه د مخ ورتِ شعری په وجه روستو شوید ے)

مَا رَنَّحَتْ عَذَبَاتِ الْبَانِ رِيْحُ صَبَا    وَاَطْرَبَ الْعِيْسَ حَادِي الْعِيْسِ بِالنَّغَمِ

دا د رحمت باران دِ تر هغه وخته وریږی ترڅو چه د سحر باد د بان ونې څانګې خوزوی - او ترڅو چه د قافلے حدی خوان د قافلے سرهٔ او سپین

اوبنسان د حُدِیٔ په نغمو خوشالوی ۔ یعنی ترڅو چه دا دنیا آباده وی۔

فَاغْفِرْ لِنَاشِدِهَا وَاغْفِرْ لِسَامِعِهَا    سَأَلْتُكَ الْخَيْرَ يَا ذَا الْجُوْدِ وَالْكَرَمِ ۱

یا الله ددې قصیدې جوړوونکي او بخښې او ددې اوریدونکي او بخښې ۔

اې د جود وکرم خاونده تاته د خیر سوال کوم ۔

الحمدلله نن د نهم په ورځ شام د رمضانه مبارکه ۱۴۱۰ھ

ددې مبارک کتاب نشر الطیب پښتو ترجمه پوره شوه ۔

سید تسنیم الحق کاکاخیل

تاریخ = ۹۰/۴/۱۶

کتابت : ارشاد خان ابن طوفان